

# فَیضانِ رَمَضان

فضائلِ رَمَضان

اَحکامِ روژه

فیضانِ تراوِیح

فیضانِ لیلةُ القَدر

اَلوَداع ماہِ رَمَضان

فیضانِ اِعتِکاف

فیضانِ عِیدُ الفِطر

د نفلي روژو فضائل

د روژه دارو ۱۲ حِکایات

د مُعتَکِفینو ٤٠ مَدَني سپرلي


شیخِ طریقت، اَمیرِ اَہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرتِ علّامه مولانا ابو بلال

مُحَمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# فضائلِ رَمَضان شريف



شيطان كه هر څومره ناراستي درولي خو تاسو هِمّت كوئ او دا باب (هر كال) مكمّل لولئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالى د دي بَرَكتونه به تاسو پخپله اُووِينئ.

## د دُرُود شريف فضيلت

د الله تعالى خوږ محبوب صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: ”بيشكه د قيامت په ورځ به په خلقو كښي ما ته د ټولو نه زيات نِزدې هغه وي څوك چه په ما باندي د ټولو نه زيات دُرُود شريف ليږي.“ (تِرمِذی ج۲ ص۲۷ حديث ٤٨٤)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د اللّٰهُ تعالٰی په کروړونو کروړونو احسانونه دي چه هغه مونږ ته د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په شان عظيمُ الشّان نِعمت راکړې دې. د رَمَضان د مياشتې به څه وائې! د دې خو هر ساعت د رَحمتونو نه ډك دې. په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې د هرې نيکۍ ثواب اويا هُمره يا د دې نه هُم زيات دې. (مِراٰة ج٣ ص١٣٧) د نفلو ثواب د فرضو هُمره او د فرضو ثواب يو په اويا کړې شي. عرش اوچتولو والا فرښتې د دروژه دار په دُعا باندې آمين وائې او د فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مطابق: "**د رَمَضان د روژه دار د پاره د درياب مهيان د روژه ماتي پورې د بخښني دُعاګاني کوي.**" (التّرغِيب والتّرهِيب ج٢ ص٥٥ حديث٦)

## د عِبادت دروازه

د الله تعالٰی د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دې: "**روژه د عِبادت دروازه ده.**" (الجامِعُ الصَّغير ص١٤٦ حديث ٢٤١٥)

## د قرآن نازِليدل

د دې مبارکې مياشتې يو خصوصِيَّت دا هم دې چه الله تعالٰی په دې کښې قرآنِ پاك نازل کړې دې. چنانچه په مُقَدّس قرآن کښې د قرآن د نازليدو او د رَمَضان د مياشتې په باره کښې اللّٰهُ رَحمٰن عَزَّوَجَلَّ اِرشاد فرمائي:

شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیْۤ اُنْزِلَ فِیْهِ الْقُرْاٰنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَ بَیِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰى وَ الْفُرْقَانِۚ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْیَصُمْهُؕ وَ مَنْ كَانَ مَرِیْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَیَّامٍ اُخَرَؕ یُرِیْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْیُسْرَ وَ لَا یُرِیْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ٘ وَ لِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَ لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ وَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۸۵﴾ (پ٢ البقره: ١٨٥)

مَفهُوم ترجمهٔ کَنْزُالْاِيمان: د رَمَضان مياشت هغه ده چه قرآن پکښې نازِل شو، د خلقو د پاره هِدايت او رَهنُمائی او د فيصلې روښانه خبرې، نو په تاسو کښې چه څوك دا مياشت اومومي نو ضرور دِ د دې روژې ونيسي او



www.dawateislami.net

څوك چه بيمار وي يا په سفر كښې وي، نو هُم دومره روژې په نورو ورځو كښې. الله (تعالىٰ) په تاسو آساني غواړي او په تاسو سختي نه غواړي. او د دې لپاره چه تاسو شمېر پوره كړئ او د الله (تعالىٰ) لوئي والې بيان كړئ په دې چه هغه تاسو ته هِدايت وكړو او د پاره د دې چه تاسو شُكر گُزاره شئ.

## د مياشتو د نومونو وجه

**رَمَضان،** دا د "رَمض" نه جوړ شوې او د دې معنىٰ ده "په گرمئ سوزيدل." ځكه چه كله د مياشتو نومونه د قديمو عَرَبو د ژبې نه نقل كړې شو نو هغه وخت چه د كوم قِسم موسم وو د هغې مطابق ئې د مياشتو نومونه كيښودل. اِتِّفاقاً په هغه وخت كښې رَمَضان په سخته گرمئ كښې راغلې وو ځكه ئې دا نوم كيښودې شو. (اَلنِّهاية لِابْنِ الاثِير ج۲ ص۲٤٠) **حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: بعضو مُفَسِّرينو رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى فرمائيلي دي چه كله د مياشتو نومونه كيښودلې شو نو په كوم موسم كښې چه كومه مياشت وه په هغې ئې د هغې [مياشتې] نوم كيښودو كومه مياشت چه په گرمئ كښې راغلې وه هغې ته رَمَضان ووئيلې شو او كومه چه په سپرلي كښې وه هغې ته ئې رَبِيعُ الْاَوَّل او كومه چه په يخنئ كښې وه، چه كله اوبه كنگل كيدلې نو هغې ته جُمادَى الْاُولىٰ اووئيلې شوه. (تفسِيرِ نعِيمی ج۲ ص۲٠٥)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د سرو ياقُوتو كور

د سيِّدُنا ابُو سعيد خُدري رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دې، د مكّې مدينې د سُلطان صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رَحمت نه ډك فرمان دې. "چه كله د رَمَضان اوله شپه راشي نو د آسمانونو او د جَنَّت دروازې خلاصې [يعني بيرته] كړې شي او د آخري شپې پورې نه بنديږي. كوم يو بنده چه د دې مباركې مياشت په يوه شپه كښې لـمونځ كوي نو **الله** تعالىٰ د هغه د هرې سَجدې په بدله كښې د هغه د پاره پينځلَس سوه نيكئ ليكي او د هغه د پاره په جَنَّت كښې د سرو **ياقوتو كور**



www.dawateislami.net

جوړَوي. پس څوك چه د رَمَضان د مياشتې **اوله روژه** نيسي نو د هغه تير شوي ګناهونه مُعاف کړې شي، او د هغه د پاره د سحر نه د ماښامه پورې **اويا زره فَرښتې** د بخښنې دُعا کوي. په شپه او ورځ کښې چه کله هم **سجده** کوي نو د هغه د هرې سجدې په بدله کښې هغه ته (په جَنَّت کښې) يوه داسې وَنه ورکولې شي چه د هغې په سورې کښې (په آس) سور کس د پينځوو سوو کالو پورې مزل وکړي." (شُعَبُ الْاِيمان ج۳ ص۳۱۴ حديث۳۱۳۵ مُلَخَّصاً)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## نابينا خورزه بينا شوه (مَدَني سپرلې)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د تبلِيغ قرآن و سُنَّت په عالمګِير غير سياسي تحريك، دعوتِ اِسلامي کښې د شامِلو **عاشِقانِ رسُول** د صُحبت حاصليدو په صورت کښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د مياشتې د بَرَکتونو د حاصلولو ډير ذِهن جوړيږي ګني په بدو **صحبتونو** کښې د اوسيدو په وجه په دې مبارکه مياشت کښې هم اکثر خلق په ګناهونو کښې اخته اوسي. راځئ د ګناهونو په دلدل کښې د ښخېدتي يو **فنکار** واقعه واورئ چه هغه د دعوتِ اسلامي **مَدَني ماحول** په مَدَني رنګ کښې رنګ کړو. هغه داسې چه د **اورنګي** ټاؤن (بابُ المَدِينه کراچئ) د يو اسلامي ورور د بيان خُلاصه ده: افسوس په کروړونو افسوس! زه يو **فنکار** ووم، په ميوزيکل پروګرامونو او فنکشنو کښې مې د ژوند قيمتي ورځې او شپې بربادېدلې، په زړه او دِماغو مې د غفلت څه داسې پردې پرتې وې چه نه را ته د لمانځه کولو توفيق حاصل وو او نه را ته د ګناهونو احساس وو. يو اسلامي ورور راباندې **اِنفرادي کوشش** وکړو او په (۱٤۲٤ھ- 2003ء) کښې په صحرائے مَدِينه بابُ المَدينه کراچئ کښې د بابُ الاسلام [سِندھ] په سطح باندې کيدونکي **د درې ورځو د سُنّتو نه ډکه اجتِماع** کښې د شرکت کولو ترغيب ئې راکړو. په خوش قِسمتئ سره را ته په هغې کښې د شرکت کولو سعادت نصيب شو. د درې ورځو د



www.dawateislami.net

اِجتماع په آخِره کښې په رِقّت انګیزه [یعني ژړوونکي] دُعا کښې زه په خپلوګناهونو باندې ډېر پښیمانه شوم، او په دې جذباتو کښې په چغو چغو په ژړا شوم، بس ژړا کار وکړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ ما ته د **دعوتِ اسلامي** مَدَنی ماحول نصیب شو، او ما د سندرو او د ګډا د **محفلونو** نه توبه وکړه او په **مَدَني قافِلو** کښې سفر کول مې خپل معمول جوړ کړو. په 25 دسمبر 2004ء چه زه د **مَدَني قافلې** په سفر روانیدم نو د کشرې خور فون راغې او په ژړا ئې دا خبر راکړو چه د هغې **نابینا لور** شوې ده او ډاکټرانو وئیلي دي چه د دې نظر نه شي بنه کیدې، دا ئې چه اووئیل نو د هغې برداشت ختم شو او د غم نه ئې ډېر زیات وژړل. ما ورته دا تسلّي ورکړه چه اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ په **مَدَني قافِله** کښې به دُعا کوومه. بیا ما په مَدَني قافِله کښې بڅپله هم دُعاګاني وکړې او د مَدَني قافِلې په عاشِقانِ رسول مې هم دُعاګاني وکړې. چه کله د مَدَني قافِلې نه بیرته راغلم نو په دویمه ورځ مې د کشرې خور فون راغې او هغوئې په خوشحالئ خوشحالئ دا خوشخبري راکړه چه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ **زما د نابینا لور مهِك سترګې روښانه شوې دي او ډاکټران حیران دي چه دا څنګه بینا شوه! څکه چه زمونږه په ډاکټرئ کښې د دې هیڅ عِلاج نه وو.** د دې بیان ورکولو په وخت کښې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ زه په بابُ المَدِینه کراچۍ کښې د علاقائي مشاورت د یو رُکن په حیثیت د دعوتِ اسلامي د مَدَني کارونو د پاره د کوششونو کولو سعادتونه حاصلووم.

آفتوں سے نہ ڈر، رکھ کرم پر نظر  روشن آنکھیں ملیں، قافلے میں چلو
آپ کو چارہ گر، نے گو مایوس کر  بھی دیا مت ڈریں، قافلے میں چلو

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!   صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده! د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول څومره ښکلي دې. د دې سره د ترون په بَرَکت معلومه نه ده د معاشرې د څومره وران کارو خلقو اصلاح وشوه او هغوئې باکِرداره شو او د سُنّتو نه ډك د عزّت ژوند تیروونکي جوړ شو او د مَدَني قافِلو سپرلي



www.dawateislami.net

هم تاسو وِينئ. څنګه چه په مَدَني قافِلو کښې د سفر په بَرَکت د ځيني خلقو دُنياوي مصيبتونه ختم شي، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ دغسې به د تاجدارِ رِسالت صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت په بَرَکت د آخِرت آفت هم په راحت کښې بدل شي. ؎

ٹوٹ جائیں گے گنہگاروں کے فوراً قید وبند
حشر کو کھل جائے گی طاقت رسولُ اللہ کی (حَدائقِ بخشِش شریف)

## پينځه خصوصي کرامتونه

د **حضرتِ** سيِّدُنا عبدُ الله بِن جابِر رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې چه د دواړو جهانو سردار خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: زما اُمَّت ته د رَمَضان په مياشت کښې **پينځه خيزونه** داسې ورکړې شوي دي چه هغه زما نه مخکښې يو نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته هم نه دي ورکړې شوي. (۱) چه کله د رَمَضَانُ الْمُبَارَك اوله شپه وي نو **الله** تعالیٰ د هغوئي طرف ته د رَحمت نظر فرمائي او د چا طرف ته چه **الله** تعالیٰ د رَحمت نظر اوفرمائي هغه ته به کله هم عذاب ور نکړي (۲) د ماښام په وخت کښې د هغوئي د خُلې بوئي (چه هغه د لوږې په وجه وي) د **الله** تعالیٰ په نِزد د مُشکو د خوشبو نه هم بهتر دې (۳) فرښتې هره شپه او ورځ د هغوئي د پاره د بخښنې دُعاګانې کوي (٤) **الله** تعالیٰ جَنَّت ته حُکم فرمائي، "زما د (نيکو) بندګانو د پاره ښائِسته شه، نِزدې ده چه هغوئي به د دُنيا د مَشَقَّت نه زما په کور او کرم کښې راحت اومومي (٥) چه کله د رَمَضان د مياشتې آخِري شپه راشي نو **الله** تعالیٰ د ټولو مغفِرت اوفرمائي. د قوم نه يو کس ودريدو او عرض ئې وکړو، يا رَسُولَ **الله** صَلَّى الله تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا **لَيلَةُ القدر** ده؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: "نه، آيا تاسو نه وِينئ چه مزدوران کله د خپلو کارونو نه وزګار شي نو هغوئي ته مزدوري ورکولې شي."

(شُعَبُ الْاِيمان ج ۳ ص ۳۰۳ حديث ۳۶۰۳)



www.dawateislami.net

## د صغیره ګناهونو کَفّاره

د **حضرتِ** سَیِّدُنا ابُوهُریره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه رِوایت دي چه رَسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "پینځه واړه لـمونځونه او جُمُعه د راروانې جُمُعې پورې او د رَمَضان میاشت د راروان بل رَمَضان د میاشتې پورې د ګناهونو کفّاره دي تر څو چه د کبِیره ګناهونو نه ځان وساتلې شي." (مُسلِم ص ١٤٤ حدیث ٢٣٣)

## کاش چه! پوره کال رَمَضان وې

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** زمونږه د خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دې: "که بندګانو ته معلومه وې چه رَمَضان څه دې نو زما اُمّت به دا خواهش[یعني آرزو] کولې چه کاش ټول کال صرف رَمَضان وې." (اِبنِ خُزیمه ج٣ ص١٩٠ حدیث١٨٨٦)

## د آقا ﷺ بیان مبارك

**حضرتِ** سیِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ فرمائي چه د الله تعالیٰ خوږ مکِّـی مَدَنـی محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شعبان د میاشتې په آخِرئ ورځ بیان اوفرمائیلو: "اے خلقو! په تاسو عَظَمت والا او بَرَکت والا میاشت راغله، هغه میاشت چه په هغې کښې یوه شپه (داسې هم ده چه هغه) د زرو میاشتو نه غوره ده، د دې (مبارکې میاشتې) روژې الله تعالیٰ فرض کړې او د دې په شپه کښې قیام[1] تَطَوُّع (یعني سُنّت) دې. څوك چه په دې کښې د نیکئ کار وکړي نو داسې ده لکه په بله یوه میاشت کښې ئې چه فرض ادا کړو او په دې کښې چه چا **فرض** ادا کړو نو داسې دې لکه په نورو ورځو کښې ئې چه **اویا فرض** ادا کړل. دا میاشت د **صبر** ده او د **صبر** ثواب جَنَّت دې او دا میاشت د **مُؤَاسات** (یعني د غمرازئ او خیر ښیګړې) ده او په دې میاشت

[1] دلته د قیام نه مُراد تراوِیح دي.



www.dawateislami.net

کښېږ د مُومِن رِزق زياتولې شي. څوك چه په دې کښېږ په روژه دار اِفطار [يعني روژه ماتې] وکړي د هغه د ګناهونو د پاره مغفِرت دې او د هغه غاړه به د اور نه آزاده کړې شي. او هغه اِفطار کوونکي [يعني په بل روژه ماتې کوونکي] ته به هُم هغسې ثواب ورکولې شي څنګه چه به روژه نيولو والا ته ورکولې شي بغير د دې نه چه د هغه په ثواب کښې څه کمې وشي.'' مونږه عرض وکړو، يا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په مونږ کښې د هر يو کس سره هغه څيز نشته چه په هغې [په بل کس] اِفطار [يعني روژه ماتې] وکړي. خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: الله تعالیٰ به دا ثواب هغه کس ته ورکوي څوك چه په يو ګوټ شودو [يعني پئيو] يا يوه کهجوره يا په يو ګوټ اوبو په بل روژه ماتې وکړي او چا چه په روزه دار باندې په مړه ګېډه خوراك وکړو، په هغه باندې به الله تعالیٰ زما د حوض نه څښې چه کله به هم نه تږې کيږي. تر دې چه جنّت ته داخل شي. دا هغه مياشت ده چه د دې اوّل (يعني اولنئ لس ورځې) رَحمت دې او د دې مينځ (يعني د مينځ لس ورځې) مغفِرت دې او آخِر (يعني آخِرئ لس ورځې) د جَهَنَّم نه آزادي ده. څوك چه په خپل غلام باندې په دې مياشت کښې تخفِيف وکړي (يعني کار ترې کم واخلي) الله تعالیٰ به هغه اوبخښي او د جَهَنَّم نه به ئې آزاد کړي، په دې مياشت کښې د څلورو خبرو کثرت [يعني زيات والې] کوئ. په هغې کښې دوه داسې دي چه د هغې په ذريعه به تاسو خپل ربّ تعالیٰ راضي کوئ او د باقي دوو نه تاسو ته بې نيازي نشته [يعني بې پرواه کيدې نه شئ]. پس هغه دوه خبرې چه د هغې په ذريعه به تاسو خپل ربّ تعالیٰ راضي کوئ هغه دا دي: (۱) د لَآاِلٰهَ اِلَّااللهُ ګواهي ورکول (۲) اِسۡتِغۡفَار کول. او هغه دوه خبرې د کومو نه چه تاسو ته غَنا (بې نيازي) نشته هغه دا دي، (۱) د الله تعالیٰ نه جَنَّت غوښتل (۲) د جَهَنّم نه د الله تعالیٰ پناه غوښتل.''

(شُعَبُ الۡاِیۡمان ج۳ ص۳۰۵ حديث۳۶۰۸، اِبنِ خُزيمه ج۳ ص۱۹۲ حديث۱۸۸۷)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اوس چه کوم حديث بيان کړې شو په هغې کښې د رَمَضَانُ الۡمُبَارَك د مياشتې د رَحمتونو، بَرَکتونو او عظمتونو ښه ډېر ذِکر شوې دې. په دې مبارکه مياشت



www.dawateislami.net

کښې د کَلِمه شريف په زيات شمير کښې د وئيلو او د ډير ډير اِستِغفار يعني د ډيرې توبې په ذريعه د **الله** تعالیٰ د راضي کولو کوشش کول پکار دي. او د دې دوو خبرو نه خو په هيڅ حالت کښې هم بې پرواه کيدل نه دي پکار، يعني د **الله** تعالیٰ نه په جنّت کښې د داخليدو او د جَهَنَّم نه د پناه غوښتو ډير سوالونه کول پکار دي.

## د رَمَضَانُ الْمُبَارَك څلور نومونه

**اللّٰهُ اَکبر** عَزَّوَجَلَّ! د رَمَضان د مياشتې څومره ښکلې بَرَکتونه دي! **مُفَسِّرِ شَهِير حَکِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه په **تفسِيرِ نعيمي** کښې فرمائي:"د دې مبارکې مياشتې ټول څلور نومونه دي. (١) **د رَمَضان مياشت** (٢) **د صبر مياشت** (٣) **د مُؤَاسات مياشت** او (٤) د **وُسعَتِ رِزق** [د رزق د فراخئ] **مياشت. نور** فرمائي، روژه **صبر** ده او د دې جزاء [يعني بدله] **ربّ**تعالیٰ دې او هغه [روژه] په دې مياشت کښې نيولې شي، ځکه دې ته **د صبر مياشت** وائي. د **مُؤَاسات** معنیٰ ده خير ښيګړه کول. ولې چه په دې مياشت کښې د ټولو مسلمانانو سره خاص طور د نِزدې خپلوانو سره خير ښيګړه کول زيات ثواب لري ځکه دې ته د **مُؤَاسات** مياشت وائي. په دې کښې رزق هم فراخه کيږي ځکه چه غريبانان هم پکښې نعمتونه خوري، ځکه د دې نوم د **وُسعَتِ رِزق** [د رزق د فراخئ] **مياشت** هم دې." (تفسِيرِ نعيمي ج٢ ص٢٠٨)

## د "ماهِ رَمَضان مُبارَك" د ديارلسو حُروفو په نِسبت ديارلس مَدَنی ګلونه

(دا ټول مَدَنی ګلونه د تفسِيرِ نعيمي د جِلد٢ نه اغستې شوي دي)

﴿١﴾ کعبهٔ مُعَظَّمه مسلمانان ځان ته غواړي او [بَرَکتونه] ورکوي او دا [رَمَضان] پخپله راځي او **رَحمتونه** تقسيموي. لکه هغه (يعني کعبه) چه کوهې دې او دا (يعني رَمَضان شريف) درياب دې او يا هغه (يعني کعبه) درياب دې او دا (يعني رَمَضان شريف) باران دې.



www.dawateislami.net

﴿۲﴾ په هره مياشت کښې په خاص تاريخونو کښې او په تاريخونو کښې هم په خاص وخت کښې عبادت کيږي. مَثَلًا د غټ اختر په يو څو مخصوصو تاريخونو کښې **حج** کيږي، او د مُحَرَّم لسم تاريخ افضل دې، خو د **رَمَضان په مياشت** کښې هره ورځ او هر وخت عبادتونه کيږي. روژه عبادت دې، روژه ماتې عبادت دې، د روژه ماتي نه پس د تراويح اِنتِظار عبادت، د تراوِيح ادا کولو نه پس د پيشمني په اِنتِظار کښې اوده کيدل عبادت او بيا پيشمني کول هم عبادت دې. الغَرَض په هر هر وخت کښې ئې د الله تعالیٰ د شان نظارې دي.

﴿۳﴾ **رَمَضان** يوه بټۍ ده، څنګه چه بټۍ ګنده وسپنه صفا کوي او د صفا وسپنې نه د مشين **پُرزه** جوړه کړي يعني هغه وسپنه قيمتي کړي، د سرو زرو نه کالي جوړ کړي او د استعمال قابِل ئې کړي. هم دغسې **د رَمَضان مياشت** ګنهګاران پاك کوي او د نيکانو خلقو درجې اوچتوي.

﴿٤﴾ په **رَمَضان** کښې د نفلو ثواب د فرضو هُمره او د فرضو ثواب اويا "۷۰" هُمره کيږي.

﴿۵﴾ **بعضې** عُلَماء فرمائي: څوك چه په رَمَضان کښې وفات شي د هغه نه د **قَبْر** سوالونه هم نه کيږي.

﴿٦﴾ **په دې** مياشت کښې شبِ قدر دې. د تير شوي آيت نه معلومه شوه چه قرآن په رَمَضان کښې نازل شوې دې او بل ځائ فرمائي:

اِنَّاۤ اَنۡزَلۡنٰهُ فِیۡ لَیۡلَةِ الۡقَدۡرِ ۚ﴿۱﴾ مَفهُوم ترجمهٔ کَنزُالاِيمان: بيشکه مونږ هغه د قدر په شپه کښې نازل کړو.

(پ۳۰ القدر:۱)

د **دوارو** آيتونو د را يو ځائ کيدو نه معلومه شوه چه شبِ قدر په رَمَضان کښې دې او هغه غالِباً ووه ويشتمه شپه ده. ځکه چه په لَيۡلَةُ الۡقَدۡر کښې نهه حُروف دي او دا لفظ په سُورهٔ قَدر



www.dawateislami.net

کښې درې ځله راغلې دې دغسې دا ووه وِیشت شو نو معلومه شوه چه هغه ووه ویشتمه شپه ده.

﴿۷﴾ په **رَمَضان** کښې د دوزخ دروازې بندې شي، جَنَّت ښُکلې کړې شي او د هغې دروازې بیرته کړې شي. ځکه په دې ورځو کښې د نیکو زیاتوالې کیږي او په ګناهونو کښې کمې کیږي. کوم خلق چه ګناه کوي هغوئي د خپل نفسِ اَمّاره یا د خپل ملګري شیطان (قَرِین) په دوکه کولو کوي.

﴿۸﴾ د رَمَضان د خوراك ښښاك حساب نشته.

﴿۹﴾ د **قیامت** په ورځ به رَمَضان او قُرآن د روژه دار شفاعت کوي، رَمَضان به وائي: مولٰی عَزَّوَجَلَّ! ما دا د ورځې د خوراك ښښاك نه منع کړې وو او **قُرآن** به عرض کوي چه یا ربّ!عَزَّوَجَلَّ ما دا د شپې د تلاوت او تراویح په ذریعه د اوده کیدو نه منع کړې وو.

﴿۱۰﴾ حضورِپُرنور صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** کښې هر قیدي ازادولو او هر سوال ګر ته به ئې ورکړه کوله. ربّ تعالیٰ هم په رَمَضان کښې جهنَّمیان پریږدي. لِهٰذا پکار ده چه په رَمَضان کښې نیك کارونه وکړې شي او د ګناهونو نه ځان وساتلې شي.

﴿۱۱﴾ په **قُرآنِ** کریم کښې صرف د رَمَضان شریف نوم اغستې شوې دې او هم د دې فضائِل بیان شوي دي. د بلې یوې میاشتې نه ښکاره نوم شته او نه داسې فضائِل. په میاشتو کښې صرف د **رَمَضان** د میاشتې نوم په قُرآن شریف کښې راغلې دې. په زنانؤ کښې کښې صرف د **بي بي مریم** رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا نوم په قُرآن کښې راغلې دې. په صحابه کښې صرف د حضرتِ سیِّدُنا **زَید اِبنِ حارِثه** رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نوم په قُرآن کښې اغستې شوې دې، د دې نه د دې درې وارو عَظَمت معلوم شو.



www.dawateislami.net

﴿۱۲﴾ په **رَمَضان** شریف کښې د روژه ماتي او پیشمني په وخت کښې دُعا قبليږي یعني د روژه ماتي کولو په وخت کښې او په پیشمني کښې د خوراك نه پس. دا مرتبه بلې یوې میاشتې ته نه ده حاصله.

﴿۱۳﴾ په **رَمَضان** کښې پينځه حروف دي، **ر،م،ض،ا،ن**. د **ر** نه مُراد رَحمتِ اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ، د **میم** نه مُراد مَحَبَّتِ اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ، د **ض** نه مُراد ضَمانِ اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ، د **اَلِف** نه امانِ اِلٰهي او د **ن** نه مُراد نُورِ اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ . او په رَمَضان کښې پينځه عبادتونه خاص طور کيږي. روژه، تراوِيح، تِلاوتِ قُرآن، اِعتِکاف او په شبِ قدر کښې عبادتونه. نو څوك چه د زړه په صِدق دا **پينځه عبادتونه** وکړي هغه د دې **پينځه انعامونو** حقدار دې. (تفسيرِ نعيمی جلد۲ ص۲۰۸)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## جنّت ښکلې کوي

د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُ الله اِبنِ عمر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُما نه رِوایت دې چه تاجدارِ مَدینه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: " بیشکه **جَنَّت** د کال د شروع نه د راروان کاله پورې د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د پاره ښکلې کولې شي او وئې فرمائيل: د رَمَضان شریف په اوله ورځ د جنّت د وَنو د لاندې نه غټو غټو سترګو والا حورو باندې هوا لګي او هغوئي عرض کوي: "اے پروردګار عَزَّوَجَلَّ! په خپلو بندګانو کښې داسې بندګان زمونږه خاوند جوړ کړې چه هغوئي ته مونږ اوګورو نو زمونږه سترګې يخې شي او چه کله هغوئي مونږ ته اوګوري نو د هغوئي سترګې يخې شي.
(شُعَبُ الاِيمان ج۳ ص۳۱۲ حديث ۳۶۳۳)

## جَنَّت څوك ښکلې کوي؟

مشهور **مُفَسِّر حَکِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د حديثِ پاك د دې حِصّې: "بيشکه **جَنَّت** د کال د شروع نه د راروان کاله پورې د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د پاره ښکلې



www.dawateislami.net

کولېي شي“ نه لاندې په مِراة جِلد ٣ صفحه ١٤٢ نه ١٤٣ پورې فرمائي: يعني د واړه اختر د مياشتې ښکاريدو سره، د راروان رَمَضان د پاره د جَنَّت ښائسته کول شروع شي او ټول کال ئې فرښتې ښائسته کوي، جَنَّت پخپله هسې هُم ښکلې او بيا نور هُم زيات ښکلې کړې شي او بيا د ښائسته کولو والا فرښتې وي نو څنګه به ښکلې کيږي د هغې ښائسته والې زمونږه د وَهم او ګُمان نه لرې خبره ده، بعضې مسلمانان په رَمَضان کښې جُماتونه ښکلي کوي، رنګ روغن پکښې کوي، جنډې پرې لګوي، رڼاګانې پرې لګوي، د دې اصل هُم دا حديث دې.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! د جَنّت د عَظَمَت به څه وائې! کاش! چه مونږه بې حِسابه اوبخښلې شو او په جَنَّتُ الفِردَوس کښې را ته د خوږ خوږ مکّي مَدَني آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ رانصيب شي. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! تبليغ قرآن و سُنّت عالمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د اَهلِ حقّ مَدَني تحريك دې. دې سره هر وخت خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ، په دعوتِ اسلامي والؤ باندې د **الله** تعالیٰ څنګه څنګه مهربانئ کيږي، د دې يوه نظاره اوګورئ:

## په جَنّت کښې د آقا د ګاونډ زيرې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! اسلامي ورونړو او اسلامي خويندو ته د **فِيْ سَبِيْلِ الله** درسِ نِظامي (يعني عالِم کورس) تعليم ورکولو د پاره د دعوتِ اسلامي د انتِظام نه لاندې د **جامِعَةُ الْمَدِينه** په نوم **ګنړ شمير جامِعات** قائم کړې شوي دې. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! په ١٤٢٧ھ کښې د دعوتِ اسلامي د دې **جامِعَاتُ الْمَدِينه** (بابُ المَدينه کراچئ) تقريباً يو سل شپيته طَلَبه سمدستي د دولسو مياشتو د پاره د **الله** تعالیٰ په لار کښې [په مَدَني قافِله کښې] سفر اختيار کړو. په شروع کښې هغوئي ته د **مَدَني انعامات و مَدَني قافله کورس** کولو ترکيب وکړې شو، د دې [کورس] په دوران کښې د طَلَبه په زړونو کښې د



www.dawateislami.net

اِسلام د خِدمت جذبه نوره هم زياته شوه او په هغوئي كښې ووه اويا طَلَبه د ټول عمر د پاره ځانونه د مَدَني قافلو د پاره پيش كړل! په دې عظيمه قربانئ باندې د حوصله زياتولو يو زبردست صورت جوړ شو، هغه داسې چه يو عاشِقِ رسول په خوب كښې د **سرکارِ مدينه** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار وكړو، په خوب كښې ورته **خوږ** آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا زيرې وركړو: **"كوم كوم كس چه خپل ځان د ټول عُمر د پاره پيش كړې دې زه به هغوئي په جنّت كښې د خپل ځان سره ساتم."** خوب ليدونكې عاشِقِ رسول [وائي چه زما] په زړه كښې دا ارمان پيدا شو چه كاش! په كروړونو كاش! چه زه هم په دې خوش نصيبو كښې شامِل كړې شوې ووم. د الله تعالٰى خوږ محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما د زړه په خبره پوهه شو او وئې فرمائيل: "كه ته هم په هغوئي كښې شامليدل غواړې نو خپل ځان د ټول عمر د پاره پيش كړه."

سرِ عرش پر ہے تِری گزر، دلِ فرش پر ہے تِری نظر
ملکوت و ملک میں کوئی شے، نہیں وہ جو تجھ پہ عیاں نہیں (حدائقِ بخشش شریف ۱۰۹)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوش نصيبه عاشِقانِ رسول ته دِ دا لوئي زيرې مبارك شي. د اللهُ رَبُّ الْعِزّت عَزَّوَجَلَّ د رَحمت نه دا قوي اُمّيد دې چه د كومو بختورو د پاره دا **مَدَني خوب** ليدلې شوې دې اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰى د هغوئي خاتِمه به په اِيمان كيږي، او هغوئي ته به د مَدَني آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر په جَنَّتُ الفِردوس كښې د هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ نصيب كيږي. بيا هم دا ياد ساتئ چه اُمَّتي كوم خوب اووِيني هغه شرعاً حُجَّت [يعني دليل] نه وي او د خوب د زيرې په بنياد چا ته قطعي جنّتي نه شي وئيلې.

اذن سے تیرے سرِ حشر کہیں کاش! حضور
ساتھ عطار کو جنت میں رکھوں گا یارب (وسائلِ بخشش، ص. ۸٦)



www.dawateislami.net

## هره شپه د شپيته زره بخښنه

د **حضرتِ** سيِّدُنا عبدُالله اِبنِ مسعود رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دي چه رسُولِ اکرم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: "د **رَمَضان شريف** په هره شپه کښې په آسمانونو کښې يو مُنادي [يعني غږ کوونکې] دا آواز کوي: "اے **ښيګړه غوښتونکيه**! پوره کړه (يعني د الله تعالیٰ فرمانبردارئ کښې مخکښې شه) او خوشحاله شه. او اے **شرارتي**! د شر نه قلار شه او عِبرت حاصل کړه. شته څوك **مغفرت غوښتونکي**! چه د هغه غوښتنه پوره کړې شي. شته **څوك توبه کوونکي**! چه د هغه توبه قبوله کړې شي. شته **څوك دُعا غوښتونکي**! چه د هغه دُعا قبوله کړې شي. شته **څوك سوال کوونکي**! چه د هغه سوال پوره کړې شي. اللّٰهتَعَالٰی **د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په هره شپه د روژه ماتي په وخت کښې شپيته زره ګنهګاران د دوزخ نه آزادوي. او د اختر په ورځ د ټولې مياشتې** [د بخښلو شوو] **هُمره د** [نورو] **ګنهګارانو بخښنه کيږي.** (شُعَبُ الْاِيمان ج۳، ص۳۰۴ حديث۳۶۰۶)

د **مديني عاشقانو**! رَمَضَانُ الْمُبَارَك چه راشي نو زمونږه غريبانانو مزې شي. د اللّٰهتَعَالٰی په فضل و کرم د **رَحمت** دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې شي او د **بخښنې** ډير ډير اِنعامونه تقسيميږي. کاش! مونږ ګنهګارانو ته هم د **رَمَضان د مياشتې** په خاطر د **الله** تعالیٰ د خوږ محبوب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رحمت نه ډکو لاسو باندې د جهنّم نه د خلاصې زيرې راکړې شي. اِمامِ اهلِسُنّت اعلیٰ حضرت اِمامِ احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په بارګاهِ رِسالت کښې عرض کوي.

تمنّا ہے فرمایئے روزِ محشر یہ تیری رہائی کی چھٹی ملی ہے

(حدائقِ بخشش، ص۱۸۸)

## هره ورځ د لسو لکو ګنهګارانو د دوزخ نه خلاصې

**سرکارِ نامدار**، د مديني تاجدار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: "کله چه د رَمَضان اوله شپه وي نو اللّٰهتَعَالٰی د خپل مخلوق په طرف نظر فرمائي او چه کله الله تعالیٰ د خپل کوم بنده



www.dawateislami.net

طرف ته نظر اوفرمائي نو هغه ته به کله هم عذاب نه ورکوي. او هره ورځ لس لکه (ګنهګاران) د جَهَنَّم نه آزادوي او کله چه يو ڪم ديرشمه شپه وي نو په ټوله مياشت کښې ئې چه څومره آزاد کړي وي د هغوئې د شمير هُمره په هغه يوه شپه آزاد فرمائي. بيا چه کله د وَاړه اختر شپه راشي. فرښتې خوشحالي کوي او الله تعالیٰ د خپل نور خاص ټَلِّي فرمائي او فرښتو ته فرمائي: ''اے د فرښتو ډلې! د هغه مزدور څه بدله ده چا چه کار پوره کړو؟'' فرښتې عرض کوي، ''هغه ته دِ پوره پوره اجر [يعني بدله] ورکړې شي. اللّٰه تعالیٰ فرمائي چه زه تاسو ټول ګواه جوړووم چه ما دا ټول اوبخښل.'' جمعُ الْجَوامِع ج١ ص٣٤٥ حديث ٢٥٣٦)

## د جُمعې په هر هر ساعت کښې د لسو لکو بخښنه

د حضرتِ سيِّدُنا عبدُالله ابنِ عبّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې چه جنابِ رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ''اللّٰه تعالیٰ د رَمَضان په مياشت کښې هره ورځ د روژه ماتي په وخت کښې لس لکه داسې ګنهګاران د جَهَنَّم نه آزادوي په کومو چه د ګناهونو په وجه جَهَنَّم واجِب شوې وو، او د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ (يعنی د زيارت په ورځ د نمر پريوتو نه واخله د جُمعې د ورځې د نمر پريوتو پورې) په هر هر ساعت کښې داسې لس لس لکه ګنهګارانو ته د جَهَنَّم نه آزادي ورکولې شي کوم چه د عذاب حقدار ګرځولې شوي وي. (اَلْفِردَوْس بِمَأْثُورِ الْخطّاب ج٣ ص٣٢٠ حديث٤٩٦٠)

اے عاشِقانِ رَمَضان! په بيان شوو مبارکو احاديثو کښې د رَبُّ الْاَنَام عَزَّوَجَلَّ د څومره عظيم الشّانه اِنعامونو او اِکرام ذِکر دې. اے کاش چه! اللّٰه تَعَالٰی مونږ ګنهګاران هم په دغه بخښلو خلقو کښې شامل کړي.اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

عصياں سے کبھی ہم نے کنارہ نہ کيا — پر تُونے دِل آزردہ ہمارا نہ کيا
ہم نے تو جہنم کی بہت کی تجويز — ليکن تِری رحمت نے گوارا نہ کيا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد



www.dawateislami.net

## په خرچه کښې فراخي کوئ

**حضرتِ** سَيِّدُنا ضَمُره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دي چه د نبيانو د سلطان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بَرَکت نه ډك فرمان دي: د رَمَضان په مياشت کښې د خپل کور د کسانو په خرچ کښې فرا کوئ ځکه چه د **رَمَضان** په مياشت کښې خرچ کول د اللّٰه‌تعالیٰ په لار کښې د خرچ کولو په شان دي. (فيضانِ شهرِ رَمَضان مع موسوعة اِبنِ اَبِی الدُّنيا ج١ ص٣٦٨ حديث٢٤)

## خير او خير

**اميرُ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ به فرمائيل: ”هغه مياشت ته په خير راغلې وايو کومه چه مونږه پاك کوي. پوره **رَمَضان** خير او خير ده، که د ورځې روژه وي او که د شپې قيام. په دې مياشت کښې خرچ کول په جِهاد کښې د خرچ کولو درجه لري.“
(تَنْبِيهُ الْغَافِلِين ص١٧٦)

## د غټو غټو سترګو حورې

د **حضرتِ** سَيِّدُنا عبدُ الله اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه روايت دي چه رَحمتِ عالم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: چه کله د رَمَضان شريف اولنې تاريخ راشي نو د عرشِ عظيم د لاندې نه مَثِيره نومې هوا لګي چه هغه د جَنَّت د وَنو پاڼې خوزوي. د دې هوا په لګيدو داسې زړه راښکونکې آواز اوچتيږي چه د هغې نه بهتر آواز تر ننه پورې چا نه دې اوريدلې. دا آواز چه واوري نو **غټو غټو سترګو والا حورې** راښکاره شي تر دې چه د جَنَّت په اوچتو **محلونو** باندې ودريږي او وائي: ”شته څوك چه مونږه د اللّٰه‌تَعَالٰی نه اوغواړي چه زمونږه نکاح د هغه سره وشي؟“ بيا هغه حورې د داروغهٔ جَنَّت (حضرتِ) رِضوان (عَلَیْہِ السَّلَام) نه تپوس کوي: ”دا نن څنګه شپه ده؟“ (حضرتِ) رِضوان (عَلَیْہِ السَّلَام) په جواب کښې **تَلبِيَه** (يعني لَبَّيك) وائي، بيا وائي:



www.dawateislami.net

”دا د رَمَضان د مياشتې اوله شپه ده، د جَنَّت دروازې د اُمّتِ **مُحَمَّدِيَّه** د روژه دارو د پاره برسيره [يعني بيرته] كړې شوې دي.“ (التّرغِيب والتّرهِيب ج۲ ص۶۰ حديث۲۳)

## دوه تِيارې لرې شي

منقول دي چه **الله** تعالىٰ **حضرتِ** سَيِّدُنا مُوسٰى كليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام ته اوفرمائيل: ما اُمّتِ **مُحَمَّدِيَّه** ته **دوه نُورونه** وركړې دي چه هغه د **دوو تِيارو** د ضرر (يعني نُقصان) نه **محفوظه** اوسي. سَيِّدُنا مُوسٰى كليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام عرض وكړو: يا الله عَزَّوَجَلَّ هغه **دوه نُورونه** كوم دي؟ ارشاد وشو: ”**نُورِ رَمَضان** او **نُورِ قرآن**. سَيِّدُنا مُوسٰى كليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام عرض وكړو: **دوه تِيارې** كومې كومې دي؟ وئې فرمائيل: ”**يوه د قبر** [تِياره] **او بله د قيامت**.“ (دُرُّالنّاصِحِين ص۹)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## رَمَضان او قرآن به شفاعت كوي

روژه او قرآن به د **محشر** په ورځ د مسلمانانو د پاره د شفاعت ذريعه جوړېږي. هغه داسې چه د الله تعالىٰ خوږ حبيب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: روژه او قرآن به د قيامت په ورځ د بنده د پاره شفاعت كوي. **روژه** به عرض كوي، اے **ربِّ كريم** عَزَّوَجَلَّ! ما دا د ورځې د خوراك او خواهشاتو نه منع كړې وو، زما شفاعت د ده په حق كښې قبول كړې. **قرآن** به وائي: ما دا د شپې د اوده كيدو نه منع كړې وو، زما شفاعت د ده د پاره قبول كړه. پس د دواړو شفاعتونه به قبول شي. (مُسند امام احمد ج۲ ص۵۸۶، حديث۶۶۳۷)

## د يو لاك رَمَضان ثواب

**حضرتِ** سَيِّدُنا عبدُ الله اِبنِ عبّاس رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دې چه سركارِ نامدار، د مدينې تاجدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چا ته چه په مكّهٔ مُكرّمه كښې د رَمَضان مياشت په لاس ورغله او روژه ئې ونيوله او د شپې ئې چه څومره [په اسانه] كيدې شي قيام [يعني عبادت]



www.dawateislami.net

وكړو نو اللّٰه تعالٰی به د هغه د پاره د بل ځائ د يو لكو رَمَضان ثواب ليكي او هره ورځ به د يو غلام آزادولو ثواب او هره ورځ په جِهاد كښې په اس باندې د سوَرَولو ثواب او په هره ورځ كښې نيكي او په هره شپه كښې نيكي ليكي.'' (ابنِ ماجه ج۳ ص۵۲۳ حديث۳۱۱۷)

## كاش! چه اختر په مدينه كښې تير كړو!

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! د اللّٰه تعالٰی د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پيدائِش وطن مكّهٔ مُكرّمه ده. اللّٰه تَعَالٰی د خپل خوږ حبيب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر څومره كرم فرمائيلې دې چه كه د رسُولِ اكرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو غلام [يعني اُمّتي] چه كه د رَمَضان مياشت په مكّهٔ مُكرّمه كښې تيره كړي او هم هلته روژې ونيسي او د شپې حسبِ توفيق نفلونه وغيره ادا كړي نو هغه ته به د نورو ځايونو د يو لكو رَمَضان هُمره ثواب وركولې شي او هره شپه او ورځ د يو يو غلام آزادولو ثواب او يوه يوه عظيمُ الشّانه نيكي به نوره وركولې شي. اے كاش! چه مونږ ته هم په مكّهٔ مُكرّمه كښې د رَمَضان د مياشتې تيرولو عظيم سعادت نصيب شي او په هغې كښې را ته د ډير ډير عبادت كولو توفيق هم نصيب شي او بيا د رَمَضان مياشت چه تيره كړو نو فوراً د اختر تيرولو د پاره د خپل خوږ خوږ آقا مكّي مَدَني مصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم روضهٔ مباركې ته حاضر شو او هلته د هغوئي نه په ژړا ژړا ''د اختر د تُحفې'' سوال وكړو، او د شين گُنبد والا آقا، رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رَحمت په جوش كښې راشي او اے كاش چه! مونږ گنهگارو ته د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دربار مبارك نه ''د اختر د تُحفې'' په طور د بې حِسابه بخښنې زيرې رانصيب شي.

يا نبی! عطار کو جنت ميں دے اپنا جوار
واسطہ صديق کا جو تيرا يارِ غار ہے (وسائل بخشش ۴۸۰)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

## آقا ﷺ به عبادت ته ملا وتړله

**اُمُّ المُؤمِنِين** حضرتِ سيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا فرمائي: كله به چه **د رَمَضان مياشت** راغله نو زما سرتاج، صاحِبِ مِعرا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د **اللّٰه** تعالیٰ د عبادت د پاره ملا وتړله او ټوله مياشت به ئي خپلي مباركي بِستري ته تشريف نه راوړلو.“ (مُسْنَد اِمام اَحمَد، ج٩، ص٣٣٨ حديث ٢٤٤٤٤)

## آقا ﷺ به په رَمَضان كښي ډيري دُعاګاني كولي

په يو بل رِوايت كښي فرمائي: چه كله به د رَمَضان مياشتي تشريف راوړو نو د حضورِ اكرم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رنګ مُبارك به مُتَغَيَّر [يعني بدل] شو، او د لـمانځه كثرت به ئي كولو او په **ډيره ژړا او زارئ به ئي دُعاګاني كولي.** (شُعَبُ الْاِيمان ج٣ ص٣١٠ حديث ٣٦٢٥)

## آقا ﷺ به په رَمَضان كښي ډير خيرات كولو

**حضرتِ** سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فرمائي: ” كله به چه **د رَمَضان مياشت** راتله نو سركارِ مَدِينه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هر يو قيدي پريښودلو او هر سوال كوونكي ته به ئي وركړه كوله.“ (شُعَبُ الْاِيمان ج٣ ص٣١١ حديث ٣٦٢٩)

## آيا د حضور ﷺ د ظاهري ژوند مُبارك په زمانه كښي به قيديان وو؟

**مشهور** مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د بيان كړي شوي حديثِ پاك د دي حِصّي: ”هر قيدي به ئي پريښودلو“ نه لاندي په مِرآة جِلد٣ صفحه ١٤٢ كښي فرمائي: حق دا دي چه دلته د قيدي نه مُراد هغه كس دي څوك چه په حَقُّ الله يا حَقُّ الْعَبْد (يعني د الله يا د بنده په حق) كښي ګرفتار وو او د آزادولو نه مُراد د هغه حقونه ادا كول يا د بل په ذريعه ادا كول مُراد دي.



www.dawateislami.net

## د تهولو نه غټ سخي

حضرتِ سَیِّدُنا عبدُ الله اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فرمائي: ''رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خلقو کښې د **تهولو نه زيات سخي دې** او د سخاوت درياب به د تهولو نه زيات هغه وخت په جوش کښې وو چه کله به په رَمَضان کښې د هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره جِبرئيل عَلَيْهِ السَّلَام د ملاقات د پاره حاضريدو، جِبرئيلِ اَمِين عَلَيْهِ السَّلَام به (د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په) هره شپه د ملاقات د پاره حاضريدلو او رسُولِ کريم، رءُوفٌ رَّحِيم صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغوئي سره د قُرآنِ عظيم دَوَر فرمائيلو.'' پس **رسُولُ الله** صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د تيزې لګيدونکې هوا نه هم زيات د خير په مُعامَله کښې **سخاوت** فرمائيلو. (بُخاری ج۱ ص۹ حديث۶)

ہاتھ اُٹھا کر ایک ٹکڑا اے کریم! ہیں سخی کے مال میں حقدار ہم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## زر هُمره ثواب

حضرتِ سيِّدُنا اِبراهِيم **نَخعي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: ''**د رَمَضان په مياشت** کښې د يوې ورځې **روژه** نيول [د نورو ورځو] د زرو ورځو د روژو نه غوره ده او **د رَمَضان په مياشت** کښې يو ځل تسبِيح لوستل (يعني سُبحٰنَ الله وئيل) د دې مياشت نه علاوه د زرو ځلو تسبِيح لوستلو (يعني سُبحٰنَ الله وئيلو) نه غوره دي او **د رَمَضان په مياشت** کښې يو **رَکعَت** کول د غيرِ رَمَضان د زرو **رَکعَتونو** نه غوره دي. (تفسير دُرِّ مَنْثُور ج۱ ص۴۵۴)

## په رَمَضان کښې د ذِکر فضيلت

د **اميرُ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې چه د رَسُولِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دې: په رَمَضان کښې ذِکرُالله عَزَّوَجَلَّ کوونکې بخښلې کيږي او په دې مياشت کښې د الله تعالیٰ نه سوال کوونکې محرومه نه پاتې کيږي. (شُعَبُ الْاِيمان ج۳ ص۳۱۱ حديث۳۶۲۷)



www.dawateislami.net

## د سُنّتو نه ډکه اِجتِماع او ذِکرُ الله عَزَّوَجَلَّ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! هغه خلق څومره خوش نصيبه دي څوك چه په دې مبارکه مياشت کښې په خصوصِيّت سره **د سُنّتو نه ډکو اِجتِماعاتو** کښې د شِرکت کولو سعادت حاصلوي او د الله تعالیٰ نه د دُنيا او د آخِرت د خير سوال کوي. د تبلِيغ قرآن و سُنّت د عالمگِير غير سياسي تحريك **دعوتِ اِسلامي د سُنّتو ډکه اِجتِماع** د اوّل نه واخله تر آخِره پورې ټوله په ذِکرُ الله عَزَّوَجَلَّ مُشتمِله وي. ځکه چه تِلاوت، نعت شريف، د سُنّتو ډك بيان، دُعا او صلٰوة و سلام وغيره ټول په ذِکرُالله کښې داخِل دي. د دعوتِ اسلامي د اِجتِماع د برکتونو يوه نظاره اوګورئ چنانچه

## د شپږو لونړو نه پس نارينه اولاد

د **مرکزُ الاولياء** (لاهور) د يو اسلامي ورور بيان په تَصَرُّف سره عرض کووم: غالِباً د 2003ء خبره ده، يو اسلامي ورور ما ته د تبلِيغ قُرآن و سُنّت د عالمگِير غير سياسي تحريك دعوتِ اسلامي د درې ورځو بين الاقوامي د سُنّتو ډکه اجتِماع (صحرائے مدينه مُلتان) کښې د شِرکت کولو دعوت راکړو. ما ورته عرض وکړو چه زه د شپږو لونړو پلار يم، د کور والا مې بيا اُمِّيد دې، دُعا وکړئ چه دا ځل را له خُدائے **ځوئ** راکړي. هغه اسلامي ورور راباندې په عجيبه انداز کښې **اِنفِرادي کوشش** وکړو او راته وئې وئيل ، سُبُحٰنَ الله! اوس خو تاسو ته د درې ورځو د سُنّتو ډکه اجتِماع کښې د شرکت کولو زيات ضرورت دې، د حج نه پس د شمير په لحا د **عاشِقانِ رسول** د دُنيا د ټولو نه غټه اِجتِماع (ملتان شريف) کښې شرکت وکړئ او دُعا اوغواړئ، معلومه نه ده چه د چا په خاطر دِ بيړئ پوريوځي. د هغه خبرې زما په زړه ډير اثر وکړو او زه **د سُنّتو ډکه اجتِماع** (مُلتان شريف) کښې حاضِر شوم. د هغه ځائ رُوح تازه کوونکي نظارې زه تاسو ته نه شم بيانولې، ما ته په ژوند کښې ورومبې ځل داسې زبردست روحاني سکون نصيب شو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ!د اجتماع نه يو څو ورځې پس الله تعالیٰ ما ته **د سپوږمئ په شان ښکلې مَدَني**



www.dawateislami.net

**ماشوم** [یعني هلك] راکړو. د کور کسان ډیر زیات خوشحاله شو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! زه د **دعوتِ اسلامي** په مَدَني ماحول کښې شامِل شوم. اللّٰه تعالیٰ ما له یو بل **مَدَني ماشوم** [یعني هلك] هم راکړو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! د دې بیان ورکولو په وخت کښې ما ګنهګار ته د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې د **قافِله ذِمّه دار** په حَیثِیَّت د خِدمت کولو سعادت نصیب دې.

## د ښلویښتو نیکو مسلمانانو په غونډه کښې یو ولي وي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دعوتِ اسلامي په **مَدَني ماحول** او د سُنّتو ډکو اجتماعاتو کښې به رَحمتونه ولې نه نازلیږي، ځکه چه معلومه نه ده چه په دې **عاشِقانِ رسول** کښې به څومره اولیائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی وي. **اعلیٰ حضرت** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: په جَماعت [یعني ډله] کښې بَرَکت دې او **دُعاءِ مَجمَعِ مُسلِمِین اَقرَب بقَبُول**. (یعني د مسلمانانو په ګنړه کښې دُعا کول قبلیدو ته زیاته نِزدې ده) عُلَماء فرمائي: **کوم ځائ چه ښلویښت مسلمانان صالِح** (یعني نیك مسلمانان) **راجمع شي په هغوئي کښې یو وَلِیُّ اللّٰه ضرور وي.** (فتاوٰی رَضَوِیَّه جدید ج ۲۴ ص ۱۸۴، فیض القدیر ج ۱ ص ۴۹۷ زیر، حدیث ۷۱۴)

## که د چا څوئ وشي او که لور، یا هیڅ هُم نه، په هر حال کښې شُکر کوئ

بِالفرض که د دُعا د قبلیدو اثر ښکاره نه شي نو بیا هم کِیله کول نه دي پکار. ځکه چه زمونړه خیر په څه کښې دې په دې یقیناً **اللّٰه** تعالیٰ زمونږ نه ښه پوهیږي. مونږ ته په هر حال کښې د خپل خوږ **رَبُّ الْعِزَّت** عَزَّوَجَلَّ شُکر ګُزار بنده جوړیدل پکار دي. که هغه څوئ راکړي نو هم د هغه شُکر دې او که لُور راکړي بیا هم د هغه شُکر دې، که دواړه راکړي بیا هم شُکر دې او که یو هم را نه کړي بیا ئې هم شُکر دې، بس په هر حال کښې شُکر شُکر او شُکر ادا کول پکار دي. په سیپاره ۲۵ **سُورَةُ الشُّورٰی** کښې د **اللّٰه** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی ارشاد دې:



www.dawateislami.net

لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ؕ یَخْلُقُ مَا یَشَآءُ ؕ یَهَبُ لِمَنْ یَّشَآءُ اِنَاثًا وَّ یَهَبُ لِمَنْ یَّشَآءُ الذُّكُوْرَ ﴿۴۹﴾ اَوْ یُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَّ اِنَاثًا ۚ وَ یَجْعَلُ مَنْ یَّشَآءُ عَقِیْمًا ؕ اِنَّهٗ عَلِیْمٌ قَدِیْرٌ ﴿۵۰﴾

**مَفهُوم ترجمهٔ کَنْزُالْاِیمان:** يواځې الله لره ده د آسمانونو او زمکې بادشاهي، پيدا کوي چه څه غواړي، پس چا لره چه اوغواړي لونړه ورکړي او چا لره چه اوغواړي ځامن ورکړي يا دواړه جوړه ورکړي ځامن او لونړه. او چا لره چه اوغواړي شنډ ئې کړي، بيشکه هغه د عِلم او قدرت خاوند دې.(پ۲۵ اَلشُّورٰی ۴۹،۵۰)

په ”خَزَائِنُ الْعِرفَان“ کښې د آيت نمبر ۵۰ د دې حِصّې (چا له چه اوغواړي شَنډ ئې کړي) نه لاندې دي: يعني چه د هغه هډو اولاد ونشي، هغه (يعني الله تعالیٰ) مالِك دې خپل نِعمت چه څنګه غواړي تقسيموي ئې. چا له چه څه اوغواړي ورکوي ئې. په اَنبِياء عَلَيْهِمُ السَّلَام کښې هم دا ټول حالتونه شته دې، د حضرت سَيِّدُنا **لوط** عَلَيْهِ السَّلَام او حضرت سَيِّدُنا **شُعَيب** عَلَيْهِ السَّلَام صرف لونړه وې، يو څوئ ئې هم نه وو او د حضرت سَيِّدُنا **اِبراهيم** عَلَيْهِ السَّلَام صرف فَرزندان (يعني ځامن) وو، يوه دُختر (يعني لور) ئې هم نه وه شوې او سيِّدُ الاَنبِياء حبيبِ خُدا **مُحمّد مُصطفی** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته **اللّٰه تَعَالٰی** څلور فرزَندان [يعني ځامن] عطا کړي وو او څلور صاحب اديانې [يعني لونړه ئې ورکړي وې]. او د حضرت سَيِّدُنا **يحيٰ** عَلَيْهِ السَّلَام او د حضرت سَيِّدُنا **عِيسٰی** رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام هيڅ اولاد نه وو“ (خزائنُ العرفان ص ۷۹۸)

## د حُضُور ﷺ د مُقَدَّس اولاد شمير

د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارې **مَكْتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوې د ۳۶ صفحو رِساله ”**ژوندئ لُور ئې کوهي ته غوزاره کړه**“ کښې صفحه ۷ نه واخله ۸ کښې دي: اګر چه په ”**خَزَائِنُ الْعِرفَان**“ کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د څلور فرزندانو کيدو ذِکر شته خو په دې کښې اختِلاف دې، د درې شهزاد ګانو قول هم شته او د دوو هم. چنانچه په ”**تذکِرَةُ الانبياء**“ کښې په



www.dawateislami.net

صفحه ۸۲۷ کښې دي: د سرکارِمدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم درې ځامن وو: **قاسِم، اِبراهیم، عبدُ الله**. یاد ساتئ: چه طیِّب، مُطیَّب، طاهِر او مُطَهَّر د هم دوئي (یعني د حضرت عبدالله رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ) القاب وو، دا څه نور ځامن نه وو. (تذکرة الانبياء ص۸۲۷) حضرت علّامه عبدُالمُصطَفٰی اعظمِي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په "**سِیرتِ مُصطفٰی**" صفحه 687 کښې لیکي: په دې خبره باندې ټول مؤَرِّخین (مُ. اَر. رِخِین) مُتّفِق دي چه د حضورِ اقدس صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اولادِ کِرامو شمار شپږ (خو یقیناً) دې. دوه فرزندان حضرت **قاسِم** او حضرت **ابراهیم** (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا) او څلور صاحبزادیانې حضرت زینب او حضرت رُقَیَّه او حضرت اُمِّ کلثوم او حضرت فاطِمَه (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُنَّ) خو بعضو مؤَرِّخِینو دا بیان کړې دي چه د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یو صاحبزاده **عبدُالله** (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ) هم دې چه د هغوئي لقب طَیِّب و طاهر دې. د دې قول په وجه د حضور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مُقدّس اولاد شمیر ووه "۷" دې یعني درې صاحبزادګان او څلور صاحبزادیانې.

(سیرتِ مصطفٰی ص۶۸۷)

## د رَمَضان عاشِق

**مُحَمّد** نوم ئې یو کس وو، ټول کال به ئې لمونځ نه کولو. چه کله به د **رَمَضان شریف** مبارکه میاشت راغله نو هغه به صفا سُتره جامې اغوستلې او په پابندئ سره به ئې پینځه وخته لمونځ کولو او د تیر کال قضا لمونځونه به ئې هم ادا کول. خلقو ترې تپوس وکړو چه ته داسې ولې کوې؟ هغه اووئیل: دا د رَحمت، بَرَکت، توبې او مغفرت میاشت ده، شاید چه **اللّٰه تَعَالٰی** د دې عمل په سبب زما بخښنه اوفرمائي. چه کله هغه وفات شو نو چا په خوب کښې ولیدو او تپوس ئې ترې وکړو، **مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ**؟ یعني **اللّٰه تَعَالٰی** ستا سره څه معامَله اوفرمائیله؟ هغه په جواب کښې اووئیل: زما **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ **زه د رَمَضان شریف د اِحتِرام کولو په وجه اوبخښلم.**

(دُرَّةُ النَّاصِحِين ص۸)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد



www.dawateislami.net

## الله تعالٰی بې نيازه دې

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! تاسو وليده! **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی د **رَمَضان د مياشتې** په قدردان باندې څومره مهربانه دې چه په ټول کال کښې صرف د **رَمَضان په مياشت** کښې د عبادت کوونکي بخښنه ئې اوفرمائيله. د دې حِکايت نه چرې څوك دا مطلب وانخلي چه نوره خو (مَعاذَالله عَزَّوَجَلَّ) ټول کال د لمونځونو رُخصت شو! صِرف رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې به روژې نيسو او لمونځونه به کوو او نيغ به جنّت ته لاړ شو. **خوږو اسلامي وروڼړو!** دراصل بخښل يا عذاب ورکول دا هر څه د اللّٰه تَعَالٰی په مَشِيَّت [يعني په خوښه] موقوف دې، هغه بې نيازه دې. که اوغواړي نو يو مسلمان په اهره په يو ډير وړوکي نيك عمل اوبخښي او كه اوغواړي نو د غټو غټو نيكو باوجود په خپل عدل څوك په يوه وړه ګناه ونيسي. په دريمه سيپاره کښې د سُورَةُالْبَقَره په آيت ۲۸٤ کښې د بې نيازه ربّ ارشاد دې:

فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَ يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ (پ ۳ البَقَرة: ۲۸٤)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِيمان: نو چا ته چه اوغواړي (په خپل فضل اِيمان والا ته) بخښنه به ورکړي ، او چا ته چه اوغواړي (په خپل عدل به) ا ورکړي.

تو بے حساب بخش کہ ہیں بے شمار جرم　　　دیتا ہوں واسطہ تجھے شاہِ حجاز کا

## دريو کښې درې پټ دي

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! يوه نيکي هم پريښودل نه دي پکار، معلومه نه ده چه د الله تعالٰی کومه يوه نيکي خوښه شي، او يوه د وړې نه وړه ګناه هم کول نه دي پکار، ځکه چه معلومه نه ده چه اللّٰه تعالٰی په کومه ګناه ناراضه شي او د هغه په دردناك عذاب کښې اخته شو. خليفهٔ اعلٰی حضرت، فَقِيهِ اعظم سيِّدُنا **ابو يوسُف محمّد شريف مُحَدِّث** کوټلوي رَحمَةُاللهِ تعَالٰی عَلَيه نه منقول دي: "**الله** تعالٰی درې څيزونه په دريو څيزونو کښې مَخفی (يعني پټ) کړي دي، ﴿۱﴾ خپله رضا ئې په خپل اطاعت [يعني فرمانبردارئ] کښې او ﴿۲﴾ خپله ناراضي ئې په په خپله نافرمانئ کښې او



www.dawateislami.net

﴿۳﴾ خپل اولياء ئې په خپلو بندګانو کښې [پټ کړي دي].“ (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص۵۱) د دې قول نقل کولو نه پس فقِيهِ اعظم رَحْمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہِ فرمائي: ”لهٰذا هر طاعت او هره نيکي کول پکار دي ځکه چه معلومه نه ده په کومه نيکۍ هغه راضي شي او د هرې بدۍ نه بچ کيدل پکار دي ځکه چه معلومه نه ده هغه په کومه بدۍ ناراضه شي. که هغه بدي هر څومره صغيره (يعني وړه) وي. مَثَلًا (بې تپوسه) د چا په ډکې [يعني د لرګي په چخچې په غاښونو کښې] خِلال کول په ظاهره يوه ډيره معمولي خبره ده. يا د يو ګاونډي په خاوره د هغه د اجازت نه بغير لاس وِينځل يوه ډيره معمولي خبره ښکاري. خو کيدې شي چه هم په دې بدۍ کښې د اللّٰه تَعَالٰی ناراضګي پټه وي ځکه د داسې وړو وړو خبرو نه هم بچ کيدل پکار دي. (اخلاقُ الصَّالِحِين ص۵۶)

## سپي ته اوبه ورکوونکي اُوبخښلې شوه

د الله تعالٰى د رَحمت غوښتونکو! په ظاهره که نيکي هر څومره وړه وي خو چه الله تعالٰى بخښل غواړي نو هغه د هغې په وجه کرم اوفرمائي. چنانچه په دې باره کښې ډير حديثونه راغلي دي. **مَثَلًا يوه ښځه صرف په دې وجه اوبخښلې شوه چه هغې په يو تږي سپي باندې اوبه څښلې وې.** (بُخاری ج۶ ص۴۰۹ حديث۳۳۲۱) په يو حديث کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا فرمان هم دې چه يو کس د لارې نه يوه **وَنه** ځکه لرې کړه چه خلقو ته د دې نه تکليف ونه رسي. اللّٰه تعالى ترې خوشحاله شو او د هغه **بخښنه** ئې وکړه. (مُسلِم ص۱۴۱۰ حديث۱۹۲۴) په يو صحيح حديث کښې په **قرض کښې نَرمي** (يعني د قرض په وصولَولو کښې د اسانۍ) کولو والا يو کس د **نجات** [يعني د خلاصې] کيدو واقعه هم راغلې ده. (صحيح بُخاری ج۲ ص۱۲ حديث۲۰۷۸) که د **الله** تعالٰى د **رحمت** واقعات راجمع کولو کوشش وکړې شي نو دومره ډير دي چه مونږه ئې هډو راجمع کولې نه شو.

مژده باد اے عاصیو! شافعِ شہِ ابرار ہے    تہنیت اے مجرمو! ذاتِ خدا غفّار ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد
تُوبُوا اِلَى الله! اَسْتَغْفِرُالله
صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

## د عذاب نه د خلاصي اسباب

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! چه کله الله تعالیٰ رَحمت کول غواړي نو داسې سبب هم جوړوي چه يو عمل په خپله بارګاه کښې قبول کړي او د هغې په وجه په هغه کس د رَحمتونو باران وروي. لِهٰذا اوس يو حديث مبارك وړاندې کيږي چه په دې کښې د داسې ډيرو خلقو بيان شوې دې چه هغوئي د څه نه څه نيکئ په وجه د اللّٰه تَعَالٰی د عذاب نه بچ شو او هغوئي ته د الله تعالیٰ د رَحمت سورې نصيب شو. هغه داسې چه د حضرتِ سيّدُنا عبدُ الرَّحمٰن بِن سَمُره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روايت دې، يو ځل خوږ نَبِـيِّ اکرم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړو او ارشاد ئې اوفرمائيلو: "نن شپه ما يو عجيبه خوب وليدو چه

﴿١﴾ د **يو** کس د رُوح اخِستو د پاره مَلَكُ المَوت (عَلَيْهِ السَّلَام) تشريف راوړو خو د هغه د مور و پلار **اطاعت** [يعني فرمانبرداري] کول رامخکښې شو او هغه بچ شو.

﴿٢﴾ په **يو** کس باندې عذابِ قبر راخور شو خو د هغه **اوداسه** (يعني د اوداسه نيکئ) هغه بچ کړو.

﴿٣﴾ **يو** کس شيطانانو ګير کړو خو د **ذِكرُ الله** عَزَّوَجَلَّ (کولو نيکئ) هغه بچ کړو.

﴿٤﴾ **يو** کس د عذاب فرښتو راګير کړو خو هغه (د هغه) **لمانځه** بچ کړو.

﴿٥﴾ **يو** کس مې وليدو چه د تندې د سختئ په وجه ئې ژبه راوِيستلې وه او يو حوض ته به د اوبو د څښلو د پاره تلو خو بيرته به وګرځولې شو چه په دې کښې د هغه **روژې** راغلې او (هغه نيکو) هغه خړوب [يعني په اوبو موړ] کړو.



www.dawateislami.net

﴿۶﴾ **يو** کس مې وليدو چه کوم ځائ انبياءِ کرام (عَلَيۡهِمُ الصَّلٰوةُ السَّلَام) حلقې جوړې کړې تشريف فرما وو، هلته د هغوئي خوا ته ئې تلل غوښتل خو بيرته به وشړلې شو چه په دې کښې د هغه **غُسلِ جَنابت** راغې او هغه ئې زما سره کښينولو.

﴿۷﴾ **يو** کس مې وليدو چه د هغه مخکښې وروستو، ښي او ګڅ طرف ته، لاندې باندې تِياره او تِياره ده او هغه په دې تِياره کښې حيران او پريشانه دې نو د هغه **حج** او **عُمره** راغلل او هغه ئې د تِيارې نه اوويستلو او رڼرا ته ئې ورسولو.

﴿۸﴾ **يو** کس مې وليدو چه هغه د مسلمانانو سره خبرې کول غواړي خو څوك د هغه سره خبرې نه کوي نو **صِلهٔ رِحمې** (يعني د خپلوانو سره د ښه سُلوك کولو نيکئ) مومِنانو ته اووئيل چه تاسو د ده سره خبرې وکړئ نو مسلمانانو د هغه سره خبرې کول شروع کړل.

﴿۹﴾ د **يو** کس د بدن او مخ طرف ته اور ورمخکښې کيږي او هغه په خپل لاس [خپل ځان] بچ کوي نو د هغه **صَدَقه** راغله او د هغه **مخې** ته ډال جوړه شوه او د هغه په سر سورې شوه.

﴿۱۰﴾ **يو** کس زبانيه (يعني د عذاب يو مخصوص قسم فرښتو) د څلور واړه طرف نه ګير کړو خو د هغه اَمۡرٌ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَنَـهۡیٌ عَنِ الۡمُنۡكَر راغې (يعني د نيکئ د حُکم کولو او د بدئ نه د منع کولو نيکي ئې راغله) او هغه ئې بچ کړو او د رَحمت فرښتو ته ئې حواله کړو.

﴿۱۱﴾ **يو** کس مې وليدو چه هغه په ګونډو [يعني په زنګونانو] ناست دې خو د هغه او د **اللّٰه تَعَالٰی** په مينځ کښې حِجاب (يعني پرده) ده خو د هغه **حُسنِ اخلاق** راغې، دې نيکئ هغه بچ کړو او **اللّٰه تَعَالٰی** سره ئې ملاقاتې کړو.

﴿۱۲﴾ **يو** کس ته د هغه اعمالنامه په ګڅ لاس کښې ورکولې شوه نو د هغه **خوفِ خُدا** عَزَّوَجَلَّ راغې او (د دې عظيمې نيکئ په بَرَکت) د هغه اعمال نامه په ښي لاس کښې ورکړې شوه.



www.dawateislami.net

﴿۱۳﴾ د **یو** کس د نیکو وزن سپك شو خو د هغه **سخاوت** راغيِ او د نیکو وزن ئې زیات شو.

﴿۱٤﴾ **یو** کس د جَهَنَّم په غاړه ولاړ وو خو د هغه **خوفِ خُدا** عَزَّوَجَلَّ راغيِ او هغه بچ کړې شو.

﴿۱٥﴾ **یو** کس جَهَنَّم ته اوغورزيدو خو د هغه د **الله د يَرې** بهيدلې **اوښکې** راغلې او (د هغه اوښکو په بَرَکت) هغه بچ شو.

﴿۱٦﴾ **یو** کس په پُلِصِراط ولاړ وو او د ښانګې په شان رپيدو خو د هغه د الله تعالٰی سره **حُسنِ ظن** (يعني د الله تعالٰی نه ښه ګُمان چه هغه به رَحمت کوي) راغيِ او هغه ئې بچ کړو او هغه په پُلِصِراط تير شو.

﴿۱۷﴾ **یو** کس په پُلِصِراط په راښکلو راښکلو روان وو چه د هغه په ما باندې **درودِ پاك** لوستل راغلل او هغه ئې ودرولو او په پُلِصِراط ئې تير کړو.

﴿۱۸﴾ **زما** د اُمّت يو کس د جَنَّت دروازو ته ورسيدو نو هغه تړلې د هغه د پاره بندې وې چه د هغه د لَآاِلٰهَ اِلَّا اللهُ ګواهي ورکول راغلل نو د هغه د پاره جَنّتي دروازې بيرته شوې او هغه جنّت ته داخِل شو.

## د چُغلۍ دردناك عذاب

﴿۱۹﴾ د **څه** خلقو شونډې پريکولې شوې ما د جِبرئيل (عَلَيْهِ السَّلَام) نه تپوس وکړو، دا څوك دي؟ نو هغوئي اووئيل چه دا د خلقو په مينځ کښې **چُغلي** کولو والا دي.

## د ګناه د اِلزام لګولو خوفناکه سزا

﴿۲۰﴾ **څه** خلق د ژبو نه زوړند کړې شوي وو. ما د جِبرئيل (عَلَيْهِ السَّلَام) نه د هغوئي په باره کښې



www.dawateislami.net

تپوس وکړو نو هغوئي اووئيل چه دا په خلقو باندې بې وجه **د ګناه اِلزام** لګوونکي دي.
(شَرحُ الصُّدُور ص۱۸۲)

## يوه نيکي هم نه دي پريښودل پکار

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! تاسو وليدل! د مور و پلار فرمانبرداري، اودس، روژه، ذِکرُالله عَزَّوَجَلَّ حج و عمره، صلهٔ رِحمي، اَمۡرٌ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَنَـهۡیٌ عَنِ الۡمُنۡکَر، صَدَقه، حُسنِ اَخلاق، سخاوت، د **الله** تعالیٰ د يَرې ژړا او د **الله** تعالیٰ سره د حُسنِ ظَن وغيره وغيره نيکو په سَبَب **الله** تعالیٰ په **مُعَذَّبِينو** (يعني کوم خلق چه په عذاب کښې اَخته وو په هغوئی ئې) کرم اوفرمائيلو او هغوئې ته د عِتاب او عذاب نه خلاصي نصيب شو.

بهر حال دا د هغه د فضل و کرم معاملات دي. هغه مالِك و مُختار عَزَّوَجَلَّ دې. د چا د پاره چه اوغواړي بخښنه ئې وکړي، چا له چه اوغواړي عذاب ورکړي، دا ټول د هغه عدل او عدل دې. څنګه چه هغه په يوه نيکۍ خوشحاله شي او په خپل رَحمت بخښنه وکړي، دغسې چه کله هغه په يوه ګناه ناراضه شي نو د هغه قهر او غضب په جوش کښې راشي او د هغه نيول ډير زيات سخت وي څنګه چه اوس د تير شوي اوګد حديث په آخره کښې د **چُغل خورو** او په خلقو د **ګناه د تُهمت** لګوونکو ا ام هم زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وليدو او بيا ئې مونږ ته خبرداري راکړو. لِهٰذا عقلمند هغه دې چه هغه، هُغه نيکي کول هم نه پريږدي کومه چه په ظاهره ډيره وړوکي ښکاري ځکه کيدې شي چه هم دا نيکي د نجات ذريعه جوړه شي او په ظاهره که ګناه هر څومره معمولي هم ښکاري خو بالکل او بالکل کول نه دي پکار.

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

# د ”قهّار“ د څلورو حُـــروفو په نِسبت
# د ګنهګارانو څلور حِکايتونه

## (۱) په قبر کښې اور راپورته شو

د **اللّٰه** تعالیٰ خوږ حبيب صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلي دي چه د **اللّٰه** تعالیٰ په بندګانو کښې يو بنده ته په قبر کښې د سلو کوړو وهلو حُکم ورکړې شو، هغه د **اللّٰه** تعالیٰ نه دُعا کوله کوله تر دې چه يوه کوړه اووهلې شو نو قبر ئې د اور نه ډك شو چه کله اور ختم شو او هغه کس لږ ښه شو نو هغه (د فرښتو نه) تپوس وکړو: آخر زه دا کوړه ولې اُووهلې شوم؟ نو هغوئې جواب ورکړو، **يوه ورځ تا بې طَهارَته** (يعني بې اودسه) **لـمونځ کړې وو. او د يو مظلوم په خوا تير شوې وې خو تا د هغه مدد نه وو کړې.** (شرح مَشْكِلِ الآثار للطّحاوی ج۸ ص۲۱۲ حديث۳۱۸۵، الزَّواجِر ج۳ ص۲۳۶)

## (۲) په تول کښې د بې احتياطئ په وجه عِتاب

**حضرتِ** سيِّدُنا حارِث مُحاسِبِي رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي: چه يو تولګر (يعني غله تلَلو والا) د تول کار پريښودو او په عِبادتِ اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ کښې مشغول شو. کله چه هغه وفات شو نو د هغه ځيني دوستانو هغه په خوب کښې وليدو او تپوس ئې ترې وکړو، مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ يعني اللّٰه تعالیٰ ستا سره څه معامَله وکړه؟ هغه اووئيل: زما هغه پيمانه [تله وغيره] چه په هغې کښې به ما غلّه وغيره تلَلَه، په هغې کښې زما د بې اِحتياطئ په وجه څه خاوره غونډي نښتي وه او هغه ما د بې پرواهئ په وجه صفا نه کړه نو د هرې پيرې تول سره به د هغه خاورې هُمره کم تول کيدو. زه د هغه قُصور په وجه په **عِتاب** [يعني غضب] کښې نښتې يم. (تَنبِيهُ المُغتَرِين ص۵۱)

## (۳) د قبر نه د چغو آواز

هم دغسې يو بل کس به هم د خپلې تلې نه خاوره وغيره نه پاکوله او هم دغسې به ئې



www.dawateislami.net

پکښې خيزونه تَلَل. چه کله هغه مړ شو نو په هغه باندې هم په قبر کښې عذاب شروع شو. تر دې چه **خلقو د هغه د قبر نه د چغو، سُورو آوازونه واوريدل. ځيني صالِحِينو** (يعني نيکو خلقو) رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی چه د هغه د قبر نه د چغو آوازونه واوريدل نو په زړونو کښې ئې پرې رحم پيدا شو او هغوئي د هغه د پاره د بخښنې دُعا وکړه نو د هغې په بَرَکت اللّٰه تَعَالٰی د هغه نه عذاب لرې کړو. (ايضاً)

## د حرامو ګټه چرته ځي

د ذِکر کړې شوو دواړو لړزوونکو حِکاياتو نه دِ هغه خلق ضرور عِبرت واخلي څوك چه په ناپ تول کښې دوکه کوي. اے مسلمانانو! په دوکه باندې د کم ناپ تول کولو په وجه ځيني وخت په ظاهِره د مال ډيروالې هم ښکاري خو داسې ګټه د څه کار ده! کله کله په دُنيا کښې هم داسې مال مصيبت جوړ شي، کيدې شي چه دا مال د ډاکټرانو په فِيسونو کښې او د قِسم قِسم بيمارو په دوائيانو کښې لاړ شي او يا د جيب وهونکو، غلو او رِشوت خورو جيبونو ته لاړ شي. او ورسره ورسره **مَعَاذَاللّٰه** عَزَّوَجَلَّ د آخِرت ډير سخت عذاب هم در په غاړه شي.

کرلے توبہ ربّ کی رحمت ہے بڑی
قبر میں ورنہ سزاہو گی کڑی (وسائل بخشش ص 667)

## د اور دوه غرونه

په رُوحُ الْبَيان کښې دي: څوك چه په ناپ تول کښې خيانت کوي، د قيامت په ورځ به هغه د دوزخ په جورو [کندو] کښې واچولې شي او د اور د دوو غرونو په مينځ کښې به کښينولې شي او حُکم به ورته وکړې شي چه، دا غرونه ناپ کړه او وتَله! چه د تلَلَو کوشش وکړې نو اور به هغه وسيزي." (تفسير رُوحُ البَيان ج١٠ ص٣٦٤)



www.dawateislami.net

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! ښه غور وکړئ! که په دې لږ شان ژوند کښې مو د يو څو فاني روپو حاصلولو د پاره [په سودا خرخولو کښې] دوکه وکړه نو د څومره سخت عذاب وَعِيد [يعني خبرداري] دې. نن مونږه معمولي ګرمي نه شو برداشت کولې نو په جَهَنَّم کښې به د اور د غرونو ګرمي څنګه برداشت کړې شو! د خدائے د پاره! په خپل حال باندې رحم وکړئ او د مال د لالچ نه ځان لرې ساتئ ګني غيرِ حلال [يعني حرام] مال به په دواړو جهانو کښې مصيبت او مصيبت ثابتيږي.

## (٤) د يو ډکې بوج

مشهور تابِعي بُزُرګ حضرتِ سيّدُنا وَهْب بِن مُنَبِّه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: "د بني اِسائيلو يو ځلمي د هر قِسم ګناهونو نه توبه وکړه، بيا ئې مسلسل د اوياؤ کالو پورې عبادت وکړو. د ورځې به ئې روژې نيولې او شپې به ئې رونړولې [يعني دشپې به ئې عبادتونه کول]. **د هغه د تقویٰ [يعني پرهيزګارئ] دا حال وو چه نه به ئې چرې د سوري لاندې ارام کولو او نه به ئې څه ښه خوراك کولو.** چه کله هغه وفات شو نو د هغه ځيني دوستانو هغه په خوب کښې وليدو او تپوس ئې ترې وکړو مَافَعَلَ اللهُ بِكَ؟ يعني اللّٰهتعالیٰ ستا سره څه معامَله اوفرمائيله؟ هغه اووئيل چه: اللّٰهتعالیٰ زما سره حساب وکړو، بيا ئې زما ټول ګناهونه معاف کړل خو آه! يو **ډکې** [يعني چخچې] چه هغه ما د هغه د مالِك د اِجازت نه بغير راغستې وو او په هغې مې د غاښونو خِلال کړې وو. افسوس په کروړونو افسوس! په هم دې وجه زه د جنّت نه حصار کړې شوې يم.

(تَنْبِيْهُ الْمُغْتَرِّين ص٥١)

## ګناه آخِر ګناه ده

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! ويَريږئ! ولړزيږئ! چه کله د اللّٰهتعالیٰ قَهر او غضب په جوش کښې راشي نو په داسې ګناه هم ِيول کوي چه هغه د دُنيا والؤ په نِزد بالکل معمولي ګناه ګنړلې شي څنګه چه اوس په دې رِوايت کښې تير شو چه يو عابِد [يعني عِبادت ګُزار] او زاهِد [يعني



www.dawateislami.net

دُنيا پريښودونكې] او نيك بنده صرف په دې وجه باندې د جَنّت نه حِصار كړې شو چه هغه يو **معمولي دِكې** [يعني چخچې] د هغه **دِكـې** د مالِك د اِجازت نه بغير راغستې وو او د غاښونو خِلال ئې پرې كړې وو او بيا د هغې د معافئ غوښتلو نه بغير وفات شو. لږ سوچ او غور خو وكړئ! د يو **دِكې** څه حيثيت وي؟ نن صبا خو خلق معلومه نه ده څومره غټې غټې امانتونه اوخوري او هډو څه پرواه نه كوي.

تُوْبُـوا اِلَى الله! اَسْتَغْـفِـرُالله

## په قرضه ادا كولو كښې بې اِجازته تاخِير كول ګناه ده

مسلمانانو! اوپَرېږئ! د **حُقُوقُ الْعِباد** معامَله ډيره زياته سخته ده، كه مونږه د يو بنده حق ونيولو، يا مو هغه ته ك لې وكړې، د يَرَولو د پاره مو ورته ستركې برَكې كړې، دَباوونه مو پرې واچول، غُصّه مو ورته وكړه، ومو رټلو او د هغه زړه پرې خفه شو، غرض دا چه كه په هره طريقه مو د هغه زړه خفه كړو يا مو ترې قرضه ونيوله بلكه كه د قرضخوا د اِجازت نه بغير يا د صحيح **مجبورئ** نه بغير مو په قرضه ادا كولو كښې تاخِير وكړو، دا ټول د بندګانو حق تَلفئ [يعني حق وهل] دي. د قرض خبره راغله نو چه دا هُم درته بيان كړم چه **حُجَّةُ الاِسلام اِمام محمّد** بِن **محمّد** بِن **محمّد** غزالي رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ په "كيميائے سَعادت" كښې نقل كوي: "څوك چه قرض اخلي او دا نِيَّت كوي چه په ښه طريقه به ئې ادا كووم نو **الله** تعالیٰ د هغه د حِفاظت د پاره يو څو فرښتې مقررې كړې او هغوئې دُعا كوي چه د هغه قرض ادا شي." (انظر: اِتحافُ السَّادَةِ ج ٦ ص ٤٠٩) او كه قرضدار قرض ادا كولې شي نو كه د قرضخواه د خوښې نه بغير يو ساعت تاخِير وكړې نو ګنهګار به وي او ظالِم به وګرځي. اګر كه د روژې په حالت كښې وي يا اُوده وي. او په هغه باندې د **الله** تعالیٰ لعنت نازليږي. دا ګُناه خو داسې ده چه د اودو په حالت كښې هُم د هغه سره وي. كه په خپل سامان خرڅولو قرض ادا كولې شي نو داسې به هُم كوي، كه داسې ونكړې نو ګنهګار دې. د هغه دا



www.dawateislami.net

فِعل د کبيره ګناهونو نه دي [يعني کبِيره ګناه ده] خو خلق دا معمولي ګنړي.“ (کيمياۓ سعادت ج١ص٣٣٦)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د درېو پيسو عذاب

د اَعلٰی حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نه د قرضې په ادا کولو کښې د سستئ او د دروغو د بهانو کوونکي زَيد په باره کښې تپوس وکړې شو نو هغوئي ارشاد اوفرمائيلو: ”زَيد فاسِق و فاجِر، کبيره ګناه کوونکې، ظالِم، دروغژن او د عذاب حقدار دې، د دې نه زيات د څان د پاره نور څه القابات [يعني لقبونه] غواړي! که په هم دې حالت کښې مړ شو او د خلقو قرض پرې باقي پاتې شو نو د هغه نيکئ به د هغوئي (يعني قرضه ورکوونکو) په مطالَبه هغوئي ته ورکړې شي. ولې به ورکولې شي (دا هُم واورئ) تقريباً د درېو پيسو قرض په عِوَض (يعني بَدَله) کښې به ووه سوه د جَمعې لـمونځونه (ورکول شي). چه کله د ده (يعني قرضه خوړونکي) سره نيکئ پاتې نه شي نو د هغوئي (يعني د قرضه ورکوونکو) ګناهونه به د ده (يعني د قرض خوړونکي) په سر کيښودې شي او اور ته به غوزار کړې شي.“

(فتاوىٰ رَضَوِيَّه ج٢٥ ص٦٩ مُلَخَّصاً)

مت دبا قرضہ کسی کا نابکار روئے گا دوزخ میں ورنہ زار زار

تُوْبُوا اِلَى الله! اَسْتَغْفِرُالله

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! چا چه په دُنيا کښې په بل کس د ذرّې همره ظلم هم کړې وي نو تر څو چه مظلوم راضي نه کړي تر هغې پورې به د هغې نه خلاصې نه شي مونډلي، خو که اللّٰه تعالٰی اوغواړي نو د قيامت په ورځ به د ظالِم او مظلوم په مينځ کښې صُلح وکړي. په بل صورت کښې به هغه مظلوم ته د هغه ظالِم نيکئ ورکړې شي. که په هغې هم د مظلوم يا د



www.dawateislami.net

مظلومانو حقونه ادا نه شي نو د مظلومانو ګناهونه به د ظالِم په سر واچولې شي او هغه [ظالِم به] جهنّم ته غوزار کړې شي. وَالْعِيَاذُبِاللّٰهِتعالٰی

## د قيامت په ورځ به مُفلِس څوك وي؟

**تاجدارِ مَدِينه** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صَحابَهٔ کِرَامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان نه تپوس وکړو: آيا تاسو ته معلومه ده چه **مُفلِس** څوك دې؟ صَحابَهٔ کِرَامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض وکړو، يا رَسُولَ الله صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مونږه کښې **مُفلِس** خو هُغه دې د چا سره چه دِرهَم [يعني روپۍ] او دُنياوي اسباب او وَسائل نه وي. نو خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: "زما د اُمَّت د **ټولو نه مُفلِس** کس هُغه دې چه هغه به د قيامت په ورځ لـمونځ، روژه، زکوٰة خو د ځان سره راوړي خو ورسره ورسره به ئې چا ته کنزله کړې وي، په چا به ئې تُهمت لګولې وي، د هغه مال به ئې ناحقه خوړلې وي، د هغه وِينه به ئې توئ کړې وي، هغه به ئې وهلې وي، پس د دې ټولو ګُناهونو په بدله کښې به د هغه نيکئ واخستې شي. پس که د هغه نيکئ ختمې شي او نور حقداران پاتې وي نو د هغوئي (يعني د مظلومانو) ګناهونه به راواخستې شي او په بدله کښې به په هغه (يعني په ظالِم) باندې ور واچولې شي، بيا به هغه (ظالِم) کس جهنَّم کښې واچولې شي."

(صحيح مُسلِم ص١٣٩٤ حديث٢٥٨١)

## د ظالِم نه مُراد څوك دې؟

**ياد ساتئ!** دلته د ظالِم نه مُراد صِرف قاتِل، ډاکو يا وهلو ټکولو والا نه دې مَثَلًا چا چه په ظاهِره د چا لږ شان حق وهلې وي مَثَلًا که يو دوه روپۍ ئې وهلې وي، بې د شرعي اِجازته ئې څوك رټلې وي او يا ئې په غُصّه کښې چا ته کتلې وي، په چا پورې ئې ټوقې کړې وي وغيره نو بيا هم دا ظالِم دې او هغه مظلوم دې. اوس دا جُدا خبره ده چه که هغه مظلوم هم د هغه ځيني حقونه وهلې وي، په دې صورت کښې دواړه د يو بل په حق کښې په مخصوصو معامَلاتو کښې



www.dawateislami.net

”ظالِـمان“ هم دی او ”مظلومان“ هم دي. دغسې به ډېر خلق وي چه هغه به د بعضو په حق کښې ”ظالِـمان“ او د بعضو په حق کښې ”مظلومان“ وي.

حضرتِ سیِّدُنا عبدُ الله اَنِیس رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه فرمائي: اللّٰه‌تعالٰی به د قیامت په ورځ اِرشاد فرمائي: یو دوزخي دِ دوزخ ته او یو جَنَّتي دِ جنَّت ته نه داخلیږي، تر څو چه هغه د **حُقُوقُ الْعِباد** بدله ادا نه کړي. یعني د چا حق چه چا لاندې کړې وي د هغې د فیصلې کیدو پورې به دوزخ یا جَنَّت ته نه داخِلیږي. (تَنبِیهُ المُغترین ص۵۱) د **حُقُوقُ الْعِباد** تفصِیلي معلوماتو د پاره د **مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه** د لِیك په صورت کښې چاپ شوې بیان ”**د ظُلم اَنجام**“ ضرور ولولئ. یا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ مونږه ټول مسلمانان د یو بل د حق وهلو نه وساتې او په دې باره کښې چه را نه څه غَلَطۍ شوي دي د هغې مونږ ته د یو بل نه د بخښنې غوښتلو او د یو بل د بخښلو توفیق را کړې.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د رَمَضان په میاشت کښې د مړ کیدو فضیلت

د **حضرتِ** سیِّدُنا عبدُ الله بِن مسعُود رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُ نه رِوایت دې چه د نبیانو د سردار مُحَمَّدِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: چا له چه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك **په وخت مرګ** راغې هغه به **جنّت** ته داخلیږي او د چا مرګ چه د **عَرَفې په ورځ** (یعني د نهم ذُوالحِجَّةُ الحرام) په وخت راغې هغه به هم **جنَّت** ته داخلیږي او د چا مرګ چه د **صَدَقه** ورکولو په حالت کښې راغې هغه به هم جنَّت ته داخلیږي.“ (حِلیَةُ الاَولِیاء ج۵ ص۲۶ حدیث۶۱۸۷) د **حضرتِ** سیِّدُنا انس بن مالك رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُ نه رِوایت دې چه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په میاشت کښې د مړو نه عذابِ قبر پورته کړې شي. (شرح الصدور ص۱۸۷)



www.dawateislami.net

## د قيامته پورې د روژو ثواب

د اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا نه رِوايت دې: زما د سرتاج، صاحبِ مِعراج صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د زيري نه ډك ارشاد مبارك دې: "څوك چه د روژې په حالت كښې وفات شو، اللّٰهتعالىٰ هغه ته د قيامته پورې د روژو ثواب وركوي."

(اَلْفِرْدوس بِماْثور الخطاب ج٣ ص٥٠٤ حديث ٥٥٥٧)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## كه په رَمَضان كښې بخښنه ونشوه نو كله به كيږي!

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه ما د رَسُولِ اكرم، رحمتِ عالم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوريدلې دې:"دا رَمَضان تاسو له راغلې دې، په دې كښې د جنَّت دروازې برسيره كړې شي او د جهنّم دروازې بندې كړې شي او شيطانان قيد كړې شي، محرومه دې هغه كس چا چه رَمَضان اوموندو او د هغه بخښنه ونكړې شوه ځكه چه په رَمَضان كښې د هغه بخښنه ونشوه نو بيا به كله كيږي؟" (مُعجم اوسط، ج٥ص٣٦٦ حديث٧٦٢٧)

## د جنّت دروازې برسيره شي

حضرتِ سيِّدُنا اَبُو هُريره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه رَسُولِ اَكرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو:"د رَمَضان مياشت راغلې ده چه هغه ډيره بركتونو والا ده. اللّٰهتعالىٰ د دې روژې په تاسو فرض كړې دي، په دې كښې د آسمان دروازې برسيره كړې شي. او د جَهَنَّم دروازې بندې كړې شي. سركشه شيطانان قيد كړې شي. په دې كښې د اللّٰهتعالىٰ يوه شپه شَبِ قدر ده، چه هغه د زرو مياشتو نه غوره ده څوك چه د دې د خير نه محرومه شو هُم هغه محرومه دې."

(نسائی ص٣٥٥ حديث٢١٠٣)



www.dawateislami.net

## شيطانان په زنځيرونو کلك وتړلې شي

**حضرتِ** سيِّدُنا ابُو هُريره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ فرمائي چه د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دې: چه کله رَمَضان راشي نو د آسمان دروازې برسيره کړې شي (بُخاری ج۱ص ۶۲۶ حدیث ۱۸۹۹) او په يو رِوايت کښې دي چه د جنَّت دروازې برسيره کړې شي او د دوزخ دروازې بندې کړې شي، شيطانان په زنځيرونو کلك وتړلې شي. (ایضاًص۳۹۹ حدیث ۳۲۷۷) او په يو رِوايت کښې دي چه د رَحمت دروازې برسيره کړې شي. (مُسلِم ص ۵۴۳ حدیث ۱۰۷۹)

## په ګناهونو کښې کمې خو ضرور راځي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! بهر حال عام طور هُم دا ليدلې شوي دي چه په رَمَضانُ الْمُبَارَك کښې زمونږه جُماتونه د غيرِ رَمَضان په مقابَله کښې زيات آباد وي، په نيکۍ کولو کښې آساني وي او داسې ضرور کيږي چه په رَمَضانُ الْمُبَارَك کښې د ګناهونو سلسله څه نه څه کمه شي.

## چه څنګه سرکشه شيطانان آزاد شي!

د رَمَضانُ الْمُبَارَك د رخصتيدو سره سمدستي سرکشه شيطانان آزاد شي او افسوس! ګناهونه بنه ډير زيات شي او خاص طور د اختر په ورځ ګناهونه ډير زيات شي داسې ښکاري لکه چه د يوې مياشتې د قيد په وجه سرکشه **شيطانان** سخت په غُصّه کښې وي او د رَمَضانُ الْمُبَارَك د مياشتې ټول کسر هغه د اختر په ورځ پوره کول غواړي. د سيل ټول ځايونه د بې پرده ښځو او سړو نه ډك شي، د اختر د پاره نوي نوي فِلمونه او نوې نوې ډرامې ولګولې شي. آه! بيشميره مسلمانان د **شيطان** په لاسو کښې لوبيږي. خو داسې خوش قِسمته مسلمانان هم وي چه هغوئي د اللّٰهرَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ د يادولو نه غفلت نه کوي او د **شيطان** د دوکې نه په حفاظت کښې وي.



www.dawateislami.net

## د اور عبادت كوونكي چه د رَمَضان اِحترام وكړو نو.....(حِكايت)

په بُخارا كښې به يو مجُوسي (يعني د اور عِبادت كوونكې) اوسيدو، يو ځل د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په مياشت كښې هغه د خپل ځوئي سره د مسلمانانو په بازار تيريدو. د هغه ځوئ څه څيز ښكاره خوړل شروع كړو. مجُوسي چه دا وليده نو خپل ځوئ له ئې يو زوردار پړق وركړو او ډير ئې ورټو او ورته ئې اووئيل چه تا ته شرم نه درځي چه ته د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په مياشت كښې د مسلمانانو په بازار كښې خوراك كوې؟ هلك ورته په جواب كښې اووئيل چه پلاره! ته خو هم په رَمَضَانُ الْمُبَارَك كښې خوراك كوې. پلار ئې اووئيل چه زه د مسلمانانو په مخكښې نه بلكه په خپل كور كښې پټ خوراك كووم، د دې مباركې مياشتې بې ادبي نه كووم. څه موده پس هغه كس مړ شو. چا په خوب كښې وليدو چه په جنَّت كښې ګرځي نو حيران شو او تپوس ئې ترې وكړو چه ته خو مجُوسي وې ته څنګه جنَّت ته راغلې؟ هغه اووئيل، "واقعي زه مجُوسي ووم خو چه كله مې د مرګ وخت راغې نو اللّٰهتعالیٰ د رَمَضَانُ الْمُبَارَك **د اِحترام په بَرَكت ما ته د اِيمان دولت راكړو او د مرګ نه پس ئې جنّت ته داخِل كړم.**" (نُزهَةُ المجالِس ج۱ ص۲۱۷)

## په رَمَضان كښې د ښكاره خوراك كوونكي دُنياوي سزا

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو وليده؟ چه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د تعظِيم [يعني ادب] په وجه اللّٰهتعالیٰ يو د اور عِبادت كوونكي ته د اِيمان دولت هم وركړو او هغه ته ئې د جنَّت نه ختميدونكي نعمتونه هم وركړل. د دې حِكايت نه دِ هغه اِسلامي ورونړو د عِبرت درس حاصل كړي څوك چه د مسلمان كيدو باوجود د رَمَضَانُ الْمُبَارَك بالكل اِحتِرام نه كوي. يو خو هغوئي روژه نه نيسي او د پاسه پرې د خلقو په مخكښې سِګريټ څښي او پان خوري تر دې چه بعضې خو دومره بې باكه او بې حياء وي چه په ښكاره ميدان اوبه څښي بلكه طعام هم خوري او شرميږي نه. داسې خلقو د پاره په فِقهي كِتابونو كښې د سختې ۱۰ حُكم دې.



www.dawateislami.net

## آيا تاسو به نه مرئ؟

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! غور وکړئ! ښه سوچ وکړئ!! چه د روژه خورو د پاره په دُنيا کښې سخته ۱۰ مقرره کړې شوي ده (هغه ۱۰ صِرف د اِسلام بادشاه ورکولې شي) نو د آخِرت ۱۰ به څومره خطرناکه او تباه کوونکي وي؟ مسلمانانو په هوش کښې راشئ تر څو به په دې دُنيا کښې مزې کوئ؟ ولې تاسو به مړه کيږئ نه؟ آيا په دې دُنيا کښې به هميشه دغسې ژوندي اوسئ؟ ياد ساتئ! يوه نه يوه ورځ به مرګ ضرور راځي او ژوند به مو ختم کړي او د نرمو او پستو بِسترو نه به مو اوچت کړي او په خاورو به مو اوده کړي. په هر قِسم سامانونو ښائِسته کړو کوټو نه به مو تورو تِيارو قبرونو ته ورسوي، بيا به په پښيمانه کيدو هيڅ هم په لاس در نه شي. اوس موقع ده، د ګناهونو په رښتيني توبه وکړئ او د روژې او لـمانځه پابندي اختيار کړئ.

کرلے توبہ رب کی رحمت ہے بڑی　　قبر میں ورنہ سزا ہو گی کڑی

## د سُنَّتو ډکو بيانونو بَرَکتونه

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! د ګناهونو نه ډك ژوند نه د خلاصي حاصلولو د پاره د تبلِيغ قرآن و سُنَّت عالـمګير غير سياسي تحرِيك **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تعلق مضبوط ساتئ. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ په دُنيا او آخِرت دواړو کښې به درته کاميا نصيب شي. ستاسو د تر ِيب د پاره يو ډير زيات ښکلې او خوشبودار **مَدَني سپرلي** وړاندې کووم چنانچه د **پاکستان** يو اسلامي ورور د ۱۹۸۷ء نه د ۱۹۹۰ء پورې په يوه سياسي پارټۍ کښې شامِل وو. د کور کسان ئې د هرې ورځې د فسادونو نه سخت پريشانه شو او د هغه د مُلك نه بهر ته د ليږلو بندوبست ئې شروع کړو. چنانچه په ۳/۱۱/۱۹۹۰ هغه د سلطنت عَمان د دار الامارت **مَسقَط** په يوه ګارمِنټ کمپنۍ کښې نوکر شو. په ۱۹۹۲ء کښې د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې شامِل يو اِسلامي ورور د هغوئي په کمپنۍ کښې نوکر شو. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د هغوئي د **اِنفِرادي**



www.dawateislami.net

**كوشش** په بَرَكت هغه لـمونځ گُزاره جوړ شو. د كمپنۍ ماحول ډېر زيات خراب وو، صرف د هغوئي په شُعبه كښې اته يا نهه ټيپ ريكارډونه وو او په هغې كښې به په تيز آواز كښې په مختلفو ژبو مثلًا اُردو، پنجابي پښتو، هِندي او بنګالۍ وغيره كښې سندرې غږيدلې. د دعوتِ اسلامي والا **عاشِقِ رسُول** د صُحبت په بَرَكت ئې اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د سندرو نه نفرت پيدا شو. هغوئي دواړو په مشوره د **مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه** نه جاري شوي د سُنَّتو ډكو بيانونو كيسټې غږول شروع كړې. په شروع كښې ئې خيني خلقو مخالَفت هم وكړو خو هغوئي هِمَّت ونه بيلو اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د سُنَّتو ډكو بياناتو بَرَكتونه ښكاره شو. بِالخصوص، *قبر كى پهلى رات*، *نيرنگىِ دُنيا*، *بدنصيب دولها*، *قبر كى پكار*، او *تين قبريں* نومې بيانونو د هغوئي زړونه ولړزول ، د آخرت د تيارۍ **مَدَنـي سوچ** ئې اُوموندو او په زړه كښې ئې د گُناهونو نه نفرت پيدا شو. په دې دوران كښې يو څو نور كسان هُم د سُنَّتو ډكو بيانونو نه د مُتأثِّره كيدو په وجه دوئي ته رانزدې شو. كوم عاشقِ رَسُول چه دوئي د نيكۍ په كارونو لګولي وو هغه نوكري پريښوده او بيرته پاكستان ته راغلو. دوئي د پاكستان نه د سُنَّتو ډكو بيانونو ۹۰ كيسټې نورې را اوغوښتلې. **مخكښې د هغوئي په فيكټرۍ كښې صرف ۵۰ يا ۶۰ لـمونځ گزاره وو، د بياناتو اوريدو [په بَرَكت] د لـمونځ گزارو شمير زياتيدو زياتيدو تردې چه** اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ **۲۰۰ نه واخله ۲۵۰ ته ورسيدو.** هغوئي په شريكه ٤۰۰ واړه گران سپيكر واخستو او د خپل مَنزِل په ديوال كښې ئې ولګوو او ښه په زور او شور ئې كيسټې چلول شروع كړې. هره ورځ ئې د تِلاوتِ كلامِ پاك، نعت او د سُنَّتو ډكو بيانونو د كيسټو چلولو معمول جوړ كړو. په ورو ورو ورسره ۵۰۰ كيسټې جمع شوې. هغوئي وائي چه سره زما **پينځه اسلامي ورونړو** ځان د دعوتِ اسلامي په مَدَنـي رنګ كښې رنګ كړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ جُمات درس شروع شو. بيا څه موده پس د هغوئي په فيكټرۍ كښې هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتِماع شروع شوه، په اجتِماع كښې به زيات و كـم ۲۵۰ اسلامي ورونړو شركت كولو. مَدرَسةُ الْمَدينه (بالِغان) هُم شروع شوه. د سُنَّتو سپرلي راغلل، كنړ شمير اسلامي ورونړو په خپلو



www.dawateislami.net

مخونو د مَدَنـي آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مَحَبَّت نښه ګِيرۍ مبارکې پرېښودلې، د ۲۰ نه واخله ۲۵ پورې اسلامي وروڼږو د عِمامې [يعني پټکي مبارك] تاج په سر کړو. د فيکټرۍ منيجر به هغوئي په شروع کښې د کيسټو چلولو نه منع کول خو د بياناتو د کيسټو خوږ آواز به د هغوئي په غوږونو هُم لګيدو او اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ آخر هغه هُم مُتأثِّره شو، لـمونځ ګُزاره هُم شو او يو موټې ګيره ئې هُم پرېښودله.

هغه اسلامي ورور بيرته پاکستان ته راغلې دې او [د دې بيان ورکولو په وخت] د بابُ الْمَدِينه کراچۍ د يو ډويژن مُشاورت د نِګران په حيثيَّت د سُنَّتو خِدمت کښې مصروف دې. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه نه جاري کړې شوو د سُنَّتو ډکو بياناتو کيسټې د اِصلاح ذريعه جوړې شوې. هر اسلامي ورور او اسلامي خور ته پکار دي چه د سُنَّتو ډکو بيان يا د مَدَنـي مُذاکرې کم از کم د يو کيسټ اوريدلو د هرې ورځې معمول جوړ کړي. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالى داسې بَرَکتونه به حاصل کړئ چه په دواړو جهانو کښې به مو بيړئ پوريوځي.[1]

## په غفلت د نيکۍ دعوت اوريدل د کُفّارو طريقه ده

خوږو خوږو اسلامي وروڼږو! تاسو وليده چه د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه نه جاري کړې شوو د بياناتو د کيسټو اوريدلو څنګه بَرَکتونه وي![2] دا ټولې د نصيب خبرې دي، ګڼي بيشميره خلق داسې هُم شته چه د ډيرو کلونو نه د سُنَّتو ډکه اجتِماع کښې حاضريږي خو هغوئي په مَدَنـي رنګ کښې نه رنګ کيږي. شايد د دې يوه وجه دا هُم کيدې شي چه هغوئي په تَوَجُّه سره بيان اوريدو ته نه کښيني، په بې پرواهئ سره اخوا ديخوا کتلو يا موبائل فون باندې خبرې وغيره کولو سره به د

[1] د سُنّتو ډکو بياناتو د کيسټو د بَرَکتونو د تفصيلاتو د پاره "بيانات کی کيسٹوں کے کرشمات" نومې (د ٥٤ صفحو) رساله د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه نه هديَّةً حاصله کړئ. مجلِس مَكْتَبَةُ الْمَدِينه.

[2] د زړه نرموونکو بياناتو کيسټې او ميموري کارډونه د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه نه هديَّةً طلب کړئ.



www.dawateislami.net

بیان بَرَکتونه څنګه حاصل کړې شي! یاد ساتئ! په غفلت سره نصیحت اوریدل د کُفّارو طریقه ده، مسلمانانو ته د دې طریقې نه بچ کیدل ضروري دي چنانچه پاره ۱۷ سُوْرَةُ الانبياء آیت نمبر ۲ او ۳ کښې د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت جَلَّ جَلَالُهٗ اِرشاد دې:

مَا يَأْتِيهِم مِّن ذِكْرٍ مِّن رَّبِّهِم مُّحْدَثٍ إِلَّا اسْتَمَعُوهُ وَهُمْ يَلْعَبُونَ ﴿٢﴾ لَاهِيَةً قُلُوبُهُمْ

مَفهُوم ترجمۂ کَنزُالْاِیمان: چه کله د هغوئي د رب له طرفه هغوئي ته څه نوې نصیحت راشي نو هغه نه اوري خو د لوبو په حال کښې، د هغوئي زړونه په لوبو کښې پراته دي.

## د ټول کال نیکۍ برباد

د حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوایت دې چه د نبیانو سُلطان رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِیْن صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: "بېشکه جَنَّت د رَمَضان د میاشتې د پاره د یو کال نه بل کاله پورې ښائسته کولې کیږي، پس چه کله د رَمَضان میاشت راشي نو جَنَّت وائي: "اے الله عَزَّوَجَلَّ! ما ته په دې میاشت کښې د خپلو بندګانو نه (په ما کښې) اوسیدونکي راعطا کړې." او حُورِ عِین وائي: "اے الله عَزَّوَجَلَّ! په دې میاشت کښې د خپلو بندګانو نه خاوندان راعطا کړې." بیا سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائیلو: "چا چه په دې میاشت کښې د خپل نفس حِفاظت وکړو، نه خو ئې څه نشه راوستونکې څیز وڅښلو او نه ئې په یو مُؤمِن بُهتان ولګوو او نه ئې په دې میاشت کښې څه ګناه وکړه نو الله تعالیٰ به د هرې شپې په بدله کښې د سلو حُورو سره د هغه نِکاح فرمائي او د هغه د پاره به په جَنَّت کښې د سرو زرو، سپینو زرو، یاقُوتو او زَبَرجَدو داسې محل جوړ کړي چه که ټوله دُنیا راجمع شي او هغه محل ته راشي نو د هغه مَحَل به صرف دومره ځائ ګیر کړي څومره چه د چیلو [یعني بزو] یوه باړه د دُنیا ځائ ګیروي، او چا چه په دې میاشت کښې څه نشه راوستونکې څیز وڅښلو یا ئې په یو مُؤمِن بهتان ولګوو یا ئې په دې میاشت کښې څه ګناه وکړه نو الله تعالیٰ به د هغه د یو کال اعمال برباد



www.dawateislami.net

کړي. پس تاسو د رَمَضان د مياشتې (په حق) کښې د کوتاهئ کولو نه وَيَريږئ ځکه چه دا د الله تعالٰی مياشت ده. الله تعالٰی ستاسو د پاره يوولس مياشتې کړي دي چه په هغې کښې د نعمتونو نه لُطف واخلئ او تَ ـَـُّذ (يعني خوند) حاصل کړئ او ځان لپاره ئې يوه مياشت خاص کړې ده. پس تاسو د رَمَضان د مياشتې په مُعامَله کښې وَيَريږئ." (مُعْجَم اَوْسَط ج۲ ص٤١٤ حديث٣٦٨٨)

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! معلومه شوه چه څنګه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د تعظِيم [يعني ادب] کولو والؤ د پاره د اُخروي اِنعاماتو او اِکراماتو زيري دي نو هُم دغسې د دې مُبارکې مياشتې د ناقدرئ کوونکو او ګناه کوونکو د پاره وعيدونه هُم دي. په دې حديثِ پاك کښې د نشه کوونکي څيز څښلو او په مُؤمِن باندې د بُهتان لګولو په خُصُوصِيَّت سره تذکِره ده. ياد ساتئ! شراب اُمُّ الْخَبائث (يعني د ټولو بدو مور) ده، د دې څښل حرام او جَهنَّم ته بوتلونکي کار دې. د حضرتِ سَيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې، سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: "کوم څيز چه په زيات مِقدار کښې نشه راولي نو د هغې لږ شان مِقدار هُم حرام دې."

(اَبو داؤد ج۳ ص٤٥٩ حديث٣٦٨١)

## د دوزخيانو وينې او نوونه

په مُؤمِن باندې بُهتان لګول هُم حرام او جَهنَّم ته بوتلونکي کار دې، حديثِ پاك کښې دي: "څوك چه د يو مُؤمِن په باره کښې داسې څيز اُووائي کوم چه په هغه کښې نه وي نو الله تعالٰی به هغه (بُهتان لګوونکي) د هغه وخته پورې په رَدْغَةُ الْخَبَال کښې اچولې ساتي تر دې چه هغه د خپلې وئيلې خبرې نه اُوځي. (اَبو داؤد ج۳ ص٤٢٧ حديث٣٥٩٧) رَدْغَةُ الْخَبَال په جَهنَّم کښې هغه مُقام دې کوم ځائ کښې چه د دوزخيانو وينې او نوونه جمع کيږي. (مِراٰةُ المناجيح ج٥ ص٣١٣) مُحَقِّق عَلَى الْاِطلاق، خَاتِمُ الْمُحَدِّثِين، حضرت شاه عَبدُ الحق مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه د حديثِ پاك د دې



www.dawateislami.net

حِصّې: ”تر دې چه هغه د خپلې وئیلې خبرې نه اُوځي“ نه لاندې لیکي: د دې نه مُراد دا دې چه د کوم عذاب هغه مُستَحِق شوې دې د هغې د تیرولو نه پس پاك شي.“
(اَشِعَّةُ اللَّمعات، ج۳، ص۲۹۰ مُلَخَّصاً)

## په رَمَضان کښې ګناه کوونکي

د سَیِّدَتُنا اُمِّ هاني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهَا نه رِوایت دې چه د دواړو جهانو سردار خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك ارشاد فرمائي: زما اُمَّت به ذلیله او رُسوا کیږي نه تر څو چه هغه د رَمَضان د میاشتې حق ادا کوي.“ عرض وکړې شو: یاَرَسُولَ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رَمَضان په حق ضائع کولو کښې د هغوئي ذلیله او رُسوا کیدل څه دي؟ خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: په دې میاشت د هغوئي د حرامو کارونو کول.“ بیا ئې اُوفرمائیل: چا چه په دې میاشت کښې زِنا وکړه یا ئې شراب وڅښل نو د راروان رَمَضان پورې الله تعالیٰ او څومره چه آسماني فرښتې دي ټولې به په هغه لعنت کوي پس که دا کس د راروان رمضان حاصلولو نه مخکښې مړ شو نو ده سره به هیڅ داسې نیکي نه وي کومه چه دا د جَهنَّم د اور نه بچ کړې شي. پس تاسو د رَمَضان د میاشتې په باره کښې وَیَریږئ ځکه چه څنګه په دې میاشت کښې د نورو میاشتو په مُقابَله کښې نیکئ زیاتولې کیږي [یعني زیات ثواب ورکولې کیږي] هُم دغسې د ګناهونو مُعامَله هُم ده.“ (مُعجَم صغیر،ج۱، ص۲٤۸)

تُوبُوا اِلَی الله! اَسْتَغْفِرُ الله

## د زړه تور ټکي

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! ولړزیږئ! د رَمَضان د میاشتې د ناقدرئ نه د بچ کیدلو خاص خیال ساتئ. په دې مُبارکه میاشت کښې چه د نورو میاشتو په مقابَله کښې څنګه نیکئ زیاتولې کیږي هُم دغسې د نورو میاشتو په مقابَله کښې د ګناهونو هلاك کول [یعني ۱۰ ګاني]



www.dawateislami.net

هُم زياتي شي. د رَمَضان شريف نه علاوه هُم د ګناهونو نه ضرور بچ کيدل پکار دي. حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ بيان کوي چه د رَسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دې: چه کله يو بنده ګناه کوي نو د هغه په زړه کښې يو تور ټکې پيدا شي چه کله هغه ګناه پرېږدي او توبه اِستِغفار وکړي نو د هغه زړه صفا شي او که بيا ګناه کوي نو هغه ټکې غټيږي تر دې چه پوره زړه تور شي. او دا هغه زنګ دې د کوم ذِکر چه الله تعالیٰ داسې فرمائيلې دې:

كَلَّا بَلْ ۜ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۴﴾ (پ۳۰ :المطففين ۱٤)

مَفهُوم ترجمۂ کَنزُالاِیمان: داسې نه بلکه د هغوئي په زړونو زنګ لګولې دې د هغوئي د لاس ګټې.

(ترمِذِی، ج۵ ص۲۲۰ حديث۳۳٤۵)

## د زړه د توروالي علاج

د زړه د دې توروالي علاج ضروري دې او د دې د علاج يوه بهترينه ذريعه د يو جامِعِ شَرائط پير صاحِب سره نِسبت هُم دې، لِهٰذا د يو داسې مُرشِد مُريد دِ جوړ شي چه هغه پرهيزګاره او مُتَّبِعِ سُنَّت [يعني په سُنَّتو عمل کوونکې] وي، چه د هغه په دِيدار کولو الله و مُصطَفیٰ عَزَّوَجَلَّ و صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم راياديږي، د چا په خبرو چه د صَلٰوة و سُنَّت شوق زياتږي، د چا په صُحبت چه د قبر او آخرت د تيارئ جذبه زياتيږي. که په خوش قِسمتئ سره داسې پير کامِل اوموندلې شي نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د رښتينې توبې سعادت به نصيب شي او د اَللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت په رَحمت به د زړه د تور والي علاج وشي.

## د ګناه د مُعافئ د پاره ۸ اعمال

د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اِداري مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د ۹۱۱ صفحو کتاب ''اِحيَاءُ الْعُلُوم مُتَرجَم جِلد ٤'' صفحه ۱٤۱ کښې دي: د رواياتو نه معلوميږي، د ګناه نه پس چه کله اته اعمالِ صالِحه (يعني نيك اعمال) وکړې شي نو د هغې د بخښنې اُمِّيد وي. د څلورو اعمالو تَعَلُّق د زړه



www.dawateislami.net

سره دي: ﴿۱﴾ توبه یا د توبې اِراده ﴿۲﴾ د ګُناه نه د منع کیدو خواهش ﴿۳﴾ د عذاب کیدو ویره ﴿٤﴾ د بخښنې اُمِّید. د څلورو اعمالو تَعَلُّق د اندامونو سره دي: ﴿۱﴾ دوه رکعاته لمونځ (یعني صَلٰوةُالتَّوبه) ادا کول ﴿۲﴾ ۷۰ ځله اِستِغفار کول او ۱۰۰ ځله سُبۡحٰنَ اللهِ الۡعَظِیۡمِ وَبِحَمۡدِہٖ لوستل ﴿۳﴾ صَدَقه کول ﴿٤﴾ روژه نیول.

مجھے سچی توبہ کی توفیق دیدے　　　پئے تاجدارِ حرم یاالٰہی

(وَسائلِ بخشِش ص ۱۱۰)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د قبر ویرونکې منظر!

منقول دي: اَمیرُ الۡمُؤمِنِین حضرت مولائے کائنات، عَلِیُّ الۡمُرۡتَضٰی شیرِ خُدا کَرَّمَ اللهُ تَعالٰی وَجۡهَهُ الۡکَرِیۡم یو ځل د قبرونو د زیارت د پاره د کُوفې قبرستان ته تشریف یوړو، هلته ئې په یو تازه قبر نظر پریوتو نو په زړه کښې ئې د هغې د حالاتو معلومولو خواهش پیدا شو، چنانچه د الله تَبَارَکَ وَتَعَالٰی په بارګاه کښې ئې عرض وکړو: "یا الله عَزَّوَجَلَّ! د دې مړي حالات په ما مُنکَشِف (یعني ښکاره) کړې." د الله تعالٰی په بارګاه کښې د هغوئي دُعا فوراً قبوله شوه، او د هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعالٰی عَنۡهُ او د هغه مړي په مینځ کښې چه کومې پردې وې هغه فوراً لرې شوې! اوس د قبر یو ویرونکې منظر د هغوئي په وړاندې وو! څه ګوري چه د مړي نه اور چاپیره دې او په ژړا ژړا دوئي کَرَّمَ اللهُ تَعالٰی وَجۡهَهُ الۡکَرِیۡم ته داسې فریاد کوي:

"یَا عَلِیُّ! اَنَا غَرِیۡقٌ فِی النَّارِ وَحَرِیۡقٌ فِی النَّارِ.

یعني یا علي! زه په اور کښې ډوب یم او په اور کښې سوزَم . د قبر خوفناك منظر او د مړي دردناك آواز حیدرِ کَرّار کَرَّمَ اللهُ تَعالٰی وَجۡهَهُ الۡکَرِیۡم بې قراره کړو او هغوئي کَرَّمَ اللهُ تَعالٰی وَجۡهَهُ الۡکَرِیۡم د خپل رحمت والا ربّ تعالٰی په دربار کښې لاس پورته کړل او په ډیره زیاته عاجزئ ئې د هغه مړي د بخښنې د پاره



www.dawateislami.net

درخواست وکړو. غيبي آواز راغې: ”اے علي! (كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم) د ده سفارش مه کوئ ځکه چه دې کس به د رَمَضَانُ الْمُبَارَك بې حُرمتي [يعني بې ادبي] کوله، په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې به ئې هم ګناهونه نه پريښودل. د ورځې خو به ئې روژه نيوله خو د شپې به په ګُناهونو کښې اخته اوسيدو.“ حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم چه دا واوريدل نو نور هم غمګين شو، په سجده کښې پريوتو او په ژړا ژړا ئې عرض کول شروع کړو: يا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! زما عِزّت ستا په لاس کښې دې، دې کس په ډير اُمّيد ما ته فرياد کړې دې، زما مالِك عَزَّوَجَلَّ! ته ما ده ته مه رُسوا کوې، د ده په بې وسئ رحم وکړې او دا غريب اُوبخښې. حضرت علي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم په ژړا ژړا دعاګانې کولې، چه د اللّٰه تعالٰى د رَحمت درياب په جوش کښې راغې او آواز راغې: ”اے علي! (كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم) مونږه ستا د زړه خوګيدو په سبب دې اُوبخښلو.“ چنانچه د هغه مړي نه عذاب لرې کړې شو. (اَنِيسُ الواعِظِين ص۲۵، ۲۶)

کيوں نہ مشکل کشا کہوں تم کو تم نے بگڑی مری بنائی ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## مړو سره خبرې

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم د عَظَمت و شان به څه وائې! د اللّٰه تعالٰى په عطا [يعني ورکړه] به هغوئې رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ د مړو سره خبرې کولې. يو بل حِکايت ستاسو په خِدمت کښې وړاندې کووم: چنانچه مشهور تابِعي بُزُرګ حضرتِ سيِّدُنا سعيد بِن مُسَيَّب رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي چه: يوه ورځ مونږه د اميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم سره د مدينې مُنَوَّرې مُقبرې [يعني اَديرې] ته لاړو، هغوئې قبرونو والؤ ته سلام وکړو او وئې فرمائيل: اے قبرونو والؤ! په تاسو دِ سلامتي او د اللّٰه (تعالٰى) رَحمت وي.“ او وئې فرمائيل: اے قبرونو والؤ! تاسو خپل خبر بيانوئ که مونږه ئې درته بيان



www.dawateislami.net

کړو؟ سیِّدُنا سعيد بن مُسَيَّب رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي چه مونږه د يو قبر نه د "وَعَلَيۡکَ السَّلَامُ وَرَحۡمَةُ اللّٰهِ وَبَرَکَاتُهٗ" آواز واوريدو او هغه اُووئيل: يا اَمِيرَ الۡمُؤۡمِنِين! تاسو خبر راکړئ چه زمونږه د مرګ نه پس څه وشو؟ حضرتِ عَلِيُّ الۡمُرۡتَضٰی کَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰی وَجۡھَہُ الۡکَرِیۡم ورته اوفرمائيل: واورئ! ستاسو مالونه تقسيم شو، ستاسو ښځو د نورو سره نکاح وکړه، ستاسو اولاد په يتيمانو کښې شامل شو، کوم کورونه چه تاسو ډير مضبوط جوړ کړي وو په هغې کښې ستاسو دُښمنان آباد شو. اوس تاسو خپل حال بيان کړئ. دا ئې چه اووئيل نو د يو قبر نه آواز راغې: يااَمِيرَ الۡمُؤۡمِنِين! زمونږه کفنونه وشليدل او تار تار شو، ويښته مو ورژيدل او وشيندل شو، څرمنې مو ټُکړې ټکړې شوې، سترګې مو په مخ ښکته اوبهيدلې او د سپيږمو نه مو نَوونه بهيږي او مونږه چه څه مخکښې ليږلي (يعني ښُکه عملونه مو چه کړي) وو د هغې بدله راکړې شوه او څه مو چه په ځان پسې پريښودل په هغې کښې مو نُقصان وشو. (شرحُ الصُّدُور ص۲۰۹، اِبنِ عَساکِر ج۲۷ ص۳۹۵)

## د رَمَضان په شپو کښې لوبې کول

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په تيرو دوارو حِکاياتو کښې زمونږ د پاره د عِبرت بېشميره مَدَني ګلونه دي. ژوندې انسان ښه تيوينه وهي خو چه کله مړ شي او قَبۡر ته کوز کړې شي، نو هغه وخت ئې سترګې د بنديدو په ځائ په حقيقت کښې غړيدلې وي. ښه اعمال او د اللّٰه تعالٰی په لار کښې ورکړې مال خو ئې په کار راځي خو چه کوم مال دولت په ځان پسې ورروسته پريږدي په هغې کښې د خير اِمکان د نِشت برابر وي، د وارثانو نه د دې خبرې اُمِّيد ډير کم وي چه هغوئي به په خپل مرحوم عزيز پسې د آخرت د بهترئ د پاره ډير مال خيرات کړي، بلکه مړ شوې کس که په ځان پسې ورروستو حرام او ناجائزه مال مَثَلًا د ګناهونو اسباب لکه د موسيقئ [يعني سازونو غږولو] آلات، د وِډيو ګيم دُکان، ميوزِك سينټر، سينما، شراب خانه، د جوارئ اډه، د مِلاوټ [يعني په ښه څيز کښې د خراب څيز ګډولو] د دوکې نه ډك کاروبار وغيره ځان پسې پريږدي نو د هغه مړ شوي کس د پاره د مرګ نه پس ډير زيات سخت او ناقابِلِ تصوُّر نُقصان دې. **د قبر ويرووونکې منظر!** نومې حِکايت



www.dawateislami.net

کښېږ د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د بې ادبئ کوونکي خوفناك انجام ذِکر کړې شوې دې. د دې نه درسِ عِبرت حاصل کړئ. افسوس! صَد افسوس! د رَمَضَانُ الْمُبَارَكپه پاکِيزه شپو کښې ډېر ځلمي په محَلّه کښې کرکِټ، فُټ بال وغيره کوي او ډېر زيات شور کوي، دغسې دا بدنصيبه ځپله خو د عِبادت نه محرومه وي بلکه د نورو خلقو د پاره هُم د مُصِيبت باعث جوړيږي. نه ځپله عبادت کوي او نه بل څوك عبادت ته پرېږدي. داسې لوبې د الله تعالیٰ د ياد نه غافله کوونکي دي. نيك خلق خو د دې لوبو نه هميشه لرې اوسيږي، ځپله خو هډو لوبې کوي نه، بلکه داسې لوبې او تماشې ګوري هُم نه. بلکه د داسې لوبو د سترګو ليدلې حال (يعني کُمينټري) هُم نه اوري.

## په روژه کښې د وخت "پاس" کولو د پاره.....

بعضې داسې نادان خلق هُم وي چه هغوئ روژه خو نيسي خو د هغوئ غريبانانو وخت نه "پاس" کيږي! لِهٰذا هغوئ هُم د رَمَضان شريف اِحترام يو طرف ته کيږدي او د ناجائزه کارونو کولو په ذريعه خپل وخت "پاس" کوي او دغسې په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې تاش او لُډو کوي، د سندرو او سازونو غږولو او د سوشل مِيډيا په ذريعه تباه کوونکو پروګرامونو وغيره کښې مشغول شي. ياد ساتئ! په شطرنج او تاش وغيره که د هيڅ قِسمه بازئ يا شرط هُم ونه لګولې شي نو بيا هُم دا لوبې ناجائزه دي. بلکه په تاش کښې د ساه لرونکو ځيزونو د تصويرونو تعظِيم هُم وي ځکه اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه تاش کول مُطلقاً حرام ليکلې دي. چنانچه فرمائي: ګَنجِفه (يعني د پتو په ذريعه کولو والا يوه لوبه) او تاش حرامِ مُطلق دي ځکه چه په دې کښې د لَـهو لَعِب نه علاوه د تصويرونو تعظيم هُم دې. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه ج۲۴، ص۱۴۱)

## افضل عبادت کوم يو دې؟

اے د جَنَّت طلبګارو روژه دارو اسلامي وروڼو! د رَمَضَانُ الْمُبَارَك مُقَدَّس وختونه په فضولياتو او بدو کارونو کښې د بربادولو نه بچ ساتئ! ژوند بېحده مُختصر دې، دا غنيمت



www.dawateislami.net

وکړنړئ، د تاش د پتو او د لُڈُّو په ذريعه د وخت "پاس" کولو (بلکه بربادولو) په ځائ په تِلاوتِ قُرآن او ذِکر و دُرُود کښې د وخت تيرولو کوشش وکړئ. د لوَږې او تندې زياتوالې چه درته خومره زيات محسوس شي، په صبر کولو به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ ثواب هُم هغه هُمره زيات حاصليږي. ځنګه چه منقول دي: (اَفْضَلُ الْعِبَادَةِ اَحْمَزُهَا). يعني افضل عبادت هغه دې په کوم کښې چه مَشَقَّت زيات وي." (شرح الطيبى على مِشكاةالمصابيح ج٥ ص١٧٢٩ تحت الحديث ٢٢٦٧) امام شرفُ الدِّين نَوَوِي رَحْمَةُاللهِ تعالىٰ عليه فرمائی: "په عباداتو کښې د زيات مَشَقَّت او زيات خرچ په وجه ثواب او فضيلت زياتيږي." (شرح مسلم لِلنّووی ج٤ ص١٥٢) حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهيم بِن اَدهَم رَحْمَةُاللهِ تعالىٰ عليه اِرشاد فرمائي: په دُنيا کښې چه کوم نيك عمل خومره مشکل وي د قيامت په ورځ به د نيکو په تله کښې هُم هغه همره وزندار وي." (تَذکِرةالاولياء ص ٩٥)

## په روژه کښې زيات اوده کيدل

**حُجَّةُ الإِسلام** حضرتِ سَيِّدُنا اِمام ابو حامِد محمّد بِن محمّد غزالي رَحْمَةُاللهِ تعالىٰ عليه په "کيميائے سعادت" کښې فرمائي: "د روژه دار د پاره سُنَّت دا دي چه د ورځې په وخت کښې زيات وخت نه اوده کيږي بلکه وِيښ اوسي چه د لوَږې او ضُعف (يعني کمزورئ) اثر ورته محسوس شي." (کيميائے سعادت ج١ ص٢١٦) (اګر چه کم اُوده کيدل غوره دي خو که د چا حق تَلفي نه کيږي او څه شرعي ممانَعت نه وي نو د ضروري عِباداتو نه علاوه که څوك باقي ټول وخت اوده وي نه ګنهګار به نه وي)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! صفا خبره ده چه څوك ټوله ورځ په اودو تيره کړي نو هغه به په روژه څه پوهه شي؟ لږ فِکر خو وکړئ! **حُجَّةُ الإِسلام** حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُاللهِ تعالىٰ عليه خو د زيات اُوده کيدو نه هُم منع فرمائي ځکه چه داسې به هُم وخت فالتو "پاس" شي نو کوم خلق چه په لوبو او تماشو او حرامو کارونو کښې وخت بربادوي هغوئي خومره محرومه او بدنصيبه دي. د دې مُبارکې مياشتې قدر کوئ، د دې احترام کوئ، په دې کښې په خوشحالئ خوشحالئ روژې نيسئ او د الله تعالیٰ رِضا حاصله کړئ.



www.dawateislami.net

اے زمونږه خوږه خوږه الله عَزَّوَجَلَّ! د فيضانِ رَمَضان [يعني د رَمَضان د بَرَكتونو] نه هر مسلمان مالا مال كړې. مونږ ته د دې مباركې مياشتې قدر او مَنزِلت نصيب كړې او د دې د بې ادبئ نه مو وساتې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## هره ورځ د فِكرِ مدينه كولو اِنعام

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په زړه كښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د مياشتې جذبه زياتولو د پاره، د دې ډير ډير بَرَكتونه حاصلولو او ډيرو ډيرو نيكو ګټلو د پاره او ځان د ګناهونو نه ساتلو د پاره د **تبليغِ قُرآن و سُنَّت** د عالـمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** په مَدَني ماحول كښې شامل شئ او د **عاشقانِ رَسُول** سره د سُنَّتو د تربِيَّت په **مَدَني قَافِلو** كښې د سُنَّتو ډك سفر كولو سعادت كړئ. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰى هغه فائدې به حاصلې كړئ چه حيران به پاتې شئ. د يو عاشقِ رَسُول رُوح تازه كوونكې "مَدَني سپرلې" واورئ او خوشحاله شئ: چنانچه يو اسلامي ورور **مَدَني انعاماتو** سره ډيره مينه لرله او هره ورځ **فِكرِ مدينه** كول د هغه معمول هُم وو. يو ځل هغه د **تبليغِ قُرآن و سُنَّت** د عالـمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو د تربِيَّت په مَدَني قَافِله كښې د **عاشِقانِ رَسُول** سره د صوبهٔ بلوچستان (پاكستان) په سفر وو. په هُم دې دوران كښې په هغه كرم وشو! او هغه داسې چه د شپې كله اُوده شو نو قِسمَت ئې رابيدار شو، **جنابِ رِسالت مآب** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ئې په خوب كښې تشريف راوړو، دې د دِيدارِ مُبارك په ننداړو كښې ورك وو چه د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لبانو مباركو حركت وكړو او د رحمت ګُلونه ترې رژيدل شروع شو، الفاظ ئې څه داسې اُوفرمائيل: **"څوك چه په مَدَني قَافِله كښې هره ورځ فِكرِ مدينه كوي زه به هغوئي ځان سره جَنَّت ته بوځم."**

شكر كيوں كر ادا ہو آپ كا يا مصطفٰے ‏ ‏ ‏ ہے پڑوسی خلد میں اپنا بنایا شكريہ

(وَسائلِ بخشِش ص ۲۷۳)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ‏ ‏ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

# فِكرِ مدينه څه ته وائي؟

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د مسلمانانو د دُنيا او آخرت بهترولو د پاره د سوال نامې په صورت کښې د اسلامي وروڼو د پاره ۷۲، د اسلامي خويندو د پاره ۶۳، ديني طَلَبه د پاره ۹۲ او ديني طالباتو د پاره ۸۳ او مَدَني ماشومانو د پاره ۴۰ او د خُصُوصي اسلامي وروڼو يعني چاړاګانو د پاره ۲۵ **مَدَني انعامات** پيش کړې شوي دي. د مَدَني انعاماتو رِساله د **مَكْتَبَةُ الْمَدِينه** نه هَدِيَّةً ترلاسه كيدې شي. هره ورځ د فِكرِ مدينه په ذريعه په هغې كښې وركړي شوي خانې ډكوئ او د هرې مَدَني مياشتې په وړومبي تاريخ ئې د خپل ځائ د **دعوتِ اسلامي** ذِمَّه دار ته جمع كوئ. د خپلو ګناهونو د احتِساب كولو، د قبر و حشر په باره كښې د غور و فِكر كولو او د خپلو ښو او بدو كارونو جائزه اخستلو سره د **مَدَني انعاماتو** رسالې ډكولو ته د **دعوتِ اسلامي** په مَدَني ماحول كښې فِكرِ مدينه كول وائي. تاسو هُم [د مَدَني انعاماتو] رساله حاصله كړئ، كه فِي الحال ئې ډكول نه غواړئ نو خير دې، مګر دومره خو كوئ چه د ولِـئ كامِل، عاشِقِ رَسُول، اعلٰى حضرت، اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د پينځه ويشتمې [يعني د عُرس د تاريخ] په نِسبت هره ورځ كم از كم ۲۵ سيكنډه د پاره د دې پاڼې اړوئ را اړوئ. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰى كتلو سره به د لوستلو او لوستلو لوستلو سره به مو د فِكرِ مدينه كولو او د دې رسالې د خانو ډكولو فِكر جوړ شي او كه د ډكولو معمول مو جوړ شو نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰى د دې بَرَكتونه به پخپله اُووِينئ.

مدنی انعامات پر کرتا ہے کوئی عمل　　مغفرت کر بے حساب اس کی خدا لم یزل

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

تُوبُوا اِلَى الله!　　اَسْتَغْفِرُ الله

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net



اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# آحکامِ روژه[1]

## د دُرُود شريف فضيلت

حضرتِ سَیِّدُنا شيخ اَحمد بِن منصور رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه چه کله وفات شو نو د شِيراز اوسيدونکي يو کس په خوب کښې وليدو چه غمو والا تاج ئې په سر کړې دې، بِهترينه حُلَّه (يعني جَنَّتي جوړا) ئې اغوستي ده او د شِيراز د جامِع مسجد په مِحراب کښې ولاړ دې. خوب ليدونکي ترې د حال تپوس وکړو نو وئې فرمائيل: "اللّٰه تعالٰى زه اُوبخښلم، کرم ئې راباندې وکړو او تاج ئې را په سر کړو او جَنَّت کښې ئې داخل کړم." تپوس ئې ترې وکړو چه په څه سبب؟ وئې فرمائيل:

[1] په فيضانِ سُنَّت کښې ټول مسائل د فِقهِ حَنَفي مطابق ورکړې شوي دي. لِهٰذا شافِعي، مالِکي او حَنبَلي اسلامي ورونړه دِ د فِقهي مسائلو په مُعامَله کښې خپلو خپلو عُلَمائے کرامو ته رُجُوع وکړي.

”ما به په تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې په کثرت سره دُرُود شريف لوستلو هُم دا عمل مې پکار راغي.“ (اَلْقَوْلُ الْبَدِيع ص۲۵۴،۴۸۶)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰى خومره کرم دې چه هغه په مونږه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك روژې فرض کړې دي او دا ئې زمونږ د پاره د تقویٰ ذريعه جوړې کړې. الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰى په پاره ۲ سُوْرَةُ الْبَقَرَه آيت نمبر ۱۸۳ تا ۱۸۴ کښې ارشاد فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَۙ (۱۸۳) اَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍؕ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَؕ وَ عَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهٗ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِيْنٍؕ فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗؕ وَاَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ (۱۸۴)

مَفهُوم ترجمۂ کَنْزُالْاِيمان: اے اَيمان والؤ! په تاسو روژې فرض کړې شوې څنګه چه تاسو نه مخکښنو [خلقو] باندې فرض شوي وې چه چرې تاسو پرهيزګاره شئ، د شمير ورځې دي نو په تاسو کښې چه څوك بيمار وي يا په سفر کښې وي نو همدومره روژې په نورو ورځو کښ، او څوك چه د دې توان نه لري هغه دِ بدله ورکړي د يو مِسکِين طعام، نو بيا چه څوك له خپل طرفه ډيره نيکي کوي نو ورله بهتره ده او روژه نيول تاسو لره زيات غوره دي که چرې تاسو پوه شئ.

## روژه ډير زوړ عبادت دې

د آيتِ کريمه د وړومبئ حِصّې نه لاندې په ”تفسِيرِ خازِن“ کښې دي: تاسو نه مخکښنو خلقو نه مُراد دا دي چه د حضرتِ سَيِّدُنا آدَم صَفِيُّ الله عَلَيْهِ السَّلَام نه واخله د حضرتِ سَيِّدُنا عِيسىٰ رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام پورې چه خومره انبيائے کِرامو عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام تشريف راوړې دي او د هغوئې اُمَّتونه راغلي دي په هغوئې ټولو باندې روژې فرض شوي وې (خو د هغې صورت زمونږ د



www.dawateislami.net

روژو نه مختلف وو). مطلب دا دي چه روژه ډير زوږ عبادت دي او په پخوانو اُمّتونو کښې يو اُمّت هُم داسې نه دې تير شوې چه په هغوئي الله تعالیٰ ستاسو په شان روژې نه وي فرض کړې. (تفيسرِ خازن ج۱ ص۱۱۹ مُلَخَّصاً) او په "تفسِيرِ عزيزي" کښې دي: حضرتِ سَيِّدُنا آدَم صَفِيُّ الله عَلَيْهِ السَّلَام باندې د هرې مياشتې د اَيَّامِ بِيض (يعني د مياشتې د ۱۳، ۱٤ او ۱۵ تاريخ) درې روژې فرض وې. او په يهودو (يعني د حضرتِ سَيِّدُنا مُوسیٰ کليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام په قوم) د يومِ عاشورا (يعني د لسم مُحَرَّمُ الْحَرَام د ورځې) او په هره هفته کښې د خيالي د ورځې او د څه نورو ورځو روژې فرض وې او په نَصاریٰ باندې د رَمَضان د مياشتې روژې فرض وې. (تَفسيرِ عزيزی ج۱ ص۷۷۱)

## د روژې مقصد

د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي "تفسير صِراطُ الْجِنان" جِلد۱ صفحه ۲۹۰ کښې دي: "د آيت په آخره کښې ښودلې شوي دي چه د روژې مقصد تَقویٰ او پرهيزګاري حاصلول دي. ولې چه په روژه کښې په نفس سختي کيږي او د خوراك څښاك د حلال څيزونو نه هُم حصار کړې شي نو دغسې په خپلو خواهشاتو باندې د قابو حاصلولو مشق کيږي او د دې په ذريعه د نفس قابو کولو او د حرامو نه بچ کيدو د پاره قُوَّت حاصليږي او هُم دا په نفس او خواهشاتو باندې قابو هغه بُنيادي څيز دي چه د هغې په ذريعه بنده د ګناهونو نه منع کيږي."

## روژه په چا فرض ده

د تَوحِيد او رِسالت د اِقرار کولو او ټولو ضروورياتِ دين باندې د ايمان راوړلو نه پس څنګه چه په هر مسلمان باندې لـمونځ فرض قرار کړې شوې دي هُم دغسې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك روژې هُم په هر مسلمان عاقِل و بالِغ باندې فرض دي."په دُرِّمختار کښې دي: روژې په ۱۰ شعبانُ المُعَظَّم ۲ هجري کښې فرض شوي دي: (دُرِّ مُختار و رَدُّالْمُحتار ج۳ ص۳۸۳)



www.dawateislami.net

## د روژه فرض کيدو وجه

په اسلام کښې اکثر اعمال د کومې رُوح تازه کوونکې واقعې ياد تازه کولو د پاره مقرر کړې شوي دي. مَثَلًا د صَفا مروه تر مينځه د حاجيانو سَعِي د حضرتِ سَيِّدَتُنا هاجِره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا يادګار دې. هغه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا د خپل ګران ځوئ حضرتِ سَيِّدُنا اسماعيل ذَبِيْحُ‌الله عَلَیْہِ السَّلَام د پاره د اوبو په تلاش کښې د دې دواړو غرونو د مينځه ووه پيرې تلې وه او [په لړ ځائ کښې ئې] منډه وهلې وه. الله تَبَارَکَ وَتَعَالٰی ته د حضرتِ سَيِّدَتُنا هاجِره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا دا ادا خوښه شوه، لِهٰذا هُم دا ادائے هاجِره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا الله تعالیٰ باقي وساتله او د حاجيانو او عُمره کوونکو د پاره ئې د صَفا و مَروه سعي واجِب کړه. هُم دغسې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د مياشتې نه څه ورځې زمونږ خوږ مکِّی مَدَنی آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په غارِ حِرا کښې تيرې کړې وې، په دې دوران کښې به خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ورځې د خوراك نه پرهيز کولو او د شپې به په ذِکْرُ‌الله عَزَّوَجَلَّ کښې مشغول اوسيدلو نو الله تعالیٰ د هغه ورځو ياد تازه کولو د پاره روژې فرض کړې چه د هغه جَلَّ جَلَالُہٗ د محبوب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت قائم پاتې شي.

## د ”نـبِي د درې حُروفو په نسبت د انبيائے کِرام عَلَیْہِمُ السَّلَام
## د روژو مُتَعَلِّق ۳ فَرَامِينِ مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

﴾۱﴿ (حضرتِ) آدَم صَفِيُّ الله (عَلَیْہِ السَّلَام) (د مياشتې) د ۱۳، ۱٤، ۱۵ تاريخ روژې نيولې. (کَنْزُ الْعُمَّال ج۸. ص۲۵۸ حديث۲٤۱۸۸) ﴾۲﴿ صَامَ نُوْحُ الدَّهْرَ اِلَّا يَوْمَ الْفِطْرِ وَيَوْمَ الْاَضْحٰی. يعني (حضرتِ) نُوح نَـجِيُّ الله (عَلَیْہِ السَّلَام) به د واړه اختر او غټ اختر نه علاوه هميشه روژې نيولې. (اِبنِ مَاجَه ج۲ ص۳۳۳ حديث۱۷۱٤) ﴾۳﴿ (حضرتِ) داؤد (عَلَیْہِ السَّلَام) به يوه ورځ روژه نيوله او بله ورځ به ئې نه نيوله. (صحيح مُسلِم ص.۵۸٤. حديث.۱۱۵۹.) او (حضرتِ) سُلَيمان (عَلَیْہِ السَّلَام) به درې ورځې د مياشتې په شروع کښې، درې ورځې په مينځ کښې


www.dawateislami.net

او درېٖ ورځې په آخره کښې (يعني په دې ترتيب په مياشت کښې ۹ ورځې) روژې نيولې. او حضرتِ سَيِّدُنا عِيسىٰ رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام به هميشه روژه نيوله کله به ئې هُم نه پرېښودله.

(اِبنِ عساكِر ج٢٤ ص٤٨)

## د روژه دار ايمان څومره مضبوط دې

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! سخته ګرمي وي، د تندې نه ئې حلق وچ شوې وي، شونډې ئې وچې شوې وي، اوبه موجودې وي خو روژه دار ورته ګوري هُم نه، طعام موجود دې، د ډيرې لوَږې نه ئې حالت خراب دې خو لاس هُم نه ورورې. تاسو اندازه وکړئ! دا مسلمان په الله تعالٰى باندې څومره **پوخ ايمان** لري ځکه چه هغه پوهيږي چه د هغه حَرَکت د ټولې دُنيا نه پټ پاتې کيدې شي خو د **الله** تعالٰى نه پټ نه شي پاتې کيدې. په **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى باندې د هغه دا يقينِ کامِل د روژې عَمَلي نتيجه ده، ځکه چه نور عبادتونه په څه نه څه ښکاره حَرَکت ادا کيږې خو د روژې تَعَلُّق د باطِن سره دې، د دې په حال د **الله** تعالٰى نه سِوا هيڅ څوك نه پوهيږي، که هغه په پټه څه اوخوري وڅښي نو هُم خلق خو به هُم دا وائي چه د ده روژه ده، خو هغه صرف د **الله** تعالٰى د ويرې په وجه ځان د خوراك څښاك نه ساتي.

## په ماشوم کله روژه نيول پکار دي؟

اعلٰى حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: ماشوم چه څنګه د اتۆ کالو شي نو د هغه په ولي (يعني سرپرست) باندې لازِم دي چه هغه ته د لمانځه او روژې حُکم ورکړي او چه کله ئې يوولسم کال شروع شي نو په ولي (يعني سرپرست) باندې واجِب دي چه په صَوم و صلوٰة (يعني لمونځ نه کولو او روژه نه نيولو) ئې وهي په شرط د دې چه د روژې نيولو طاقت لري او روژه ضرر (يعني نقصان) نه کوي." (فَتاوىٰ رَضَوِيّه ج١٠ ص٣٤٥) فُقَهائے كِرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى فرمائي: چه ماشوم د لسو کالو شي او د روژې نيولو طاقت لري نو په هغه باندې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك روژې نيول پکار دي. که د پوره طاقت لرلو باوجود ئې نه



www.dawateislami.net

نیسي نو په وهلو ئې پرېږ نیسئ، که روژه ئې ونیوله او بیا ئې [د ماښام نه] مخکښې ماته کړه نو د قضا [نیولو] حُکم به نه ورکوي او که لـمونځ ئې مات کړو نو بیا ئې پرېږ وکړئ.

(رَدُّالْمُحْتَار ج٣ ص٤٤٢)

## اعلیٰ حضرت ته والِد صاحِب په خوب کښې اوفرمائیل: (حِکایت)

"**ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت**" **صفحه ٢٠٦** کښې **اعلیٰ حضرت** رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه خپل خوب بیانوي: [فرمائي] اوس یو څو کاله مخکښې مې د رَجَب په میاشت کښې حضرت والِدِ ماجِد رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په خوب کښې تشریف راوړو او ما ته ئې اُوفرمائیل: "په دې **رَمَضَان** کښې به ته سخت بیمارېږې، روژه مه پرېږده." هُم هغسې وشوه او طبیب وغیره را ته ډېر اُووئیل (خو) ما بِحَمْدِاللهِ تعالٰی روژه پرېږ نه ښوده او هُم د هغې په بَرَکت بِفَضْلِهٖ تعالٰی شِفا رانصیب شوه. په حدیث کښې اِرشاد شوي دي: صُوْمُوْا تَصِحُّوْا یعني روژه ونیسئ تندرُست به شئ [یعني شِفایاب به شئ].

(اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط ج٦ ص١٤٧ حدیث٨٣١٢)

## روژې نیولو سره شِفا حاصلیږي

د **اَمیرُالمُؤمِنِین** حضرتِ سَیِّدُنا **عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی** کَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْکَرِیْم نه رِوایت دې، د **الله** عَزَّوَجَلَّ خوږ رسول، رسولِ مقبول صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: "بېشکه **الله** تعالٰی د بَنِي اِسرائیلو یو نبي عَلَیْهِ السَّلَام ته وحي وکړه چه تاسو خپل قوم ته خبر ورکړئ چه کوم بنده هُم زما د رِضا د پاره د یوې ورځې روژه نیسي نو زه د هغه بدن ته صِحَت هُم ورکووم او هغه ته عظیم اجر هُم ورکووم."

(شعب الایمان ج٣ ص٣١٢ حدیث٣٩٢٣)

## د معدې پړسوب

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د اَحادیثِ مُبارکه نه مُستفاد [یعنې دا فائده حاصله] شوه چه روژه د اَجر و ثواب سره سره د صِحَت حاصلیدو ذریعه هُم ده. اوس خو سائنسدانانو



www.dawateislami.net

هُم په خپلو تَحقيقاتو کښې دا حقيقت تسليم کړې دي. څنګه چه د آکسفورډ يونيورسټۍ پروفيسر مُور پالِډ (MOORE PALID) وائي چه ''ما اِسلامي عُلوم لوستل، چه کله مې د روژو په باره کښې ولوستل نو حيران شوم چه اسلام خپلو منونکو ته څومره عظيمُ الشّانه نُسخه ورکړې ده! ما ته هُم شوق پيدا شو، لِهٰذا ما د مسلمانانو په طرز روژې نيول شروع کړې. د ډيرې مودې نه زما په مِعده کښې پړسوب وو، لږې ورځې پس ما ته په تکليف کښې کمې **محسوس** شو. ما مسلسل روژې نيولې تر دې چه په يوه مياشت کښې زما مَرَض بالکل ختم شو!''

## حيرانوونکې اِنکِشاف

د هالينډ پادري ايلف ګال (ALF GAAL) وائي: ما د **شُوګر، زړه** او **معدې** په مريضانو باندې مُسلسل **٣٠** ورځې روژې ونيولې، د دې په نتيجه کښې د **شُوګر** والؤ شُوګر کنټرول شو، د زړه د مريضانو وارخطائي او ساه لنډيدل کم شو او د معدې مريضانو ته د ټولو نه زياته فائده وشوه. د يو انګريز ماهِرِ نَفسِيات سګمنډ فرائيډ (Sigmund Freud) بيان دې چه دروژې سره د بدن [د پټو] راښکل ، ذِهني ډِپريشن [يعني خفګان] او نَفسياتي مرضونه ختميږي.

## د ډاکټرانو تحقيقاتي ډله

د يو اخباري رپورټ مطابق د جرمني، انګلينډ او امريکې د ماهرو ډاکټرانو يو تحقيقاتي ډله په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې پاکستان ته راغله او هغوئي د بابُ الْمَدينه کراچۍ، د مرکزُ الاولياء لاهور او د مُحَدِّثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د ښار سردار آباد (فيصل آباد، پنجاب پاکستان) انتخاب وکړو. د جائزې (survey) هغوئي دا رپورټ پيش کړو: ولې چه مسلمانان لمونځ کوي او په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې د دې زياته پابندي کوي څکه د اوداسه کولو سره د پوزې، غوږونو او مرئ په



www.dawateislami.net

مرضونو کښې کمې راځي ، او مسلمانان د روژې په وجه کم طعام خوري لِهٰذا د معدې، زړه او اَعصابو (يعني پټو) په مرضونو کښې کم اخته کيږي.

## ډير خوراك كولو سره بيمارئ پيدا كيږي

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! فِیْ نَفْسِهٖ په روژو هيڅ څوك نه بيماريږي بلکه پيشمني او روژه ماتي کښې د بې احتياطۍ او بد پرهيزۍ په وجه او دواړه وخته د ډيرو غوړو او سره کړو خوراکونو استعمالولو او تولو شپه څه نه څه خوراك څښاك سره روژه دار بيماريږي لِـهذا د پيشمني او روژه ماتي په وخت کښې په خوراك څښاك کښې احتياط کول پکار دي، د شپې په وخت کښې په خيټه کښې د خوراك دومره زياته ذخيره کول هُم نه دي پکار چه بيا تولو ورځ ډرقي ورځي او په روژه کښې د لوَږې او تندې احساس بالکل ختم شي، که د لوَږې او تندې احساس هډو محسوس نه شي نو بيا د روژې څه خوند پاتې شو! که غور [فِکر] وکړې شي نو د روژې مزه صرف په دې کښې ده چه سخته ګرمي وي، د تندې د زياتوالي په وجه شونډې وچې شوي وي او د لوَږې نه سرې ښه کمزورې شوې وي او په داسې حالت کښې کاش چه! د مدينې مُنَوَّرې د خوږې خوږې ګرمۍ او يخ يخ نمر ياد تازه شي او کاش چه! د کربَلا د تود صحرا او د ګُلستانِ نُبُوَّت د خوشبودارو تازه تازه ګُلونو، د درې ورځو په لوَږه او تنده کښې د ژړا فرياد کوونکو "حقيقي مَدَنـي ماشومانو" او د شَهَنشاهِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ورو او ترو شهزادګانو ياد مو بيقراره کړي، او چه کله مو د لوَږې او تندې تکليف لږ زيات تنګ کړي نو [کاش چه!] هغه وخت د تسلِيم و رِضا د پيکر [يعني اعلیٰ ترين مثال] د مدينې د تاجدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خيټه مبارکه باندې تړلي شوي خوش نصيبه کاڼري را په ياد شي نو څومره به ښه وي! لِـهذا خوږو خوږو اسلامي وروڼو! واقعِي روژې خو داسې پکار دي چه مونږه د خپلو اَسلافو په يادو کښې ورك شو.



www.dawateislami.net

کیسے آقاؤں کا بندہ ہوں رضا　　　بول بالے مری سرکاروں کے

(حَدائقِ بخشش شریف ص٣٦٠)

# د آپريشن نه بغير ماشوم پيدا شو

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د روژې نُورانِيَّت او روحانِيَّت حاصلولو او مَدَنــي ذِهن جوړولو د پاره د **تبليغِ قُرآن و سُنَّت** د عالــمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د مَدَنــي ماحول سره تړون وکړئ او د سُنَّتو د تربِيَّت په مَدَني قَافِلو کښې د عاشقانِ رَسُول سره د سُنَّتو ډك سفر سعادت حاصلوئ. سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! د **دعوتِ اسلامي** مَدَني ماحول، د سُنَّتو ډکو اِجتماعاتو او مَدَنــي قافلو هُم څه ښکلي مَدَنــي سپرلي او بَرَکتونه دي! غالِباً د 1988ء واقعه ده. د **حيدر آباد** (بابُ الاسلام سندھ پاکستان) د يو اسلامي ورور د زوجه اُمِيد وو، ورځې هُم ”پوره“ شوي وې. د ډاکټرانو وينا وه چه شائد **آپريشن** به کول غواړي. د **تبليغِ قُرآن و سُنَّت** د عالــمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د درې ورځو **بين الاقوامي اِجتِماع** ورځې نزدې وې. هغه اسلامي ورور د اِجتِماع نه پس د **عاشقانِ رَسُول** سره د سُنَّتو د تربِيَّت په **مَدَني قَافِله** کښې د يوې مياشتې د سفر کولو نِيَّت کړې وو. **اِجتِماع** کښې د حاضرئ د پاره د روانيدو په وخت کښې ئې سامانِ قافِله ځان سره اسپتال ته يوړو، ځکه چه د خاندان نور کسان ئې د امداد د پاره موجود وو، د ښځې په سترګو کښې ئې اوښکې راغلې او هغه ئې د اِجتِماع د پاره (ملتان ته) رخصت کړو. د هغه دا فِکر جوړ شوې وو چه اوس خو بين الاقوامي د سُنَّتو ډکو اِجتِماع له ځم او بيا به د هغه ځائ نه د يوې مياشتې په **مَدَني قَافِله** کښې ضرور سفر کووم کاش چه! د دې په بَرَکت مې اولاد په خيريت سره وشي. عاجزه غريب وو، د آپريشن روپئ هُم ورسره نه وې، بهر حال هغه مدينةُ الاولياء مُلتان شريف ته ورسيدلو، د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې ئې ډيرې ډيرې دُعاګانې وکړې. د اِجتِماع په آخره کښې کيدو والا ژړوونکې دُعا نه پس هغه خپل کور ته فون وکړو نو مور صاحبې ئې اُووئيل چه مُبارك شه! تيره شپه **اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت** د آپريشن نه بغير تا ته د سپوږمئ په



www.dawateislami.net

شان ښکلي لُور درکړې ده. هغه ډېر زيات خوشحاله شو او عرض ئې وکړو چه مورې! زما د پاره څه حُکم دې؟ درشم او که د يوې مياشتې په مَدَني قَافِله کښې سفر وکړم؟ مور صاحبې ئې اُووئيل: "ځويه! بې فِکره اوسه او په مَدَني قَافِله کښې سفر وکړه." هغه د خپلې مَدَنـي ماشومې د ليدلو ارمان په زړه کښې وساتلو او اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د عاشقانِ رَسُول سره د يوې مياشتې مَدَني قَافِلې په سفر روان شو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ! [تاسو وليده چه]! په مَدَني قَافِله کښې د سفر کولو د نِيَّت په بَرَکت د هغه مشکل آسان شو. د مَدَني قَافِلو د مَدَنـي سپرلو د بَرَکت په سبب ئې د ټول کور والؤ زبردست مَدَنـي ذِهن جوړ شو، د هغه اسلامي ورور بيان دې چه زما د و مور وائي: چه کله تاسو مَدَني قَافِله کښې په سفر ئې نو زه سره د خپلو بچو ځان په حِفاظت کښې ګنړم.

زچہ کی خیر ہو، بچہ بالخیر ہو — اُٹھئے ہمت کریں قافلے میں چلو
بیوی بچے سبھی خوب پائیں خوشی — خیریت سے رہیں قافلے میں چلو

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د روژې جَزا

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دې چه خوږ مَدَنـي سردار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: "د انسان د هر نيك كار بدله د لسو نه واخله د ووه سوه همره پورې وركولې كيږي، **الله** تعالٰی فرمائيلي دي: اِلَّا الصَّوْمَ فَاِنَّه لِي وَاَنَا اَجْزِى بِه يعني سِوا د روژې نه چه روژه زما د پاره ده او د هغې جزا به زه پخپله وركووم. **الله** تعالٰی نور ارشاد فرمائي: بنده خپل خواهش او خوراك صرف زما په وجه پريږدي. د روژه دار د پاره **دوه خوشحالئ** دي، يوه د **روژه ماتي** په وخت كښې او يوه د خپل **ربّ** تعالٰی سره د مُلاقات په وخت كښ، د روژه دار د خُلې بُوئې د **الله** تعالٰی په نزد د مُشكو نه زيات پاكيزه دې." (مُسلِم ص٥٨٠ حديث١١٥١)



www.dawateislami.net

نور ارشاد فرمائي: روژه ډال ده او چه کله د چا د روژې ورځ وي نو نه دِ بيهوده خبره کوي او نه دِ چغې وهي، بيا که بل يو کس هغه ته کنزل [وکړي] او بد رد اُووائي او يا جګړې ته تيار شي نو وِدِ وائي: ”زه روژه دار يم.“ (بُخاری ج١ ص٦٢٤ حديث ١٨٩٤)

## د روژې خُصوصي انعام

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! په بيان کړې شوو اَحاديثِ مُبارکه کښې د روژې ډير خُصوصيات بيان کړې شوي دي. خومره ښکلې زيرې دې د هغه روژه دار د پاره چا چه داسې روژه ونيوله څنګه چه د روژه نيولو حق دې. يعني د خوراك څښاك او جِماع نه د بچ کيدو سره سره ئې خپل ټول اندامونه هُم د ګناهونو نه وساتل نو هغه روژه د هغه د پاره د هغه د ټولو تيرو ګناهونو کَفّاره شوه. او د حديث شريف دا فرمانِ عاليشان خو خاص طور قابِلِ تَوجُّه دې څنګه چه آقائے نامدار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل پروردګار جَلَّ جَلَالُهٗ فرمانِ عالِيشان بيانوي چه: فَاِنَّه لِي وَاَنَا اَجْزِى بِهٖ يعني روژه زما د پاره ده او د دې جزا به زه پخپله ورکووم. د حديثِ قُدسي دا اِرشادِ پاك بعضو عُلَماءِ کرامو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى اَنَا اُجْزٰى بِهٖ هُم لوستلې دې څنګه چه په مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيح وغيره کښې دي نو بيا به ئې معنىٰ داسې وي: ”د **روژې** جزا زه پخپله يم.“ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! يعني په روژه نيولو روژه دار پخپله **اللّٰه** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى اُومومي.

## د نيکو اَعمالو جزا جَنَّت دې

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! په قُرآنِ کريم کښې په مختلفو مقاماتو کښې بيان شوي دي چه څوك ښه اعمال کوي هغه ته جَنَّت نصيب کيږي. چنانچه **اللّٰه** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى په ديرشمه سيپاره د **سُوْرَةُ الْبَيِّنَه** په آيت نمبر ٧ او ٨ کښې ارشاد فرمائي:



www.dawateislami.net

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ اُولٰٓىِٕكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ ؕ﴿۷﴾ جَزَآؤُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَ رَضُوْا عَنْهُ ؕ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهٗ ۠﴿۸﴾

مَفهُومِ ترجمهٔ کَنْزُ الْاِيمان: بېشکه چا چه ايمان راوړو او ښه کارونه ئې وکړل هُم هغه په ټول مخلوق کښې غوره دي. د هغوئي بدله د هغوئي **ربّ** سره د اوسيدو باغونه دي چه لاندې ترې ويالې [يعني نهرونه] بهيږي، په هغې کښې به هميشه هميشه اوسيږي. **الله** د هغوئي نه راضي دې او هغوئي د هغه نه راضي دي. دا د هغه لپاره دي څوك چه د خپل **ربّ** نه وَيَريدو.

## غيرِ صحابي ته رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ وئيل څنګه دي؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! دا خبره بالکل غلطه ده چه "رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ" ليکل او لوستل صرف د **صحابي** د نامې سره مخصوص دي. د پيش کړې شوو آيتونو دې آخري حِصّې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَ رَضُوْا عَنْهُ ؕ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهٗ ﴿۸﴾ (مَفهُومِ ترجمهٔ کَنْزُ الْاِيمان: **الله** د هغوئي نه راضي دې او هغوئي د هغه نه راضي دي. دا د هغه لپاره دي څوك چه د خپل **ربّ** نه وَيَريدو) دا عوامي غَلَطي د ستې ويستله! د **الله** ويره لرونکي هر مُؤمِن د پاره که هغه صحابي دې او که غيرِ صحابي، د ټولو د پاره دا بِشارَتِ عُظمٰی [يعني عظيم زيرې] اِرشاد کړې شوې دي چه څوك هُم د **الله** تعالٰی ويره لرونکې دې هغه د رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ؕ په زُمره کښې داخل دې، بېشکه **د هر صحابي او ولي د پاره** رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ **ليکل او لوستل بالکل صحيح او جائز دي.** چا چه د ايمانه سره د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ظاهري حيات کښې د حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د لږ ساعت صُحبت هُم حاصل کړو يا ئې



www.dawateislami.net

[حُضُور صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم] وليدلو او د هغه خاتِمه په ايمان وشوه هغه **صَحابي** دي. د غټ نه غټ ولي د **صَحابي** مَرتَبې ته نه شي رسيدې، هر **صَحابي** عادِل او جَنَّتي دې.

## ما ته ملغلرو والا پکار دي

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ ضِمناً د ''رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ'' خبره هُم زيرِ بحث راغله، اوس اصل موضوع له راځُو: په لـمانځه، حج، زکوٰة، د غريبانو په امداد، د بيمارانو په پوښتنه، د مِسکينانو په اِمداد کولو وغيره ټولو نيکو اعمالو باندې جَنَّت حاصليږي، خو روژه هٰغه عبادت دې چه د دې په ذريعه د جَنَّت خاوند يعني پخپله مالكِ حقيقي حاصليږي. وائي چه يو ځل محمود غزنوي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ څه قيمتي ملغلرې د خپلو افسرانو مخې نه وشِيندلې، او وئې فرمائيل چه ''[دا ځان له] راټولې کړئ او پخپله [په آس سور] مخکښې روان شو. لږ مخکښې چه لاړو نو شا ته ئې وکتل، څه ګوري چه اياز وريسې وروستو په آس سور راروان دې. تپوس ئې ترې وکړو چه ايازه! ولې تا ته ملغلرې نه دي پکار؟ اياز عرض وکړو: ''بادشاه سلامت! د چا چه ملغلرې پکار دي هغوئ ئې ځان له راټولوي او ما ته خو ملغلرې نه بلکه ملغلرو والا پکار دې.'' (بوستانِ سَعدی ص۱۱۰ مُلَخَّصاً)

## مونږ د رَسُولُ اللّٰه (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) يو

## او جَنَّت د رَسُولُ اللّٰه (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) دې

په دې باره کښې يو حديثِ پاك هُم اوګورئ: حضرتِ سَيِّدُنا رَبِيعه بِن **كَعْب** اسلمي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: ما به شپه د حُضُورِ اَقدس صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې تيروله، نو ما د اوداسه اوبه او د هغوئي صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ضرورت ځيزونه (لکه مِسواك) ځان سره واخستل او د هغوئي صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې حاضر شوم، نو **رَحْمَۃٌ لِّلْعٰلَمِیْن** صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: سَلْ! يعني اوغواړه څه غواړې؟ ما عرض وکړو: اَسْئَلُكَ مُرَافَقَتَكَ فِي الْجَنَّة يعني (آقا صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) په جَنَّت کښې ستاسو رَفاقَت (يعني ګاونډ) غواړم. (لکه داسې عرض چه کوي)



www.dawateislami.net

تجھ سے تجھی کو مانگ لوں تو سب کچھ مل جائے
سو سُوالوں سے یہی ایک سُوال اچھا ہے

(د رحمت درياب نور په جوش كنبي راغي او) وئي فرمائيل: "اَوَ غَيْرَ ذٰلِكَ يعني نور هُم څه غواړې؟" ما عرض وكړو: بس صرف هُم دا." ؎

تجھ سے تجھی کو مانگ کر مانگ لی ساری کائنات
مجھ سا کوئی گدا نہیں تجھ سا کوئی سخی نہیں

(چه حضرتِ سَيّدُنا رَبيعه بِن كَعْب اَسلمي رضی اللہ تعالٰی عنہ په جَنَّت كنبي ګاونډ اوغوښتو او نور ئي د څه حاجت طلب كولو نه انكار وكړو) نو سركارِ نامدار صلَّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم اُوفرمائيل: " فَاَعِنِّي عَلٰى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْد" يعني په خپل نفس باندې د كثرتِ سُجُود (يعني زياتو نفلونو) په ذريعه زما مدد وكړه. (مُسلِم ص.٢٥٣ حديث٤٨٩)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## څه چه غواړې اوغواړه!

سُبْحٰنَ اللهِ ! سُبْحٰنَ اللهِ ! سُبْحٰنَ اللهِ ! دې حديثِ مبارك خو زمونږه ايمان تازه كړو. حضرتِ سَيِّدُنا شَيخ عَبدُ الحق مُحَدِّث دِهلوي رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ فرمائي: د سركار مدينه صلَّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم بغير د څه تَقْيِيد و تَخْصِيص مُطلَقاً دا فرمائيل: سَلْ؟ يعني اوغواړه څه غواړې؟ دا خبره ظاهروي چه ټول مُعاملات د سرورِ كائنات صلَّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم په مباركو لاسو كنبي دي، هغوئي صلَّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم چه څه غواړي، چا له چه غواړي د خپل رَبّ عَزَّوَجَلَّ په حُكم ئي وركوي. عَلّامه بُوصِيري رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ په قَصِيدَهٔ بُردَه شريف كنبي فرمائي: ؎

فَاِنَّ مِنْ جُوْدِكَ الدُّنْيَا وَضَرَّتَهَا وَمِنْ عُلُوْمِكَ عِلْمَ اللَّوْحِ وَالْقَلَمِ



www.dawateislami.net

يعني يارَسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دُنيا او آخرت خو ستاسو صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جُود و سَخاوَت حِصّه ده او د لَوح و قلم عِلم خو ستاسو صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عُلومو مبارکو يوه حِصّه ده. ؎

اگر خیریت دنیا و عقبٰی آرزو داری
بدرگاہش بیاو ہر چہ مَن خواہی تمنا کن

يعني که د دُنيا او آخِرَت خير غواړئ نو دې عظيم الشّان دربار ته راشئ او څه چه مو زړه غواړي هغه اُوغواړئ! (اَشِعَّةُ اللّمعات، ج۱، ص۲۴٤، ٤۲۵ وغيره)

خالق کل نے آپ کو مالکِ کل بنادیا
دونوں جہان دے دیئے قبضہ واختیار میں

## د "رَمَضانُ الکريم" د يوولسو حُرُوفو په نِسبَت
## د روژو د فَضائيلو مُتَعَلِّق ۱۱ فَرامِينِ مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

## جَنَّتي دروازه

﴿۱﴾ بېشکه په جَنَّت کښې يوه دروازه ده چه هغې ته رَيَّان وائي، په هغې به د قيامت په ورځ روژه دار داخلېږي، د هغوئې نه علاوه به پرې بل څوك نه داخلېږي. وئيلې به شي [يعني دا غږ به کيږي] روژه دار چرته دي؟ پس دا خلق به ودرېږي، د دوئې نه علاوه به بل څوك [په هغه دروازه] نه داخلېږي، چه کله دوئې داخل شي نو دروازه به بنده کړې شي بيا به هيڅ څوك په هغه دروازه نه داخلېږي. (بُخاری ج۱ ص۶۲۵ حديث ۱۸۹۶)

## د تيرو ګناهونو کَفَّاره

﴿۲﴾ چا چه د رَمَضان روژه ونيوله او د هغې حدونه ئې اُوپېژندل او د کوم څيز نه چه بچ کيدل پکار دي د هغې نه بچ شو نو کوم (ګناهونه) ئې چه مخکښې کړي دي د هغې کَفّاره وشوه.

(الاحسان بترتيب صحيح ابنِ حَبّان ج۵ ص۱۸۳ حديث ۳٤۲٤)



www.dawateislami.net

## د جَهنَّم نه اويا کاله لار لري

﴿٣﴾ چا چه د الله تعالیٰ په لار کښې د يوې ورځې روژه ونيوله الله تعالیٰ به د هغه مخ د جَهنَّم نه اويا کاله لار لري [يعني جُدا] کړي. (بُخاری ج٢ ص٢٦٥ حديث ٢٨٤٠)

## د يوې روژې فضيلت

﴿٤﴾ چا چه يوه روژه د الله تعالیٰ د رِضا حاصلولو د پاره ونيوله، الله تعالیٰ به هغه د جَهنَّم نه دومره لرې کړي څومره چه يو قارغه چه د خپل وړوکوالي نه اَلوَتل شروع کړي تر دې چه بوډا شي او مړ شي. (ابو يعلیٰ ج١ ص٣٨٣ حديث ٩١٧)

## د سرو ياقوتو کور

﴿٥﴾ چا چه د رَمَضان يوه روژه هُم په خاموشئ او سکون سره ونيوله د هغه د پاره به په جَنَّت کښې يو کور د سرو زَبَرجَدو يا د سرو ياقُوتو جوړ کړې شي. (مُعجَمُ اَوسَط ج١ ص٣٧٩ حديث١٧٦٨)

## د بدن زکوٰة

﴿٦﴾ د هر څيز د پاره زکوٰة دې او د بدن زکوٰة روژه ده او روژه نيم صبر دې.

(اِبنِ مَاجَه ج٢ ص٣٤٧ حديث١٧٤٥)

## اُوده کيدل هُم عبادت

﴿٧﴾ د روژه دار اُوده کيدل عِبادت او د هغه خاموشي تَسبِيح کول او د هغه دُعا قبوله او د هغه عمل مقبُول وي. (شُعَبُ الْاِيمان ج٣ ص٤١٥ حديث٣٩٣٨)



www.dawateislami.net

## د اندامونو تَسبِيح كول

﴿۸﴾ كوم بنده چه د **روژې** په حالت كښې سحر كړي، د هغه د پاره د آسمان دروازې برسيره كړې شي او د هغه اندامونه **تَسبِيح** كوي او په آسمانِ دُنيا باندې اوسيدو والا (فرښتې) د هغه د پاره د لمر پريوتو پورې د بخښنې مسلسل دُعا كوي، كه هغه يو يا دوه ركعاته كوي نو دا په آسمانونو كښې د هغه د پاره نُور جوړ شي او په حُورِ عِين (يعني غټو سترګو والا حورو) كښې د هغوئي ښځې وائي: اے **الله** عَزَّوَجَلَّ! ته دا زمونږ خوا ته راوليږې مونږه د ده د دِيدار ډير زيات شوق لرو. او كه هغه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ يا سُبۡحٰنَ اللهِ يا اَللهُ اَكۡبَرُ وائي نو اويا زره فرښتې د هغه ثواب د لمر پريوتو پورې مسلسل ليكي. (ايضاً ص۲۹۹ حديث۳۵۹۱)

## جَنَّتي ميوې

﴿۹﴾ څوك چه روژې د خوراك يا څښلو نه حِصار كړو چه د هغې هغه ته خواهش وو نو **الله** تعالیٰ به په هغه باندې د جَنَّتي ميوو نه خوري او په جَنَّتي شرابو به ئې موړ كړي.

(ايضاً ص۴۱۰ حديث ۳۹۱۷)

## د سرو زرو دسترخوان

﴿۱۰﴾ د قيامت په ورځ به د روژه دارو د پاره د سرو زرو يو دسترخوان كيښودې شي، چه د هغې نه به ئې هغوئي خوري حالانكه خلق به (د حساب كتاب) په انتظار وي.

(كَنۡزُ الۡعُمَّال ج۸ ص۲۱۴ حديث۲۳۶۴۰)

## ووه قِسمه اَعمال

﴿۱۱﴾ د **الله** تعالیٰ په نزد اعمال ووه قِسمه دي، دوه عملونه واجِب كوونكي، د دوو عملونو جزاء د هغوئي په مِثل، د يو عمل جزا د ځان نه لس همره، د يو عمل جزا ووه سوه همره پورې او يو



www.dawateislami.net

عمل داسې دې چه د هغې ثواب د **الله** تعالیٰ نه سِوا هيڅ چا ته نه دې معلوم. پس کوم دوه واجِب کوونکې چه دي ﴿۱﴾ هغه کس د چا چه د **الله** تعالیٰ سره په دې حال کښې ملاقات وشو چه د **الله** تعالیٰ عبادت ئې په اخلاص سره داسې وکړو چه هيڅ څوك ئې د هغه شريك جوړ نه کړو نو د هغه د پاره جَنَّت واجِب شو ﴿۲﴾ او د چا چه د **الله** تعالیٰ سره په دې حال کښې ملاقات وشو چه د هغه سره ئې څوك شريك جوړ کړې وو نو د هغه د پاره دوزخ واجِب شو او چا چه يوه ګناه وکړه نو د هغې په مِثل (يعني صرف د يوې ګناه) جزا به مومي او چا چه صرف د نيکئ اِراده وکړه نو د يوې نيکئ جزا به مومي او چا چه نيکي وکړه نو هغه به لس (يعني د لسو نيکو) اجر مومي او چا چه د **الله** تعالیٰ په لار کښې خپل مال خرچ کړو نو د هغه خرچ کړې يو دِرهَم به ووه سوه دِرهَمه او يو دِينار به ووه سوه دِيناره کښې زيات کړې شي او روژه د **الله** تعالیٰ د پاره ده د دې د نيولو ثواب د **الله** تعالیٰ نه سِوا هيڅ چا ته نه دې معلوم." (شُعَبُ الْاِيْمان ج۳ ص۲۹۸ حديث۳۵۸۹)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د چا چه په ايمان خاتِمه وشي هغه خو به يا د **الله** تعالیٰ په رَحمت بې حِسابه [جَنَّت ته داخليږي] يا **مَعَاذَالله** عَزَّوَجَلَّ [يعني د الله پناه] که د ګناهونو عذاب ورکړې شو نو بيا به هُم بِالآخِر يقيناً جَنَّت ته داخليږي. او د چا چه **مَعَاذَالله** عَزَّوَجَلَّ په کُفر خاتِمه وشوه هغه به هميشه هميشه په دوزخ کښې اوسي. چا چه يوه ګناه وکړه هغه ته به د يوې ګناه بدله ورکولې شي. د **الله** تعالیٰ د رَحمت نه قُربان شم! صرف د نيکئ په نِيَّت کولو باندې د يوې نيکئ ثواب او که نيکي ئې وکړه نو ثواب لس هُمره، د **الله** تعالیٰ په لار کښې خرچ کوونکې ته ووه سوه هُمره [ثواب دې] او د روژه دار هُم څومره زبردست عَظَمت دې چه د هغه ثواب د **الله** تعالیٰ نه سِوا هيڅ چا ته نه دې معلوم.

## بې حِسابه ثواب

حضرتِ سَيِّدُنا **کَعْبُ الْاَحبار** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: "په ورځ د قيامت به يو مُنادي [يعني غږ کوونکې] داسې غږ کوي، هر کرلو والا (يعني عمل کوونکې) ته به د هغه د فصل (يعني عمل)



www.dawateislami.net

هُمره اجر ورکولې کيږي سِوا د قُرآن والؤ (يعني د قُرآن د عالِم) او روژه دارو نه چه هغوئي ته به بېحده او بې حِسابه اجر ورکولې شي.'' (شُعَبُ الْاِيْمان ج۳ ص۴۱۳ حديث۳۹۲۸)

## د يَرقان د مرض نه جوړ شو

د روژو بَرَکتونه زياتولو د پاره او خپل باطِن د عِلمِ دِين په ذريعه روښانه کولو د پاره د **تبلِيغِ قُرآن و سُنَّت** د عالـمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** په **مَدَني ماحول** کښې شامل اوسئ. د خپلې اصلاح د پاره د **مَکْتَبَةُ الْمَدِينه** نه د مَدَني انعاماتو رساله واخلئ، هغه ډکوئ او د هرې مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائ د **دعوتِ اسلامي** ذِمّه دار ته جمع کوئ او د سُنَّتو د تربِيَّت په مَدَني قَافِلو کښې د عاشقانِ رَسُول سره د سُنَّتو ډك سفر کول خپل معمول جوړ کړئ، د مَدَني قَافِلې هُم څه بشکلې مَدَنـي سپرلي دي. د 1994ء خبره ده، د زَم زَم نګر (حيدر آباد، بابُ الاسلام سِندھ، پاکستان) د يو اسلامی ورور د بچو د مور يَرقان ډير زيات شوې وو او د هغې په بابُ الْمَدينه کراچئ کښې د خپل پلار په کور کښې علاج جاري وو. هغه اسلامي ورور د ۶۳ ورځو په مَدَني قَافِله کښې سفر اختيار کړو او په دې باره کښې ئې بابُ الْمَدينه کراچئ ته تشريف راوړو، په فون باندې ئې کور سره رابطه وکړه، د هغې طبيعت ډير زيات خطرناك وو، بلورِبن (Bilirubin) ئې تشويشناك حده پورې زيات شوې وو، هغې ته ئې تقريباً ۲۵ د ګلوکوزو ډرِپونه خيژولې وو خو د هغې باوجود ئې څه خاص فائده نه وه شوې. دوئي ورته تسلِّي ورکړه او ورته وئې وئيل چه اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ! زه د **مَدَني قَافِلې** مُسافِر يم، د **عاشقانِ رَسُول** په صُحبت کښې يم، اِنْ شَآءَالله تعالیٰ د **مَدَني قَافِلې** په بَرَکت به هر څه بهتر شي. د هغې نه پس هُم ورسره هغوئي مسلسل رابطه ساتله، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ورځ په ورځ ئې صحت ښه کيدلو. په پينځمه ورځ [د هغه اسلامي ورور] د بابُ الْمَدينه [کراچئ] نه مخکښې په سفر روانيدل وو، چه فون ئې ورته وکړو نو دا زړه خوشحاله کوونکې خبر ئې واوريدو چه اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د بلورِبن رپورټ نارمل راغلې دې او ډاکټرانو اطمينان ښکاره کړې دې. هغه [اسلامي ورور] د **الله** تعالیٰ



www.dawateislami.net

شُکر ادا کړو او په خوشحالئ خوشحالئ د **عاشِقانِ رَسُول** سره په **مَدَني قَافِله** کښې مخکښې په سفر روان شو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! څنګه چه د روژې نيولو بېشميره فضائل دي هُم دغسې د څه صحيح **مجبورئ** نه بغير د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د روژې پرېښودلو سخت وعيدونه هُم دي. څوك چه د **رَمَضان** شريف يوه روژه هُم بغير د څه شرعي عُذره قصداً [يعني اِرادتاً] ضائع کړي نو بيا که ټول عمر هُم روژې ونيسي خو د هغه يوې پرېښودي روژې فضيلت نه شي موندلې. چنانچه

## د يوې روژې پرېښودلو نقصان

د **حضرتِ** سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دې، خوږ مکّي مَدَني آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ”چا چه د **رَمَضان** د يوې ورځې روژه بغير د رُخصته [يعني د شرعي اِجازت نه بغير] اِفطار کړه (يعني وه نه نيوله) نو د ټولې زمانې روژه هُم د هغې قضا نه شي کيدې اګر که وروسته ئې ونيسي هُم.“ (تِرمِذی،ج۲ ص۱۷۵ حديث۷۲۳) يعني هغه فضيلت کوم چه په **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** کښې د روژې نيولو وو اوس په هيڅ شان نه شي حاصلولې. (بهارِ شريعت ج۱ ص ۹۸۵ مُلَخّصاً)

## نسکور رازوړند خلق

څوك چه روژه ونيسي او بيا ئې د څه **مجبورئ** نه بغير ماتوي هغوئي دِ د **الله** تعالیٰ د قَهر و غَضَب نه ډير زيات وَيَريږي. چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا ابو اُمامه باهِلي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي چه ما د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوريدلې دې: ”زه اُوده ووم نو په خوب کښې دوه کسان ما ته راغلل او زه ئې د يوې سختې لارې غر ته بوتلم، چه کله زه د غر مينځنئ حِصّې ته ورسيدم نو هلته ډير سخت آوازونه راتلل، ما اُووئيل: ”دا څنګه سخت آوازونه دي؟“ نو ما



www.dawateislami.net

ته اُووئيل شو چه دا د دوزخيانو آوازونه دي. بيا ئې زه نور مخکښې بوتلم نو زه د څه داسې خلقو په خوا تير شوم چه هغوئي د خپلو [ښپو د] ګيټو [يعني پړکو] د رګونو نه ترړلي شوي وو (او نسکور) رازوړند کړې شوي وو او جامنې ئې شلولې شوي وې او وينې ترې بهيدلې، نو ما تپوس وکړو: "دا خلق څوك دي؟" نو ما ته اُووئيل شو چه "دې خلقو به روژه ماتوله، مخکښې د دې نه چه روژه ماتول حلال شي." (الاحسان بترتيب صحيح ابن حبّان ج٩ ص٢٨٦ حديث٧٤٤٨)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د رَمَضان روژه د شرعي اجازت نه بغير ماتول ډيره غټه ګناه ده. د وخت نه مخکښې ماتولو نه دا مُراد دې چه روژه خو ونيسي مګر د لـمر پريوتو نه مخکښې مخکښې ئې قصداً د څه صحيح مجبورئ نه بغير ماته کړي. په دې حديثِ پاك کښې چه کوم عذاب بيان کړې شوې دې هغه د روژه نيولو نه پس ماتوونکي د پاره دې او څوك چه بې د شرعي عُذره د رَمَضان روژه پريږدي هغه هُم سخت ګنهګار او د اور د عذاب حقدار دې. الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی دِ د خپل خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر مونږه د خپل قَهر و غَضَب نه وساتي.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## درې بد بخته

د حضرتِ سَيِّدُنا جابِر بِن عبدُالله رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوايت دې چه د تاجدارِ مدينه صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دې: "چا چه د رَمَضان مياشت اوموندله او د هغې روژې ئې ونه نيولې هغه کس شَقِي (يعني بدبخته) دې او د چا په خوا کښې چه زما ذِکر وشو او هغه په ما دُرُود ونه لوستو هغه هُم شَقِي (يعني بدبخته) دې."

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## پوزه دِ ئې په خاورو خړه شي

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې، رَسُولُالله صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: "د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي د چا په خوا کښې چه زما ذِکر وکړې شو نو هغه په ما



www.dawateislami.net

دُرُود ونه لوستو او د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي په چا چه د **رَمَضان** مياشت داخله شوه بيا د هغه د بخښني کيدو نه مخکښي تيره شوه او د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي د چا په خنګ کښي چه د هغه مور او پلار بوډا والي ته ورسيدل او د هغه مور او پلار هغه جَنَّت ته داخل نه کړو.“ (يعني د زاړو مور او پلار په خِدمت کولو ئې جَنَّت حاصل نه کړې شو)

(مُسْنَد اَحمَد ،ج٣، ص٦١ حديث٧٤٥٥)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د روژې درې دَرَجې

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اګر چه د روژې ظاهري شرط هُم دا دې چه روژه دار قصداً خوراك څښاك او جِماع نه کوي. خو د روژې څه باطِني آداب هُم شته دې چه د هغې معلومات ضروري دي چه مونږه په حقيقي معنو کښي د روژې بَرَکتونه حاصل کړې شو. چنانچه د روژې درې دَرَجې دي: (١) **د عوامو روژه** (٢) **د خواصو روژه** (٣) **د اَخصُّ الـخواص روژه**

## (١) د عوامو روژه

د روژې لُغوي معنٰى ده: ”حصاريدل “يعني منع کيدل“ لِهٰذا د شريعت په اِصطِلاح کښي د صبا صادِق نه واخله د لـمر پريوتو پورې د قصداً خوراك څښاك کولو او جِماع کولو نه ”حصاريدو“ ته روژه وائي او دا د عوامو يعني عامو خلقو روژه ده.

## (٢) د خواصو روژه

د خوراك څښاك او جِماع نه حصاريدو سره سره د بدن ټول اندامونه د بدو نه ”حصارول“ د خَواصو يعني خاصو خلقو روژه ده.



www.dawateislami.net

## (۳) د اَخَصُّ الْخَوَاص روژه

خپل ځان د تمامو اُمُورو [یعني ټولو کارونو] نه ”حِصارول“ او صرف الله تعالیٰ ته مُتَوَجِّه کیدل، دا د اَخَصُّ الْخَوَاص یعني د خاصُ الخاصو خلقو روژه ده. (بهارِشریعت ج۱، ص۹۶۶ مُلَخَّصاً)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! ضرورت د دې امر دې چه د خوراك څښاك وغیره نه ”ځان حصارولو“ سره سره د بدن ټول اندامونه هُم د روژې پابند کړې شي.

## د داتا صاحِب رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه اِرشاد

حضرتِ سَیِّدُنا داتا گَنج بَخش علي هجویري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: ”د روژې حقیقت ”حصاریدل“ دي او د حِصاریدو ډیر شرطونه دي مَثَلًا مِعده د خوراك څښاك نه حصارول، سترګې د بد نظرئ نه حصارول، غوږونه د غِیبت اوریدلو نه، ژبه د فُضولو او فسادي خبرو نه او بدن د حُکمِ اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ د مُخالَفَت نه حصار ساتل روژه ده. چه کله بنده د دې ټولو شرطونو پیروي کوي نو بیا به هغه حقیقتاً روژه دار وي.“ (کَشْفُ الْمَحْجُوب، ص۳۵۳، ۳۵۴)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## روژه په خُله هُم گناه توبه! توبه!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د خُدائے د پاره په خپل کمزوري حالت رحم وکړئ او فِکر وکړئ چه روژه دار د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په میاشت کښې د ورځې په وخت کښې خوراك څښاك پریږدي حالانکه دا خوراك څښاك د دې نه مخکښې د ورځې هُم بالکل جائز وو نو اوس پخپله سوچ وکړئ چه کوم څیزونه د رَمَضَان شریف نه مخکښې حلال وو او هغه هُم د دې مُبارکې میاشتې په مُقَدَّسو ورځو کښې منع کړې شو نو کوم څیزونه چه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك نه



www.dawateislami.net

مخکښې هُم حرام وو، مَثَلًا دروغ، چُغلي، بدګماني، کنزلې کول، فلمونه او ډرامې، سندرې او سازونه، بدنظري، کِيره خرئيل يا د يو مُوټې نه وره کول، مور او پلار خفه کول، د خلقو زړونه ازارول وغيره به په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې ولې نور زيات حرام نه شي! روژه دار چه په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې حلال او طَيِّب خوراك څښاك پرېږدي نو حرام کارونه به ولې نه پرېږدي؟ اوس اُووائې چه کوم کس پاك او حلال خوراك څښاك کول پرېږدي خو حرام او جَهنَّم ته بوتلونکي کارونه د مخکښې په شان جاري ساتي نو هغه کوم قِسم روژه دار دې؟

## الله تعالیٰ هيڅ حاجت نه لري

ياد ساتئ! د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك ارشاد دې: ”څوك چه بده خبره او په هغې باندې عمل کول نه پرېږدي نو الله تعالیٰ ته د دې هيڅ حاجت نشته چه هغه خوراك څښاك پريښودې دې.“ (بُخاری ج۱ ص۶۲۸ حديث ۱۹۰۳)

حضرتِ عَلّامه علي قاري رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه د دې حديثِ پاك نه لاندې ليکي: د بدې خبرې نه مُراد هره ناجائزه خبره ده لکه دروغ، بُهتان، غِيبت، تُهمَت، کنزلې، لعنت او پيغور وغيره چه د څه نه بچ کيدل ضروري دي. (مرقاة المفاتيح ج۴ ص۴۹۱) په يو بل مُقام کښې فرمانِ مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې: ”صرف خوراك څښاك پريښودو ته روژه نه وائي بلکه روژه خو دا ده چه د لَغو او بيهوده خبرو (يعني د هغه خبرې نه چه د هغې کول معاصي (يعني نافرماني) ده د هغې) نه ځان وساتي.“ (اَلْمُسْتَدْرَك ج۲ ص۶۷ حديث۱۶۱۴)

## زه روژه دار يم

د حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دې: تا سره که څوك جګړه وکړي، کنزل درته وکړي نو ته هغه ته اُووايه چه زه روژه يم. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج۱ ص۸۷ حديث۱)



www.dawateislami.net

## د اندامونو د روژې تعريف

د **اندامونو** روژه يعني ”د بدن هره حِصّه د ګُناهونو نه ساتل.“ دا صرف د روژو د پاره مخصوص نه دي، بلکه ټول عُمر دا اندامونه د ګناهونو نه بچ ساتل ضروري دي او دا هله کيدې شي چه زمونږه په زړونو کښې د **الله** تعالیٰ ويره پيدا شي. آه! د قيامت هغه وار خطا کوونکې منظر ياد کړئ چه هلته به هر طرف ته د ”نفسي نفسي“ عالَم وي، لمر به اور وروي، ژبې به د ډيرې تندې نه بهر راوتلې وي، ښځه به د خاوند نه او مور و پلار به د خپل ګران اولاد نه سترګې پټوي، **مجرمان** به نيولې راوستلې شي، په خُلو به ئې مُهرونه لګولې شوي وي او اندامونه به ئې د ګناهونو داستانونه بيانوي چه د هغې تَذکِره په سُوۡرَۂ یٰسٓ آيت نمبر ٦٥ کښې داسې شوي ده:

اَلۡیَوۡمَ نَخۡتِمُ عَلٰۤی اَفۡوَاهِهِمۡ وَ تُکَلِّمُنَاۤ اَیۡدِیۡهِمۡ وَ تَشۡهَدُ اَرۡجُلُهُمۡ بِمَا کَانُوۡا یَکۡسِبُوۡنَ ﴿۶۵﴾

مَفهُوم ترجمهٔ کَنزُالۡاِیمان: نن به مونږه د هغوئې په خُلو مُهر [يعني ټاپه] اُووهو او د هغوئې لاسونه به راسره خبرې کوي او د هغوئې ښپې به د هغوئې د کړو ګواهي ورکوي.

آه! اے **کمزورو او بې طاقته اسلامي ورونړو!** د قيامت د هغه سخت وخت نه خپل زړونه وَيَرَوِئ او هر وخت د خپل بدن اندامونه د نافرمانئ نه بچ ساتئ.

اوس د اندامونو د روژې تفصِيلات وړاندې کيږي:

## د سترګې روژه

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د سترګې روژه داسې نيول پکار دي چه سترګې مو کله هُم پورته کيږي چه صرف او صرف د جائزو کارونو په طرف پورته کيږي. په سترګو ځمات ته



www.dawateislami.net

ګورئ، قُرآن کريم پرې ګورئ، د مزاراتِ اولياء رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی زيارت پرې کوئ، د عُلَماءِ کِرامو او مَشائخِ کرامو او د **اللّٰه** تَبَارَکَ وَتَعَالٰی د نيکو بندګانو دِيدار کوئ، **اللّٰه** تعالیٰ دِ ئې [په مونږ ټولو] باندې وليدل کړي د کعبې شريفې انوار ګورئ د مَکّې مُکَرَّمې خوشبوداره کوڅې او د هغه ځائ دَرې او غرونه ګورئ، د مدينې مُنَوَّرې لارو کوڅو ته ګورئ، شين شين ګُنبد او مَنارو ته ګورئ، د خوږې خوږې مدينې صَحرا او ګُلزارونه ګورئ، د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روضې مبارکې د ښکلو جالو انوارو ته ګورئ، د جَنَّت ټُکړه [رَوضَةُ الْجَنَّة] اوګورئ.

تاجدارِ اَهلِسُنَّت حُضُور مُفتئِ اعظم هِند سيِّدُنا **محمد** مُصطفٰی رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه د **اللّٰه** تَبَارَکَ وَتَعَالٰی په لوئې دربار کښې داسې عرض کوي: ؎

| | |
|---|---|
| کچھ ایسا کردے مرے کردگار آنکھوں میں | ہمیشہ نقش رہے روئے یار آنکھوں میں |
| انہیں نہ دیکھا تو کس کام کی ہیں یہ آنکھیں | کہ دیکھنے کی ہے ساری بہار آنکھوں میں |

(وَسائلِ بخشِش شريف)

**خوږو روژه دارو!** د **سترګو روژه** نيسئ او ضرور ئې نيسئ بلکه د **سترګو روژه** خو ډېل دولس کينتې [يعني شپه او ورځ]، ديرش واړه ورځې، دولس مياشتې نيول پکار ده. د **اللّٰه** تعالیٰ درکړو **سترګو** باندې **فلمونه** بالکل مه ګورئ، ډرامې پرې مه ګورئ، **نامَحرَمه** ښځو ته مه ګورئ، د شَهوَت سره **امردو** ته مه ګورئ، د چا ښکاره **ستر** ته مه ګورئ، بلکه بهتره دا ده چه بې ضرورته خپل ښکاره **ستر** ته هُم مه ګورئ، د **اللّٰه** تعالیٰ د ياد نه غافله کوونکي **لوبې تماشې** مَثَلًا د مَيلُو او شادو ګډا وغيره مه ګورئ (د دې ګډول او د دوئې ګډا کتل دواړه کارونه ناجائزه دي) کِرکِټ، فُټبال، هاکي، تاش، شطرنج، وِډيو ګيمونه، ټيبل فُټ بال وغيره لوبې مه ګورئ. (او چه د کتلو اِجازت نشته نو [د دې لوبو] د کولو اجازت څنګه کيدې شي؟ او په دې کښې بعضې لوبې خو داسې دي چه هغه په نيکر يا داسې جانګې کښې کيږي چه زنګونان بلکه **مَعَاذَاللّٰه** عَزَّوَجَلَّ وَرَنونه هُم پکښې ښکاري او د خلقو په



www.dawateislami.net

مخکښې خپل زنګون یا ورون ښکاره کول ګناه ده، او چه څوك دې ته ګوري نو هغه هُم ګنهګار دې) د چا کور ته دننه بې اجازته مه ګورئ، د چا خط یا چیټئ یا د چا د ډائرئ لِیك د شرعي اجازت نه بغیر مه ګورئ، یاد ساتئ! **فرمانِ مُصطَفیٰ** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: "څوك چه د خپل ورور خط بې اجازته ګوري لکه هغه چه په اور کښې ګوري." (اَلْمُسْتَدْرَك ج٥ ص٣٨٤ حدیث٧٧٧٩)

اٹھے نہ آنکھ کبھی بھی گناہ کی جانب — عطا کرم سے ہو ایسی ہمیں حیا یارب!
کسی کی خامیاں دیکھیں نہ میری آنکھیں اور — سنیں نہ کان بھی عیبوں کا تذکرہ یارب!
دکھادے ایک جھلک سبز سبز گنبد کی
بس ان کے جلووں میں آجائے پھر قضا یارب

(وَسائلِ بخشِش ص ۸۳، ۸۷)

## د غوږونو روژه

د **غوږونو روژه** دا ده چه صرف او صرف جائزې خبرې اوري. مَثَلًا په غوږونو تِلاوت او نعت اورئ، د سُنَّتو ډك بیانات پرې اورئ، ښه خبره او اذان او اِقامَت پرې اورئ او په اوریدو ئې جواب ورکوئ، هیڅ کله هُم سندرې او باجې او موسیقي مه اورئ، د دروغو لطیفې مه اورئ، د چا غِیبت مه اورئ، د چا **چُغلي** مه اورئ، د چا عیب مه اورئ او چه کله دوه کسان پټه خبره کوي نو د اوریدلو کوشش ئې مه کوئ. **فرمانِ مُصطَفیٰ** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: کوم کس چه د یو قوم خبرو اوریدو ته غوږ کیږدي حالانکه هغوئې دا خبره نه خوښوي یا هغه خبره پټول غواړي نو د قِیامت په ورځ به د هغه په غوږونو کښې وِیلې کړې شوې سِیکه اچولې کیږي. (بُخاری ج٤ ص٤٢٣ حدیث٧٠٤٢)

سنوں نہ فحش کلامی نہ غیبت و چغلی — تِری پسند کی باتیں فقط سنا یارب

(وَسائلِ بخشِش ص ۸۷)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد



www.dawateislami.net

## د ژبې روژه

د ژبې روژه دا ده چه ژبه صرف او صرف په نيکو او جائزو خبرو خوزيږي. مَثَلًا په ژبه تِلاوتِ قُرآن کوئ، ذِکر و دُرُود پرې لولئ، نعت شريف لوَلئ، درس ورکوئ، د سُنَّتو دِك بيان کوئ، د نيکئ دعوت ورکوئ، ښې ښې او خوږې خوږې د دِينداريئ خبرې کوئ. د فُضول بکواس نه ځان ساتئ. خبردار چه په کنزلو، دروغو، غِيبت او چُغلئ وغيره ژبه ګنده نه کړئ ځکه چه که "څمڅئ په ګندګئ ککړه شي نو په يو ګِلاس اوبو به پاکه شي خو که ژبه د بې حيائې په خبرو ناپاکه شي نو د ووه سمندرو په اوبو وينځلو هُم نه شي پاکيدې."

## د ژبې د بې احتياطئ تباهياني

د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَـس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه خوږ مَدَنـي آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان ته يوه ورځ د روژې نيولو حُڪم وکړو او ارشاد ئې اُوفرمائيلو چه تر څو پورې زه اِجازت درنڪړم، په تاسو کښې دِ هيڅ څوك هُم روژه نه ماتوي. خلقو روژه ونيوله. چه کله ماښام شو نو ټول صحابهٔ کرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان يو يو راتلو او په دربار کښې به حاضريدلو او عرض به ئې کولو: يَارَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما روژه ده، اجازت راکړئ چه روژه ماته کړم. خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغوئې ته اجازت ورکړلو. يو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ حاضر شو او عرض ئې وکړو: يَارَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! دوو ښځو روژه نيولې ده او هغوئې ستاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې د حاضريدو نه حيا محسوسوي، هغوئې ته اجازت ورکړئ چه روژه ماته کړي، حبيبِ پروردګار، په غيبو خبردار، شاهِ اَبرار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه نه مخ مبارك واړولو، هغوئې بيا عرض وکړو، خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ترې بيا مخ مبارك واړولو، هغوئې بيا هُم هغه خبره وکړه، خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ترې بيا مخ مبارك واړولو، هغوئې بيا هُم هغه خبره شروع کړه، خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ترې بيا مخ مبارك واړولو، بيا رَسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (د غيبو خبر ورکړو او اِرشاد ئې اُوفرمائيلو: "هغې دواړو روژه نه ده نيولې هغه څنګه روژه دارې دي؟ هغوئې خو ټوله



www.dawateislami.net

ورځ د خلقو غوښې خوړلې! لاړ شه او هغه دواړو ته حُکم ورکړه چه که هغوئي روژه داري وي نو اُلټۍ [کَرځُون] دِ وکړي.“ هغه صحابي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ هغوئي ته ورغلو او هغوئي ته ئې **شاهي فرمان** واورولو. هغه دواړو چه اُلټۍ وکړې نو په اُلټو کښې پرم شوي [يعني ټينګه شوي] وِينه را اُووتله. هغه صحابي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ بيرته راغلو او د خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې ئې صورتِ حال بيان کړو. خوږ مَدَنـي آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: په هغه ذات مې دِ قَسَم وي! د چا په قبضهٔ قُدرت کښې چه زما ساه ده، که دا د هغوئي په خيټو کښې باقي پاتې شوي وې نو هغه دواړه به اور خوړلې وې. (ځکه چه هغوئي غيبت کړې وو)

(ذَمُّ الْغِيْبَةِ لابنِ اَبِی الدُّنیا ص۷۲ رقم ۳۱)

په يو بل رِوايت کښې دي چه کله حُضُورِ انور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه صحابي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه مخ مبارك واړولو نو هغه مخې ته راغلو او عرض ئې وکړو: يارَسُولَ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه دواړه د تندې د سختې نه مرګ ته نزدې دي. سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حُکم اُوفرمائيلو: ”هغه دواړه زما خوا ته راوله.“ هغه دواړه حاضرې شوې. سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! يوه پياله را اُوغوښتله او په هغوئي کښې ئې يوې ته حُکم اُوفرمائيلو: په دې کښې اُلټۍ وکړه! هغې د وينو، نوونو او غوښې اُلټۍ وکړې، تر دې چه نيمه پياله ډکه شوه. بيا خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بلې ته حُکم اُوفرمائيلو چه ته هُم په دې کښې اُلټۍ وکړه! هغې هُم هغسې اُلټۍ وکړې، تر دې چه پياله ډکه شوه. د الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی خوږ رَسُول صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: دې دواړو د الله تعالیٰ حلال کړو څيزونو (يعني د خوراك څښاك وغيره څيزونو) باندې روژه خو ونيوله خو کوم څيزونه چه الله تعالیٰ (د روژې نه علاوه هُم) حرام ګرځولي دي په هغې (حرامو څيزونو) ئې روژه ماته کړه! داسې وشو چه يوه جينئ د بلې جينئ خوا ته کښيناستله او دواړو په شريکه د خلقو غوښې خوړل (يعني غِيبَت کول) شروع کړل.[1] (مُسْنَد اِمام اَحمَد بِن حَنْبَل، ج ۹ ص ۱۶۵ حديث ۲۳۷۱۴)

---

[1] د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه کتاب ”غِيبَت کی تباه کارياں“ ولولئ. اِنْ شَآءَالله تعالیٰ د غِيبَت په شان ګناهِ کَبِيره نه به مو د بچ کيدو ښه ذِهن جوړ شي.



www.dawateislami.net

## عِلمِ غَیبِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د دې حِکایت نه د رڼا ورځې په شان واضحه شوه چه د الله تعالیٰ په ورکړه زمونږه خوږ خوږ آقا مکّـی مَدَنـی مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته عِلمِ غیب حاصِل دې او هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د خپلو غُلامانو د ټولو اَعمالو عِلم کیږي. ځکه خو ئې د هغه جینکو په باره کښې په جُمات کښې ناست د غیبو خبر ورکړو. بهرحال که د چا روژه وي او که نه خو د ژبې قُفلِ مدینه ډیره ښه ده ګني د دې نه داسې خبرې اُوځي چه توبه! توبه!. که دا درې اُصول یاد وساتلې شي نو اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالیٰ ډیره فائده به وشي: ﴿۱﴾ بده خبره کول په هر حال کښې بد کار دې. ﴿۲﴾ د فُضول خبرې نه خاموشي افضل [یعني غوره] ده ﴿۳﴾ ښه خبره کول د خاموشۍ نه بهتر دې.

مری زباں پہ قفلِ مدینہ لگ جائے　　فضول گوئی سے بچتا رہوں سدا یارب

## د لاسو روژه

د لاسونو روژه دا ده چه کله هُم لاس خوزیږي نو صرف د ښه کار د پاره خوزیږي. مَثَلاً په طَهارَت [یعني پاکئ] کښې قُرآنِ کریم ته لاس ولګوئ، د نیکو خلقو سره مُصافَحَه وکړئ [یعني لاس ورکړئ]. **فرمانِ مُصطَفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: د **الله** تعالیٰ د پاره په خپل مینځ کښې مَحَبَّت کوونکي چه کله د یو بل سره ملاقات کوي او مُصافَحه وکړي او نبي (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) باندې دُرُود پاك ولولي نو د هغوئي د جُدا کیدو نه مخکښې د دواړو تیر شوي او راروان ګُناهونه اُوبخښلې شي." (اَبو یَعْلٰی ج۳ ص۹۵ حدیث۲۹۵۱) که کیدې شي نو د یَتِیم په سر په شَفقَت [یعني مهربانئ] لاس راښکاږئ چه د لاس لاندې څومره ویښته راشي د هر ویښته په بدله کښې به یوه یوه نیکي درکړې شي. (ماشوم یا ماشومه صرف د هغه وخته پورې یتیمان دي تر څو چه نابالغه وي. چه څنګه بالِغ شو نو یتیم پاتې نه شو. هلك د دولسو او پینځلّسو کالو تر مینځه بالِغ کیږي او جینئ د نهو او پینځلّسو کالو

تر مينځه بالغه کيږي) خبردار! چه په چا باندي د ظلم د پاره لاس پورته نه کړئ، د رِشوت ورکولو او اخستلو د پاره مو لاس پورته نه شي، نه د چا مال غلا کړئ، نه تاش وکړئ، نه پتنګ والوَځوئ، نه يوي نامَحرمي زنانه سره مُصافَحه وکړئ. (بلکه که د شَهوَت انديښنه وي نو اَمرَد سره هُم مصافَحه مه کوئ)

ہمیشہ ہاتھ بھلائی کے واسطے اٹھیں　　بچانا ظلم و ستم سے مجھے سدا یارب (وَسائلِ بخشِش ص ۷۷)

## د ښپو روژه

د ښپو روژه دا ده چه که ښپې حَرَکت کوي نو چه صرف او صِرف د نيکو کارونو د پاره حَرَکت کوي. مَثَلًا که ښپې رواني وي نو چه د جُمات په طرف رواني وي، د اولياءِ کِرامو رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی د مزاراتو په طرف رواني وي، چه د عُلَماؤ او صُلَحاؤ د دِيدار کولو د پاره رواني وي، د سُنَّتو ډکو اجتماعاتو په طرف رواني وي، د نيکئ د دعوت ورکولو د پاره رواني وي د سُنَّتو د تربِيَّت په مَدَني قَافِلو کښې په سفر رواني وي، د نيکو صُحبتونو په طرف رواني وي، د چا مدد کولو د پاره رواني وي، کاش چه! د مَکّې مُکَرَّمې او مدينې مُنَوَّرې په طرف رواني وي، د مِنٰی او عَرَفات او مَزدِلفه په طرف رواني وي، په طواف او سعي کښې رواني وي. چه کله هُم د سينما په طرف رواني نه شي، د ډرامو د ځائيونو په طرف لاړې نه شي، د بدو دوستانو د مجلِسونو په طرف لاړې نه شي، شطرنج، لُډّو، تاش، کرکټ، فُټ بال، وِډيو ګيمونو او ټيبل فُټ بال وغيره وغيره لوبو کولو يا کتلو د پاره رواني نه شي، کاش چه! کله خو ښپې داسې هُم رواني شي چه بس په ژبه مو صرف مدينه مدينه وي او سفر هُم د مدينې وي. ؎

رہیں بھلائی کی راہوں میں گامزن ہر دم　　کریں نہ رُخ مرے پاؤں گناہ کا یارب

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب!　　صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد



www.dawateislami.net

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! په حقيقي معنو کښې خو به د روژې بَرَکتونه هله رانصيب کيږي چه مونږه د ټولو اندامونو روژه هُم ونيسو ګني د لوږې او تندې نه سِوا به هيڅ هُم په لاس رانشي څنګه چه د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه د سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد دې: ”ډير روژه دار داسې دي چه هغوئي ته د هغوئي د روژې نه د لوږې او تندې نه سِوا هيڅ نه حاصليږي، او ډير قِيام [يعني د شپې عبادت] کوونکي داسې دي چه هغوئي ته د هغوئي د قِيام نه، ”سِوا د ويښيدو نه“ هيڅ نه حاصليږي.“ (اِبنِ مَاجه ج۲، ص۳۲۰ حديث۱۶۹۰)

## په K اليکټرک کښې مې نوکري وموندله

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! دروژې د نُورانِيَّت او روحانِيَّت حاصلولو د پاره او مَدَني ذِهن جوړولو د پاره د **تبليغِ قُرآن و سُنَّت** د عالـمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول سره تړون وکړئ او د سُنَّتو په **مَدَني قَافِلو** کښې د عاشِقانِ رَسُول سره د سُنَّتو ډك سفر سعادت حاصل کړئ. سُبْحٰنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ! د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول، د سُنَّتو ډکو اِجتِماعاتو او **مَدَني قَافِلو** هُم څه ښکلې مَدَني سپرلي او بَرَکتونه دي. چنانچه په 19.6.2003 کښې د اورنګي ټاؤن (بابُ الْمَدينه کراچئ) يو اسلامي ورور د يو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي په دعوت ورکولو د **دعوتِ اسلامي** هفته واره اِجتِماع کښې شرکت شروع کړو خو پابندي ئې نه وه. د بيروزګارئ په وجه پريشانه وو، هغوئي د يو اسلامي ورور د اِنفرادي کوشش په نتيجه کښې د 41 ورځو په **مَدَني انعامات او مَدَني قَافِله کورس** کښې د **دعوتِ اسلامي** په عالمي مَدَني مرکز **فيضانِ مدينه** کښې داخله واخسته. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د **عاشِقانِ رَسُول** د صُحبت بَرَکتونو هغه په مَدَني رنګ کښې رنګ کړو او د ژوند تيرولو په انداز ئې پوهه کړو. د مَدَني قَافِله کورس پوره کولو په دويمه يا دريمه ورځ ورته بعضو دوستانو اُووئيل چه K اليکټرک (K-Electrec) ته د ملازمانو ضرورت دې، مونږه هُم درخواستونه ورکړي دي ته هُم درخواست ورکړه. دوئي ورته اُووئيل چه نن صبا په درخواستونو چرته کار کيږي! په سفارشونو (بلکه په رِشوتونو) نوکرئ ورکولې کيږي! ما سره خو هيڅ هُم نشته.



www.dawateislami.net

آخر دا چه د هغوئي په ډېره ټينګتيا ئې درخواست ورکړو. په شروع کښې ئې تحريري [يعني د ليکلو] ټيسټونه وشو، بيا د انټروِيو نه پس ئې ميډيکل ټيسټونه وشو. د بيشميره اثر رُسوخ [يعني سفارش] لرونکو نورو درخواستونو باوجود هغه واحد کس وو چه په هر ځائ کښې کامياب شو! آخرئ انټرويو د تللو په وخت کښې ئې د کور کسانو ډېر زور ولګوو چه پينټ شرټ واغونده، مګر هغه خو د عاشِقانِ رَسُول د صُحبت په بَرَکت انګريزي لباس پريښودې وو لِهٰذا په سپين قميص پرتوګ کښې ورغلو. افسر چه د هغوئي مذهبي انداز وليدو نو د بعضې اسلامي معلوماتو تپوسونه ئې ترې وکړل، د هغې جوابونه هغوئي ورکړل ځکه چه اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ هغوئي دا هر څه په ''مَدَني انعامات او مَدَني قَافِله کورس'' کښې زده کړي وو. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د څه سفارش او رِشوت نه بغير هغوئي ته نوکري ورکړې شوه. د هغوئي د کور کسانو چه د **دعوتِ اسلامي** د ''مَدَني قَافِله کورس'' او مَدَني ماحول بَرَکتونه وليدل نو حيران پاتې شو او اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د **دعوتِ اسلامي** سره مَحَبَّت کوونکي جوړ شو. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ هغوئي ته د **دعوتِ اسلامي** د علاقائي مُشاورت د ذِمّه دار په حيثيت په خپله علاقه کښې د سُنَّتو د خِدمت او د مَدَني انعاماتو او مَدَني قَافِلو د عام کولو سعادت هُم حاصل شو.

نوکری چاہئے، آیئے آیئے — قافلے میں چلیں، قافلے میں چلو
تنگدستی مٹے ،دورآفت ہٹے — لینے کو برکتیں، قافلے میں چلو

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٧٢ـ٦٧٥)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د روژې نِيَّت

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د روژې د پاره نِيَّت شرط دې. لِهٰذا ''که بې نِيَّته خوك اسلامي ورور يا اسلامي خور د صبا صادِق نه واخله د لمر پريوتو پورې څه خوراك څښاك بالکل ونکړي نو بيا به هُم د هغه روژه ونشي'' (ماخوذاز رَدُّالْمُحتَار ج٣ ص٣٩٣) که د **رَمَضان شريف روژه** وي او که نفلي يا د



www.dawateislami.net

نَذرِ مُعَيَّن روژه وي (يعني چه د الله تعالیٰ د پاره ئې د کومې مخصوصې ورځې د روژې نيولو منبنته کړي وي مَثَلًا په دومره آواز چه [که څه رُکاوټ، شور يا په غوږونو درُوند نه وي نو] پخپله ئې اوريدې شي داسې ئې وئيلي وي چه ”په ما باندې د الله تعالیٰ د پاره د دې کال د رَبِيعُ الْاَوَّل شريف د هر کُل شريف د ورځې روژه ده.“ نو دا نَذرِمُعَيَّن دې او د دې منبنتې پوره کول واجِب شو.) د دې درې واړه قِسمه روژو نيولو د پاره چه د لـمر پريوتو نه واخله د ”نِصۡفُ النَّـهَارِ شَرۡعِی“ (دې ته ضَحۡوَۂ کُبۡریٰ هُم وائي د دې) نه مخکښې مخکښې پورې چه کله هُم نِيَّت وکړي روژه به ئې وشي. (دُرِّمُختار و رَدُّالْمُحۡتَار ج۳ ص۳۹۳)

## د نِصۡفُ النَّـهَارِ شَرۡعِی د وخت معلومولو طريقه

د کومې ورځې نِصۡفُ النَّـهَارِ شَرۡعِی چه معلومول غواړئ د هغه ورځې د صبا صادِق نه واخله د لـمر پريوتو پورې وخت حساب کړئ او هغه ټول وخت دوه حِصّې کړئ. د وړومبئ نيمې حِصّې د ختميدو سره به د ”نِصۡفُ النَّـهَارِ شَرۡعِی“ وخت شروع شي. مَثَلًا چه نن صبا صادِق رسا په پينځه ې دې او د لـمر پريوتو وخت رسا شپږ بجې دې نو د دواړو د مينځه وخت پوره ديارلس گينټې شو، دا دوه حِصّې کړئ نو دواړه حِصّې شپږ نيمې شپږ نيمې گينټې شوې. اوس د صبا صادِق د پينځه بجو کيدو نه پس وړومبئ شپږ نيمې گينټې حساب کړئ نو دغسې د ورځې د يوولس نيمو بجو نه فوراً پس د ”نِصۡفُ النَّـهَارِ شَرۡعِی“ وخت شروع شو نو اوس به د دې درې قِسمه روژو نِيَّت نه شي کيدې. (رَدُّالْمُحۡتَار ج۳. ص۳۹۳ مُلَخَّصاً)

د دې بيان کړې شوو درې قِسمه روژو نه علاوه چه نورې د هر قِسم روژې دې د هغه ټولو د پاره دا لازِمي دې چه د شپې يعني د لـمر پريوتو نه واخله د صبا صادِقه پورې نِيَّت کوئ، که صبا صادِق شو نو بيا نِيَّت نه شي کيدې. مَثَلًا د رَمَضان د روژو قضا، د کَفّارې روژې، د نفلي روژې قضا (نفلي روژه چه شروع کړې شي نو واجِب شي، بيا بې د شرعي عُذره ماتول گناه ده. که په هره طريقه ماته شوه که په عُذر وي او که بې عُذره وي، د دې قضا په هر حال کښې واجب ده) د ”غيرِ مُعَيَّن نذر روژه“ (يعني



www.dawateislami.net

چه د الله تعالیٰ د پاره ئې د روژې نیولو منښته کړې وي خو ورځ ئې نه وي **مخصوصه** کړې نو د دې منښتې پوره کول هُم واجِب دي او د الله تعالیٰ د پاره منلې شوې هرې منښتې پوره کول واجِب دي هله چه په ژبه ئې داسې الفاظ په دومره آواز کښې وئيلې وي چه [که څه رُکاوټ، شور يا په غوږونو درُوند نه وي نو] پخپله ئې اوريدې شي مَثَلًا داسې ئې اُووئيل چه ”په ما باندې د الله تعالیٰ د پاره يوه **روژه** ده“ اوس ولې چه په دې کښې ورځ نه ده مخصوص کړې شوې چه په کومه ورځ به روژه نيسم ، لِهٰذا چه په ژوند کښې ئې کله هُم د منښتې په نِيَّت روژه ونيوله نو منښته به ادا شي. د منښتې د پاره په ژبه وئيل شرط دي او دا شرط هُم دې چه کم از کم په دومره آواز ئې اُووائې چه پخپله ئې واورې، که د منښتې الفاظ ئې په دومره آواز کښې اُووئيل چه پخپله به ئې اوريدلې وې خو د کڼړيدو يا د څه قِسم شور وغيره په وجه ئې وانه اوريدې شوه نو بيا هُم منښته وشوه، د دې پوره کول واجِب دي) وغيره وغيره، د دې ټولو روژو **نِيَّت** په شپه کښې کول ضروري دې. (ايضاً)

## د روژې د نِيَّت شل مَدَنـي ګلونه

﴿۱﴾ د ادائے **رَمَضان** او د نَذرِ مُعَيَّن (يعني مُقرَّر کړې منښتې) او نفلي روژو د پاره د **نِيَّت** کولو وخت د لـمر پريوتلو نه پس د ضَحوَهٔ کُبریٰ يعني نِصفُ النَّهَار شَرعِی نه مخکښې مخکښې پورې دې. د دې پوره وخت په دوران کښې چه تاسو کله هُم **نِيَّت** وکړئ نو دا روژې به وشي. (دُرِّ مُختار و رَدُّالمُحتَار ج۳ ص۳۹۳)

﴿۲﴾ **نِيَّت** د زړه د ارادې نوم دې، په ژبه وئيل شرط نه دې، خو په ژبه وئيل **مُستَحَب** دي که د شپې د **رَمَضان** دروژې **نِيَّت** وکړئ نو داسې اُووائې: نَوَيۡتُ اَنۡ اَصُوۡمَ غَدًا لِلّٰهِ تَعَالٰی مِنۡ فَرۡضِ رَمَضَان. ترجَمه: **نِيَّت** مې وکړو چه د **الله** تعالیٰ د پاره به صبا د دې **رَمَضان** فرض روژه نيسم.

﴿۳﴾ که د ورځې **نِيَّت** کوئ نو داسې وائې: نَوَيۡتُ اَنۡ اَصُوۡمَ هٰذَا الۡيَوۡمَ لِلّٰهِ تَعَالٰی مِنۡ فَرۡضِ رَمَضَان
(جَوۡهَره ج۱ ص۱۷۵)

﴿۴﴾ په عربئ کښې به د **نِيَّت** کَلِمات ادا کول هله **نِيَّت** شميرل شي چه د هغې په معنیٰ هُم پوهيږي، او دا هُم ورته ياد وي چه په ژبه **نِيَّت** کول اګرکه په هره ژبه کښې وي نو هله به په کار راځي چه هغه وخت په زړه کښې هُم **نِيَّت** موجود وي.



www.dawateislami.net

﴿۵﴾ **نِيَّت** په خپله مورنۍ ژبه کښې هُم کيدې شي، که په عربئ کښې ئې کوئ او که په بله ژبه کښې ئې کوئ خو د **نِيَّت** کولو په وخت کښې په زړه کښې اِراده موجوده کيدل شرط دې، ګنې په بې خيالئ کښې صرف په ژبه زده کړې جُملې ادا کولو سره به **نِيَّت** نه کيږي. خو که په ژبه ئې زده کړې **نِيَّت** اُووئيلو مګر وروسته ئې په مقرره خت کښې دننه دننه په زړه کښې هُم **نِيَّت** وکړو نو بيا **نِيَّت** صحيح دې. (رَدُّالْمُحْتَار ج۳ ص۳۳۲)

﴿۶﴾ که د ورځې **نِيَّت** کوئ نو دا ضروري دي چه دا **نِيَّت** وکړئ چه زه د صبا صادِق نه روژه دار يم. که داسې **نِيَّت** وکړي چه د اوس نه روژه دار يم، د سحر نه نه، نو روژه ونشوه.
(جَوْهَره ج۱ ص۱۷۵ و رَدُّالْمُحْتَار ج۳ ص۳۹٤)

﴿۷﴾ د ورځې صرف هغه **نِيَّت** د کار دې چه د صبا صادِق نه واخله د روژې د **نِيَّت** کولو پورې د روژې خِلاف څه امر (يعني څه کار) نه وي واقع شوې. البته که د صبا صادِق نه پس ئې په هيره خوراك څښناك يا جِماع وکړه نو بيا به هُم **نِيَّت** صحيح شي. (مُلَخَّص از رَدُّالْمُحْتَار ج۳ ص۳٦۷)

﴿۸﴾ تاسو که داسې **نِيَّت** وکړو چه ''که صبا چرته دعوت وو نو روژه مې نشته او که [دعوت] نه وو نو روژه مې ده''. دا **نِيَّت** صحيح نه دې. تاسو روژه دار نه شوئ. (عالمگیری ج۱، ص۱۹۵)

﴿۹﴾ که د **رَمَضان** د مياشتې په ورځ کښې ئې نه د روژې **نِيَّت** وکړو، نه دا چه ''روژه مې نه ده'' اګرچه ورته معلومه ده چه دا د رَمَضَانُ الْمُبَارَك مياشت ده نو روژه به ئې ونشي. (عالمگیری ج۱، ص۱۹۵)

﴿۱۰﴾ د لـمر پريوتو نه واخله د شپې په هر وخت کښې ئې چه **نِيَّت** وکړو، بيا ئې د هغې نه پس د شپې خوراك څښناك وکړو نو **نِيَّت** ئې مات نه شو، هُم هغه وړومبې [نِيَّت] کافي دې، بيا د **نِيَّت** کولو ضرورت نشته. (جَوْهَره ج۱ ص۱۷۵)



www.dawateislami.net

﴿۱۱﴾ تاسو که د شپې د روژې **نِيَّت** وکړو خو بيا د شپې شپې مو دا پخه اِراده وکړه چه ”روژه به نه نيسم“ نو اوس ستاسو هغه کړې **نِيَّت** ختم شو. که نوې **نِيَّت** مو ونکړو او ټوله ورځ مو د روژه دارو په شان په لوږه او تنده تيره کړه نو روژه ونشوه. (دُرِّمُختارج۳ص۳۹۸)

﴿۱۲﴾ که د لمانځه په دوران کښې مو د کلام (يعني خبرو اترو) **نِيَّت** وکړو خو خبره مو ونکړه نو لمونځ مات نه شو. هُم دغسې د روژې په دوران کښې صرف د ماتولو په **نِيَّت** کولو به روژه نه ماتيږي، تر څو چه ماتولو والا څه څيز ونکړي. (جَوْهَره ج۱ص۱۷۵)

﴿۱۳﴾ پيشمنې کول هُم **نِيَّت** دې که د **رَمَضان** د روژې د پاره وي او که د بلې روژې د پاره، خو که د پيشمنې کولو په وخت کښې ئې دا اِراده وي چه سحر به روژه نه نيسم نو دا پيشمنې کول **نِيَّت** نه دې. (ايضاًص۱۷۶)

﴿۱۴﴾ د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د هرې روژې د پاره نوې **نِيَّت** ضروري دې. که په يکم تاريخ يا په بل يو تاريخ ئې د پوره **رَمَضان** د روژو **نِيَّت** وکړو نو هُم دا **نِيَّت** صرف د هغه يوې ورځې په حق کښې دې، د باقي ورځو د پاره نه دې. (ايضاً)

﴿۱۵﴾ د ادائے **رَمَضان** او**نَذرِمُعَيَّن** او نفلي نه علاوه باقي د ټولو روژو مَثَلًا د قضائے **رَمَضان** او نَذرِ غيرِ مُعَيَّن او د نفلي د قضا او د نذرِ مُعَيَّن د قضا او د کَفّارې د روژې او د تَمَتُّع[1] د روژې، د دې

[1] د حج درې قِسمونه دي (۱) قِران (۲) تَمَتُّع (۳) اِفراد. قِران او تَمَتُّع والا باندې د حج نه پس د شُکرانې په طور د حج قرباني کول واجِب دي او د اِفراد والا د پاره مُسْتَحَب. که قِران او تَمَتُّع والا ډير زيات مِسکِين او محتاج وي خو د قِران او تَمَتُّع نِيَّت ئې کړې دې او اوس د هغوئې سره څه د قربانئ لائق څاروې نشته، نه رقم او نه ورسره داسې سامان وغيره شته چه هغه خرڅ کړې او د قُربانئ انتظام پرې وکړې نو بيا به د قُربانئ په بدله کښې په هغوئې باندې لس روژې واجِب وي. درې روژې به د حج په مياشتو کښې يعني د يکم شَوَّالُ الْمُکَرَّم نه واخله د نهم ذُوالْحِجَّةُالْحرام پورې د اِحرام تړلو نه پس نيسي، په دې دوران کښې چه کله غواړې نيولې ئې شي. ترتيب وار نيول ضروري نه دي، په مينځ کښې پکښې ناغه هُم کولې شي. بهتره دا ده چه په ۷، ۸، او ۹ ذُوالْحِجَّةُالْحرام ئې ونيسي او بيا د ديارلسم ذُوالْحِجَّةُالْحرام نه پس باقي روژې چه کله نيول غواړې نيولې ئې شي بهتره دا ده چه کور ته لاړ شي نو بيا ئې ونيسي.



www.dawateislami.net

تېرلو د پاره عين د سحر ځليدو (يعني رسا د صبا صادِق په) وخت يا د شپې **نِيَّت** کول ضروري دي او دا هُم ضرورري دي چه کومه روژه نيول وي خاص د هغه مخصوصې روژې **نِيَّت** وکړئ. که د دې روژو **نِيَّت** په ورځ کښې (يعني د صبا صادِق نه واخله د ضَحْوَهٔ کُبریٰ نه مخکښې مخکښ) وکړي نو نفل شوه خو بيا هُم د دې پوره کول ضروري دي، که ماته ئې کړي نو قضا به ئې واجِب وي، اګر که دا خبره ستاسو په عِلم کښې وي چه ما کومه روژه نيول غوښتل دا هغه روژه نه ده بلکه نفل ده. (دُرِّمُختارج۳ص۳۹۳)

**﴿۱۶﴾** تاسو په دې ګُمان روژه ونيوله چه زما په ذِمّه د روژې قضا ده، بيا د نيولو نه پس درمعلومه شوه چه ګُمان غلَط وو. که فوراً ئې ماته کړئ نو هيڅ باك نشته، البته بهتره دا ده چه پوره ئې کړئ. که د معلوميدو نه فوراً پس ئې ماته نه کړه نو بيا لازِمه شوه اوس دا نه شي ماتولې. که ماته ئې کړي نو قضا ئې واجب ده. (رَدُّالْمُحْتَارج۳ص۳۹۹)

**﴿۱۷﴾** د شپې ئې د قضا روژې **نِيَّت** وکړو، که بيا د سحر شروع کيدو نه پس دا نفل کول غواړي نو نه ئې شي کولې. (ايضاًص۳۹۸) خو د شپې شپې ئې **نِيَّت** بدلولې شو.

**﴿۱۸﴾** که د لـمانځه په دوران کښې ئې هُم د روژې **نِيَّت** وکړو نو دا **نِيَّت** صحيح دې. (دُرِّمُختارو رَدُّالْمُحْتَارج۳ص۳۹۸)

**﴿۱۹﴾** که ډيرې روژې قضا وي نو په **نِيَّت** کښې دا کيدل پکار دي چه د هغه **رَمَضان** د وړومبئ روژې قضا، د دوئمې قضا، او اګر که د دې کال قضا [هُم] وي او څه د تير کال پاتې وي نو **نِيَّت** کول پکار دي چه د دې **رَمَضان** قَضا او د هغه **رَمَضان** قضا، او که ورځ او کال ئې **مُعَيَّن** (Fix) نه کړل نو بيا به هُم وشي. (عالمګيری ج۱ص۱۹۶)

**﴿۲۰﴾** **مَعَاذَالله** عَزَّوَجَلَّ که تاسو د **رَمَضان** روژه د نيولو نه پس قَصداً ماته کړي وه نو په تاسو باندې د هغه روژې قضا هُم شته او (که د کفّارې شرائط موجود وو نو) شپيته روژې د کفّارې هُم. بيا تاسو ۶۱



www.dawateislami.net

روژې ونیولې او د قضا ورځ مو پېکښې **مُعَیَّن** نه کړه نو په دې کښې قضا او کَفّاره دواړه ادا شو. (ایضاً)

## کېرې والا ماشومه

د روژې او نورو اعمالو د نِیَّتونو زده کولو جذبه رابیدارولو د پاره د **تبلیغِ قُرآن و سُنَّت** د عالـمګیر غیر سیاسي تحریك **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو د تربِیَّت په مَدَني قَافِلو کښې د **عاشِقانِ رَسُول** سره د سُنَّتو ډك سفر وکړئ او د دواړو جهانو بَرَکتونه حاصل کړئ. ستاسو د ترغیب د پاره د مَدَني قَافِلې یو مزیدار او خوشبودار "مَدَنـي سپرلې" تاسو ته اوروم. چنانچه د رنچهوړ لائن (بَابُ الْمَدِینه کراچئ) د یو اسلامي ورور د بیان خُلاصه ده چه یو ځل راسره د **عاشِقانِ رَسُول** د درې ورځو په مَدَني قَافِله کښې یو تقریباً د ۲٦ کالو اسلامي ورور هُم په سفر وو، هغه به په دُعا کښې ډېر زیات ژړل. چه تپوس مو ترې وکړو نو هغه اُووئیل چه زما صرف یوه مَدَنـي ماشومه ده او د هغې په مخ باندې د کِیرې وینبته راختل شروع شوي دي! په دې وجه زه سخت پریشان یم، په ایکسرې او ټیسټونو وغیره کښې سبب معلوم نه شو او یو علاج هُم پرې اثر نه کوي. د هغوئي په درخواست کولو د مَدَني قَافِلې مسافرو د هغوئي د مَدَنـي ماشومې د پاره دُعا وکړه. سفر پوره کیدو نه پس مې چه کله په دویمه ورځ د هغه اسلامي ورور سره ملاقات وشو نو هغه د ډېرې خوشحالئ نه تاؤ شو او دا خوشخبرې ئې راته واوروله چه زما د ماشومې مور را ته اُووئیل: د حیرانتیا خبره ده چه ستاسو په مَدَني قَافِله کښې د روانیدو په دویمه ورځ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د مَدَنـي ماشومې د مخ نه وینبته داسې غائب شو لکه هُم چه پرې نه وو!

## پیشمني کول سُنَّت دي

د **اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت** جَلَّ جَلَالُهٗ په کروړونو کروړونو احسان دې چه هغه مونږ ته د روژې په شان عظیم الشّان نعمت راکړې دې او ورسره ورسره ئې د قُوَّت [حاصلولو] د پاره د **پیشمني** اجازت هُم راکړې دې او په دې کښې ئې زمونږ د پاره د آخرت ډېر ډېر ثواب هُم ایښودې دې.



www.dawateislami.net

بعضې خلق ليدلي شوي دي چه کله [په څه وجه] **پيشمني** ونکړي نو په فخر سره داسې وائي چه ''ما خو نن د **پيشمني** کولو نه بغير روژه نيولي ده.'' د مکّي مَدَني آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! دا بالکل د فخر کولو موقع نه ده، د پيشمني د سُنَّت پاتې کيدو په وجه خو افسوس کيدل پکار دي چه افسوس! د تاجدارِ رِسالت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو عظيم سُنَّت رانه پاتې شو.

## د زرو کالو د عِبادت نه بهتر

حضرتِ سَيِّدُنا شيخ شُرفُ الدِّين اَلمَعروف بابا بُلبُل شاه رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: ''**الله رَبُّ الْعِزَّت** عَزَّوَجَلَّ ما ته په خپل رَحمت دومره طاقت راکړې دي چه زه د خوراك څښاك او ساز و سامان نه بغير هُم خپل ژوند تيرولي شم. خو ولې چه دا اُمُور [يعني داسې کول] د حُضُورِ اَقدَس صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت نه دي، ځکه زه د دې نه ځان بچ ساتم. **زما په نزد د سُنَّتو تابعداري د زرو کالو د** (نفلي) **عبادت نه بهتره ده.**'' بهرحال د ټولو اعمالو ښائست او ښکلا د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو په تابعدارئ کښې پټ دي.

## د اوده کيدو نه پس د پيشمني اجات نه وو

په شروع شروع کښې روژه نيولو والا ته د لمر پريوتو نه پس صرف د هغه وخته پورې د خوراك څښاك اجازت وو تر څو پورې به چه اُوده شوې نه وو، که اُوده به شو او بيا به رابيدار شو نو خوراك څښاك به ممنوع وو. مګر **رَبِّ کريم** جَلَّ جَلَالُهٗ په خپلو ګرانو بندګانو دا عظيم احسان وکړو چه د پيشمني اجازت ئې اُوفرمائيلو، د دې سبب صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سيِّد محمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه [داسې] نقل کوي:

## د پيشمني د اجازت حِکايت

حضرتِ سَيِّدُنا صَرمَه بِن قَيس رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يو **محنتي** سړې وو. يوه ورځ ئې د روژې په حالت کښې په خپله زمکه کښې ټوله ورځ کار وکړو او ماښام کور ته راغلو. د خپلې زوجه **محترمې** رَضِيَ الله



www.dawateislami.net

تَعَالٰی عَنْهَا نه ئي طعام اوغوښتو، هغه په ټخلي کښې مصروفه شوه. هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ ستړي وو، سترګې ئي ولګیدې. چه طعام تیار شو او هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ ئي راویښ کړلو نو د خوراك نه ئي اِنکار وکړلو. ځکه چه په هغه ورځو کښې به (د لـمر پریوتو نه پس) اوده کیدونکي د پاره خوراك څښناك مـمنوع کیدلو. چنانچه هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ د خوراك څښناك نه بغیر د صبا ورځې روژه هُم ونیوله. هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ د کمزورئ په وجه بیهوشه شولو. (تفسیرِخازن ج۱ص۱۲٦) نو د هغوئي په حق کښې دا آیت نازل شو:

وَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ

مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ۪ ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّيَامَ اِلَى الَّيْلِ ۚ

مَفهُوم ترجمهٔ کَنْزُالْاِیمان: او خورئ او څښئ تر دې پورې چه تاسو ته ښکاره شي سپین مزې له تور مزي څخه (د صبا صادِق څخه). بیا د شپې راتلو پورې روژه پوره کړئ. (پ۲ البقرة:۱۸۷)

په دې آیتِ مُقَدَّسه کښې شپې ته د تور مزی سره او ورځې ته د سپین مزي سره تَشبِیه ورکړې شوې ده. معنیٰ دا ده چه ستاسو د پاره د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په شپو کښې خوراك څښناك مُباح (یعني جائز) قرار کړې شوې دې. (خَزائِنُ الْعِرفان ص٦٢ بتصرف)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې نه دا هُم معلومه شوه چه د روژې د سحر د اذان سره هیڅ تَعَلُّق نشته یعني د سحر د اذان په وخت کښې د خوراك څښناك هیڅ جواز نشته. که اذان شوې وي او که نه، که تاسو ته آواز در رسي او که نه، د صبا صادِق نه مخکښې مخکښې تاسو ته خوراك څښناك بندول پکار دي.



www.dawateislami.net

# د ”سُنّت“ د درې حُروفو په نِسبَت د پیشمنې

# مُتَعَلِّق درې فَرامِینِ مُصطَفیٰ ﷺ

﴿۱﴾ روژه نیولو د پاره د پیشمنې د خوراك کولو په ذریعه قُوَّت حاصل کړئ او د ورځې یعنې د غرمې په وخت کښې آرام (یعنې قَیلُوله) وکړئ او د شپې د عِبادت د پاره طاقت حاصل کړئ.
(اِبنِ مَاجه ج۲ ص۳۲۱ حدیث۱۶۹۳)

﴿۲﴾ درې سړې چه څومره هُم اوخوري د هغوئي سره به حساب نه کیږي په شرط د دې چه طعام حلال وي (۱) روژه دار د روژه ماتې په وخت کښې (۲) پیشمنې کولو والا (۳) مُجاهِد کوم چه د الله تعالیٰ په لار کښې د سرحَدِ اسلام حفاظت وکړي. (مُعجَم کَبیر ج۱۱ ص۲۸۵ حدیث۱۲۰۱۲)

﴿۳﴾ پیشمنې ټول بَرَکت دې پس تاسو ئې مه پرېږدئ اګر که هُم دا وي چه تاسو د اوبو یو ګُوټ وڅښې. بیشکه الله تعالیٰ او د هغه فرښتې رَحمت لیږي په پیشمنې خوړلو والَو باندې.
(مُسنَد اِمام اَحمَد ج٤ ص٨٨ حدیث١١٣٩٦)

## آیا د روژې د پاره پیشمنې شرط دې

پیشمنې د روژې د پاره شرط نه دې، د پیشمنې نه بغیر هُم روژه کیدې شي خو قصداً پیشمنې نه کول مُناسِب نه دي ځکه چه د یو عظیم سُنَّت نه محرومیدل دي او په پیشمنې کښې ډیر خوراك کول هُم ضروري نه دي، یو څو کجورې او اوبه که د پیشمنې په نِیَّت استعمال کړئ نو هُم کافي دي.

## په کجوره او اوبو پیشمنې

حضرتِ سَیِّدُنا اَنَـس بن مالِك رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پیشمنې په وخت کښې ما ته اُوفرمائیل: ”زما د روژه نیولو اِراده ده په ما څه اوخوره.“ نو ما ورته څه کجورې او په یو لوښي کښې اوبه وړاندې کړې. (اَلسُنَنُ الکبریٰ للنّسائی ج۲ ص۸۰ حدیث۲٤٧٧)



www.dawateislami.net

## په کجوره پیشمنې کول سُنَّت دي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د روژه دار د پاره يو خو پيشمني كول ښځپله سُنَّت دي او په كجوره پيشمني كول دويم سُنَّت، ځكه چه د الله تعالیٰ خوږ حبيب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په كجوره د پيشمني كولو ترغيب وركړي دې. چنانچه د سَيِّدُنا سائِب بِن يَزِيد رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې چه د الله تعالیٰ خوږ حبيب، حبيبِ لَبِيب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: " نِعْمَ السَّحُوْرُ التَّمْرُ. يعني كجوره بهترين پيشمني دې (مُعجَم کبیر ج۷، ص۱۵۹ حدیث۶۶۸۹) په يو بل مُقام كښې ارشاد فرمائي:" نِعْمَ سُحُوْرُ الْمُؤْمِنِ التَّمْرُ يعني كجوره د مُؤمِن ښه پيشمني دې." (اَبو داؤد ج۲، ص۴۴۳ حدیث۲۳۴۵)

## د پيشمني وخت كله وي؟

د حَنَفيانو ډير غټ عالِم حضرتِ عَلَّامه مولانا علي قاري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: "د بعضو په نزد د پيشمني وخت د نيمي شپې نه شروع كيږي." (مِرقاةُ الْمَفاتِيح ج۴ ص۴۷۷)

پيشمني ناوخته كول غوره دي څنګه چه د حضرتِ سَيِّدُنا يَعلٰی بِن مُرَّه رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې چه د مديني تاجدار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: "درې څيزونه الله تعالیٰ ته مَحبُوب [يعني خوښ] دي (۱)روژه ماتي زر [شروع] كول او (۲) پيشمني ناوخته كول او (۳) لـمانځه كښې (په قِيام كښ) په لاس د پاسه لاس ايښودل." (مُعجَم اوسط ج۵ ص۳۲۰ حدیث۷۴۷۰)

## پيشمني كښې ناوخته كولو نه كوم وخت مُراد دې؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! پيشمني كښې ناوخته كول مُستَحَب دي خو دومره ناوخته كول هُم نه دي پكار چه د صبا صادِق شُبه [يعني شك] كيدل شروع شي! دلته په ذِهن كښې دا خيال پيدا كيږي چه "ناوخته كولو" نه مُراد كوم وخت دې؟ مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په "تَفسِيرِ نَعِيمي" كښې فرمائي: "د دې نه مُراد د شپې شپږمه حَصّه ده." بيا په



www.dawateislami.net

ذِهن کښې خيال پيدا شي چه د شپې شپږمه حِصّه څنګه معلومه کړې شي؟ د دې جواب دا دې چه د لـمر پريوتو نه واخله د صبا صادِقه پورې شپه وي. مَثَلًا که د ماښام ۷ بجې لـمر پريوتو او بيا څلور بجې صبا صادِق دې. د غسې د لـمر پريوتو نه واخله د صبا صادِقه پورې چه کومه د نهه ګينټو وقفه تيره شوه هغه شپه ده. اوس د شپې د دې نهو ګينټو برابرې برابرې شپږ حِصّې کړئ. هره حِصّه د يوې نيمې ګينټې شوه، اوس د شپې د آخرئ يوې نيمې ګينټې (يعني دوه نيمو بجو نه واخله څلورو بجو) په دوران کښې د صبا صادِق نه مخکښې مخکښې **پيشمني** کول ناوخته کول شو. د **پيشمني** او روژه ماتي وخت هره ورځ بدليږي. د دې بيان کړې شوې طريقې مطابق چه کله غواړئ د شپې شپږمه حِصّه معلومولې شئ. که د شپې مو **پيشمني** وکړو او د روژې نِيَّت مو هُم وکړو نو بيا هُم د باقي شپې په دوران کښې خوراك څښاك کولې شئ، د نوي نِيَّت حاجت نشته.

## اذان د سحر د لـمانځه د پاره دې، د روژې بندولو د پاره نه دې

بعضې خلق د صبا صادِق نه پس د سحر د اذان په دوران کښې هُم خوراك څښاك کوي، او بعضې خلق غوږ کيږدي او وائي چه د فلانکي جُمات اذان لا نه دې ختم شوې يا وائي غوږ کيږدئ! د لرې نه د اذان آواز راځي! او دغسې څه نه څه اوخوري، او که څه نه خوري نو اوبه څښې او په خپل خيال کښې "روژه بندوي". افسوس! دغسې "روژه بنده" څه شي بلکه بالکل "آزاده" شي او دغسې د صبا صادِق نه پس د خوراك څښاك کولو په وجه ئې هډو روژه ونشي، او ټوله ورځ د لوږې او تندې نه سِوا هيڅ په لاس ورنشي. د "روژې بندولو" تَعَلُّق د سحر د اذان سره نه دې، د صبا صادِق نه مخکښې خوراك څښاك بندول ضروري دي، څنګه چه د آيَتِ مُقَدَّسه نه لاندې بيان کړې شوې تير شو. **الله** تعالیٰ دِ هر مسلمان ته عَقلِ سليم ورکړي او د صحيح وختونو معلومولو سره دِ د روژو نيولو او لـمانځه وغيره عِباداتو ادا کولو توفيق ورکړي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم



www.dawateislami.net

## خوراك څښاك بند كړئ

د عِلمِ دِين نه د لرې والي په وجه نن صبا ډېر خلق په اذان يا سائرن [بونګه] باندې د پيشمنې او روژه ماتې دار و مدار ساتي بلكه بعضې خو د سحر د اذان په دوران كښې "روژه بندوي". څومره ښه به وي چه د دې عامې غَلَطئ لرې كولو د پاره په رَمَضَانُ الْمُبَارَك كښې هره شپه د صبا صادِق نه درې مِنَټه مخكښې په هر جُمات كښې په اوچت آواز د صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد وئيلو نه پس درې ځله داسې اعلان وكړې شي: **"عاشِقانِ رَسُول مُتَوَجِّه شئ، نن د پيشمنې آخرې وخت (مَثَلًا) څلور بجې او دولس مِنَټه دې، وخت په ختميدو دې، خوراك څښاك فوراً بند كړئ، د اذان بالكل انتظار مه كوئ، اذان د پيشمنې د وخت ختميدو نه پس د سحر د لـمانځه د پاره كيږي."**

هر يو ته دا خبره ياده ساتل ضروري دي چه د سحر اذان د صبا صادِق نه پس كيږي او هغه د "روژه بندولو" د پاره نه، بلكه صِرف د سحر د لـمانځه د پاره كيږي."

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مَدَني قَافِلې د نِيَّت كولو سره سمدستي ئې مشكل آسان شو!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د تبليغِ قُرآن و سُنَّت د عالـمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو د تربِيَّت په **مَدَني قَافِلو** كښې د **عاشِقانِ رَسُول** سره د سُنَّتو ډك سفر جاري ساتئ اِنْ شَآءَالله تعالیٰ د دُنيا او آخرت بيشميره نيكئ به په لاس درشي. ستاسو د شوق زياتولو د پاره تاسو ته د **"مَدَني قَافِلې"** يو **"مَدَنـي سپرلې"** اورووم، چنانچه د لانډهي (بابُ الْمَدِينه كراچئ) د يو اسلامي ورور د مشر ورور د واده ورځې نزدې رارواني وې، د خرچې اِنتِظام ورسره نه وو، هغه سخت خفه وو، د قرض راخستو نِيَّت ئې هُم نه وو



www.dawateislami.net

ځکه چه که په ادا کولو کښې تاخِير وشي [يعني ليټ شي] نو د خپل ځان نه هُم خوږ تَحرِيك **دعوتِ اسلامي** نوم بدناميدې شي. يوه ورځ هغه د ډيرې پريشانئ په حالت کښې د ماسپښين لـمونځ ادا کړو او په زړه کښې ئې نِيَّت وکړو چه که د رقم اِنتِظام وشو نو په **مَدَني قَافِله** کښې به د سفر سعادت حاصلووم. د لـمانځه څخه فارغيدو نه پس لا د لـمونځ گُزارو سره په مُلاقات او **اِنفرادي کوشش** کښې مصروف وو چه اِمام صاحِب چه هغه د ده مشر تره وو او د ده د پريشانئ نه خبر هُم وو. هغوئې خپلې خوا ته اوغوښتو او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د سوال کولو نه بغير ئې ورته د رقم ورکولو وعده وکړه. هغه اسلامي ورور په دويمه ورځ د مَدَني قَافِلې مُسافِر جوړ شو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ په مَدَني قَافِله کښې د سفر د نِيَّت په بَرَکت د هغه پريشاني لرې شوه. د تاريخ اينبودلو نه مخکښې پرې د قرض بوج پروت وو، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د مشر ورور ئې واده هُم وشو او د قرض نه هُم خلاص شو. ؎

قلب بھی شاد ہو، گھر بھی آباد ہو — شادیاں بھی رچیں قافلے میں چلو
قرض اتر جائے گا، خوب رزق آئے گا — سب بلائیں ٹلیں قافلے میں چلو

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٧٥)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو وليده چه د کشر ورور په مَدَني قَافِله کښې د سفر د نِيَّت په بَرَکت د قرض د ادا کيدو اِنتِظام هُم وشو، د رقم اِهتِمام، او د مشر ورور د واده کار هُم وشو.

## د قرضي نه د خلاصي عمل

د هر لـمانځه نه پس ووه ځله **سُوْرَهٔ قُرَيش** ( اول آخِر يو يو ځل درود شريف) لوَلئ او دُعا کوئ. که د غرهُمره قرض وو نو هُم اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰى ادا به شي. عمل د مُراد د حاصليدو پورې جاري ساتئ.



www.dawateislami.net

# د قرضې نه د خلاصي وظيفه

اَللّٰهُمَّ اكْفِنِيْ بِحَلَالِكَ عَنْ حَرَامِكَ وَ اَغْنِنِيْ بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ (ترجمه: يا الله عَزَّوَجَلَّ ما ته حلال رِزق راکړې او د حرام نه مې وساتې او په خپل فضل او کرم مې ستا نه سِوا د غيرو نه بې نيازه کړې) د مُراد حاصليدو پورې د هر لـمانځه نه پس ۱۱، ۱۱ ځله او سحر ماښام ئې ۱۰۰، ۱۰۰ ځله لوَلئ (مخکښې وروستو يو يو ځل دُرُود شريف لولئ). رِوايت دې چه يو مُکاتَب[1] د حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم په دربار کښې عرض وکړو: ''زه د خپل کِتابت (يعني د آزادئ د قِيمت) ادا کولو نه عاجِز يم زما مدد وکړئ.'' هغوئي كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم اُوفرمائيل: آيا زه تا ته يو څو کَلِمات ونه ښايم کوم چه رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته ښودلي دي، که په تا باندې د جَبَلِ صِـير[2] همره قرض وي نو الله تعالٰی به ئې ستا له طرفه ادا کړي، ته داسې وايه: اَللّٰهُمَّ اكْفِنِيْ بِحَلَالِكَ عَنْ حَرَامِكَ وَ اَغْنِنِيْ بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ (ترجمه: يا الله عَزَّوَجَلَّ ما ته حلال رِزق راکړې او د حرام نه مې وساتې او په خپل فضل او کرم مې ستا نه سِوا د غيرو نه بې نيازه کړې) (تِرمِذِی،ج۵ص۳۲۹ حديث۳۵۷٤)

**د سحر او ماښام تعريف**: د نيمې شپې له پس نه واخله د لـمر د وړومبئ ځريکې پورې **سحر** او د ماسپښين د وخت شروع کيدو نه واخله د لـمر پريوتو [نه مخکښ] پورې **ماښام** وي.

**مَدَني مشوره**: پريشان حاله اسلامي ورور ته پکار دي چه د **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو د تربِيَّت په مَدَني قَافِله کښې د **عاشِقانِ رَسُول** سره د سُنَّتو ډک سفر وکړي او هلته دُعا وکړي، که پخپله مجبوره وي مَثَلًا اسلامي خور وي نو د خپل کور نه دِ بل څوک په سفر وليږي.

# د روژه ماتي بيان

چه کله د لـمر د پريوتو يقين وشي نو بيا په روژه ماتولو کښې ناوخته کول نه دي پکار، مه د

---

[1] مُکاتَب: هغه غُلام ته وائي چا چه د خپل مالِك سره د مال ادا کولو په بدله کښې د آزادئ مُعاهده کړې وي. (جَوْهَره،ج۲،ص۱٤۲ مُلَخَّصاً)

[2] صِير د يو غر نوم دې. (النهاية،ج۳،ص٦١)



www.dawateislami.net

سائرن [بونګې] اِنتِظار کوئ او نه د اذان، فوراً څه څيز اوخورئ يا وڅښئ خو په کجوره يا چواره يا اوبو روژه ماتول سُنَّت دي. په ”فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه“ کښې دي، **سُوال:** روژه ماتول په څه څيز مسنُون (سُنَّت) دي. **جواب:** په لـمده کجوره او که نه وي نو په وچه (يعني چواره باندې) او که نه وي نو په اوبو. (فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه مُخرَّجة، ج۱۰، ص۶۲۸، ۶۲۹)

## د روژه ماتي دُعا

د روژه ماتولو نه پس مَثَلًا کجوره خوړلو يا لږې شان اوبه څښلو نه پس په سُنَّتو د عمل کولو په نِيَّت لاندې ورکړې شوې دُعا لوَلئ، ځکه چه د مدينې تاجدار، شَهَنشاهِ اَبرار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د روژه ماتي په وخت کښې دا دُعا لوستله: اَللّٰهُمَّ لَكَ صُمْتُ وَعَلٰى رِزْقِكَ اَفْطَرْتُ. (تَرجَمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ! ما ستا د پاره روژه ونيوله او هُم ستا په راکړې رِزق مې ماته کړه.) (اَبو داؤد ج۲ ص۴۴۷ حديث۲۳۵۸) بل حديثِ پاك کښې **فرمانِ مُصطَفیٰ** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې: ”اے علي! چه کله ته د **رَمَضان** په مياشت کښې روژه ونيسې نو د روژه ماتي نه پس دا دُعا لوَله: اَللّٰهُمَّ لَكَ صُمْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ وَعَلٰى رِزْقِكَ اَفْطَرْتُ. (تَرجَمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ! ما ستا د پاره روژه ونيوله او هُم په تا مې تَوَکّل وکړو او هُم ستا په راکړې رِزق مې ماته کړه.) نو ستا د پاره به د ټولو روژه دارو په مِثل اجر وليکلې شي او د هغوئي په ثواب کښې به هُم کمې نه کيږي.“ (بُغيَةُ الباحِث عَن زَوائِدِ مُسندِ الحارِث ج۱ ص۵۲۷ حديث۴۶۹) د دې نه پس که کيدې شي نو نورې دُعاګانې هُم وکړئ ځکه چه د قبولِيَّت وخت دې.

## روژې ماتولو د پاره اذان شرط نه دې

د روژه ماتي دُعا عام طور د روژه ماتولو نه مخکښې د وئيلو رواج دې خو اِمامِ اهلِسُنّت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه (مُخرَّجة) جِلد ۱۰ صفحه ۶۳۱ کښې خپل تَحقِيق هُم دا پيش کړې دې چه دُعا د روژه ماتولو نه پس وئيل پکار دي. د روژه ماتي د پاره اذان شرط نه دې ګني په هغه علاقو او ښارونو کښې به خلق څنګه روژه ماتوي چرته چه هډو جُماتونه نشته يا د اذان آواز نه ورسي. بهر حال اذان د ماښام د لـمانځه د پاره وي. کوم ځائ کښې چه جُماتونه



www.dawateislami.net

دي! کاش چه! هلته دا طريقه اختيار کړي شي چه ښنګه د لمر پريوتو يقين وشي نو په اوچت آواز د "صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد" وئيلو نه پس درې ځله داسې اعلان وکړې شي: "عاشِقانِ رَسُول! روژه ماته کړئ."

## د "مدينه" د پينځه حُروفو په نِسبَت د روژه ماتي

## د فضائيلو مُتَعَلِّق ۵ فَرامِينِ مُصطَفىٰ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

﴿۱﴾ "هميشه به خلق خير سره اوسيږي تر څو چه په روژه ماتولو کښې تادي کوي." (بُخاری ج۱ ص۶۴۵ حديث ۱۹۵۷)

## په بل کس د روژه ماتي کولو عظيم الشّان فضيلت

﴿۲﴾ چا چه په حلال طعام يا په اوبو (په يو مسلمان) روژه ماته کړه، فرښتي د رَمَضان د مياشتې په وختونو کښې د هغه د پاره اِستِغفار کوي او جِبرِيل (عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام) په لَيلَةُ الْقَدْر [يعني د قدر په شپه] د هغه د پاره اِستَغفار کوي [يعني بخښنه غواړي]." (مُعجَم کَبير ج۶ ص۲۶۲ حديث ۶۱۶۲)

## د جَبرِيل امين د مُصافَحه کولو نښه

﴿۳﴾ خوك چه په حلاله ګټه په رَمَضان کښې په چا روژه ماته کړي، د رَمَضان په ټولو شپو کښې فرښتې په هغه دُرُود ليږي او په لَيلَةُ الْقَدْر [يعني د قدر په شپه] جِبرِيلِ اَمِين (عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام) د هغه سره مُصافَحَه کوي [يعني لاس ورکوي] او چا سره چه جِبرِيلِ اَمِين (عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام) مُصافَحَه وکړي د هغه په سترګو کښې اوښکې راشي او زړه ئې نرم شي." (جَمْعُ الْجَوامِع ج۷ ص۲۱۷ حديث ۲۲۵۳۴)

﴿۴﴾ "خوك چه په روژه دار باندې اوبه وڅښي الله تعالیٰ به په هغه باندې زما د حوض نه وڅښي چه جَنَّت ته داخليدو پورې به نه تږې کيږي." (اِبنِ خُزَيمه ج۳ ص۱۹۲ حديث ۱۸۸۷)



www.dawateislami.net

﴿۵﴾ چه کله په تاسو کښې څوك روژه ماتوي نو په کجوره يا چواره دِ ئې ماتوي چه هغه بَرَکت دې او که پيدا نه شي نو په اوبو چه هغه پاك کوونکي دي." (ترمِذِی.ج۳ص۱۶۲حدیث۶۹۵)

## د حُضُور ﷺ روژه ماتې

د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه رِوايت دې: "د الله تعالیٰ حبيب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د لمانځه نه مخکښې په لمدو کجورو روژه ماتوله، که لمدې کجُورې به نه وې نو په يو څو وچو کجورو يعنې چوارو باندې او که دا به هُم نه وې نو يو څو چونګه اوبه به ئې څښلې."
(اَبو داؤد ج۲ص۴۴۷حدیث۲۳۵۶)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په اَحادِيثِ مُبارکه کښې په پيشمنې او روژه ماتې کښې د کجورو د استعمالولو ترغيب موجود دې، بيشکه په کجورو کښې بيشميره بَرَکتونه دي او د ډيرو بيمارو عِلاج پکښې موجود دې.

## د کجورو پينځه ويشت مَدَنـي ګلونه

﴿۱﴾ د الله تعالیٰ خوږ حَبِيب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: د "**عالِيه**" (يعني په مدينۀ مُنَوَّره کښې مسجدِ قُبا شريف طرف ته د يو ځائ نوم دې د هغه ځائ) عَجوه (چه د مدينې مُنَوَّرې د ټولو نه د عظيمې کجورې نوم دې په هغې) کښې د هرې بيمارئ نه شِفا ده. د يو رِوايت مطابق "ووه ورځو پورې هره ورځ ووه **عَجوه کجورې** خوړل په جُذام کښې فائده ورکوي." (الکامِل لابنِ عدی ج۷ص۴۰۷)

﴿۲﴾ خوږ خوږ آقا مکّـي مَدَنـي مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلي دي: **عَجوه** کَجُوره دجنت نه ده، په دې کښې د **زَهرو** نه شِفا ده. (ترمِذِی.ج۴ص۱۷حدیث۲۰۷۳) د **بُخاري شريف** د رِوايت مُطابِق چا چه په نَهره د **عَجوَه کجُورې** ووه دانې اُوخوړلې په هغه ورځ به هغه ته **جادُو** او **زَهر** هُم نقصان ورنکړې شي. (بُخاری ج۲ص۵۴۰حدیث ۵۴۴۵)



www.dawateislami.net

﴿۳﴾ د حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو هُرَیره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه رِوایت دې: کجورو خوړلو سره قُولَنج (یعني د غټې کُولـمې درد) نه راځي. (کَنْزُ الْعُمّال ج۱۰ص۱۲ حدیث۲۸۱۹۱)

﴿٤﴾ د طبیبانو طبیب، د اللّٰه تعالیٰ حبیب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: ”په نَهَره کجورې خوړئ په دې د خیټې چینډ مره کیږي.“ (اَلجامِعُ الصَّغِیر ص۳۹۸ حدیث ٦۳۹)

﴿۵﴾ حضرتِ سَیِّدُنا رَبِیع بِن خُثَیم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ فرمائي: ”زما په نزد د حامِله د پاره د کجورو نه او د مریض د پاره د شَهدو [یعني گبین] نه بهتر په بل څیز کښې شِفا نشته.“ (تَفسِیرِ دُرِّ مَنثُور ج۵ص۵۰۵)

﴿٦﴾ سیِّدِی محمد اَحمد ذَهبي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي: په حامِله باندې کجُورو خوړولو سره به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ هلك پیدا کیږي چه هغه به ښائسته او بُردبار او نرم مِزاجه وي.“

﴿۷﴾ څوك چه د لوَږې په وجه کمزورې شوې وي د هغه د پاره کجورې ډیرې فائده مندې دي ځکه چه دا د غِذائیت نه ډکې وي، د دې د خوړلو سره طاقت زر پیدا کیږي، لِهٰذا په کجُوره روژه ماتولو کښې دا حِکمت هُم دې.

﴿۸﴾ په روژه [ماتولو] کښې فوراً د واورې یخې اوبه څښلو سره د گیس، تبخِیر [یعني گرمائش] او د مِعدې او ځیګر د پړسوب سخته خطره ده، کجورې خوړلو نه پس د یخو اوبو څښلو د نقصان خطره لږې شي، خو سختې یخې اوبه هیڅ کله هُم څښل نه دي پکار.

﴿۹﴾ کجورې او تَره[1]، او کجورې او هِندوانه یو ځائ خوړل د نَبِیِّ کریم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه ثابت دي.[2] په دې کښې هُم د حِکمتونو مَدَنـي گُلونه دي. د طبیبانو وینا ده چه دې سره جِنسي

[1] (صحیح مُسلِم ص۱۱۳۰ حدیث۲۰٤۳)

[2] (شمائِلِ ترمِذِی، ص۱۲۱ حدیث۱۹۰)



www.dawateislami.net

او جِسماني کمزوري لرې کيږي او **نرې بدن** ورسره پيړيږي. د کوَچو سره کجوره خوړل هُم د نَبِـيِّ کريم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه ثابِت دي. (ابنِ مَاجَه ج٤ ص٤١ حديث٣٣٣٤)

﴿۱۰﴾ **کجُورو** خوړلو سره زوړ قبض ښه کيږي.

﴿۱۱﴾ د **دَمې**، **زړه**، **پښتوَرګو** [يعني ګُردو]، **مثانې**، **تريخي**، او **کولـمو** په مرضونو کښې **کجورې** فائده مندې دي. دا بلغم خارجوي، د خُلې خُشکي لرې کوي او مِتيازې وَروَستل کوي.

﴿۱۲﴾ د **کجورې** هډوکي چه ميده کړې نو د دې خوړل د زړه د بيمارئ او د سترګې د تور ګُل د پاره فائده مند دي.

﴿۱۳﴾ په اوبو کښې چه **کجورې** پستې کړې شي نو هغه اوبه څښلو سره د ځيګر بيمارئ لرې کيږي. د دستونو په بيمارئ کښې هُم دا اوبه فائده مندې دي. (د شپې ئې په ابو کښې پستولو د پاره واچوئ او سحر په نَهَره هغه اوبه وڅښئ، خو په فريزر کښې ئې مه پستوئ)

﴿۱۴﴾ په شودو کښې خوټکيدلې **کجورې** خوړل بهترين مُقَوِّي (يعني طاقت پيدا کوونکې) خوراك دې، دا غِذا د بيمارئ نه پس کمزورئ د پاره بې‌حده فائده منده ده.

﴿۱۵﴾ **کجورې** خوړلو سره زخم زر ښه کيږي.

﴿۱٦﴾ د **يَرقان** (يعني زِيَړي) د پاره کجورې بهترين دارو دي.

﴿۱۷﴾ تازه پخې کجورې صَفرا (يوه بيماري چه په هغې کښې په اُلتو [يعني ګُرځُون] کښې ترخې اوبه راځې هغه) او تيزابِيَت ختموي.

﴿۱۸﴾ د **کجورې** هډوکي په اور کښې وسوزوئ او پوډر ترې جوړ کړئ دا غاښونه ځلوي او د خُلې بدبوئي لرې کوي.



www.dawateislami.net

﴿۱۹﴾ د **کجورې** د سوزيدلو هډوکو اِيره لګولو سره د زخم وينه ودرېږي او زخم ورسره ښه کيږي.

﴿۲۰﴾ د **کجورو** هډوکي چه په اور کښې واچوي او د هغې لوګې واخلي نو د بواسيرو زخې ورسره وچيږي.

﴿۲۱﴾ د **کجورې** د ونې د جرړو يا پاڼرو اِيره مرل د **غاښونو** د درد د پاره فائده مند دي، جرړې يا پاڼرې چه په اوبو کښې اُوخوټکوې نو هغه په خُله کښې [يو څو ځله] اچولو او توکلو سره هُم د **غاښونو** په درد کښې فائده کيږي.

﴿۲۲﴾ چا ته چه د کجورو خوړلو سره د څه قِسم نقصان کيږي نو هغه دِ [کجورې] د انار د رَس يا قاشقاشو سره يا تورو مرَچو سره استعمال کړي اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ فائده به کيږي.

﴿۲۳﴾ نيمې پخې او زړې کجورې يو ځائ (يعني په يو وخت) خوړل نقصاني دي. هُم دغسې د کجورو سره کوَر يا وڅکـي يا مُنقَّه يو ځائ خوړل، کجورې او اِينځران په يو وخت خوړل، د بيمارئ نه راپاڅيدو سره فوراً په کمزورئ کښې زياتې کجورې خوړل او د سترګو په بيمارئ کښې کجورې خوړل مُضِر يعني نقصاني دي.

﴿۲٤﴾ په يو وخت کښې د پينځؤ تولو نه زياتې کجورې مه خورئ. زړې کجورې چه خورئ نو هغه څِيرئ او دننه ئې ګورئ ځکه چه په هغې کښې بعضې وخت سپږئ شوي وي، لِهٰذا صفا کوئ ئې او بيا ئې خورئ. په کومه کجوره کښې چه د چينجي [يا سپږئ وغيره] کيدو ګُمان وي هغه د صفا کولو نه بغير خوړل مکروه دي. خرخولو والا د کجورو ځلولو د پاره په هغې اکثر د شړشمو تيل لګوي، لِـهذا بهتره دا ده چه کجورې يو څو مِنَټه د پاره په اوبو کښې واچوئ چه د مچانو ګند او خيرې وغيره ترې لرې شي بيا ئې وِينځئ او استعمال ئې کړئ. په ونه کښې پخې شوي کجورې **زياتې فائده مندې** وي. (خو د وينځلو نه بغير کجورې بلکه هره ميوه او سبزي وغيره مه استعمالوئ ګنې دوړې،



www.dawateislami.net

د مچانو او نورو خزندګانو ګند او د جراثِيم کُشو دوايانو اثرات كه خيتې ته لاړ شي نو د بيمارئ باعث جوړيدې شي)

﴿۲۵﴾ د مدينې مُنَوَّرې د كجورو هډوكي مه غورزوئ، څه د ادب په ځائ كښې ئې اچوئ يا ئې درياب ته حواله كوئ، بلكه كه كيدې شي نو په سَرَوته [يعني د چاليه پريك كولو په مشين] ئې نرئ نرئ ټُكړې كړئ او په ډبي كښې ئې واچوئ او جيب كښې ئې ګرځوئ او د چاليه په ځائ ئې استعالوئ او بَرَكتونه ئې حاصلوئ. هر يو څيز كه د دُنيا د هر ګوټ وي چه كله مدينې مُنَوَّرې ته راداخل شو نو د مدينې شو لِـهذا **عاشِقانِ رَسُول** د هغې ادب كوي.

## آيا په حديثِ پاك كښې ښودلې علاج هر يو كولې شي؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په بيان كړې شوو "د كجورو پينځه وِيشت مَدَنـي ګُلونه" كښې د "كجورو" په ذريعه د مختلفو بيمارو علاج ښودلې شوې دې، په دې سلسله كښې به د راروانو كرښو لوستل فائده دركړي. چنانچه: (د دې حديثِ پاك "فِي الْحَبَّةِ السَّوْدَاءِ شِفَاءٌ مِّنْ كُلِّ داءٍ اِلَّا السَّامَ" يعني توره دانه (يعني كلونجي) كښې د مرګ نه سِوا د هرې بيمارئ نه شِفا ده" نه لاندې) **مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الْاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: هر مرض (كښې شِفا) نه مُراد هر بَلغَمي او رُطوبَت والا مرضونو كښې (شِفا ده)، ولې چه كلونجي ګرمه او خُشكه وي لِـهذا مرطُوب (يعني د لـمدوالي) او د يخنئ په بيمارو كښې به فائده منده وي. لږ مخكښې نور فرمائي: دلته مُراد د عربو عامې بيمارئ دي (مِرقات) يعني كلونجي د عربو په عامو بيمارو كښې فائده منده ده. ياد ساتئ چه د احاديثِ مُباركه دوائيانې د يو حازِق (يعني ماهِر طبيب) په مشوره استعمالول پكار دي (د اَهلِ عرب دوائيانې) صرف (خپله) رائے باندې مه استعمالوئ ځكه چه زمونږه (طَبعي) مِزاجونه د اَهلِ عَرَب د (طَبعي) مزاجونو نه بدل دي. (مِراٰةُالمناجيح ج۶ ص۲۱۶،۲۱۷) ورسره ورسره دا هُم خاص تاكِيد دې چه **په دې كِتاب كښې وركړې شوې يوه نُسخه هُم د خپل طبيب د مشورې نه بغير مه استعمالوئ، اګر كه دا نُسخه د هُم هغه بيمارئ د پاره وي كومه چه تاسو ته پيښه ده.** ياد ساتئ! د خلقو طَبعي حالتونه جُدا جُدا



www.dawateislami.net

وي، بعضې وخت يوه دوائي د چا د پاره د شِفاء باعِث جوړيږي او د چا د پاره د مرګ پيغام راوړي. لِـهذا ستاسو د بدن د حالت نه واقِف ستاسو مخصوص طبيب دا مشوره درکولې شي چه ستاسو د پاره کومه نُسخه مُوافِق کيدې شي او کومه نه.

## د پيشمني د وخت دُعا قبليږي

دوه فرامينِ مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ﴿۱﴾ ”بېشکه د روژه دار د پاره د روژه ماتي په وخت کښې يوه داسې دُعا وي چه هغه نه رد کيږي.“ (ابنِ مَاجَه ج۲ ص۳۵۰ حديث۱۷۵۳)

﴿۲﴾ د درې کسانو دُعا نه رد کيږي (۱) د عادِل بادشاه او (۲) د روژه دار په وخت د روژه ماتي کښې [او] (۳) د مظلوم. د دې درې واړو دُعا **اللّٰه** تعالیٰ د وريَځو نه هُم پاس اوچتوي او د آسمان دروازې د هغه د پاره برسيره شي او **اللّٰه** (تعالیٰ) فرمائي: ”ما ته زما د عِزَّت قَسم دې! زه به ستا ضرور مدد کووم اګر که څه ساعت پس.“ (ايضاً ص۳۴۹ حديث۱۷۵۲)

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـيْـب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## مونږه په خوراك ځښاك کښې مشغول شو

خوږو روژه دارو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د روژه ماتي په وخت کښې دُعا قبليږي، آه! د قبوليت په دې ساعت کښې زمونږه نَفس په سخت ازميښت کښې پريوځي. ځکه چه په دغه وخت کښې اکثر زمونږه مخې ته قِسم قِسم ميوې، کباب، سموسې، پکوړې او يخ يخ شربتونه پراته وي، او مونږه د لـمر پريوتو سره سمدستي په خوراکونو او شربتونو داسې اخته شو چه دُعا راته هډو ياده نه وي! دُعا خه چه زمونږه څه مسلمانان ورونړه د روژه ماتي په وخت کښې په خوراك ځښاك کښې داسې مشغول شي چه د جُمات پوره جَمعه هُم حاصله نه کړي، بلکه مَعَاذَالله [يعني د الله پناه] بعضې خو دومره سستي کوي چه د روژه ماتي نه پس په کور کښې د جَمعې نه بغير لـمونځ کوي. توبه! توبه!!



www.dawateislami.net

د جَنَّت طَلَبګارو! دومره غَفلَت هُم مه کوئ!! د جَمعې د لـمانځه په شريعت کښې سخت تاکِيد راغلې دې. ياد ساتئ! د شَرعي مجبورئ نه بغير د جُمات د پينځه وخته لـمونځونو ورومبئ جَمعه پريښودل ګُناه ده.

## روژه ماتي نه پس د لـمانځه د پاره

## د خوراك نه خُله پاکول ضروري دي

بهتره دا ده چه په يو دوو کجورو روژه ماته کړې او فوراً په ښه طريقه خُله پاکه کړې او د لـمانځه په جَمعه کښې شامل شي. نن صبا په جُمات کښې خلق د ميوو او پکوړو وغيره خوړلو نه پس په صحيح طريقه خُله نه صفا کوي او دغسې په جَمعه کښې شريك شي حالانکه د خوراك معمولي ذرّه او خوند هُم په خُله کښې پريښودل نه دي پکار ځکه چه اعلٰی حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي: په ګڼړ شمير اَحادِيثو کښې اِرشاد شوې دې "چه کله بنده په لـمانځه ودريږي نو فرښته د هغه په خُله د پاسه خپله خُله کيږدي، دا چه څه لوَلي هغه د ده د خُلې نه اُوځي او د فرښتې په خُله کښې داخليږي هغه وخت چه د خوراك څه څيز د ده په غاښونو کښې وي نو فرښتو ته د هغې نه دومره سخت تکليف کيږي چه د بل څه نه ورته نه کيږي. حُضُورِ اکرم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چه کله په تاسو کښې څوك د شپې د لـمانځه د پاره ودريږي نو پکار ده چه مِسواك وکړي ځکه چه هغه کله په خپل لـمانځه کښې قِراءَت کوي نو فرښته خپله خُله د هغه په خُله کيږدي څه څيز چه د ده د خُلې نه اُوځي هغه د فرښتې په خُله کښې داخليږي.[1] او "طَبَرانی په کَبِير" کښې د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو ايُّوب اَنصاري رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُ نه رِوايت کړې دې چه په دواړو فرښتو باندې د دې نه زيات يو څيز دروند [يعني تکليف ورکوونکې] نه وي چه هغوئي خپل ملګرې په لـمانځه کولو اُووِيني او د

[1] (شُعَبُ الۡاِيۡمان ج۲ ص۳۸۱ رقم ۲۱۱۷)



www.dawateislami.net

هغه په غاښونو کښې د خوراك ريزې نښتې وي (مُعجَم کَبِیر ج٤ ص۱۷۷ حديث٤٠٦١، فَتَاوٰیٰ رَضَوِیّه مُخرَّجة، ج۱۰ ص٦٢٤، ٦٢٥) په جُمات کښې روژه ماتولو د پاره اکثر خُله صفا کول مُشکِل وي ځکه چه که په ښه طريقه د خُلې صفائي کوي نو د جَمعې تللو انديښنه وي لِـهذا مشوره ده چه صرف يو دوه کجورې خورئ او اوبه ورپسې څښئ او اوبو له په خُله کښې ښه حَرَکت ورکوئ چه د کجورې خوړوالې او ذرّات راخلاص شي او د اوبو سره خيټې ته لاړ شي ضرورتاً د غاښونو خِلال هُم کوئ. که د خُلې صفا کولو موقع نه وي نو آساني په دې کښې ده چه صِرف په اوبو روژه ماته کړئ. ما ته هغه روژه دار ډير ښه ښکاري چه د قِسما قِسم ميوو د تالي نه بې نيازه شي او د لـمر پريوتلو نه مخکښې ځان سره اوبه واخلي او د جُمات په وړومبي صَف کښې کښيني ځکه چه داسې به د روژه ماتي نه زر هُم فارِ شي، خُله به ئې هُم پاکه وي او په وړومبي صف کښې به ورته د تَکبِيرِ اُولیٰ سره د جَمعې لـمونځ هُم نصيب شي.

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** په تير شوي حديثِ مبارکه کښې فرمائيلي شوي دي چه "د روژه ماتي په وخت کښې دُعا نه رَد کيږي." بعضې وخت د دُعا په قبليدو کښې لږ تاخِير وشي نو په ذِهن کښې دا خبره راځي چه دُعا آخر قبوله ولې نه شوه! حالانکه په حديثِ پاك کښې د دُعا د قبليدو زيرې راغلې دي. **خوږو اسلامي ورونړو!** په ظاهره تاخير باندې زړه مه تنګوئ. د سيِّدی اعلٰی حضرت رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه والِدِ مُحترم حضرتِ سَيِّدُنا **رئيسُ الْمُتَکَلِّمِین** سيِّدُنا نقي علي خان رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په "اَحْسَنُ الْوِعاءِ لِآدابِ الدُّعاءِ" صفحه ۵۵ کښې نقل کوي:

## د دُعا درې فائدې

د سرورِ انبياء صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه رِوايت [شوې] دې: د بنده دُعا د درې خبرو نه خالي نه وي: ﴿۱﴾ يا د هغه ګناه بخښله شي. يا ﴿۲﴾ په دُنيا کښې هغه ته فائده حاصليږي. يا ﴿۳﴾ د هغه د پاره په آخرت کښې خير جمع کړې شي چه کله بنده په آخرت کښې د خپلو دُعاګانو ثواب اُووِيني کومې چه په دُنيا کښې مُستَجاب (يعني قبولې شوې) نه وې تمنّا [يعني ارمان] به کوي چه



www.dawateislami.net

کاش! په دُنیا کښې زما یوه دُعا هُم نه وې قبوله شوې او ټولې د هُم دې ځائ (یعني آخرت) د پاره جمع شوې وې. (اَلْمُسْتَدْرَك ج٢ ص١٦٥ حدیث١٨٦٢، اَحسنُ الوعاء ص٥٥)

## په دُعا کښې پینځه سعادتونه

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! تاسو ولیده! دُعا هڅو ضائع کیږي نه، د دې که په دُنیا کښې اثر ښکاره نه شي نو په آخرت کښې به اَجر و ثواب ورکړې شي لِـهذا په دُعا کښې سستي کول مُناسب نه دي.

## د "یا عَفُوّ" د پینځه حُروفو په نِسبت ۵ مَدَنـي ګلونه

﴿١﴾ وړومبۍ فائده دا ده چه د الله تعالیٰ په حُکم عمل کیږي ځکه چه د هغه حُکم دې چه زما نه دُعا اوغواړئ. چنانچه خلور وِیشتمه سیپاره سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْن آیت ٦٠ کښې اِرشاد دې:

اُدْعُوْنِیْۤ اَسْتَجِبْ لَکُمْ ؕ

مَفهُوم ترجمهٔ کَنْزُالْاِیمان: زما نه دُعا وکړئ زه به ئې قبلوله کړم.

﴿٢﴾ دُعا کول سُنَّت دي ځکه چه زمونږه خوږ خوږ آقا مکّـي مَدَنـي مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به اکثر وختونه دُعا غوښتله. لِـهذا دُعا کولو سره به د اِتِباعِ سُنَّت [یعني په سُنَّتو د عمل کولو] شَرف هُم حاصلیږي.

﴿٣﴾ دُعا کول د رَسُولُ‌الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانبرداري هُم ده ځکه چه خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپلو غلامانو [یعني اُمَّت] ته د دُعا تاکید کړې دې.



www.dawateislami.net

﴿٤﴾ دُعا کوونکي د عابِدانو په زُمره (يعني ډله) کښې داخل دي ځکه چه دُعا پخپله يو عبادت بلکه د عبادت زړې دې. څنګه چه زمونږه د خوږ آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دې: اَلدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ يعني دُعا د عِبادت زړې دې. (ترمِذِی،ج۵،ص۲۴۳حدیث۳۳۸۲)

﴿٥﴾ په دُعا کولو يا خو د هغه [يعني دُعا کوونکي] ګناه معاف کيږي يا په دې دُنيا کښې د هغه مسائل حل کيږي يا بيا هغه دُعا د هغه د پاره د آخرت ذخيره جوړه شي.

## نه پوهيږو چه څه ګناه را نه شوي ده

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو وليده؟ دُعا غوښتل د الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی او د هغه د خوږ حبيب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبرداري هُم ده، دُعا غوښتل سُنَّت هُم دي، دُعا کولو باندې د عبادت ثواب حاصليږي او د دُنيا او آخرت ګنړ شمير فائدې هُم حاصليږي. بعضې خلق ليدلي شوي دي چه هغوئ د دُعا د قبليدو د پاره ډيره تادي کوي بلکه مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ خبرې هُم جوړوي چه مونږه خو د دومره مودې نه دُعاګانې کوو، بزرګانو باندې هُم دُعاګانې کوو، يو پير فقير را نه دې پاتې، فلانکۍ فلانکۍ وظيفې وايو، فلانکي فلانکي مزار ته هُم تلي وو خو زمونږه حاجت هډو پوره کيږي نه، بلکه بعضې خلق داسې هُم وائي:

"کیاخطاہم سے ایسی ہوئی ہے!جس کی ہم کو سزامل رہی ہے!!"

"يعني زمونږ نه داسې څه خطا شوي ده چه د هغې ١٠ را کوله شي!!"

## لـمونځ نه کول خو لکه چه هډو خطا نه ده!!!

د حيرانيدو خبره خو دا ده چه داسې "براسونه" ويستونکي اکثر بيلـمانځه وي! لکه لـمونځ نه کول چه (مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ) هډو ګناه نه ده! چه مخ ته ئې اوګورئ نو د مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُښمنانو آتِش پرستو په شان، يعني د خوږ نبي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عظيم سُنَّت ګيره مبارکه ئې په مخ نه



www.dawateislami.net

وي! او د دروغو، غِيبت، چُغلۍ، وعده خِلافۍ، بدګُمانۍ، بدنظرۍ، د مور و پلار د نافرمانۍ او فِلمونو، ډرامو او سندرو، سازونو وغيره ګناهونه ئې په عادت کښې شامل وي او د دې باوجود ئې په ژبه دا ګِيله وي:ــه

”کیا خطا ہم سے ایسی ہوئی ہے! جس کی ہم کو سزا مل رہی ہے!!“

”يعني زمونږ نه داسې څه خطا شوي ده چه د هغې ١٠ راکوله شي!!“

## د کوم دوست خبره چه مونږه نه منو

لږ سوچ خو وکړئ! چه يو ګران دوست درته ډير ځله يو کار اُووائي خو تاسو د هغه کار نه کوئ. بيا اتفاقاً مو پخپله هغه دوست سره څه کار پيښ شي نو تاسو به د مخکښې نه يَريږئ چه ما خو د ده يو کار هُم نه دې کړې، اوس به هغه زما کار څنګه وکړي! که تاسو هِمّت وکړئ او هغه کار ورته اُووائې او هغه کار هغه ونکړي نو تاسو به بيا هُم ګِيله نه شئ کولې ځکه چه تاسو خو هُم د هغه دوست کار نه وو کړې.

اوس لږ په سړو دماغو سوچ وکړئ چه الله تعالیٰ مونږ ته څومره څومره کارونه ښودلي دي، څنګه څنګه اَحکام ئې را ته جاري کړي دي، خو مونږه د هغه په کوم کوم حُکم عمل کوو؟ په دې غور کولو به مونږ ته معلومه شي چه د هغه ډيرو احکامو باندې عمل کولو کښې مونږ د غَفلت نه کار اخستې دې. الله دِ وکړي چه تاسو زما په خبره پوهه شوي ئې چه څوك پخپله که د خپل **ربّ** تعالیٰ په حُکمونو عمل نه کوي، خو که **هغه** جَلَّ جَلالُهٗ د کومې خبرې (يعني دُعا) اثر ښکاره نه کړي نو ګيلې قيصې شروع کړي. سوچ وکړئ! که تاسو د خپل يو ډير نزدې دوست يوه خبره بيا بيا رَد کوئ نو کيدې شي چه هغه ستاسو سره دوستي ختمه کړي، خو الله تعالیٰ په خپلو بندګانو څومره مهربانه دې چه که د هغه د فرمانِ عالي څومره خِلاف ورزۍ هُم وکړي نو بيا ئې هُم د خپلو



www.dawateislami.net

بندګانو د فهرِست [يعني لِسټ] نه نه اُوباسي او خپله مهرباني او کرم پرې جاري ساتي. لږ فِکر خو وکړئ! کوم بندګان چه احسان فراموشي کوي [يعني د الله تعالٰی احسانونه هيروي] که هغه جَلَّ جَلَالُهٗ هُم پرې د ۱۰ په طور خپل احسانات بند کړي نو د هغوئي به څه کيږي؟ يقيناً بنده د هغه د مهربانئ نه بغير يو قدم هُم نه شي اخستي، هغه که خپل عظيم الشّان نِعمت هوا چه مونږ ته ئي بالکل مُفتو کښې [يعني هسې دا نِعمت] راکړې دې، که د يو څو ساعته پورې ودروي نو د مړو ډيري به جوړ شي!!

## د دُعا په قبليدو کښې د تاخِير يو سبب

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** بعضې وخت د دُعا په قبليدو کښې تاخِير [يعني ناوخته کيدلو] کښې **مَصلَحتونه** وي چه په هغې مونږه نه پوهيږو. د حُضُورِ انور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دې: چه کله د **الله** تعالٰی يو ګران بنده دُعا کوي نو **الله** تعالٰی جِبرئيل (عَلَيْهِ السَّلَام) ته اِرشاد فرمائي! ”ودريږه! [يعني صبر وکړه] اوس ئي مه ورکوه چه بيا ئي اوغواړي ځکه چه د ده آواز زما خوښ دې.“ او چه کله يو کافِر يا فاسِق دُعا کوي [نو] فرمائي، اے جِبرئيل (عَلَيْهِ السَّلَام) د ده کار زر وکړه، چه بيا ئي ونه غواړي ځکه چه د ده آواز ما ته مکرُوه (يعني ناخوښه) دې.“ (کَنْزُ الْعُمَّال ج۲ ص۳۹ حديث۳۲۶۱، اَحسَنُ الوِعاء ص۹۹)

## د نيك بنده دُعا قبليدو کښې د تاخِير حِکمت

حضرتِ سَيِّدُنا **يَحيٰی**بن سعِيد بِن قَطّان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په خوب کښې **الله** تعالٰی وليدو، عرض ئي وکړو: اِلٰهِی عَزَّوَجَلَّ! زه اکثر دُعا کووم او ته ئي نه قبلوې؟ حُکم وشو: اے **يَحيٰی**! زه ستا آواز خوښووم، ځکه ستا د **دُعا** په قبولِيَّت کښې تاخِير [يعني ناوخته] کووم.“

(رِساله قُشيرِيه ص۲۹۷، اَحسَنُ الوِعاء ص۹۹)

په ”فضائلِ دُعا“ صفحه ۹۷ کښې د دُعا د آدابو په بيان کښې حضرتِ **رئِيسُ الْمُتَکَلِّمِين** سيِّدُنا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي:



www.dawateislami.net

## د تادئ کوونکي دُعا نه قبلیږي!

(د دُعا په آدابو کښې دا هُم دي چه) د دُعا په قبلیدو کښې دِ تادي نه کوي. په حدیث شریف کښې دي چه **الله** تعالیٰ د درې سړو دُعا نه قبلوي. یو هغه چه د ګناه دُعا وکړي. دویم هغه چه داسې خبره غواړي چه قَطعِ رِحم وشي. دریم هغه چه په قبلیدو کښې تادي کوي چه ما دُعا کړې ده تر اوسه پورې قبوله نه شوه. (صحیح مُسلِم ص۱٤٦۳ حدیث۲۷۳۵)

په دې حدیث کښې فرمائیلې شوي دي چه د ناجائزه کار دُعا دِ نه کوي ځکه چه هغه نه قبلیږي. او که د یو خپلوان حق پرې ضائع کیږي داسې دُعا دِ هُم نه کوي او د دُعا په قبلیدو کښې دِ تادي هُم نه کوي ګني دُعا به نه قبلیږي.

په اَحْسَنُ الْوِعاءِ لِاٰدابِ الدُّعاءِ باندې اعلیٰ حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه حاشیه لیکلې ده او د هغې نوم ئې ذَیْلُ الْمُدَّعاءِ لِاَحْسَنِ الْوِعاءِ ایښې دې. مَكْتَبَةُ الْمَدِينه د تَخرِیج او تَسهِیل سره هغه د ''**فضائِلِ دُعا**''په نوم چاپ کړې ده. د هُم هغه کتاب په حاشِیه کښې په یو مقام کښې د دُعا په قبلیدو کښې تادي کوونکي په خپل مخصُوص او نهایت عِلمي انداز کښې داسې پوهه کوي:.

## افسرانو له خو څو څو ځله ورځئ او دِیکې خورئ خو.....

د سګانِ دُنیا (یعني دُنیاوي افسرانو) اُمِیدواران (یعني په هغوئي د خپلو کارونو سمولو خواهش مند) لیدلې کیږي چه درې درې کاله په اُمیدوارئ (او انتِظار) کښې تیروي، سحر او ماښام د هغوئي دروازو له په منډه منډه روان وي، (دِیکې خوري) او هغه (افسران) دي چه دوئي ته نه ګوري او نه څه جواب ورکوي، رټې ئې، د دوئي په راتلو زړه تنګوي، مخ وران کړي، که څه اُمِید ورکړې نو



www.dawateislami.net

لکه بيګار (يعني فُضُوله خواري چه) په سر ور واچوي، دا محترم د خپل جيب نه خوري، د کور نه ئې راغواړي، د بيکاره بيګار (يعني فُضُولې خوارئ) مصيبت ئې په سر اخستې وي او هلته (د افسرانو په خوا کښې ډيـکې خوړلو خوړلو کښې) کلونه تير شي (او داسې ښکاري لکه) اوس هُم چه ورومبئ ورځ وي خو دوئې (د دُنياوي افسرانو په خوا کښې ډيـکې خوړلو والا) نه اُمِيد ختموي او نه (افسرانو له) تلل راتلل پريږدي.اود اَحْكَمُ الْحَاكِمِيْن، اَكرَمُ الْاَكْرَمِيْن عَزَّجَلَالُهٗ در ته اوّل خو څوك راځي نه او که راشي نو هُم [زر] تنګيږي او وارخطائي پرې راشي چه د صبا کار مې نن وشي، څه [وظيفه] لوستلو کښې که يوه هفته تيره شي نو ګيلې شروع کړي، چه صاحِبه لوستلې خو مې وه خو څه اثر ونشو! دا اَحمق د ځان د پاره د اِجابَت (يعني قبولِيَّت) دروازه پخپله بنده کړي. مُحَمَّدٌ رَّسُولُ‌الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: يُسْتَجَابُ لِاَحَدِكُمْ مَالَمْ يَعْجَلْ يَقُوْلُ دَعَوْتُ فَلَمْ يُسْتَجَبْ لِيْ. ترجمه: "ستاسو دُعا قبليږي تر څو چه تادي ونکړئ، دا مه وائې چه ما دُعا کړي وه قبوله نه شوه." (بُخاری ج٤ ص٢٠٠ حديث ٦٣٤٠) بعضې خو په دې [خبره] داسې د جامو نه بهر را اُوځي (يعني بې قابو) شي چه د اَعمالو او اَدْعِيَّه (يعني د وظائفو او دُعاګانو) د اثر نه بې اِعتِقاده، بلکه د الله تعالٰی د وعدهٔ کَرَم نه بې اِعتِماده [شي]، وَالْعِيَاذُ بِاللهِ الْكَرِيْمِ الْجَوَاد. داسې خلقو ته وئيل پکار دي چه اے بې حيا! بې شرمو! خپل ګريوان کښې خو لږ اُوګورئ. که ستا يو نزدې دوست تا ته زر ځله خپل يو کار اُووائي او ته د هغه يو کار هُم ونکړې نو خپل کار هغه ته وئيلو نه خو به اول شرميږې (چه) ما خو د هغه وئيلې [کار] نه وو کړې اوس په کومه خُله هغه ته د کار اُووايم؟ او که خپل غرض دِ پيښ شو او ور ته دِ اُووئيل او هغه (که ستا کار) ونکړو نو د سره به ئې د ګيلې خبره ونه کنړې (ځکه چه پخپله پوهيږې) چه ما (د هغه کار) کله کړې وو چه هغه به را له کړې وي.

اوس جائزه واخله، چه ته د مَالِكْ عَلَى الْاِطْلَاق عَزَّجَلَالُهٗ څومره اَحکامو باندې عمل کوې؟ د هغه حُکم نه منل او د خپل درخواست خواهي نخواهي (يعني په هر صورت کښې) قبليدل غوښتل څومره بې حيائي ده!



www.dawateislami.net

**اے اَحمقه!** بیا فرق اوګوره! خپل ځان ته د سر نه ښپو پورې غور وکړه! چه په يو يو ويښته [يعني د بدن په يوه يوه ذرّه] کښې دِ هر دم، هر وخت څومره څومره په زرګاؤ زرګاؤ په سوونو زره بېشميره نعمتونه دي. ته اُوده ئې او د هغه معصوم بندګان (يعني فرښتې) ستا د حفاظت د پاره څوکۍ کوي، ته ګناهونه کوې او (بيا هُم) د سر نه واخله ښپو پورې [په تا باندې] د صِحت، خيريت، د بلاګانو نه د حفاظت، د خوراك د هاضميدو، د فُضلاتو (يعني د بدن نه د ګندګۍ) د لرې کيدو، د وينې د روانې اوسيدو، د اندامونو د طاقت، د سترګو د رڼا [او نور] بې حسابه [نعمتونه او فضل و] کرم بې غوښتلو په تا راوريږي. بيا که ستا ځينې خواهشونه تا ته درنکړې نو په کومه خُله ګيله کوې؟ ته څه خبر ئې چه ستا د پاره خير په څه کښې دې! ته څه خبر ئې چه څه سخته بلا راتلو والا وه چه دې (په ظاهره نه قبليدونکي) دُعا لرې کړه، ته څه خبر ئې چه د دې دُعا په بدله کښې ستا د پاره څنګه ثواب ذخيره کيږي، د هغه وعده رښتيا ده او د قبليدو دا درې واړه صورتونه دي چه په دې کښې هر وړومبې د وروستي نه اعلٰى دې. خو که بې اِعتِقادي [يعني د يقين کمزوري] راغله نو يقين وکړه چه خراب شوې او اِبلِيس لعِين د ځان په شان کړې. وَ الْعِيَاذُ بِاللّٰهِ سُبْحٰنَهُ وَتَعَالٰى (او د الله پناه، هغه پاك دې او عَظَمَت والا).

**اے ذليلې خاورې!** اے ناپاکه اوبو! خپلې خُلې ته اوګوره او په دې عظيم شَرف باندې غور وکړه چه خپلې بارګاه ته د حاضريدو، د خپل پاك او مُتَعالى (يعني اوچت نوم) د اخستو، خپل طرف ته د مخ کولو، د ځان نه د غوښتلو تا ته اجازت درکوي. لکونه مُرادونه په دې عظيم فضل قُربان.

اے بې صبره! خيرات غوښتل لږ زده کړه. د دې اوچتې آستانې په خاورو کښې ورغړه. او [په دې پورې] نخښتې اوسه او سترګې په لاره اوسه چه اوس به [زما مُراد] راکړي، او س به [زما مُراد] راکړي! بلکه د هغه د يادولو، او د هغه نه د مُناجات [يعني دُعا] کولو په خوند کښې داسې ډوب



www.dawateislami.net

شه چه خپله اِراده او مُراد دِ هير شي. يقين وکړه چه د دې دروازې نه به هيڅ کله هُم محروم نه ګرځې ځکه چه مَنْ دَقَّ بَابَ الْكَرِيْمِ انْفَتَحَ (يعني چا چه د کريم دروازه وډبوله نو هغه د هغه د پاره برسيره شوه) وَبِاللّٰهِ التَّوْفِيْقُ (او توفيق د الله له طرفه دي). (فضائلِ دُعا ص۱۰۰تا۱۰٤)

## د دُعا په قبولِيَّت کښې تاخِير خو کرم دې

حضرتِ سَيِّدُنا مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: اے عزِيزه! ستا **ربّ** تعالیٰ فرمائي:

اُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ

ترجَمه: زه د دُعا قبلوونکي دُعا قبلووم، چه کله ما نه دُعا اوغواړي.(پ۲، البقرة:۱۸٦)

فَلَنِعْمَ الْمُجِيْبُوْنَ ﴿۷۵﴾

ترجَمه: نو مونږه څه ښه قبلوونکي يو. (پ۲۳ ۷۵:)

اُدْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ

زما نه دُعا اوغواړئ، زه ئې قبلوومه.(پ۲٤، مُؤمِن: ٦۰)

پس يقين وکړه چه هغه به تا د خپل دَر نه نه محرومه کوي او خپله وعده به پوره کوي. هغهٔ خپل حبيب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته فرمائي:

وَاَمَّا السَّآئِلَ فَلَا تَنْهَرْ ﴿۱۰﴾

تَرجَمه: او سوالګر [غوښتونکي] مه رټه.(پ۳۰ الضُّحٰی:۱۰)

نو هغه به تا کله د خپل خوانِ کرم نه لرې کړي! بلکه هغه په تا نظرِ کرم ساتي چه ستا دُعا قبلولو کښې ناوخته کوي. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰی كُلِّ حال (فضائلِ دُعا ص۹۸)



www.dawateislami.net

## د عِرقُ النِّساء درد لرې شو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د تبليغ قُرآن و سُنَّت د عالـمګير غير سياسي تحريك دعوتِ اسلامي په مَدَني قَافِلو کښې د عاشِقانِ رَسُول سره د سُنَّتو ډك سفر په دوران کښې د دُعا کوونکو د مسائلو حل کيدو کافي واقِعات دي. د يو اسلامي ورور بيان په خپل انداز کښې دبيانولو سعادت حاصلووم. زمونږه مَدَني قَافِله ټهټه ښار ته تلي وه، شُرَکاؤ کښې به په يو اسلامي ورور د عِرقُ النِّساء ډير سخت درد راتلو، غريب به د درد د زياتوالي د تکليف په وجه د بې اوبو مهي په شان ډډې په ډډې اووښتو. يو ځل د درد په وجه ټوله شپه اُوده نه شو. په آخِره ورځ اميرِ قَافِله اُوفرمائيل: راځئ چه ټول په شريکه د ده د پاره دُعا وکړو. چنانچه دُعا شروع شوه. د هغه اسلامي ورور بيان دې: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د هُم هغه دُعا په دوران کښې مې په درد کښې کمې راتلل شروع شو او لږ ساعت پس مې د عِرقُ النِّساء درد بالکل ختم شو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د دې بيان ورکولو په وخت کښې ډيره موده تيره شوې ده، هغه ورځ وه او دا ورځ ده بيا پرې کله هُم د عِرقُ النِّساء تکليف نه دې راغلې. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ هغه ته د علاقائي مَدَني قَافِله د ذِمّه دار په حيثِيَّت د مَدَني قَافِلو د خِدمت سعادت هُم حاصل دې.

گر ہو عرق النساعارضہ کوئی سا | دے خدا صحتیں، قافلے میں چلو
دُور بیماریاں اور پریشانیاں | ہوں گی بس چل پڑیں، قافلے میں چلو

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٧٥، ٦٧٧)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو وليده! د مَدَني قَافِلي په بَرَکت د عِرقُ النِّساء په شان خطرناکې بيمارئ نه خلاص شو. د عِرقُ النِّساء پيژندګلو دا ده چه په دې کښې د بغاندې (يعني



www.dawateislami.net

د ورانه د جوړ) نه واخله د ښپې د ګِيټِئ پورې ډېر سخت درد کيږي. دې مرض نه بنده د کلونو کلونو پورې نه خلاصيږي.

## د عِرقُ النِّساء دوه روحاني علاجونه

﴿۱﴾ د درد په ځائ لاس کيږدئ او د اوّل آخر دُرُود شريف سره **سُوْرَةُالْفَاتِحه** يو ځل او ووه ځله دا دُعا: اَللّٰهُمَّ اَذهِبْ عَنِّیْ سُوْءَ مَااَجِدُ (يعني اے الله عَزَّوَجَلَّ! زما نه مَرض لرې کړې) ولولئ او پرې دَم ئې کړئ. که بل کس ئې دموي نو د عَنِّیْ په ځائ دِ عَنْهُ(يعني د ده نه) اُووائي. (ميعاد: د شِفا حاصليدو پورې) ﴿۲﴾ يَامُحْيِىُ ووه ځله ولولئ، که ګيس وي او که ملا يا خيټه کښې تکليف وي يا عِرقُ النِّساء وي يا په هر ځائ درد وي يا د يو اندام د ضائع کيدو يَره وي، ځان پرې دَم کړئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی فائده به کيږي. (ميعاد: د شِفا حاصليدو پورې)

## روژه ماتوونکي ۱٤ څيزونه

﴿۱﴾ د خوراك، څښاك يا جِماع [يعني کوروالي] کولو سره روژه ماتيږي هله چه روژه دار کيدل ورته ياد وي. (بهارشريعت ج۱، ص۹۸۵)

﴿۲﴾ چيلم، سِګار[1]، سِګريټ، چُرَټ[2] وغيره څښلو سره هُم روژه ماتيږي، اګر که په خپل خيال کښې حلق ته لوګې نه رسوي. (ايضاًص۹۸٦)

﴿۳﴾ پان يا صِرف تماکو خوړلو سره به هُم روژه ماته شي، اګر که ساعت په ساعت د هغې لاړې تُوکي، ځکه چه حلق ته د هغې نرئ نرئ ذرّې ضرور رسيږي. (ايضاً)

---

[1] د يو قِسم بوټې په پانړه کښې انغښتي تماکو د سګريټ په شان.

[2] چُرَټ: دا هُم د سګريټ په شان وي.



www.dawateislami.net

﴿۴﴾ چيني وغيره داسې څيزونه چه په خُله کښې ايښودو سره وِيلې کيږي، که په خُله کښې ئې کيښودو او لاړې ئې تيرې کړې، روژه ماته شوه. (ايضاً)

﴿۵﴾ د غاښونو په مينځ کښې څه څيز د چڼې هُمره يا زيات وو هغه ئې اوخوړو يا کم وو خو د خُلې نه ئې راويستلو او بيا ئې اوخوړو نو روژه ماته شوه. (دُرِّمُختار ج۳ ص۴۵۲)

﴿۶﴾ د غاښونو نه وينه اُووتله او د حلق نه ښکته لاړه او وِينه د لاړو نه زياته وه يا برابره وه يا ترې کمه وه خو د هغې خوند په حلق کښې محسوس شو نو روژه ماته شوه او که کمه وه او مزه ئې هُم په حلق کښې محسوسه نه شوه نو روژه ماته نه شوه. (ايضاًص۴۲۲)

﴿۷﴾ روژه ورته ياده وه او د دې باوجود ئې حُقنَه[1] [يعني پيچکاري] واخسته. يا ئې په سپيږمو يعني پوزه کښې دوائي وخيژوله، روژه ئې ماته شوه. (عالمگيری ج۱، ص۲۰۴)

﴿۸﴾ خُله وينځلو کښې ئې بې اِراده اوبه د خلق نه ښکته لاړې يا ئې پوزې ته اوبه خيژولې او دِماغو ته وختلې، روژه ماته شوه خو که روژه دار کيدل ترې هير وو نو نه به ماتيږي اګر که قصداً (يعني اِرادتاً) وي. هُم دغسې که روژه دار طرف ته چا څه څيز ور ويشتلو او حلق ته ئې لاړو نو روژه ئې ماته شوه. (عالمگيری ج۱، ص۲۰۲)

﴿۹﴾ په اُودو ئې اوبه وڅښلې يا ئې څه اوخوړل، يا ئې خُله بيرته وه او د اوبو څاڅکې يا د بارانه ګلئ ئې حلق ته لاړه نو روژه ماته شوه. (بهارشريعت ج۱، ص۹۸۶، جَوْهَره ج۱، ص۱۷۸)

﴿۱۰﴾ د بل کس لاړې ئې تيرې کړې يا خپلې لاړې ئې په لاس کښې واچولې او تيرې ئې کړې نو روژه ماته شوه. (عالمگيری ج۱، ص۲۰۳)

---

[1] يعني د يوې دوائي، باتئ يا پيچکاري د شا مُقام ته خيژول چه د هغې سره ئې اودس ماتې وشي.



www.dawateislami.net

﴿۱۱﴾ تر څو پورې چه لاړې يا بَلغَم په خُله كښې دننه موجود وي د هغې د تيرولو سره روژه نه ماتيږي، ساعت په ساعت تُوكل ضروري نه دي.

﴿۱۲﴾ په خُله كښې ئې رنګين مزې وغيره كيښودو چه په هغې ئې لاړې رنګينې شوې، بيا ئې لاړې تيرې كړې روژه ماته شوه. (ايضاً)

﴿۱۳﴾ اوښكې ئې خُلې ته لاړې او تيرې ئې كړې، كه يو دوه څاڅكې وي نو روژه ماته نه شوه او كه زياتې وي چه د هغې مالګين خوند په ټوله خُله كښې محسوس شو نو ماته شوه. د خوَلې هُم د احُكم دې. (ايضاً)

﴿۱٤﴾ كه د ډكو بولو مُقام ئې بهر ته را اُووتو نو حُكم دې چه په كپړه باندې ئې ښه وچ كړې چه لـمدوالې پرې بالكل پاتې نه شي، او كه څه اوبه پرې پاتې وي او ودريدلو او اوبه دننه لاړې نو روژه ماته شوه. په هُم دې وجه فُقَهائے كرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى فرمائي چه روژه دار دِ په استِنجا كولو (يعني پاكې حاصلولو) كښې ساه نه اخلي. (بهارِشريعت ج۱، ص۹۸۸، عالمګيرى ج۱، ص۲۰٤)

## په روژه كښې ګرځون (يعني اُلتهئ)

دوه فَرامينِ مُصطَفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ﴿۱﴾ چا ته چه د رَمَضان په مياشت كښې پخپله اُلتهئ ورغلې د هغه روژه ماته نه شوه او چا چه قصداً [اِرادتاً] اُلتهئ وكړې د هغه روژه ماته شوه. (كَنْزُ الْعُمَّال ج۸ ص۲۳۰ حديث۲۳۸۱٤) ﴿۲﴾ چا ته چه پخپله اُلتهئ ورغلې په هغه قضا نشته او چا چه قصداً [اِرادتاً] اُلتهئ وكړې هغه دِ د روژې قضا وكړي." (تِرمِذِى ج۲، ص۱۷۳ حديث۸۲۰)

## د ګرځون (يعني اُلتهئ) ۷ اَحكام

﴿۱﴾ په روژه كښې پخپله كه هر څومره **اُلتهئ** [يعني ګرځُون] وشي (اګر كه بالتې پرې ډك شي) په دې **روژه** نه ماتيږي (دُرِّمُختار ج۳، ص٤٥٠) ﴿۲﴾ كه روژه ورته ياده وه او د هغې باجود ئې قصداً [يعني اِرادَتاً]



www.dawateislami.net

اُلتیٔ وکړي او که هغه په ډکه خُله وي (د ډکې خُلې تعریف مخکښې راروان دې) نو **روژه** به ماته شي. (ایضاًص۴۵۱) ﴿۳﴾ قصداً [یعني اِرادَتاً] په ډکه خُله اُلتیٔ کولو سره به هُم په دې صُورت کښې روژه ماتیږي چه په اُلتیٔ کښې خوراك یا (اوبه) یا صَفرا (یعني ترخې اوبه) یا وِینه راشي (عالمگیری ج۱ ص۲۰٤) ﴿٤﴾ که (ډکه خُله) اُلتیٔ کښې صرف بلغم را اُووتل نو روژه به نه ماتیږي. (دُرِّمُختارج۳ ص۴۵۲) ﴿۵﴾ قصداً [یعني اِرادَتاً] ئې اُلتیٔ وکړي خو لږې شان وشوې، په ډکه خُله ونشوې نو بیا ئې هُم **روژه** ماته نه شوه (ایضاًص۴۵۱) ﴿٦﴾ د ډکې خُلې نه کمې اُلتیٔ وشوې او د خُلې نه بیرته [د حلق نه ښکته دننه] لاړې یا ئې پخپله تیرې کړې، په دې دواړو صورتونو کښې به **روژه** نه ماتیږي (ایضاً ص۴۵۰) ﴿۷﴾ په ډکه خُله اُلتیٔ بې اختیاره وشوې نو **روژه** ماته نه شوه، البته که د هغې نه ئې د یوې چنړې هُمره هُم بیرته تیرې کړې نو **روژه** به ماته شي او د یوې چنړې نه که کمې وې نو **روژه** ماته نه شوه. (دُرِّمُختارج۳ص۴۵۰)

**د ډکې خلې د ګرځون یعني اُلتیٔ تعریف:** د ډکې خُلې د ګرځُون [یعني اُلتیٔ] معنیٰ دا ده: "چه هغه بې تڪلُّفه [یعني په آسانئ] حصارې نه کړې شي." (عالمگیری ج۱، ص۱۱)

## د "مدینه" د پینځه حُروفو په نسبت په اوداسه کښې د اُلتیٔ ۵ شرعي اَحکام

﴿۱﴾ که د اوداسه په حالت کښې (قصداً [یعني اِرادَتاً] اُلتیٔ وکړې یا پخپله وشي په دواړو صورتو کښې) که په ډکه خُله اُلتیٔ وشي او په هغې کښې خوراك، اوبه یا صَفرا (یعني تروې اوبه) راغلې نو اودس مات شو. (بهارشریعت ج۱، ص۳۰٦)

﴿۲﴾ که د بَلغمو اُلتیٔ په ډکه خُله وشوې نو اودس به نه ماتیږي. (ایضاً)

﴿۳﴾ د رواني وِینې اُلتیٔ سره اودس ماتیږي. (ایضاً)



www.dawateislami.net

﴿٤﴾ د رواني وِيني په اُلتهئ به اودَس هله ماتيږي چه وينه په لاړو مغلُوبه (يعني کمه) نه وي. (بهارِشريعت ج۱ ص۳۰٦،رَدُّالْمُحتَار ج۱ ص۲٦۷) يعني که د وِيني په وجه اُلتهئ سرې وي نو وِينه غالِبه ده اودس مات شو او که لاړې زياتې وي او وِينه کمه نو اودس به نه ماتيږي. د وِيني کمې کيدلو دا نښه ده چه پوره اُلتهئ چه کومو کښې وينه شامله ده هغه به زيړې وي.

﴿٥﴾ که په اُلتهئ کښې پرم شوي [سره وِينه] را اُووتله او هغه د ډکې خُلې نه کمه وي نو اودس به نه ماتيږي. (مُلَخَّص از بهارِشريعت ج۱، حِصّه ص۳۰٦)

## د اُلتهئ اَهمه مسئله

په ډکه خُله شوي اُلتهئ (که د بلغمو نه علاوه پکښې بل څه شامِل وي نو) ناپاکه دي، د هغې يو څاڅکې هُم په جامو يا بدن لګيدل نه دي پکار، د دې احتياط کوئ. اکثر خلق په دې کښې ډيره بې احتياطي کوي، جامو ته د څاڅکو کيدو هيڅ پرواه نه کوي او په خُله وغيره ئې چه کومې اُلتهئ لګيدلې وي هغه هُم په بې پرواهئ سره په خپلو جامو صفا کوي. اللّٰه تَبَارَکَوَتَعَالٰی دِ مونږ ته د نَجاسَت نه د بچ کيدو فِکر نصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## په هيره خوراك څښاك سره روژه نه ماتيږي

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه د دوارو جهانو د سردار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دې: "کوم روژه دار چه په هيره خوراك څښاك وکړو هغه دِ خپله روژه پوره کړي ځکه چه په هغه اللّٰه تعالیٰ اوخوړله او وڅښله." (مُسلِم ص۵۸۲ حديث۱۱۵۵)

## د روژه نه ماتيدلو ۲۱ اَحکام

﴿۱﴾ که په هير کښې ئې خوراك څښاك يا جِماع وکړه روژه فاسِده نه شوه، که هغه روژه فرض وي او که نفل. (دُرِّمُختار، رَدُّالْمُحتَار ج۳ ص٤۱۹)



www.dawateislami.net

## که روژه دار په خوراك ښنباك اُووِيني نو څه وکړي

﴿۲﴾ که څوك په دې اَفعالو [يعني کارونو] اُووِينئ نو هغه ته ورېادول واجِب دي، خو که روژه دار ډېر زيات کمزورې وي او ورېادولو باندې به هغه خوراك کول بس کړي چه د هغې په وجه به ئې کمزوري دومره زياته شي چه د هغه د پاره به روژه نيول مشکل شي او که خوراك وکړي نو روژه به هُم په ښه طريقه پوره کړي او نور عِبادتونه به هُم په ښه شان ادا کړې شي (او ولې چه په هيره باندې خوراك ښنباك کوي ځکه به ئې روژه هسې هُم وشي) لِـهذا په دې صُورت کښې نه ورېادول بهتر دي. (بهارشريعت ج ۱ ص۹۸۱) بعضې مشائخِ کِرام (رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی) فرمائي: ''که ځوان [کس] اُووِيني نو ورياد دِ ئې کړي او که بوډا اُووِيني نو نه ورېادولو کښې باك نشته.'' خو دا حُکم د اکثر په لحاظ دې ځکه چه ځوانان اکثر قوي (يعني طاقتور) وي او بوډاګان اکثر کمزوري. چنانچه اصل حُکم دا دې چه ځوانئ او بوډاوالي ته [په دې معامَله] کښې هيڅ دَخل نشته بلکه د قُوَّت او ضُعف (يعني د طاقت او کمزورئ) لِحاظ دې لِـهذا که ځوان دومره کمزورې وي نو نه ورېادولو کښې باك نشته او که بوډا قوي (يعني طاقتور) وي نو ورېادول واجِب دي. (رَدُّالْمُحْتَار ج۳ ص۴۲۰)

﴿۳﴾ د روژه ياده لرلو باوجود هُم که مچ يا ګَرد يا لُوګې حلق ته لاړ شي نو روژه نه ماتيږي. اګر که ګَرد د وړو وي کوم چه د ميچنې په تاويدو يا د وړو په چڼولو کښې اَلوَځي يا د غلې ګَرد وي يا د هوا په لګيدو خاوره اَلوَتي وي يا د ځاروو د ښپو سره [خاوره اَلوَتي وي]. (بهارشريعت ج۱، ص ۹۸۲، دُرِّمُختار رَدُّالْمُحْتَار ج۳ ص۴۲۰)

﴿۴﴾ هُم دغسې د بس يا موټر لُوګې، يا د هغې [د چليدو په وجه] ګَرد والوَتو او حلق ته ورسيدو اګر که روژه دار کيدل ورته ياد وو روژه ئې ماته نه شوه.

﴿۵﴾ که اګربتئ بله وي او د هغې لُوګې ئې پوزه کښې لاړو نو روژه به نه ماتيږي. خو که سپيلنې يا اګربتئ بله وي او د روژه ياده لرلو باوجود خُله ورنزدې کړي او د هغې لُوګې په پوزه راښکاږي نو روژه به ماته شي. (ايضاً. ايضاًص۴۲۱)



www.dawateislami.net

﴿۶﴾ که ښکر[1] ئې ولګوو [یعني د ښکر په ذریعه ئې علاج وکړو] یا تیل یا رانجه ئې ولګول نو روژه نه ماتیږي، که د تیلو یا رانجو خوند په حلق کښې محسوسیږي بلکه که په لاړو کښې ئې د رانجو رنګ هُم ښکاره شي نو بیا هُم روژه نه ماتیږي. (رَدُّالْمُحْتَار ج۳ ص۴۲۰)

﴿۷﴾ غُسل ئې وکړو او د اوبو یخ والې دننه محسوس شو نو بیا هُم روژه ماته نه شوه.

(عالمگیری ج۱، ص۲۰۳)

﴿۸﴾ خُله ئې وینځله او اوبه ئې بالکل تُوك کړلې صرف څه لمدوالې باقي پاتې شو، د لاړو سره ئې هغه تیرې کړې، روژه ماته نه شوه. (رَدُّالْمُحْتَار ج۳ ص۴۲۰)

﴿۹﴾ دارو ئې ټکول او د هغې خوند [ئې په حلق کښ] محسوس شو، روژه ئې ماته نه شوه. (ایضاًص۴۲۲)

﴿۱۰﴾ که په غوږ کښې اوبه لاړې نو بیا هُم روژه ماته نه شوه بلکه که ځپله ئې پکښې اوبه واچولې نو بیا هُم ماته نه شوه. (دُرِّمُختار ج۳ ص۴۲۲) البته که د غوږ پرده شلیدلې وي او په غوږ کښې اوبه اچولو سره د حلق نه ښکته لاړې شي نو روژه به ماته شي.

﴿۱۱﴾ که په ډکـې [چخچې] ئې غوږ وګروو او په هغې پورې د غوږ خِیرې ونخښتو، بیا ئې هُم هغه خِیرې لګیدلې ډکې په غوږ کښې داخل کړو اګر که یو څو ځله ئې داسې کړې وي، بیا هُم روژه ماته نه شوه. (ایضاً)

﴿۱۲﴾ که په غاښونو یا خُله کښې ئې خَفِیف (یعني معمولې) څه خاص نه معلومیږې داسې څیز پاتې شو څه [هغه به] د لاړو سره ځپله ښکته لاړ شي او هغه ښکته لاړو، روژه ماته نه شوه. (ایضاً)

[1] دا د درد د علاج یوه مخصوصه طریقه ده چه په هغې کښې سُورې ښکر د درد په ځائ کیږدې او د خُلې په ذریعه د بدن ګرمې راښکاږي.



www.dawateislami.net

﴿۱۳﴾ د کونزلـي زړې يا د کونزلـي د زړې هُمره څه څيز ئې وجوو او د لاړو سره د حلق نه ښکته لاړو نو روژه ماته نه شوه خو که د هغې خوند په حلق کښې محسوسيږي نو روژه ماته شوه. (فتحُ القدیر ج۲ ص۲۵۹)

﴿۱٤﴾ لاړې يا بلغم ئې په خُله کښې راغلل [يعني دننه پيدا شو] بيا ئې تير کړل نو روژه ماته نه شوه. (دُرِّ مُختار و رَدُّالْمُحْتَار ج۳ ص۴۲۲)

﴿۱۵﴾ هُم دغسې که پوزه کښې ئې قنړې جمع شوي وي او د ساه په ذريعه ئې تير کړي نو هُم روژه نه ماتيږي. (دُرِّ مُختار ج۳ ص۴۲۲)

﴿۱٦﴾ که غاښونو نه وِينه اُووتله او حلق ته ورسيدله خو د حلق نه ښکته کوزه نه شوه نو روژه ماته نه شوه. (ایضاً)

﴿۱۷﴾ که مچ حلق ته لاړ شي نو روژه ماته نه شوه او که قصداً [يعني اِرادَتاً] ئې تير کړو نو روژه ماته شوه. (عالمگیری ج۱، ص۲۰۳)

﴿۱۸﴾ په هيره ئې طعام خوړلو چه ښنګه ورياد شو فوراً ئې نوړئ تُوك کړله [يا ئې] اوبه ښبلې چه ښنګه ورياد شو فوراً ئې اوبه تُوك کړې نو روژه ئې ماته نه شوه، او که تير ئې کړل نو روژه ماته شوه. (ایضاً)

﴿۱۹﴾ د صبا صادِق نه مخکښې ئې خوراك ښبناك کولو او چه ښنګه سحر شو (يعني ښنګه چه د پيشمنې وخت ختم شو) د خُلې نه ئې هر څه تُوك کړل نو روژه ماته نه شوه، او که تير ئې کړل نو ماته شوه. (ایضاً)

﴿۲۰﴾ که غِيبت ئې وکړو نو روژه ماته نه شوه. اګر چه غِيبَت سخته کبِيره ګناه ده، په قُرآنِ مجيد کښې د غِيبت کولو په نِسبت فرمائيلې شوي دي: ”لکه د خپل مړ ورور غوښې خوړل.“ او په



www.dawateislami.net

حديثِ پاك كښې فرمائيلي شوي دي: ”غِيبت د زِنا نه زيات سخت دې.“ (مُعْجَمُ اَوْسَط ج۵ ص۶۳ حديث۶۵۹۰) د غِيبت په وجه د روژې نُورانِيَّت ختميږي. (بهارِشريعت ج۱، ص ۹۸۴)

﴿۲۱﴾ د جَنابَت (يعني غُسل فرض كيدو) په حالت كښې ئې سحر كړو بلكه اګر كه ټوله ورځ جُنُب (يعني بې غُسله) پاتې شو روژه ئې ماته نه شوه. (دُرِّمُختار ج۳ ص۴۲۸) خو دومره وخته پورې قصداً [يعني اِرادَتاً] غُسل نه كول چه لـمونځ قضا شي ګناه او حرام دي. حديث شريف كښې فرمائيلي شوي دي: ”په كوم كور كښې چه جُنُب وي هغې ته د رَحمت فرښتې نه راځي.“ (اَبو داؤد ج۱ ص۱۰۹ حديث۲۲۷، بهارِشريعت ج ۱، ص ۹۸۴)

## د روژې مكرُوهات

اوس د روژې مكروهات بيانيږي چه د دې د كولو سره روژه خو وشي مګر نُورانِيَّت ئې ختم شي. د لفظِ ”نـبى“ د درې حُروفو په نِسبَت مخكښې درې اَحادِيثِ مُبارَكه اوګورئ. بيا به فِقهِى اَحكام بيانيږي ﴿۱﴾ څوك چه بده خبره كول او په هغې عمل كول نه پريږدي نو اللّٰه تعالٰى ته د دې هيڅ حاجت نشته چه هغه [كس] خوراك څښاك پريږدي“[1] ﴿۲﴾ ”روژه د دې نُوم نه دي چه د خوراك او څښاك نه منع وي، روژه خو دا ده چه د لَغْو او بيهوده خبرو نه بچ اوسي“[2] ﴿۳﴾ ”روژه ډال دې تر څو ئې چه دا شلولې نه وي. ”عرض وكړې شو: په څه څيز به ئې شلوي؟ ارشاد ئې اُوفرمائيلو: ”په دروغو يا غِيبت باندې“[3]

---

[1] (بُخارى ج۱، ص۶۲۸ حديث ۱۹۰۳)

[2] (اَلْمُسْتَدْرَك ج۲ ص۶۷ حديث۱۶۱۱)

[3] (معجم اوسط ج۳ ص۲۶۴ حديث۴۵۳۶)



www.dawateislami.net

## د ”رَمَضَانُ الْمُبَارَك“ د دولسو حُرفو په نِسبت

## د روژې په مكروهاتو مُشتملې ۱۲ پيرې

﴿۱﴾ **دروغ، چُغلي**، غِيبَت، كنزلې كول، بيهوده خبره، چا ته تـكليف وركول څكه چه دا څيزونه هسې هُم ناجائزه او حرام دي په روژه كښې نور زيات حرام [شي] او د دې په وجه په روژه كښې كَراهَت راځي. (بهارِشريعت ج۱، ص۹۹۶)

﴿۲﴾ د **روژه** دار د پاره بې عُذره څه څيز څَكَل يا جُوول مكروه دي. د څَكَلو عُذر دا دې چه مَثَلًا د ښځې خاوند بدخويه دې چه كه مالګه كمه يا زياته وي نو د هغه د خفګان باعِث به وي، په دې وجه څَكَلو كښې باك نشته. جُوولو د پاره عُذر دا دې چه دومره ووړكې ماشوم دې چه ډوډۍ نه شي جوولې او څه نرم خوراك نشته چه په هغه ئې اوخوري، نه حيض او نِفاس والا[1] يا بل څوك داسې شته چه د هغه د پاره ئې وجووي نو ماشوم ته وركولو د پاره ډوډۍ وغيره جُوول مكروه نه دي. (دُرِّمُختارج۳ص۴۵۳) خو پوره احتياط كوئ چه د خوراك څه زرّه مو د حلق نه ښكته كوزه نه شي.

## څكَل څه ته وائي؟

د څَكَلو معنٰى هغه نه ده كومه چه نن صبا عامه مُحاوَره ده يعني د څه څيز خوند معلومولو د پاره د هغې نه لږ شان خوړل! كه داسې وكړې نو كَراهَت څه چه روژه به ئې ماته شي بلكه د كفّارې شرائط پوره شي نو كفّاره ادا كول به هُم لازِم وي. د څَكَلو نه مُراد دا دې چه صرف په ژبه باندې كيښودې شي او صرف خوند ئې معلوم كړې او تُوك ئې كړې او د هغې نه حلق ته هيڅ هُم لاړ نه شي. (بهارِشريعت ج۱،ص۹۹۶)

---

[1] د حيض او نفاس په حالت كښې زنانه له روژه نيول، لـمونځ، تلاوت كول، جُمات ته تلل او د كعبې شريفې طواف كول حرام دي لـمونځ ورته مُعاف دي خو د پاك كيدو نه پس د روژو قضا كول فرض دي.



www.dawateislami.net

﴿٣﴾ څه خيز ئې واخستو او د هغې خَكَل ضروري دي چه که وئې نه څَكـې نو نقصان به کيږي نو په داسې صورت کښې څَكلو کښې باك نشته ګنې [بې ضرورته څَكل] مکروه دي.

(دُرِّمُختارج٤ص٤٥٣)

﴿٤﴾ خپله ښځه ښکلول او غاړه ورکول او د هغې بدن ته لاس لګول مکروه نه دي. خو که دا انديښنه وي چه اِنزال به وشي (يعني مني به اُوځي) يا به په جِماع کښې اخته شي او [د هغې] شونډې او ژبه رودل په روژه کښې مطلقاً مکروه دي. هُم دغسې مُباشِرَتِ فاحِشه (يعني شرم ګاه سره شرم ګاه لګول)[1] (رَدُّالْمُحْتَارج٣ص٤٥٤)

﴿٥﴾ ګُلاب يا مُشك وغيره بوئې کول، ګِيره يا بريت په تيلو غوړول او رانجه لګول مکروه نه دي. (ايضاًص٤٥٥)

﴿٦﴾ د روژې په حالت کښې هر قِسمه **عِطر** بوئې کولې هُم شئ او لګولې هُم شئ. (ايضاً) هُم دغسې د روژې په حالت کښې په تيلو باندې بدن مالش کولو کښې هُم باك نشته.

﴿٧﴾ په روژه کښې **مِسواك** کول مکروه نه دي بلکه څنګه چه په نورو ورځو کښې سُنَّت دي هغسې په روژه کښې هُم سُنَّت دي، **مِسواك** که وچ وي او که شِين، اګر که په اوبو ئې لوند کړې وي، که د زَوال نه مخکښې ئې وکړې او که وروسته، يو وخت هُم مکروه نه دې.

(ايضاًص٤٥٨)

[1] واده والا کسان دِ د "کور والي" د نِيَّتونو وغيره د معلوماتو د پاره فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه جِلد ٢٣ صفحه ٣٨٥ تا ٣٨٦ کښې مسئله نمبر ١٤١ نه ١٤٢ پورې ولولي.



www.dawateislami.net

﴿۸﴾ په اکثرو خلقو کښې دا مشهوره ده چه د غرمې نه پس د روژه دار د پاره **مِسواك** کول مکروه دي دا زمونږه د مَذهَبِ حَنفِيه خِلاف دي. (بهارشریعت ج۱، ص۹۹۷) د حضرتِ سَیِّدُنا عامِر بِن رَبِیعه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوايت دې: "ما رَسُولِ پاك صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بیشمیره ځله په روژه کښې په **مِسواك** کولو لیدلې دې." (تِرمِذِی، ج۲ ص۱۷۶ حدیث۷۲۵)

﴿۹﴾ که **مِسواك** جوولو سره [د هغې نه] لشې رژیږي یا ئې خوند محسوسیږي نو داسې **مِسواك** په روژه کښې کول نه دي پکار. (فَتَاوٰیٰ رَضَوِیّه مُخرَّجة، ج۱۰، ص۵۱۱) که روژه ورته یاده وي او د مِسواك په جوولو یا په غاښونو پورې مرِلو کښې د هغې څه لشه یا څه جُز د حلق نه ښکته کوز شو او خوند ئې په حلق کښې **محسوس** شو نو **روژه** به ماته شي. او که دومره زیاتې لشې ئې د حلق نه ښکته لاړې چه د یوې چنړې د مِقدار همره وي نو اګر که په حلق کښې ئې خوند **محسوس** نه شي بیا به ئې هُم **روژه** ماته شي.

﴿۱۰﴾ د اَوداسه او غُسل نه علاوه [هُم] د یخوالي حاصلولو په غرض خُله وینځل یا پوزه کښې اوبه خیژول یا د [بدن] د یخوالي د پاره لامبل بلکه د بدن نه لـمده کپړه راتاوهل هُم مکروه نه دي. خو د پریشانئ ظاهرولو د پاره لـمده کپړه تاوهل مکروه دي ځکه چه په عبادت کښې زړه تنګیدل ښه خبره نه ده. (بهارشریعت ج۱، ص۹۹۷، رَدُّالْمُحْتَار ج۳، ص۴۵۹)

﴿۱۱﴾ بعضې اسلامي ورونړه په روژه کښې ساعت په ساعت لاړې تُوکـې، شائد د هغوئې دا خیال وي چه په روژه کښې لاړې تیرول نه دي پکار [حالانکه خُله کښې دننه چه کومې لاړې وي د هغې د تیرولو سره روژه نه ماتیږي]. البته په خُله کښې لاړې جمع کول او بیا تیرول، دا خو د **روژې** نه بغیر هُم ناخوښه کار دې او په روژه کښې مکروه. (بهارشریعت ج۱، ص۹۹۸)



www.dawateislami.net

﴿۱۲﴾ د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په ورځو کښې داسې کار کول جائز نه دي چه د هغې سره داسې کمزوري راشي چه د **روژې** ماتولو غالِب گُمان وي. لِهٰذا نانبائي [يعني ډوډۍ پخولو والا] ته پکار دي چه د غرمې پورې ډوډۍ پخوي او بيا په پاتې ورځ کښې آرام کوي. (دُرِّمُختار ج۳ ص٤٦٠) گيلکار او مزدور او نور د مَشقَّت کار کوونکي دِ په دې مسئله غور وکړي.

## د آسمان نه د کاغذ پُرزه راپريوته

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د روژو د شرعي اَحکامو زده کولو جذبه رابيدارولو د پاره د تبليغِ قُرآن و سُنَّت د عالـمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو د تربِيَّت په مَدَني قافِله کښې د **عاشِقانِ رَسُول** سره د سُنَّتو ډك سفر کول خپل معمول جوړ کړئ. يو ځل د سفر کولو تجرِبه وکړئ اِنْ شَآءَالله هغه ديني فائدې به حاصلې کړئ چه حيران به پاتې شئ. د ترغيب د پاره تاسو ته د **مَدَني قافِلې** يو مَدَنـي سپرلي اوروم: د قصبه کالونۍ (بابُ الْمَدينه کراچۍ) د يو اسلامي ورور په خاندان کښې جينکۍ ډيرې زياتې وې، د تره ئې ووه لونړه وې او د مشر ورور ئې نهه لونړه وې! د هغه واده وشو نو د هغه هُم لُور وشوه. ټول ډير پريشانه شو او د نن صبا عام ذِهن مطابق د ټولو په زړونو کښې گُمان پيدا شو چه چا جادو کړې دې او د نارينه اولاد سلسله ئې بنده کړې ده! هغه دا منښته وکړه چه که زما ځوئ پيدا شو نو د **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو د تربِيَّت د يوې مياشتې په مَدَني قافِله کښې به سفر کووم. د هغوئي د مَدَنـي ماشومې مور يو ځل خوب وليدو چه د آسمان نه د کاغذ يوه پرزه د هغې خوا ته راپريوته، چه راپورته ئې کړه نو په هغې باندې ليکلي شوي وو "**بِلال**." اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د يوې مياشتې د مَدَني قافِلې (د نِيَّت) په بَرَکت د هغه يو مَدَنـي ماشوم [يعني ځوئ] پيدا شو! صرف يو نه بلکه وروسته ئې پرله پسې دوه مَدَنـي ماشومان [يعني ځامن] نور پيدا شو. د **الله** تعالىٰ دې کرم ته اوګورئ! چه د يوې مياشتې د مَدَني قافِلې (د نِيَّت) بَرَکت صرف هغوئي پورې پاتې نه شو، بلکه په خاندان کښې



www.dawateislami.net

چه خوك خوك د نارينه اولاد نه محرومه وو د هغوئي ټولو مَدَنـي ماشومان [يعني ځامن] وشو. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه ته د علاقائي مَدَني قَافِله ذِمَّه دار په حيثيت د مَدَني قَافِلو د پاره د کوششونو کولو سعادت حاصل دې.

آکے تم با ادب، دیکھ لو فضلِ رب مدنی منّے ملیں، قافلے میں چلو
کھوٹی قسمت کھری، گود ہوگی ہری مُنَّا مُنّی ملیں، قافلے میں چلو

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٧٥)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## غوښتلې مُراد نه حاصليدل هُم اِنعام!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو وليده! د مَدَني قَافِلې په بَرَکت څنګه د زړه مُرادونه پوره کيږي! [د دې په بَرَکت] د اُمّيدونو شړ پټي آباديږي، د زړونو مړاوي غوټۍ سپړدلې کيږي او [د دې په بَرَکت] د غمژنو په کورونو کښې خوشحالئ راځي. خو دا ياد ساتئ چه ضروري نه ده چه د هر يو د زړه مُراد لازمي پوره شي. ډير ځل داسې وي چه بنده څه غواړي هغه د هغه په حق کښې بهتر نه وي او [الله تعالیٰ] د هغه سُوال نه پوره کوي، [بلکه] د هغه غوښتې مُراد نه حاصليدل د هغه د پاره انعام وي. مَثَلًا دا چه هغه نارِينه اولاد غواړي خو هغه ته [الله پاك] لونړه ورکوي او هُم دا د هغه په حق کښې ډير ځله بهتر هُم وي. چنانچه دويمه سيپاره، سُوْرَة الْبَقَرَه آيت نمبر ٢١٦ کښې اَللّٰهُ رَبُّ الْعِبَاد جَلَّ جَلَالُهٗ اِرشاد فرمائي:

عَسٰۤى اَنْ تُحِبُّوْا شَیْــٴًـا وَّ هُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ؕ (پ٢، اَلبَقَرة: ٢١٦)

مَفهُوم ترجمهٔ کَنْزُالْاِيمان: نزدې ده چه کومه خبره ستاسو خوښه شي او هغه ستاسو په حق کښې بده وي.



www.dawateislami.net

# د لُور فضائل

یاد ساتئ! د لُور فضیلت په هیڅ شان کم نه دې، په دې باره کښې درې **فَرامِینِ مُصطَفیٰ** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوګورئ: ﴿۱﴾ چا چه د خپلو درې لونړو پالنه وکړه هغه به جَنَّت ته ځي او هغه ته به د **الله** تعالیٰ په لار کښې د هُغه جِهاد کوونکي په مِثل اجر ورکولې کیږي چا چه د جِهاد په دوران کښې روژې ونیولې او لـمونځ ئې قائم کړو. (اَلتَّرغِیْب وَالتَّرهِیْب ج۳ ص٤٦ حدیث٢٦) ﴿۲﴾ د چا چه درې لونړه وي، هغه د هغوئي سره ښه سُلوك وکړي نو د هغه د پاره جَنَّت واجِب شي. عرض وکړې شو: او چه دوه وي نو؟ اِرشاد ئې اُوفرمائیلو: او چه دوه وي بیا هُم. عرض وکړې شو: که یوه وي نو؟ اِرشاد ئې اُوفرمائیلو: که یوه وي بیا هُم.. (اَلمُعْجَمُ الْاَوْسَط ج٤ ص٣٤٧ حدیث٦١٩٩ مُلَخَّصاً) ﴿۳﴾ چا چه په خپلو دوو لونړو یا دوو خویندو یا په دوو خپلوانو ماشومانو جینکو باندې د ثواب په نِیَّت خرچه وکړه تر دې چه **الله** تعالیٰ هغوئي بې نیازه کړې (یعني د هغوئي نِکاح وشي یا هغوئي صاحِبِ مال [یعني د مال خاونداني] شي یا د هغوئي وفات وشي) نو هغوئي به د هغه د پاره د اور نه رُکاوټ [جوړې] شي. (مُسْنَد اِمام اَحمَد بِن حَنْبَل ج١٠ ص١٧٩ حدیث٢٦٥٧٨)

# د روژې نه نیولو مجبوریانې

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! بعضې مجبوریانې داسې دي چه د هغې په سبب په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې د **روژه** نه نیولو اِجازت دې. خو دا یاد ساتئ چه په مجبورئ کښې **روژه** مُعاف نه ده، د هغه مجبورئ د ختمیدو نه پس د هغې قضا نیول فرض دي، البته د **قضا** ګناه به نه وي ځنګه چه په "بهارِ شریعت جِلد اَوَّل صفحه ١٠٠٢" کښې د "دُرِّ مُختار" په حواله لِیك دي چه سفر او **حَمْل** او ماشوم ته پئ ورکول او مرض او بوډاوالې او د هلاکت و اِکراه (یعني که څوك د قتل کولو یا د یو اندام د پریك کولو یا د سختو وهلو د ربنتیاؤ دباو واچوي او اُووائي چه روژه ماته کړه. که روژه دار پوهیږي چه دا وئیوونکي چه څه وائي دا به وکړي نو په داسې صُورت کښې روژه ماتول یا



www.dawateislami.net

پرېښودل ګناه نه ده. ”د اِکراه نه هُم دا مُراد دي“) او نُقصانِ عقل [يعني عقل ته نقصان رسيدل] او جِهاد دا ټول د روژه نه نيولو عُذرونه دي، په دې وجهو که څوك روژه ونه نيسي نو ګنهګار نه دې.

(دُرِّ مُختار ج۳ ص٤٦٢)

# شرعي سفر

د سفر په دوران کښې د روژه نه نيولو اِجازت دې. د سفر په مِقدار هُم ځان پوهه کړئ. د سيِّدی و مُرشِدی اِمامِ اهلِسُنّت اعلیٰ حضرت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د تحقيق مطابق شرعاً د سفر مِقدار **ووه پنځوس نيم ميله** (يعني تقريباً ۹۲ کلومِيټره) دې. څوك چه د دومره مِقدار په فاصِله باندې د تللو په غرض د خپل ښار يا کلي يا آبادئ نه بهر اُووتلو نو اوس هغه شرعاً مُسافِر دې، هغه ته د روژه قضا کولو او بيا نيولو اجازت دې او هغه به په لمونځونو کښې هُم قَصر کوي. مُسافِر که روژه نيول غواړي نو نيولې ئې شي خو د څلورو رکعاتو په فرض لمانځه کښې د هغه د پاره قَصر کول واجِب دي، که نه ئې کوي نو ګنهګار به وي. او که قصداً [يعني اِرادَتاً] ئې څلور وکړل او په دوو باندې ئې قَعده وکړه نو فرض ادا شو او وروستي دوه رکعاته نفل شو خو ګنهګار او د اور د عذاب حقدار شو ځکه چه واجِب ئې پرېښودل، لِهذا توبه دِ وکړي (او د لمانځه اِعاده [يعني بيا کول] واجِب دي) او که په دوو رکعاتو ئې قَعده ونکړه نو فرض ادا نه شو او هغه لمونځ نفل شو. (بهارِ شريعت ج۱، ص۷٤۳) او که جِهالتاً (يعني د عِلم نه لرلو په وجه) ئې پوره (څلور) وکړل نو د دې لمانځه بيا راګرځول هُم واجِب دي“. (فتَاوىٰ رَضَوِيّه مُخرّجة، ج۸، ص۲۷۰ مُلَخَّصاً) يعني که د معلوماتو نه کيدو په وجه ئې هُم تر اوسه پورې څومره لمونځونه په سفر کښې پوره کړي دي د هغې حساب به لګوي او د څلورو رکعاتو فرضو په ځائ به د قَصر په نِيَّت دوه دوه فرض راګرځوي. خو مُسافر به په مُقِيم اِمام پسې فرض څلور رکعاته پوره کوي. د سُنَّتو او وِترو راګرځولو ضرورت نشته. قَصر صرف د ماسپښين، مازديګر او ماسخُ‍ په فرضو رکعاتو کښې کول



www.dawateislami.net

دي. يعني په دې کښې به د څلورو رکعاتو فرضو په ځائ دوه رکعاته ادا کوي، باقي د سُنَّتو او وِترو رکعاتونه به پوره ادا کيږي، بل ښار يا کلي وغيره ته درسيدو نه پس ئې چه تر څو پورې د پينځلّسو ورځو نه د کم وخت پورې د قِيام نِيَّت وو نو مسافر به ګڼړلې شي او د مُسافِر احکام به پرې وي او که مُسافِر هلته ورسيدو او د پينځلّسو ورځو يا د هغې نه د زيات قِيام نِيَّت ئې وکړو نو بيا به د مُسافِر اَحکام ختم شي او هغه به مُقيم ګڼړلې شي. اوس به هغه روژه هُم نيسي او لمونځ به هُم قصر نه کوي. د سفر مُتَعَلِّق د ضروري اَحکامو د تفصيلي معلوماتو حاصلولو د پاره د بهارِ شريعت د څلورمې حِصّې باب ”مُسافِر کی نماز“ يا د مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنه رِساله ”د مُسافِر لمونځ“ ولولئ.

## د ”اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا سَيِّدِیْ يَا رَسُوْلَ الله“ د درې ديرشو حُرُوفو په نِسبت د روژه نه نيولو په اِجازت مُشتَمِل ۳۳ مَدَني ګلونه

(د هغه مجبورئ د ختميدو په صُورت کښې به د هرې روژې په بدله کښې يوه روژه قضا نيول وي)

﴿۱﴾ **مُسافِر** ته د روژه نيولو يا نه نيولو اختيار دې. (رَدُّالْمُحْتَار ج۳ ص۴۶۲)

﴿۲﴾ که بخپله هغه **مُسافِر** ته او د هغه [د لارې] ملګري ته روژه نيولو کښې ضَرَر (يعني نُقصان) نه رسي نو روژه نيول په سفر کښې بهتر دې او که دواړو يا په هغوئي کښې يو ته نقصان رسي نو روژه نه نيول بهتر دي. (دُرِّمُختار ج۳ ص۴۶۵)

﴿۳﴾ که **مُسافِر** د ضَحْوَۂ کُبریٰ[1] نه مخکښې اِقامَت وکړو او تر اوسه ئې څه نه وي خوړلي نو د روژې نِيَّت کول واجِب دي. (جَوْهَره ج۱ ص۱۸۶)

---

[1] د ضَحْوَۂ کُبریٰ تعريف په صفحه ... اوګورئ.



www.dawateislami.net

﴿٤﴾ كه د ورځې ئې سفر وكړو نو د هغه ورځې **روژه** پرېښودلو د پاره د نن سفر عُذر نه دې. البته كه د سفر په دوران كښې ئې ماته كړې نو كَفّاره به پرې لازِمه نه راځي خو ګناه به ضرور وي. (عالمگیری ج۱، ص۲۰٦) او د روژې قضا راګرځول به فرض وي.

﴿٥﴾ كه د سفر شروع كولو نه مخكښې ئې ماته كړه بيا ئې سفر شروع كړو نو (كه د كَفّارې شرائط پوره شو نو د قضا راګرځولو سره سره به) كَفّاره هُم لازِمه راځي. (ايضاً)

﴿٦﴾ كه په ورځ كښې ئې سفر شروع كړو (او د سفر په دوران كښې ئې روژه نه وه ماته كړې) او په كور كښې ترې څه څيز هير شوې وو او اوس [بيرته] راغې او روژه ئې ماته كړه نو (د شرائطو پوره كيدو په صُورت كښې) كَفّاره واجِب ده. او كه د سفر په دوران كښې ئې ماته كړې وې نو صرف قضا نيول به فرض وې څنګه چه په نمبر٤ كښې تير شو. (عالمگیری ج۱ ص۲۰۷)

﴿٧﴾ څوك په روژه ماتولو مجبوره كړې شو نو روژه خو ماتولې شي خو كه صبر ئې وكړو نو اجر به حاصل كړې. (رَدُّالْمُحْتَار ج۳، ص٤٦٢) (د مجبورئ تعريف صفحه ... كښې اوګورئ)

﴿٨﴾ مار وچيچلو او د مرګ خطره ئې پيدا شوه نو روژه دِ ماته كړې. (ايضاً)

﴿٩﴾ كومو خلقو چه د دې مجبوريانو په وجه روژه ماته كړه په هغوئې فرض دې چه د هغه روژو قضا ونيسي او په دې قضا روژو كښې ترتيب فرض نه دې، لِـهذا كه د هغه روژو نيولو نه مخكښې ئې نفل روژې ونيولې نو دا نفل روژې وشوې، خو حُكم دا دې چه د عُذر ختميدو نه پس د راروان رَمَضَانُ الْمُبَارَك د راتلو نه مخكښې مخكښې قضا ونيسي. په حديثِ پاك كښې فرمائيلې شوي دي: په چا چه د تير شوي رَمَضَانُ الْمُبَارَك قضا باقي وي او هغه ونه نيسي، د هغه د دې رَمَضَانُ



www.dawateislami.net

**اَلْمُبَارَك** روژې به نه قبلیږي.'' (مُسْنَدِاِمام اَحمَد،ج۳ص۲٦٦حدیث۸٦۲۹) که وخت تیریدو او قضا روژې مو نه نیولې تر دې چه بل **رَمَضان** شریف راغې نو اوس د قضا روژو نیولو په ځائ **محکښې** د هُم دې **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** روژې ونیسئ، قضا وروسته ونیسئ. بلکه که غیرِ مریض او مُسافِر د قضا نِیَّت وکړو نو بیا به هُم قضا نه بلکه د هُم دې **رَمَضان** شریف روژې وي. (دُرِّمُختار،ج۳،ص٤٦٥)

﴿۱۰﴾ که لوږه او تنده داسې وي چه د هلاك (یعني مړ) کیدو صحیح یَره وي یا د نُقصانِ عقل [یعني عقل ته د نقصان رسیدو] اندیښنه وي نو روژه دِ نه نیسي. (دُرِّمُختار ورَدُّالْمُحْتَار ج۳ص٤٦۲)

## که فاسِق یا غیر مُسلِم ډاکټر د روژه نه نیولو مشوره ورکړي نو؟

﴿۱۱﴾ فُقَهائے کِرام چه د روژه نه نیولو کوم رخصتونه بیان کړي دي په هغې کښې دا هُم داخل دې چه مریض ته د مرض زیاتیدو یا زیات وخت کښې د ښه کیدو یا تندرُست ته د بیماریدو غالِب گُمان وي نو اجازت دې چه په هغه ورځ **روژه** نه نیسي. د دې گُمانِ غالِب د حاصلیدو دریم صُورت د یو مسلمان، حازِق طبیبِ مَستُور یعني غیرِ فاسِق ماهِر ډاکټر خبر هُم دې لیکن په دې زمانه کښې داسې طبیب (ډاکټر) پیدا کیدل ډیر زیات مشکل دي نو اوس د ضرورتِ زمانه په لحاظ ساتلو د دې خبرې اجازت شته چه که یو قابِلِ اِعتِماد فاسِق یا غیر مُسلِم طبیب (ډاکټر) هُم که روژه نیول د صِحت د پاره نقصاني وگرځوي او د روژې نه نیولو اُووائي او مریض هُم پخپله ظَن او تَحَرِّي (یعني گُمان او سوچ) وکړي چه روژې ماتولو یا نه نیولو باندې پوهه شي نو بیا که هغه په خپل ظَنِّ غالِب (یعني مضبوط سوچ) باندې عمل وکړو او روژه ئې ماته کړه یا ئې ونه نیوله نو هغه به گنهگار نه وي او د روژې ماتولو په صُورت کښې به په هغه کَفّاره هُم لازِمه نه وي خو قضا به پرې په هر صُورت کښې ضرور فرض وي او په تَحَرِّي (یعني سوچ کولو) کښې دا هُم ضروري دي



www.dawateislami.net

چه د مریض زړه په دې خبره مُطمَئِن شي چه دا طبیب (ډاکټر) راته هسې فُضُول د روژه ماتولو نه وائي او په دې کښې به هُم زیاته بهتره دا وي چه د یو نه زیات ډاکټرانو نه رائے واخلي.

## روژه او حیـ و نِفاس

﴿۱۲﴾ که د روژې په حالت کښې حیض یا نِفاس شروع شو نو هغه روژه ماته شوه د هغې قضا دِ ونیسي، که فرض وه نو قضا ئې فرض ده او که نفل وه نو قضا ئې واجِب ده. د حیض او نِفاس په حالت کښې سَجدهٔ شُکر او تلاوت حرام دې او آیتِ سَجده اوریدو باندې په هغې سَجده واجِب نه ده. (بهارِشریعت ج۱ص ۳۸۲) ﴿۱۳﴾ د حیض یا نِفاس په حالت کښې لـمونځ [کول] او روژه [نیول] حرام دې او په داسې حالت کښې لـمونځ او روژه صحیح نه وي [یعني د سره نه کیږي]. او تِلاوتِ قُرآنِ پاك یا د قُرآنِ پاك آیاتِ مُقَدَّسه یا د هغې ترجَمې ته لاس لګول دا ټول حرام دي. (ایضاًص۳۷۹، ۳۸۰) ﴿۱۴﴾ د حیض یا نِفاس والا ته اختیار دې چه که پټ خوراك کوي او که ښکاره، د روژه دار په شان اوسیدل د هغې د پاره ضروري نه دي. (جَوْهَره ج۱ص۱۸۶) ﴿۱۵﴾ خو پټ خوراك کول بهتر دي، خُصُوصاً د حیض والا د پاره. (بهارِشریعت ج۱، ص۱۰۰٤) ﴿۱٦﴾ حمل والا یا [ماشوم ته] پیۍ ورکوونکي ښځې ته که د خپل مرګ یا د ماشوم د مرګ صحیح اندیښنه وي نو اجازت دې چه دغه وخت **روژه** نه نیسي، که پیۍ ورکوونکي د ماشوم مور وي او اګر که دائي وي، اګر که په **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** کښې ئې ماشوم ته د پیۍ ورکولو نوکري اختیار کړې وي. (رَدُّالْمُحتَار و دُرِّمُختار ج۳ ص٤٦٣)

## د ډیر عُمر د بوډا روژې

﴿۱۷﴾ "شیخِ فاني" یعني هغه مُعَمَّر [یعني د ډیر عُمر] بوډا چه د هغه عُمر دومره شوې وي چه اوس هغه ورځ په ورځ کمزورې کیږي، چه کله هغه د روژه نیولو نه عاجِزه (یعني مجبوره او بې وسه) شي



www.dawateislami.net

يعني نه ئې اوس نيولې شي او نه ئې آئنده د طاقت راتلو اُمِيد وي هغه ته اوس د روژو نه نيولو اِجازت دې، لِهٰذا د هرې روژې په بدله کښې ”فِديه“ يعني دواړه وخته په يو مِسکِين په مړه ګېډه طعام خوړل په هغه باندې واجِب دي يا دِ د هرې روژې په بدله کښې د يوې **صَدَقهٔ فِطر** مِقدار مِسکِين ته ورکړي. (دُرِّمُختارج٣ص٤٧١) (د صَدَقهٔ فِطر يو مِقدار د ٢ کلو نه ٨٠ ګرامه کم غنم يا د هغې وړه يا د هغه غنمو رقم دې)

﴿١٨﴾ که داسې بُوډا په اُوړي [يعني د ګرمۍ په موسم] کښې روژې نه شي نيولې نو نه دِ ئې نيسي خو د دې په بدله کښې په جمې کښې نيول فرض دي. (رَدُّالْمُحْتَار ج٣، ص٤٧٢)

﴿١٩﴾ که فِديه ورکولو نه پس د روژې نيولو طاقت راغې نو ورکړې شوې فِديه صَدَقهٔ نفل شوه. د هغه روژو قضا دِ ونيسي. (عالمگیری ج١، ص٢٠٧)

﴿٢٠﴾ دا اختيار شته دې چه د **رَمَضان** په شروع کښې د ټول **رَمَضان** (د ټولو روژو) فِديه په يو ځل ورکړئ يا په آخره کښې (ټوله په يو ځل) ورکړئ. (دُرِّمُختارج٣ص٤٧٢)

﴿٢١﴾ فِديه ورکولو کښې دا ضروري نه ده چه څومره فِديې دي هُم هغه هُمره مِسکِينانو ته دِ ئې جُدا جُدا ورکړي، بلکه يو مِسکِين ته د ډېرو ورځو (په يو ځل) هُم ورکولې شي. (ايضاً)

## د نفلي روژې ماتولو صرف قضا وي كَفّاره ئې نشته

﴿٢٢﴾ نفل روژه قصداً [يعني اِرادَتاً] شروع کوونکي باندې اوس پوره کول واجِب شي. (رَدُّالْمُحْتَار ج٣ص٤٧٣)

﴿٢٣﴾ که په دې ګُمان مو روژه ونيوله چه زما په ذِمّه څه [قضا] روژه ده خو روژه شروع کولو نه پس معلومه شوه چه په ما د هيڅ قِسم يوه روژه هُم نشته. اوس که فوراً مو ماته کړه نو هيڅ



www.dawateislami.net

نشته او د دې معلوملو نه پس مو که فوراً ماته نه کړه، نو اوس ئې نه شئ ماتولې، که ماته ئې کړېئ نو قضا به واجب شي. (دُرِّمُختار ج۳، ص۴۷۳)

﴿۲۴﴾ نفل روژه ئې که قصداً [یعني اِرادَتاً] ماته نه کړه بلکه بې اختیاره ماته شوه، مَثَلًا د روژې په دوران کښې د زنانه حیض شروع شو، بیا هُم قضا واجب ده. (ایضاً ص۴۷٤)

## په کال کښې پینځه روژې حرامې دي

﴿۲۵﴾ د واړه اختر [په ورځ] یا د غټ اختر څلور ورځو یعنې ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳ ذُوالْحِجَّةِالْحَرام کښې ئې د هرې ورځې نفل روژه ونیوله نو (ولې چه په دې پینځه ورځو کښې روژه نیول حرام دي لِـهذا) د دې روژې پوره کول واجِب نه دي، نه د دې په ماتولو قضا واجب ده بلکه د دې ماتول واجب دي او که په دې ورځو کښې ئې د روژې نیولو منښته وکړه نو منښته پوره کول واجب دي خو په دې ورځو کښې نه بلکه په نورو ورځو کښې. (رَدُّالْمُحتَار ج۳ ص۴۷٤)

﴿۲۶﴾ نفل روژه بې عُذره ماتول ناجائزه دي، میلمه سره که کوربه [طعام] نه خوري نو هغه به دا [خبره] نه خوښوي، یا میلمه که طعام نه خوري نو کوربه ته به تـکلیف رسي نو نفل روژه ماتولو د پاره دا عُذر دې، په شرط د دې چه دا یقین ئې وي چه د دې قضا به ونیسي او د ضَحْوَهٔ کُبریٰ نه مخکښې دِ ئې ماته کړي وروسته نه. (بهارِشریعت ج۱ ص۱۰۰۷، عالمگیری ج۱، ص۲۰۸)

## د دعوت په سبب روژه ماتول

﴿۲۷﴾ د دعوت په سبب د ضَحْوَهٔ کُبریٰ نه مخکښې (نفل) روژه ماتولې شي هله چه دعوت کوونـکي صرف د ده په موجودګئ راضي نه شي او د ده د نه خوړلو په سبب خفه کیږي په شرط د دې چه دا یقین لري چه وروسته به ئې ونیسي، لِـهذا بیا دِ روژه ماته کړي او د هغې



www.dawateislami.net

قضا دِ ونيسي. خو كه دعوت كوونكي صرف د ده په موجودګئ باندې راضي شي او په نه خوړلو نه خفه كيږي نو د روژې ماتولو اجازت نشته. (عالمګيرى ج۱، ص۲۰۸)

﴿۲۸﴾ نفل روژه د زوال نه پس د مور او پلار د خفګان په سبب ماتولې شي او په دې [يعني داسې حالت] كښې ئې د مازديګر نه مخكښې ماتولې شي د مازديګر نه پس نه. (دُرِّمُختار، رَدُّالْمُحْتَار ج۳ ص۴۷۷)

## ښځه د خاوند د اجازت نه بغير نفل روژه نه شي نيولې

﴿۲۹﴾ ښځه دِ د خاوند د اِجازت نه بغير نفلي او د منښتې او د قَسَم روژې نه نيسي او كه وئې نيوله نو خاوند ئې پرې ماتولې شي خو كه ماته ئې كړې نو **قضا** به ئې واجب وي خو د دې په **قضا** كښې هُم د خاوند اجازت پكار دې. يا د خاوند او د هغې په مينځ كښې جُدائي وشي يعني طلاقِ بائن[1] وركړې [نو بيا د اجازت غوښتلو ضرورت نشته] يا مړ شي. [چه نكاح خو برقرار وي] خو كه په روژه نيولو كښې خاوند ته څه باك نه كيږي، مَثَلًا هغه په سفر كښې دې يا بيمار دې يا په اِحرام كښې دې نو په داسې حالتونو كښې بې اجازته هُم **قضا** نيولې شي بلكه كه هغه ئې منع كوي نو هُم نيولې ئې شي. البته په دې ورځو كښې هُم د خاوند د اجازت نه بغير نفل روژه نه شي نيولې. (رَدُّالْمُحْتَار ج۳ص۴۷۷، ۴۷۸)

﴿۳۰﴾ د رَمَضَانُ الْمُبَارَك او د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د قضا [روژو نيولو] د پاره د خاوند د اجازت هيڅ ضرورت نشته بلكه د هغه په منع كولو دِ ئې هُم ونيسي. (دُرِّمُختار، رَدُّالْمُحْتَار ج۳ ص۴۷۸)

﴿۳۱﴾ كه تاسو د چا مُلازِم ئې يا د هغه سره په مزدورئ كار كوئ نو د هغه د اجازت نه بغير نفل روژه نه شئ نيولې ځكه چه د روژې په وجه به په كار كښې سستي راځي. خو كه د روژې

---

[1] (طَلاقِ بائن: هغه طلاق ته وائي چه په هغې كښې ښځه د نكاح نه اُوځي، بيا خاوند رُجُوع نه شي كولې)



www.dawateislami.net

نیولو باوجود تاسو باقاعده کار کولې شئ، د هغه په کار کښې هیڅ قِسمه کوتاهي نه کیږي، کار پوره کیږي نو بیا د نفل روژې د اِجازت اخستلو ضرورت نشته. (رَدُّالْمُحْتَار ج۳ص۴۷۸)

﴿۳۲﴾ د نفل روژې د پاره لور له د پلار نه، مور له د ځوئ نه، خور له د ورور نه د اجازت اخستلو ضرورت نشته. (ایضاً)

﴿۳۳﴾ مور او پلار که ځوئ د نفل روژې نه منع کړي، په دې وجه چه د مرض اندیښنه ده نو د مور او پلار اِطاعت [یعني فرمانبرداري] دِ وکړي. (ایضاً)

اوس د ”لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ“ د دولسو حُروفو په نِسبت ”دولس مَدَنـي ګُلونه“ د هغه خیزونو مُتَعَلِّق بیانیږي چه د هغې په کولو صرف قضا لازمیږي. د قضا طریقه دا ده چه د هرې روژې په بدله کښې دِ د رَمَضَانُ الْمُبَارَك نه پس د قضا په نِیَّت یوه روژه ونیسي.

## د ”لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ“ د دولسو حُروفو په نِسبت د هغه خیزونو مُتَعَلِّق ”۱۲ مَدَنـي ګلونه“ چه په هغې صرف قضا لازمیږي

﴿۱﴾ دا ګُمان ئې وو چه سحر شوې نه دې او خوراك څښاك یا جِماع ئې وکړه، وروسته ورته معلومه شوه چه سحر شوې وو نو روژه ونشوه، د دې روژې قضا راګرځول ضروري دي یعني د دې روژې په بدله کښې به یوه روژه نیسي. (بهارشریعت ج۱ص۹۸۹، رَدُّالْمُحْتَار ج۳ص۴۳۰)

## که د چا په مجبوره کولو ئې روژه ماته کړه

﴿۲﴾ په خوراك سخت مجبوره کړې شو یعني اِکراهِ شرعي ثابِت شوه، اوس ولې چه مجبوري ده، لِـهذا اګر که په خپل لاس ئې خوړلي وي صرف قضا لازِم ده. (بهارشریعت ج۱ص۹۸۹) د دې مسئلې



www.dawateislami.net

خُلاصه دا ده که څوك د قتل کولو یا د اندام پریك کولو یا ډیر زیات وهلو صحیح دباو واچوي چه روژه ماته کړه! که روژه دار په دې پوهیږي چه دباو اچوونکې چه څه وائي هغه به وکړي نو اوس ''اِکراهِ شرعي'' ثابته شوه او په داسې صُورت کښې د روژې ماتولو اجازت دې خو وروسته د دې روژې قضا لازمي ده.

﴿۳﴾ په هیره ئې خوراك، څښاك وکړو یا ئې جِماع وکړه، یا [ښځې وغیره ته] په کتلو ئې اِنزال وشو (یعني مَني ئې اُووتله) یا ورته اِحتِلام شوې وو یا ئې اُلټۍ وکړې او په دې ټولو صورتونو کښې ئې دا ګُمان وکړو چه روژه مې ماته شوه، اوس ئې قصداً [یعني اِرادَتاً] خوراك څښاك وکړو نو صِرف قضا فرض ده. (دُرِّمُختار ج۳ ص۴۳۱)

﴿۴﴾ که د روژې په حالت کښې ئې په پوزه کښې دوائي واچوله نو روژه ماته شوه او د هغې قضا لازِم ده. (ایضاًص۴۳۲)

﴿۵﴾ کانړې، شګۍ، مالوچ، ګیاه، کاغذ وغیره داسې څیز ئې اوخوړ چه د هغې نه خلق کرکه کوي، په هغې روژه خو ماته شوه خو صرف قضا به نیسي. (دُرِّمُختار ج۳ ص۴۳۳ مُلَخَّصاً)

﴿۶﴾ که د باران اوبه یا ګلئ ئې حلق ته لاړه نو روژه ماته شوه او قضا لازم ده. (ایضاًص۴۳۴ مُلَخَّصاً)

﴿۷﴾ ډیره شې خوَله یا اوښکې ئې تیرې کړې نو روژه ماته شوه، قضا به نیسي. (بهارشریعت ج۱ص ۹۸۹)

﴿۸﴾ ګُمان ئې وکړو چه اوس خو لا شپه پاتې ده او پیشمني کولو کښې لګیا وو او وروسته خبر شو چه د پیشمني وخت ختم شوې وو. په دې صُورت کښې هُم روژه ماته شوه او قضا به نیسي. (دُرِّمُختار ج۳ ص۴۳۶)



www.dawateislami.net

﴿۹﴾ هُم دغسې ګُمان ئې وکړو چه لـمر پرېوتې دې او خوراك څښاك ئې وکړو او وروسته معلومه شوه چه لـمر نه وو پرېوتې، بيا هُم روژه ماته شوه او قضا دِ ونيسي. (دُرِّمُختار ج۳ ص۴۳٦،بهارِشريعت ج۱ص ۹۸۹)

﴿۱۰﴾ که د لـمر پرېوتو نه مخکښې د سائرن [يعني بونګې] آواز راغې يا د ماښام اذان شروع شو او روژه ئې ماته کړه او وروسته معلومه شوه چه سائرن يا اذان د وخت نه مخکښې شروع شوې وو، روژه ماته شوه. قضا به نيسي. (رَدُّالمُحتَار ج۳ ص۴۳۹ ماخوذاً)

﴿۱۱﴾ نن صبا د بې پرواهئ دور دې، هر يو ته پکار دي چه د خپلې روژې پخپله حفاظت کوي. سائرن او د رېډيو، ټې وي اعلان بلکه د جُمات اذان دِ هُم کافي نه ګڼړي بلکه پخپله دِ د پيشمنې او روژه ماتې د صحيح وختونو معلومات ساتي.

﴿۱۲﴾ اودس ئې کولو او په پوزه کښې ئې اوبه واچولې او دِماغو ته وختلې يا د حلق نه ښکته لاړې، که روژه دار کېدل ورته ياد وو نو روژه ئې ماته شوه او قضا لازِم ده. خو که هغه وخت ورته روژه دار کېدل ياد نه وو نو روژه ماته نه شوه. (عالمګيرى ج۱، ص۲۰۲)

## د کَفّارې اَحکام

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د رَمَضَانُ الْمُبَارَك روژه نيولو نه پس بغير دځه صحيح مجبورئ نه قصداً [يعني د اِرادَتاً] ماتولو په وجه په بعضو صورتونو کښې صرف قضا لازِمه راځي او په بعضو صورتونو کښې د قضا سره سره کَفّاره هُم واجبه کيږي.



www.dawateislami.net

## د روژې د کَفّارې طريقه

د روژې د ماتولو کَفّاره دا ده چه کيدې شي نو يو غُلام يا يوه وِينځه دِ آزاده کړي او که دا نه شي کولې يعني هغه سره نه وِينځه يا غُلام شته نه دومره مال چه پرې اخستې شي، يا مال خو ورسره شته خو غُلام نه پيدا کيږي، څنګه چه نن صبا وِينځه او غُلام نه موندل شي نو بيا دِ پرله پسې شپيته روژې ونيسي. (ياد ساتئ که د هجري سِن د مياشتې د يکم تاريخ نه ئې شروع کړئ نو پوره دوه مياشتې روژې ونيسئ، کيدې شي چه دواړه مياشتې د يو کم ديرش يو کم ديرش ورځو راشي نو په ۵۸ روژو به کَفّاره ادا شي او که د يکم تاريخ نه پس په بله ورځ روژې شروع کړئ نو بيا به پرله پسې شپيته روژې نيسئ) که دا هُم نه شي کيدې نو په شپيته مِسکينانو په مړه ګيډه دوه وخته طعام اوخورئ. دا ضروري ده چه که په چا ئې يو وخت اوخوړله په دويم وخت ئې هُم په هغه اوخوري. دا هُم کيدې شي چه شپيته مِسکينان د يوې يوې صَدَقهٔ فِطر (مَثَلًا په دوه کلو کښې ۸۰ ګرامه کم غنم يا د هغې د رقم) مالِکان کړې شي. يو مِسکين ته په يو ځل شپيته صَدَقهٔ فِطر نه شئ ورکولې، خو دا کولې شئ چه صرف يو ته شپيته ورځې هره ورځ يوه يوه صَدَقهٔ فِطر ورکوئ.[1] د روژو په صورت کښې (د کَفّاره ادا کولو په دوران کښې) که په مينځ کښې د يوې ورځې روژه هُم پاتې شوه نو بيا به د نوي سر نه شپيته روژې نيول غواړې مخکښنئ روژې به پکښې نه شميرلې کيږي اګر که يو کم شپيته ئې نيولې وې، اګر که د بيمارئ وغيره يا د څه عُذر په سبب پاتې شوي وي. (بهارِشريعت ج۱ص۹۹۴ مُلَخَّصاً)

## زنانه او د کَفّارې روژې

که زنانه د **رَمَضان** روژه ماته کړه او په کَفّاره کښې ئې روژې نيول شروع کړې او حيض ئې شروع شو نو د سره نه د نيولو حُکم نشته بلکه چه څومره پاتې دي د هغې نيول کافي دي.

[1] په کَفّاره کښې د صَدَقهٔ فِطر ورکولو مسئله په بهارِ شريعت جِلد ۲ صفحه ۲۱۵ کښې کتلې شئ.



www.dawateislami.net

خو که د هغه حيض نه پس ”آئـسه“ شوه يعني اوس ئې عُمر داسې شو چه حيض به ئې نه راځي نو د سره نه به د نيولو حُکم ورکولې کيږي ځکه چه هغه اوس مسلسل د دوو مياشتو روژې نيولې شي او که د کَفّارې (د روژو نيولو) په دوران کښې د زنانه ماشوم پيدا شو نو د سره دِ ئې ونيسي. (بهارشريعت ج۲ص ۲۱٤)

## آئـسه په څومره عُمر کښې

کم نه کم به د نهو کالو د عُمر نه حيض شروع کيږي او اِنتِهائي [يعني زيات نه زيات] عُمر د حيض راتلو پينځه پنځوس کاله دي. د دې عُمر زنانه ته آئـسه او دې عُمر ته ”سِنِ اَياس“ وائي. (بهارشريعت ج۱ص۳۷۲)

## د کَفّاره واجِب کيدو يو صُورت

چا چه د شپې نه د **رَمَضان** د ادا روژې نِيَّت کړې وي او بيا سحر يا د ورځې په هر وخت کښې بلکه د روژه ماتي [د وخت] نه يو ساعت مخکښې هُم د څه صحيح **مجبورئ** نه بغير په څه داسې څيز چه د هغې نه طبيعتِ انساني نفرت نه کوي (مَثَلًا خوراك څښاك، چائے، ميوه، بِسکِټ، شربت، شهد، مِټهائي وغيره) باندې ئې عَمَداً (يعني اِرادتاً) ماته کړې نو بيا به د **رَمَضان شريف** نه پس د هغه روژې د قضا په نِيَّت يوه روژه نيسي او د هغې کَفّاره به هُم ادا کوي. اعلیٰ حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه فرمائي: که چا د شرعي عُذر نه بغير د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** ادا روژه چه د هغې نِيَّت ئې د شپې نه کړې وو بِالقَصد (يعني اِرادتاً) ئې په څه خوراك يا دوائي يا فائده رسوونکي څيز باندې ماته کړه او د ماښامه پورې (يعني د روژه ماتي د وخت نه مخکښې) څه داسې عارِضه [يعني بيماري يا بل عُذر] لاحِق نه شو چه د هغې په وجه به نن شرعاً روژه نيول ضروري نه وې (مَثَلًا زنانه ته په هُم هغه ورځ حيض يا نِفاس راغې يا د روژه نيولو نه



www.dawateislami.net

پس په هُم هغه ورځ داسې بیمار شو چه په هغې کښې د روژه نه نیولو اجازت دې) نو د دې جُرم په جُرمانه کښې شپیته روژې مسلسل نیول وي. که هسې ئې روژه نه وي نیولې د هغې قضا صرف یوه روژه ده. (فتَاویٰ رَضَوِیّه مُخرّجة، ج۱۰، ص)

## د کَفّارې مُتَعَلِّق ۱۱ مَدَنـي ګلونه

﴿۱﴾ په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې یو عاقِل بالِغ مُقِیم (کوم چه شرعي مُسافِر نه وي هغه) د رَمَضان د ادا روژې په نِیَّت روژه ونیوله او بغیر د څه صحیح مجبورئ نه ئې جِماع وکړه یا ئې په بل د ځان سره وکړه، یا ئې که کوم یو څیز د خوند د پاره اوخوړو یا وڅښلو نو روژه ماته شوه او د هغې قضا او کَفّاره دواړه لازِم دي. (بهارشریعت ج۱ص۹۹۱)

﴿۲﴾ کوم ځائ چه د روژه ماتولو کَفّاره لازِمه راځي، په هغې کښې شرط دا دي چه د شپې نه ئې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د روژې نِیَّت کړې وي، که د ورځې ئې نِیَّت وکړو او ماته ئې کړه نو کَفّاره لازِمه نه ده صرف قضا کافي ده. (جَوْهَره ج۱ص۱۸۰)

﴿۳﴾ اُلتئ [یعني کرخُون] ئې وکړو، یا ئې په هیره خوراك [څښاك] وکړو [یا ئې په هیره] جِماع وکړه او په دې ټولو صورتونو کښې هغه ته معلومه وه چه روژه ماته نه شوه بیا ئې هُم خوراك [څښاك] وکړو نو کَفّاره لازِمه نه ده. (رَدُّالْمُحْتَار ج۳ص۴۳۱)

﴿۴﴾ اَحتِلام ئې وشو او ورته معلومه هُم وه چه روژه ماته نه شوه د دې باوجود ئې خوراك وکړو نو کَفّاره لازِم ده. (ایضاً)

﴿۵﴾ خپلې تُوکلې لاړې ئې وڅټلې یا ئې د بل لاړې تیرې کړې نو کَفّاره نشته خو د محبوب (یعني چا سره ئې چه مینه ده د هغه لاړې) ئې د خوند د پاره یا د مُعَظَّمِ دیني (یعني بزرګ لاړې) ئې د



www.dawateislami.net

تَبَرُّك [يعني بَرَكت] په طور تيرې کړې نو کَفّاره لازِم ده. (ايضاًص٤٤٤) د خَټَکې يا هِندوانې پوستکې ئې اوخوړ، که وچ وي يا داسې وي چه خلق د هغې د خوړلو نه کرَکه کوي، نو کَفّاره نشته ګني [يعني که وچ نه وي او کرَکه ترې نه کيږي نو کفّاره] شته دې. (عالمگیری ج۱ص۲۰۲)

﴿٦﴾ که کچه وريژې، [کچه] باجره، [کچه] مسُور يا مۍ [کچه د مئيو دال] ئې اُوخوړل نو **کَفّاره** لازِم نه ده، هُم دا حُڪم د کچه وربشو دې او که سرې کړي وي نو کَفّاره لازِم [ده]. (بهارشريعت ج۱ص ۹۹۳،عالمگیری ج۱ص۲۰۲)

﴿٧﴾ د پيشمنې نوړۍ ئې په خُله کښې وه چه د صبا صادِق وخت شو، يا ئې په هيره خوړله، نوړۍ ئې په خُله کښې وه چه ورياد شو، بيا ئې هُم [نوَړۍ] تيره کړه نو په دې دواړو صُورتونو کښې کَفّاره واجِب [شوه] او که نوړۍ ئې د خُلې نه راويستله او بيا ئې اُوخوړله نو صِرف قضا به واجب شي کَفّاره به نه وي. (عالمگیری ج۱ص۲۰۳)

﴿٨﴾ ميعادي تبه پرې راتلله او نن د ميعاد ورځ وه لِـهذا په دې ګُمان چه تبه به راباندې راځي روژه ئې قصداً [يعني اِرادَتاً] ماته کړه نو په دې صورت کښې کَفّاره ساقِط ده (يعني د کَفّارې ضرورت نشته صرف قضا کافي ده) هُم دغسې [کومې] زنانه ته چه په مُعَيَّن (يعني مُقرره) تاريخ حيض راتللو او نن د حيض راتلو ورځ وه، هغې قصداً [يعني اِرادَتاً] روژه ماته کړه او حيض ئې رانغلو نو کَفّاره ساقِط شوه. (خو قضا فرض ده) (دُرِّ مُختار، رَدُّالْمُحْتَار ج۳ ص٤٤٨)

﴿٩﴾ که دوه روژې ئې ماتې کړې نو د دواړو د پاره دِ دوه کَفّارې ورکړي اګر که د وړومبۍ کَفّاره ئې لا نه وه ادا کړې هله چه دواړه د دوو **رَمَضانو** وي، او که دواړه روژې د يو **رَمَضان** وي او د وړومبۍ کَفّاره ئې نه وي ادا کړې نو يوه کَفّاره د دواړو د پاره کافي ده. (جَوْهَرہ ج۱ص۱۸۲)



www.dawateislami.net

﴿۱۰﴾ د کَفّارې لازِم کيدو د پاره دا هُم ضروري ده چه د روژې ماتولو نه پس څه داسې فِعل (يعني کار) نه وي واقع شوې کوم چه د روژې مُنافي (يعني خِلاف) دې يا بې اختياره داسې اَمر (يعني معامَله) نه وي واقع شوې چه د هغې په وجه د روژې ماتولو رخصت وي، مَثَلًا زنانه ته په هغه ورځ حيض يا نِفاس راغې. يا د روژې ماتولو نه پس داسې بيمار شو چه په هغې کښې د روژه نه نيولو اجازت دې نو کَفّاره ساقِط ده او په سفر به نه ساقِط کيږي ځکه چه دا اختياري اَمر دې. (ايضاً ص۱۸۱)

## خبردار! خبردار! خبردار!

﴿۱۱﴾ په کومو صورتونو کښې چه په روژه ماتولو کَفّاره لازِم نه ده په هغې کښې شرط دې چه يو ځل داسې شوې وي او د **مَعصِيت** (يعني نافرمانۍ) **قصد** (يعني اِرادَه) ئې نه وي کړې ګني په هغې کښې به کَفّاره ورکول وي. (دُرِّمُختار ج۳ ص۴٤۰)

## اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زه بدل شوم!

د تبليغ قُرآن و سُنَّت د عالــمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د ماحول به څه وائې او د **مَدَني قَافِلو** به هُم څه وائې! د ترغِيب د پاره يو مَدَنــي سپرلي اوګورئ. د شاليمار ټاؤن (مرکزُ الاولياء لاهور) يو اسلامي ورور بيحده وران کارې انسان وو. د فِلمونو او ډرامو ډير زيات شوق لرلو سره  سره د پيغلو جينکو سره چيړ چاړ کول، د لوفرانو هلکانو سره دوستاني، د نيمي شپې پورې د هغوئې سره بې فائدې ګرځيدل وغيره د هغه په معمولاتو کښې شامل وو. د دې بدو حرکتونو په وجه به د هغه خاندان والؤ هُم د هغه نه ډېره کوله، خپلو کورونو ته به ئې د هغه ورتلل نه خوښول او خپل اولاد به ئې د هغه د صُحبت نه ساتلو. د هغه د ګناهونو نه ډك ژوند کښې د نيکو د سپرلــي د راتلو سبب داسې وشو چه د **دعوتِ اسلامي** والا يو عاشِقِ رَسُول د



www.dawateislami.net

شَفقَت [یعني مهربانئ] نظر پرې پريوتو، هغه پرې په ډېر زيات شَفقت اِنفرادي کوشش وکړو او په مَدَني قَافِله کښې د سفر کولو ترغیب ئې ورکړو، د هغه زړه ته خبره کوزه شوه او په مَدَني قَافِله کښې ئې د سفر کولو سعادت حاصل کړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ په مَدَني قَافِلو کښې د عاشِقانِ رَسُول صُحبتونو د هغه په زړه کښې مَدَنـي اِنقِلاب راوستو، د ګناهونو نه د توبه کولو تُحفه او د سُنَّتو ډک مَدَنـي لِباس اغوستلو جذبه ئې اوموندله، د شنې عِمامې تاج ئې په سر کړو او د سُنَّتو مدني ګُلونه عام کولو کښې مشغول شو او کومو خپلو خپلوانو به چه ترې ډېره کوله، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ اوس هغوئي غاړه ورکوي، مخکښې هغه په خاندان کښې د ټولو نه بد ترين وو، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني قَافِلې په بَرَکت اوس د ټولو نه زيات عزيز ترين [یعني خوښ] دې. ـــه

جب تک بکا نہ تھا کوئی پوچھتا نہ تھا

تم نے خرید کر مجھے انمول کردیا

## د بیلمانځو سره کښيناستل څنګه دي؟

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! تاسو وليده! د بدو صُحبتونو څومره زبردست نُقصان کيږي. د بد صُحبت په وجه خراب شوي سړي نه خلق سخت نفرت کوي او د ښو صُحبتونو هُم څه ښه برکتونه دي چه بنده د ګناهونو نه هُم بچ اوسي او خلق هُم ورسره مينه کوي. هميشه داسې صُحبت اختياروَل پکار دي چه د هغې سره د عبادت شوق او په سُنَّتو د عمل کولو خوند زيات شي. همنشين (یعني هَم صُحبت) داسې پکار دي چه د هغه په ليدلو الله تعالیٰ درياد شي، د هغه په خبرو د نيکو رَغبت زيات شي، چه د دُنيا په مَحَبَّت کښې ورسره کمې راشي او د آخرت فِکر کښې ورسره زياتې راشي. مُصاحِب (یعني هَم صُحبت) داسې پکار دي چه د هغه په سبب د الله تعالیٰ او د هغه د رَسُول صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مَحَبَّت کښې اِضافه وشي. د غير سنجيده



www.dawateislami.net

حَرَکت کوونکو، فیشن پرستو او بیلمانځو د صُحبت نه ډېره کول پکار دي. د بیلمانځو په باره کښې د يو سوال په جواب کښې **اعلٰی حضرت** رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیۡه فرمائي: (بیلمانځه خلق) په نرمۍ پوهه کوئ، د لـمانځه پریښودلو، د جَمعې پریښودلو او د جُمات پریښودلو چه په قُرآنِ عظیم او حدیثونو کښې کوم سخت وعیدونه راغلي دي [هغه ورته] بیا بیا اورويځ، د چا په زړه کښې چه ایمان دې هغوئي ته به ضرور فائده رسي. **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی په ووه ویشتمه سیپاره **سُوْرَةُ الذّٰرِیٰت**، آیت نمبر ۵۵ کښې اِرشاد فرمائي:

وَّ ذَكِّرْ فَاِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۵۵﴾

مَفهُوم ترجمۂ کَنْزُالْاِیمان: او پوهه ئې کړه ځکه چه پوهه کول مسلمانانو ته ګټه [يعني فائده] ورکوي.

د **الله** تعالٰی کلام او احکام ورياد کړه چه بیشکه د هغې وریادول به ایمان والؤ ته فائده ورکوي، او څوك چه په هیڅ شان [خبره] نه مني، په هغه که د چا دباؤ وي نو د هغه په ذریعه پرې دباو واچوئ او که دغسې هُم نه مني نو هغه سره سلام و کلام [خبرې اترې]، ناسته ولاړه بالکل پرېږدئ، **قَالَ اللهُ تعالٰی** (يعني **الله** تعالٰی اِرشاد فرمائي):

وَاِمَّا یُنْسِیَنَّكَ الشَّیْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۶۸﴾ (پ۷، الانعام: ۶۸)

مَفهُوم ترجمۂ کَنْزُالْاِیمان: او که چرې شیطان درنه هیر کړي، نو د رایادیدو نه پس د ظالـمانو سره مه کښينه.

(فَتَاوٰی رَضَوِیّه مُخرَّجة، ج۶، ص۱۹۱، ۱۹۲)

## د رَمَضان د روژو د فرضِیَّت اِنکار

**سُوال**: څوك چه د **رَمَضان** د فرضِیَّت اِنکار وکړي هغه څنګه دې؟

**جواب**: کافِر دې. (ماخوذ ازفتَاوٰی رَضَوِیّه ج۱۴، ص۳۵۶)



www.dawateislami.net

## روژه دار ته بد رد وئيل څنګه دي؟

**سُوال**: څوك چه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د روژو نيولو په وجه يو مسلمان ته بد رد اُووائي د هغه د پاره څه حُكم دې؟

**جواب**: د داسې كس په باره كښې اعلٰى حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: "څوك چه د روژه نيونكي د روژه نيولو په سبب طَعن و تشنيع كوي (يعني هغه ته بد رد وائي) هغه كافِر دې." (ماخوذ از فتَاوىٰ رَضَوِيّه، ج۱۴،ص۳۵۶)

## روژه دِ هغه نيـ ، چا سره چه طعام نه وي" داسې وئيل څنګه دي؟

**سُوال**: وَلِيد يوه ورځ په رَمَضَانُ الْمُبَارَك كښې اُووئيل: "روژه خو دِ هغه نيسي چا سره چه د خوراك څښاك د پاره څه نه وي!" آيا وَلِيد دا كُفر ونكړو؟

**جواب**: ضرور ئې كُفر وكړو. په دې قَولِ بدتر از بول كښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د تَحقِير [يعني سپكاوالي] سره سره د دې د فرضِيَّت اِنكار هُم ثابتيږي. صَدرُ الـ ـِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه حضرت مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: د **رَمَضان** روژه نه نيسي او وائي دا چه، روژه دِ هغه ونيسي څوك چه طعام نه شي پيدا كولې: چه خُدائے د خوراك څه راكړي دي نو د لوَږي ځان ولي وژنو يا د داسې قِسم نورې خبرې چه په هغې كښې د روژې هَتَك او تَحقِير [سپكاوالي] كول كُفر دې. (بهارِشريعت ج۲ص۴۶۵)

صَـلُّوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد
تُوبُوا اِلَى الله! اَسْتَغْفِرُ الله
صَـلُّوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# فیضانِ تَراوِیح



## د دُرُود شریف فضیلت

اَمیرُالمُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ فرمائي: بیشکه دُعا د زمکي او آسمان تر مینځه حصاره اوسي او د هغي نه هیڅ څیز بره طرف ته نه ځي تر څو چه ته په خپل نبيِّ اکرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندي دُرُودِ پاك ونه لوَلي.“ (ترمِذِی،ج۲ص۲۸ حدیث۴۸۶)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## تراوِيح سره صغِيره ګناهونه مُعاف کيږي

رَسُولِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: خوك چه په **رَمَضان** کښې د اِيمان سره او د ثواب طَلَب کولو د پاره قِيام [يعني عِبادت] وکړي نو د هغه تير شوي ګناهونه به مُعاف کړې شي. (مُسلِم ص۳۸۲ حديث۷۵۹) **مشهور مُفَسِّر حَکِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې حديثِ پاك لاندې ليکي: د تَراوِيح د پابندئ په بَرَکت به ټول صَغِيره (يعني واړه) ګناهونه اُوبخښلې شي ځکه چه ګُناهِ کَبِيره (يعني غټ ګناهونه) په توبه او حُقُوقُ العِباد (د الله تعالٰی په بارګاه کښې د توبه کولو سره سره) د حَق د خاوند په بخښلو بخښلې شي. (مِراٰةُ المناجيح ج۲ ص۲۸۸)

**فرمانِ مُصطَفٰى** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: بيشکه **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى د **رَمَضان** روژې په تاسو فرض کړې، ستاسو د پاره ئې د **رَمَضان** قِيام سُنَّت ګرځولې دې لِهذا خوك چه په **رَمَضان** کښې روژې ونيسي او د اِيمان سره د ثواب حاصلولو په نِيَّت قِيام وکړي (يعني تراوِيح وکړي) نو هغه د خپلو ګناهونو نه داسې اُووتو څنګه چه د پيدائش په ورځ خپلې مور راوړې وو. (نَسَائی ص۳۶۹ حديث۲۲۰۷)

## د سُنَّت فضيلت

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې چه څنګه مونږ ته بيشميره نِعمتونه په لاس راځي په هغې کښې د تَراوِيح سُنَّت هُم شامل دې او د سُنَّتو د عَظَمَت خو به څه وائې! د **الله** تعالٰی د خوږ رَسُول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالِيشان دې: "چا چه زما د سُنَّتو سره مَحَبَّت وکړو هغه زما سره مَحَبَّت وکړو او چا چه زما سره مَحَبَّت وکړو هغه به په جَنَّت کښې زما سره وي." (ابنِ عَساکِر ج۹ ص۳۴۳)

تَراوِيح سُنَّتِ مُؤَکَّدَه دې او په دې کښې کم از کم يو ځل قُراٰن ختمول هُم سُنَّتِ مُؤَکَّدَه دې.



www.dawateislami.net

# د کَلامُ الله د عاشقانو ووه حِکایات



﴿۱﴾ زمونږه اِمامِ اَعظم اَبُو حَنِیفه رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه به په رَمَضَانُ الۡمُبَارَك کښې ٦١ ځله قُرآنِ کریم ختمولو. دیرش په ورځو کښې، دیرش په شپو کښې او یو په تَراوِیح کښې او هغوئ ٤٥ کاله د ماسخُتن په اوداسه د سحر لمونځ ادا کړو. (بهارِشریعت ج۱ ص۴۸۸، ۶۸۹، ۶۹۵) ﴿۲﴾ د یو رِوایت مطابق اِمامِ اَعظم رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه په ژوند کښې ٥٥ حجونه کړي وو او په کوم کور کښې چه وفات شو په هغې کښې ئې ووه زره ځله قُرآنِ پاك ختم کړي وو. (دُرِّمُختار ج۱، ص۱۲۶، الخیراتُ الحسان ص۵۰) ﴿۳﴾ اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه فرمائي: "اِمامُ الۡاَئِمّه سیِّدُنا اِمامِ اَعظم اَبُو حَنِیفه دیرش کاله پوره هره شپه په یو رکعت کښې قُرآنِ کریم ختم کړي دي." (فَتَاوىٰ رَضَوِیّه مُخرَّجة، ج۷، ص۴۷۶) ﴿۴﴾ عُلَماءِ کرامو رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی فرمائیلي دي: په سَلَفِ صالحِین (رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی) کښې به بعضو اکابِرو په شپه او ورځ کښې دوه ختمونه کول، بعضو به څلور، بعضو به اته. ﴿۵﴾ په مِیزانُ الشَّرِیعة از اِمام عبدُ الوهّاب شَعراني (قُدِّسَ سِرُّہٗ) کښې دي چه سیِّدي علي مَرصَفِي رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه په یوه شپه او ورځ کښې درې لکه او شپیته زره ختمونه وکړل. (اَلمِیزانُ الشَّرِیعة الکُبرٰی ج۱ ص۷۹) ﴿۶﴾ په آثار کښې دي چه اَمیرُ الۡمُؤمِنِین عَلِیُّ الۡمُرۡتَضٰی کَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجۡهَهُ الۡکَرِیۡم به کڼه پښه په رِکاب [یعني د اس په پیږل] کښې کیښودله او قُرآنِ مجید به ئې شروع کړو او ښئ پښه به ئې لا [بل] رِکاب ته نه وه رسیدلي چه کلامِ شریف به ختم شو. (فَتَاوىٰ رَضَوِیّه مُخرَّجة، ج۷، ص۴۷۷) ﴿۷﴾ په بُخاري شریف کښې فرمانِ مُصطَفیٰ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دي چه حضرتِ سَیِّدُنا داؤد عَلَیۡهِ السَّلَام به د خپلې سوَرلۍ د تیارلو حُکم ورکړو او د دې نه مخکښې چه په سوَرلۍ باندې زِین وتړلې شي زبور شریف به ئې ختم کړو. (بُخاری ج۲ ص۴۴۸ حدیث ۳۴۱۷ مُلَخَّصاً)

**د الله تعالیٰ دِې په هغوئ رحمت وي او د هغوئ په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**



www.dawateislami.net

## وسوسه او د هغې عِلاج

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! کیدې شي چه د چا په زړه کښې وسوسه پیدا شي چه په یوه ورځ کښې ډیر ځله بلکه په لږ ساعت کښې د قُرآنِ مجید ختم او د زَبُور شریف ختم څنګه کیدې شي؟ د دې جواب دا دې چه دا د اولیائے کرامو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی کرامات او د حضرتِ سَیِّدُنا داؤد عَلَیْهِ السَّلَام مُعجِزه ده. او مُعجِزه او کرامت عادةً مُحال وي، د دې د عادت په طور ظاهریدل نه شي کیدې.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د تِلاوت په دوران کښې حُرُوف جُوَل [یعني پریښودل]

افسوس! نن صبا په دِیني مُعامَلاتو کښې د سستۍ دور دې، عام طور په تَراوِیح کښې قُرآنِ کریم یو ځل هُم په صحیح معنو کښې نه ختمیږي. قُرآنِ کریم په ترتِیل سره یعني په قلاره قلاره لوستل پکار دي، خو حال دا دې چه که څوك داسې وکړي نو اکثر خلق د هغه سره تَراوِیح کولو ته تیار نه وي! اوس هُم هغه حافظ خوښوي کوم چه د تَراوِیح نه زر فارغه کول کوي. یاد ساتئ! د تَراوِیح او لـمانځه نه علاوه هُم په تِلاوت کښې حُرُوف جُوول [یعني پریښودل] حرام دي. که په تَراوِیح کښې حافظ صاحب په پوره قُرآنِ پاك کښې صرف یو حَرف هُم وجُووي [یعني پریږدي] نو د خَتمِ قُرآن سُنَّت به ادا نه شي. بلکه د لـمانځه په دوران کښې د حرف پاتې کیدو په وجه د معنٰی فاسِد کیدو یا مُهمَل یعني بې معنٰي کیدو په صورت کښې به هغه لـمونځ هُم فاسِد شي. لِـهذا که په کوم آیت کښې حَرف "پاتې" شو یا په صحیح "مَخرَج" ادا نه شو او بدل شو نو د خلقو نه مه شرمیږئ، بیرته وګرځئ او صحیح ئې ولولئ او بیا مخکښې ځئ. یو افسوسناك امر دا هُم دې چه د حُفّاظو [یعني حافِظانو] یو شمیر داسې هُم وي چه هغوئي ته په **تَرتِیل** سره لوستل نه ورځي! که زر زر ئې نه وائي نو ترې هیریږي! د داسې



www.dawateislami.net

[حافظانو] په خِدمت کښې همدردانه مشوره ده چه د خلقو نه مه شرميږئ، قَسَم په خُدائے چه د **الله** تعالیٰ ناراضي به ډېره ګرانه پريوځي لِـهذا فوراً په تجويد سره د درس ورکوونکي يو قاري صاحِب په مدد د شروع نه واخله تر آخِره پورې خپل حِفظ صحيح کړئ. د "**مَد**" و "**لِين**"[1] خيال ساتل ضروري دي او د **مَد**، **غُنَّه**، **اِظهار** او **اِخفا** وغيره هُم خيال ساتئ. صاحِبِ بهارِ شريعت **صَدرُ الشَّرِيعه**، **بَدرُ الطَّرِيقه** حضرت مولانا مُفتي **محمد امجد علي اعظمي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائی: "په **فرضو** کښې دِ په قلاره قلاره قِراءَت کوي او په **تَراوِيح** کښې **مُتَوَسِّط** (يعني درميانه) انداز کښې او **د شپې په نفلو** کښې د زر وئيلو اجازت دې، خو داسې دِ لوَلي چه پوهيږي پرې، يعني کم از کم د "مَد" کومه درجه چه قاريانو اينبودي ده هغه دِ ادا کوي ګني **حرام** دي. ځکه چه په تَرتِيل سره (يعني ښه په قلاره قلاره [يعني په کم رفتار]) د قُرآن لوستلو حُکم دې."

(بهارشريعت ج۱ص٥٤٨، دُرِّ مُختار و رَدُّالْمُحتار ج۲، ص۳۲۰)

پاره ۲۹ **سُوْرَةُ الْمُزَّمِّل** آيت ٤ کښې د **اللهُ رَبُّ الْعِزَّت** اِرشاد دې:



وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا ﴿۴﴾

مَفهُوم ترجمهٔ کَنْزُالْاِيمان: او قُرآن ښه په قلاره قلاره لوَله.

## تَرتِيل سره لوستل څه ته وائي

**اعلیٰ حضرت** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د "**کَمَالَيْن عَلٰی حَاشِيه جَلَالَيْن**" په حواله د تَرتِيل" وَضاحَت نقل کوي: "قُرآنِ مَجِيد داسې په ورو او په قلاره [يعني په کم رفتار] لوَلئ چه اوريدونکې د دې آيات او الفاظ شميرلې شي." (فَتَاوىٰ رَضَوِيّه مُخرَّجة، ج٦، ص٢٧٦) او په فرض لـمانځه کښې داسې تِلاوت پکار

[1] چه د واؤ، ی او الَف ساکِن او قبل حَرکَت موافِق وي (يعني د "واؤ" نه مخکښې پيښ او د ی نه مخکښې زير او د اَلِف نه مخکښې زَبَر [ضروري دې]) نو دې ته مَد [وائي]. او "واؤ" او "ی" ساکِن ماقبل مفتُوح ته لِين وائي.



www.dawateislami.net

دي چه جُدا جُدا هر حَرف باندي [اوريدونکي] پوهيدې شي، په تَراوِيح کښې په مُتَوَسِّط (يعني درميانه) طريقه او د شپې په نفلونو کښې دومره تيز [يعني زر زر] لوستلې شي چه هغه پرې [پخپله] پوهيږي. (دُرِّمُختار ج۲ ص۳۲۰) په ''مَدارِكُ التَّنْزِيل'' کښې دي: قُرآن په ورو او په قلاره [يعني په دَمه دَمه] لوَلئ، د دې معنٰى دا ده چه په اِطمينان سره، حُرُوف جُدا جُدا، د وَقف حِفاظَت او د ټولو حَرَکاتو د ادائيګۍ خاص خيال ساتل دي، ''تَرْتِيلًا'' په دې مسئله کښې تاکِيد پيدا کوي چه دا خبره د تِلاوت کوونکي د پاره نهايت [يعني ډيره زياته] ضروري ده.''

(مَدارِكُ التَّنْزِيل ص۱۲۹۲، فَتَاوٰیرَضَوِيَّه مُخرَّجة، ج٦ ،ص۲۷۸، ۲۷۹)

(د ترتِيل په احکامو د پوهيدلو د پاره فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه مُخرَّجة، جِلد ٦،صفحه ۲۷۵ نه ۲۸۲ پورې ولَولئ)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!     صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



## په تَراوِيح اُجرت اخستل، ورکول څنګه دي؟

قُرآنِ کريم لوستلو او نورو ته لوستلو والؤ د پاره په خپل ځان کښې اِخلاص پيدا کول ضروري دي. که حافِظ د خپلې تيزۍ ښودلو د پاره، [يا] د خپل آواز د خوږوالي د صِفَت اوريدلو او نُوم ګټلو د پاره قُرآنِ کريم لوَلي نو ثواب خو لرې خبره ده، بلکه د حُبِّ جاه او رياکارۍ په تباهۍ کښې به اخته شي. هُم دغسې د اُجرت [يعني د دې د عِوَض] لين دين هُم نه دې پکار، صرف مُعاهَده کولو ته اُجرت نه وائي بلکه که دلته خلقو ته تراوِيح کولو د پاره څکه راځي چه ورته معلومه وي چه دلته څه ورکوي نو اګر که مُعاهده ئې نه وي کړې نو هُم اُجرَت دي، اُجرت صرف رقم ته نه وائي بلکه د جامو يا غلې وغيره په صورت کښې هُم اُجرت، اُجرت دي. خو که حافِظ صاحِب د صحيح نِيَّت نه صفا صفا اُووائي چه زه به هيڅ هُم نه اخلم، يا چه څوک ئې پرې لوَلي هغه اُووائي چه هيڅ به هُم نه درکووم او بيا د حافِظ صاحِب څه خدمت



www.dawateislami.net

وکړي نو باك نشته ځکه چه د بُخاري شريف په وړومبي حديث مبارك کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات. يعني د اعمالو دار و مدار په نِيَّتونو دي. (بُخاری ج۱ ص٦ حديث۱)

## د تِلاوت او ذِکر و نعت اُجرت حرام دي

د اعلیٰ حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په دربار کښې چه کله په اُجرت باندې د مړي د اِيصالِ ثواب د پاره د ختمِ قُرآن او ذِکرُالله عَزَّوَجَلَّ کولو په باره کښې اِستِفتاء وړاندې شوه [يعني سوال وشو] نو په جواب کښې ئې اِرشاد اُوفرمائيلو: "په تِلاوَتِ قُرآن او ذِکرِ اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ باندې اُجرت اخستل او ورکول دواړه حرام دي. اخستونکې او ورکوونکې دواړه ګنهګار وي او چه کله دوئي د فِعلِ حرام مُرتَکِب دي نو ثواب به د څه شيز مړو ته ليږي؟ په ګُناه باندې د ثواب اُمِيد نور سخت و اَشَد (يعني سخت ترين جُرم) دې. که خلق غواړي چه اِيصالِ ثواب هُم وشي او طريقهٔ جائزهٔ شرعِيهٔ هُم حاصله شي (يعني شرعاً جائز هُم شي) نو د دې صورت دا دې چه لوستونکې د يو دوو ګينټو د پاره نوکران کړي او تنخواه د هُم هغه همره وخت د هر يو کس مُعَيَّن (يعني مُقرره) کړي. مثلاً چه څوك ئې پړې واچي هغه اُووائي: "ما ته نن د فلانکې وخت نه فلانکې وخته پورې په دې اُجرت باندې نوکر کيښودلې (چه) څه کار غواړم درنه اخلم به." هغه دِ اُووائي: ما قبول کړو." اوس هغه د دومره وخت د پاره اَجِير (يعني مُلازِم) شو، کوم کار چه غواړي ترې اغستې ئې شي د هغې نه پس دِ هغه ته اُووائي: د فلانکې مړي د پاره دومره قُرآنِ مجيد يا دومره ځله کَلِمهٔ طَيِّبه يا دُرُودِ پاك ولوله. دا صُورت د جَواز (يعني جائز کيدو) دې." (فَتَاویٰ رَضَوِيَّه ج۲۳، ص۵۳۷)

## د تَراوِيح د اُجرَت شَرعي حِيله

د دې مبارکې فَتوې په رڼړا کښې د تَراوِيح د پاره د حافِظ صاحِب ترکيب هُم کيدې شي. مَثَلًا د جُمات کميټۍ والا د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په مياشت کښې د ماسخُتن د لمانځه د اِمامتۍ د



www.dawateislami.net

پاره يو حافِظ صاحب سره د اُجرت [تنخواه] مُعاهَده وكړي او حافظ صاحِب بِالتَّبَع يعني ورسره ورسره د تَراوِيح جَمعه هُم وركوي څكه چه په رَمَضَانُ الْمُبَارَك كښې تَراوِيح هُم د ماسخُتن د لـمانځه سره شاملې وي. يا داسې وكړئ چه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په مياشت كښې هره ورځ د دوو يا درې ګينټو د پاره (مَثَلًا ۸ نه ۱۱ بجو پورې) حافِظ صاحب ته د نوكرئ پيشكش وكړئ او ورته اُووائې چه مونږ كوم كار دركوو هغه به كوئ، د تنخواه رقم هُم ورته وښائې، كه حافِظ صاحِب ئې منظوره كړي نو هغه مُلازِم شو. اوس هره ورځ په دې درې [يا دوه] ګينټو كښې د حافِظ صاحِب ډيوټې ولګوئ چه تاسو مونږ ته تَراوِيح كوئ. ياد ساتئ ! كه اِمامَت وي او كه مُؤَذِّنـي وي يا د هر قِسم مزدوري، چه د كوم كار د پاره هُم د اِجارې كولو وخت كښې دا معلومه وي چه دلته د اُجرت يا تنخواه لَين دَين يقيني دې نو د مخكښې نه رقم طے كول [يعني مقررول] واجِب دي، ګني وركوونكې او اخستونكې دواړه به ګنهګار وي. خو چه كوم ځائ د مخكښې نه د اُجرت مقرره رقم معلوم وي مَثَلًا د بس كِرايه، يا بازار كښې د بورئ بارولو او وړلو د في بورئ د مزدورئ رقم وغيره. نو اوس بيا بيا د مقرروولو حاجت نشته. دا هُم ياد ساتئ چه كله حافِظ صاحب (يا هر څوك هُم د هر كار د پاره) په نوكرئ لګوئ نو هغه وخت دا وئيل جائز نه دي چه څه مناسب وو هغه به دركړو، يا تاسو به راضي كړو، بلكه صراحتاً يعني په واضحه طور به ورته د رقم مقدار ښودل [ضروري] وي، مَثَلًا مونږه به تاسو ته ۱۲ زره روپۍ وركوو او دا هُم ضروري ده چه حافِظ صاحب ئې هم منظور كړي. اوس به ۱۲ زره وركول ضروري وي. ياد ساتئ! د جُمات د چندې نه وركوونكې اُجرت د هغه ځائ د عُرف نه زيات نه دې پكار او د مخكښې نه موجود اِمام صاحب چه خفه نه شي د دې هُم خيال ساتل پكار دي، د رَمَضان په پوره مياشت كښې د ماسخُتن د اِمامت د رخصت په سبب اِمام صاحِب ته د جُمات د چندې نه د هغه مياشتې د ماسخُتن د لـمونځونو تنخواه وركولې شئ زمونږه [په مُلك كښې] دلته هُم دا عُرف يعني معمول جاري دې. خو حافِظ صاحب ته د مطالبې نه بغير په خپله خوښه د معاهدې نه زيات



www.dawateislami.net

[رقم] د جُمات د چندېِ نه نه، بلکه د خپل جيب نه يا د هُم دې مقصد د پاره جمع شوي رقم نه ورکړئ نو هُم جائز دي. کوم حافظ صاحِبان، يا نعت خوان چه د پيسو نه بغير په تَراوِيح، يا ختمِ قُرآن يا نعت خوانئ کښې حِصّه نه شي اخستې هغوئي دِ د شرم په وجه ناجائزه کار نه کوي. د اعلیٰ **حضرت** رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه د ښودلې طريقې مطابق دِ عمل وکړي او پاکه روزي دِ حاصله کړي. او که سخته مجبوري نه وي نو د حِيلې په ذريعه هُم د رقم حاصلولو نه ځان ساتئ ځکه چه ”**د چا عمل وي بې غَرضه، د هغه جزا څه بل شان ده.**“ يو اِمتِحان او سخت امتحان چه ځوك رقم نه اخلي د هغه کافي واه! واه! کيږي. دغه ځائ کښې ځان د حُبِّ جاه او رياکارئ نه بچ کول ضروري دي، بې ضرورته نورو ته د تذکِره کولو نه ځان ساتل او د اخلاص دُعا کول په داسې موقعو کښې فائده مند وي. ؎

میرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو — کر اخلاص ایسا عطا یاالٰہی

(وَسائلِ بخشِش ص۱۰۵)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# ختمِ قُرآن او رِقَّت

کوم ځائ چه په تَراوِيح کښې يو ځل قُرآنِ پاك ختمول وي هلته بهتره دا ده چه په ووه ويشتمه شپه ختم کړې شي، رِقَّت او سوز [يعني د زړه نرمئ او سترګو کښې اوښکو] سره ختم شي او چه دا احساس مو په زړه کښې افسوس پيدا کړي چه ما په صحيح معنو کښې قُرآنِ پاك ونه لوستو يا ونه اوريدو، کوتاهئ رانه شوي دي، صحيح تَوجُّه مې هُم ونکړې شوه، په اخلاص کښې مې هُم کمې وو. په کروړونو افسوس! د دُنياوي شخصِيَّت خبرې خو په تَوجُّه اوريدې شي خو د ټولو د خالِق و مالِك، د خپل خوږ خوږ **اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت** جَلَّ جَلَالُه پاکيزه کلام مو په غور سره ونه اوريدو، او ورسره ورسره مو چه دا غم هُم وي چه اوس د **رَمَضان** مياشت د يو څو ساعتو ميلمه پاتې شو، معلومه نه ده چه راروان کال دا تشريف راوړي نو زه به هغه وخت د



www.dawateislami.net

دې د سپېرلو د برَكتونو حاصلولو د پاره ژوندي پاتې يم او كه نه! په داسې تصوّراتو راوستلو په خپلو غفلتونو خپل ځان شرمنده كول پكار دي او كه كيدې شي نو ژړل پكار دي او چا ته چه ژړا نه ورځي نو د ژړيدونكو په شان صورت دِ جوړ كړي ځكه چه د ښو خلقو نقل كول هُم ښه دي، كه د چا د ستركې نه د مَحَبَّتِ قُرآن يا د فِراقِ رَمَضان په وجه يو څاڅكې اوښكې توئ شوې او مقبولِ باركاهِ اِلٰهى عَزَّوَجَلَّ شوې نو هيڅ بعيد نه دي چه **اللّٰهُ غَفّار** عَزَّوَجَلَّ د هغې په خاطر ټول حاضرين اوبخښي.

لاج رکھ لے گناہ گاروں کی　　نام رحمٰن ہے ترا یارب!
عیب میرے نہ کھول محشر میں　　نام ستّار ہے ترا یارب!
بے سبب بخش دے نہ پوچھ عمل　　نام غفار ہے ترا یارب!
تو کریم اور کریم بھی ایسا!
کہ نہیں جس کا دوسرا یارب!

(ذَوقِ نعت)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د تَراوِيح جَمعه بِدعَتِ حَسَنه ده

د **اللّٰه** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پخپله هُم تَراوِيح ادا كړي دي او دا ئې ډيرې خوښې كړې هُم دي، چنانچه د صاحِبِ قُرآن، مَدَني سُلطان صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دې: "څوك چه د ايمان او طَلَبِ ثواب په سبب په **رَمَضان** كښې قيام وكړي د هغه تير شوي ګناهونه (يعني صغيره ګناهونه) به اُوبخښلې شي." (بُخاری ج۱ ص٦٥٨ حديث ٢٠٠٩) بيا سركارِ دوعالَم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې انديښنې په طور پريښودلې چه چرې په اُمَّت باندې(تراويح) فرض نه كړې شي. (ايضاً حديث٢٠١٢). په بُخاري شريف كښې دي: **اَميرُالمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ



www.dawateislami.net

(په خپل دورِ خِلافت كښې) د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د مياشت په يوه شپه په جُمات كښې وليدل چه خلق په جُدا جُدا انداز (تَراوِيح) ادا كوي. څوك ئې يواځې كوي نو څه حَضَرات ئې د چا په اِقتِدا كښې كوي. دا ئې چه وليدل نو هغوئې رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اُوفرمائيل: زه دا مناسب ګنړم چه دوئې ټول د يو اِمام سره جمع كړم. لِـهذا هغوئې رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ حضرتِ سَيِّدُنا اُبَيِّ بِن كَعب رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د ټولو اِمام جوړ كړو، بيا ئې چه بله شپه تشريف راوړو او وئې ليدل چه خلق د جَمعې سره (تَراوِيح) ادا كوي (نو ډير خوشحاله شو او) وئې فرمائيل: نِعْمَ الْبِدْعَةُ هٰذِهٖ. يعني ”دا ښه بِدعَت دې.“

(بُخاری ج١ص٦٥٨ حديث٢٠١٠)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د الله تعالىٰ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږه څومره خيال ساتي! صرف له دې ويرې ئې د تَراوِيح په جَمعه هميشګي ونه فرمائيله چه چرې په اُمَّت باندې فرض نه كړې شي. د دې حديثِ پاك په ذريعه د بعضو وسوسو عِلاج هُم وشو. مَثَلًا د تَراوِيح باقاعِده جَمعه آقائے نامدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هُم جاري كولې شوه خو جاري ئې نه كړه او دغسې ئې خپلو غُلامانو ته هُم په دِينِ اسلام كښې د ښو ښو طريقو رائج كولو موقع وركړه. كوم كار چه شاهِ خيرُ الانام صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ونكړو هغه كار سيِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ صرف په خپله خوښه ونكړو بلكه سركارِ دوعالم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپل ظاهري ژوند كښې د قيامته پورې د داسې ښو ښو كارونو د جاري كولو اجازت وركړې وو. چنانچه فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې: ”څوك چه په اسلام كښې **ښه طريقه** جاري كړي هغه ته به د هغې ثواب وركولې شي او د هغې (ثواب) هُم كوم (خلق) چه به د هغې نه پس په هغې عمل كوي او د هغوئې د ثواب نه به هيڅ نه كميږي او كوم كس چه په اسلام كښې **بده طريقه** جاري كړي په هغه باندې به د هغې ګُناه هُم وي او د هغه (خلقو ګناه) هُم كوم (خلق) چه به د هغې نه پس په هغې عمل كوي او د هغوئې په ګناه كښې به هيڅ كمې نه كيږي.“ (مُسلِم ص٥٠٨ حديث١٠١٧)



www.dawateislami.net

# د ”كرم يا نَبِـيَّ اللّٰه“ د دولسو حُروفو په نِسبت ١٢ ښه كارونه يعني بِدعاتِ حَسَنه

د دې حديث مبارك نه معلومه شوه چه تر قيامته پورې په اِسلام كښې د ښو ښو نوو طريقو د جاري كولو اِجازت دې او اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ جاري كيږي هُم څنګه چه ﴿١﴾ اَمِيرُالمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د تَراوِيح د باقاعِده جَمعې اهتمام وكړو او دا ئې پخپله ”ښه بِدعَت“ هُم قرار كړو. د دې نه دا هُم معلومه شوه چه د سركارِ مدينه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وِصالِ ظاهري نه پس چه صحابهٔ كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان كوم نوې كار جاري كړې هغې ته هُم ”بِدعَتِ حَسَنه“ وائي ﴿٢﴾ په جُمات كښې به د اِمام د پاره مِحراب نه وو. د ټولو نه مخكښې حضرتِ سَيِّدُنا عمر بِن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په مسجِدِ نَبَوي شريف عَلٰی صَاحِبِهَا الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام كښې د مِحراب جوړلو سعادت حاصل كړو. دا نوې ا اد (يعني بِدعَتِ حَسَنه) داسې مقبول شو چه اوس په ټوله دُنيا كښې جُمات په هُم دې پيژندل شي. ﴿٣﴾ هُم دغسې په جُماتونو كښې ګُنبد او مينار جوړول هُم وروسته ايجاد شوي دي، تر دې چه د مسجِدُ الحرام مَنارې هُم د حُضُورِ اَقدَس صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او صحابهٔ كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان په دَوَر كښې نه وې ﴿٤﴾ اِيمانِ مُفَصَّل ﴿٥﴾ اِيمانِ مُجمَل ﴿٦﴾ شپږ كَلِمې او د هغې شمير او تركِيب چه دا ورومبئ دا دويمه او د دې نومونه ﴿٧﴾ د قُرآنِ پاك ديرش سيپارې جوړول، اِعراب لګول، په دې كښې رُكُوع جوړول، د رُمُوزِ اوقاف علامات پكښې لګول. بلكه ټكي هُم پكښې وروسته ولګولې شو، ښائسته جِلدونه چاپ كول وغيره ﴿٨﴾ اَحادِيثِ مباركه ته كتابي شكل وركول، د هغې په اَسنادو جرح كول، د هغې صحيح، حَسَن، ضعيف او موضوع وغيره قِسمونه جوړول ﴿٩﴾ فِقه، اُصُولِ فِقه او عِلمِ كلام ﴿١٠﴾ زكوٰة او فِطره په سِكّه رائجُ الوقت بلكه تصويرونو والا نوټونو باندې ادا كول ﴿١١﴾ د اوښانو وغيره په ځائ د سفينې [يعني سمندري جهاز] او هوائي جهاز په ذريعه د حج سفر كول



www.dawateislami.net

﴿١٢﴾ د شريعت او طريقت خلور واړه سلسلې يعني حَنَفي، شافِعي، مالِكي، حنبلي. هُم دغسې قادِري، نقشبندي، سُهروَردي او چِشتي.

## هر بِدعَت ګمراهي نه ده

کيدې شي چه د چا په ذِهن کښې دا سوال پيدا شي چه د دې دوو حديثو مُبارکو [څه معنیٰ ده] (١) كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ وَّ كُلُّ ضَلَالَةٍ فِي النَّار. يعني هر بِدعَت (يعني نوي خبره) ګُمراهي ده او هره ګُمراهي جهنَّم (ته بوتلونکې) ده. (صَحِيحُ اِبنِ خُزَيْمَة ج٣ ص١٤٣ حديث١٧٨٥) (٢) شَرَّ الْاُمُوْرِ مُحْدَثَاتُهَا وَ كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَة. يعني بدترين کارونه نوي طريقې دي. هر بِدعت (يعني نوي خبره) ګُمراهي ده. (مُسلِم ص٤٣٠ حديث٨٦٧) [يعني د دې] څه معنیٰ ده؟ د دې جواب دا دې چه دواړه اَحادِيثِ مُبارکه حق دي، دلته د بِدعَت نه مُراد بِدعَتِ سَيِّئَه يعني بد بِدعت دې او يقيناً هر هغه بِدعَت بد دې کوم چه د يو سُنَّت خِلاف يا سُنَّت د مينځه وړونکې وي. څنګه چه په نورو اَحادِيثو کښې د دې مسئلې وَضاحَت موجود دې، چنانچه زمونږه خوږ خوږ آقا مکّی مَدَنی مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلې دې: "هر هغه ګُمراهه کوونکې بِدعت چه د هغې نه الله تعالیٰ او د هغه رسول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راضي نه وي، نو په هغه ګُمراهئ والا بِدعَت جاري کوونکې باندې په هغه بِدعَت باندې د عمل کوونکو په مِثل ګُناه ده، هغه ته ګناه کيدل به د خلقو په ګُناهونو کښې کمې نه کوي. (ترمِذِی ج٤ ص٣٠٩ حديث٢٦٨٦) په بُخاري شريف کښې **فرمانِ مُصطَفیٰ** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې: مَنْ اَحْدَثَ فِيْ اَمْرِنَا هٰذَا مَا لَيْسَ فِيْهِ فَهُوَ رَدٌّ (بُخاری ج٢ ص٢١١ حديث ٢٦٩٧) يعني "څوک چه زمونږه په دِين کښې داسې نوي خبره را اُوباسي کومه چه په هغې (يعني د دِين په اصل) کښې نه وي هغه مردُود دې." د دې اَحادِيثِ مُبارکه نه معلومه شوه چه داسې نوي خبره کومه چه د سُنَّت نه لرې کوونکې او ګُمراهه کوونکې وي، د کومې اصل چه په دِين کښې نه وي هغه **بِدعتِ سَيِّئَه** يعني بد بِدعَت دې، او په دِين کښې داسې نوي خبره کومه چه په **سُنَّتو** باندې



www.dawateislami.net

عمل كولو كښې مدد كوونكې وي يا د يو اصل چه د دِين نه ثابِت وي هغه بِدعَتِ حَسَنه يعني ښه بِدعَت دې. **حضرتِ** سَيِّدُنا شَيخ عَبدُ الحق **مُحَدِّث** دِهلوي رَحمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیه د دې حديثِ پاك، كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ وَّ كُلُّ ضَلَالَةٍ فِي النَّار نه لاندې فرمائي: كوم بِدعَت چه د اُصولو او د قواعِدِ سُنَّت مُوافِق او د هغې مطابق قِياس كړې شوې وي (يعني د شريعت او سُنَّتو سره ډېره نه خوري) هغې ته **بِدعَتِ حَسَنه** وائي او كوم چه د دې خِلاف وي هغې ته بِدعَتِ گُمراهي وائي.

(اَشِعَّةُ اللّمعات، ج۱، ص۱۳۵)

## د بِدعَتِ حَسَنه نه بغير گزاره نشته

د ښو او بدو بِدعاتو تقسيم ضروري دې ځكه چه ډېر ښه ښه بِدعتونه داسې دي چه كه هغه صرف په دې وجه پرېښودلې شي چه په **قُرُونِ ثَلاثه** يعني (۱) د شاهِ خيرُ الانام صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او صحابۂ كرامو عَلَیهِمُ الرِّضْوَان او (۲)د تابِعِينِ عِظام او (۳) د تَبعِ تابِعِينِ كِرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی په مباركو زمانو كښې نه وو نو د دِين موجوده نظام هډو چليدې نه شي، لكه دِيني مدرسې، درسِ نِظامي، د قُرآن و اِحادِيث او [نورو] اسلامي كتابونو په پريس كښې چاپ كيدل وغيره دا ټول كارونه مخكښې نه وو وروستو جاري شوي دي او په **بِدعَتِ حَسَنه** كښې شامِل دي. د **اللّٰه** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی په عطا د هغه خوږ حبيب صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يقيناً دا ټول ښه ښه كارونه په خپل ظاهري ژوند مبارك كښې هُم رائج كولې شو خو **اللّٰه** تعالی د خپل **مَحبُوب** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غُلامانو د پاره د ثوابِ جارِيه گټلو بيشميره موقعې وركړې او د **اللّٰه** تعالی نيكو بندگانو د صَدَقۂ جارِيه د پاره چه كوم د شريعت سره تعارُض نه كوي [يعني د شريعت خِلاف نه دي] داسې نوي اِيجادونه ئې عام كړل. چا د اذان نه مخكښې د دُرُود و سلام رِواج شروع كړو، چا د عِيدِ مِيلادُ النَّبِي صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نمانځلو طريقه راويستله بيا په هغې كښې د رنړاگانو كولو او شنو شنو جنډو او د مرحبا د نعرو جُلوسِ مِيلاد سلسله شروع شوه، چا د يوولسمې شريفې او چا د بُزرگانِ دِين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی د عُرسونو بُنياد كيښودو او اوس هُم دا سِلسلې جاري دي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ دعوتِ اِسلامي والؤ د



www.dawateislami.net

سُنَّتو ډکو اجتماعاتو وغيره کښې د اُذْکُرُ الله! (يعني د الله عَزَّوَجَلَّ ذِکر وکړئ!) او صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! (يعني په حبيب باندې دُرود اُووائې) دنعرو لګولو بالکل نوې ترکيب راوِيستلې دې او د الله الله او دُرُود و سلام د رُوح تازه کوونکو صداګانو ښکلې سپرلې ئې راوستې دې.

الله کرم ایسا کرے تجھ پہ جہاں میں اے دعوتِ اسلامی تری دھوم مچی ہو

(وَسائلِ بخشِش ص ۳۱۵)



## د شين ګنبد تاريخ

شين شين ګُنبد چه د هغې د دِيدار د پاره د هر عاشِق زړه بے قراره او سترګې لـمدې وې دا [شِين ګُنبد] هُم بِدعَتِ حَسَنه دې ځکه چه دا د آقائے نامدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ظاهري وفات نه سوونه کلونه وروسته جوړ شوې دې، د دې مختصر معلومات هُم حاصل کړئ:

د رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په رَوضهٔ انور باندې د ټولو نه ورومبې ګُنبد شريف په ۶۷۸ھ (1269ء) کښې جوړ کړې شو او هغې ته زيړ رنګ ورکړې شو بيا په مختلفو دوررونو کښې پکښې بدلون کيدلو کيدلو تر دې چه په ۸۸۸ھ (1483ء) کښې د تور کاڼړې نه نوې ګُنبد جوړ کړې شو او هغې ته سپين رنګ ورکړې شو، په ۹۸۰ھ (1572ء) کښې ډير زيات ښکلې ګُنبد جوړ کړې شو او هغه په رنګارنګ کاڼړو ښکلې کړې شو. په ۱۲۳۳ھ (1818ء) کښې بيا د نوي سر نه تعمير کړې شو. په ۱۲۵۳ھ بمطابق 1837ء کښې هغې ته **شِين رنګ** ورکړې شو چه د اَلْقُبَّةُ الْحَضْراء يعني **شين ګنبد** په نوم مشهور شو. د هغې نه پس چا په دې کښې رَدّو بدل نه دې کړې. خو شين رنګ ته دا سعادت حاصليږي را حاصليږي چه هغه د خادِمانو په لاسو پورته ورسيږي او ترې چاپيره شي. **ګنبَدِ خَضرا** چه يقيناً قطعاً بِدعَتِ حَسَنه دې هغه اوس د ټولې دُنيا د مسلمانانو مَرجَع، د سترګو نُور او د زړه سُرُور دې. اِنْ شَآءَالله تعالٰی دا د دُنيا يو



www.dawateislami.net

طاقت هُم نه شي ورانولې، څوك چه دا عِناداً (يعني د بُغض په وجه) ختمول غواړي نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ هغه به پخپله ختم شي.

گنبد خضرا! خدا تجھ کو سلامت رکھے　　دیکھ لیتے ہیں تجھے پیاس بجھا لیتے ہیں

د دې په شان تولو نوو ايجاد شوو نيكو كارونو بُنياد هُم هغه حديثِ پاك دې كوم چه د مُسلِم شريف په حواله، مخكښې تير شو چه په هغې كښې فرمائيلې شوي دي: "څوك چه په اسلام كښې ښه طريقه جاري كړي هغه ته به د هغې ثواب وركولې كيږي او د هغې هُم څوك چه د دې نه پس په هغې عمل وكړي."[1]

## دِيدارِ مُصطَفیٰ ﷺ

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د عَقائدو او اَعمالو د اِصلاح او ضروري معلوماتو حاصلولو د پاره د **تبليغِ قُرآن و سُنَّت** د عالَمگير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** په **مَدَني قافِلو** كښې سفر كول خپل معمول جوړ كړئ. د دې يو ايمان تازه كوونكې **مَدَني سپرلې** اوگورئ او خوشحاله شئ چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د درې ورځو **بين الاقوامي د سُنَّتو ډكه اِجتِماع** (مُلتان شريف) په ختميدو د آكره تاج كالونئ (**بابُ الْمَدينه كراچئ**) يوه **مَدَني قافِله** په سفر وه او د تركيب مطابق يو جُمات ته لاړه، د شپې چه اُوده شو نو په **مَدَني قافِله** كښې شريك د يو نوي اسلامي ورور قِسمت رابيدار شو او په خوب كښې ئې د **مَدَني تاجدار** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **دِيدار** وكړو! هغه ډير خوشحاله شو او د **دعوتِ اسلامي** د حَقّانِيَّت صفتونه بيانول ئې شروع كړل او مَدَني ماحول سره ئې تړون وكړو.

[1] د مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الأُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په كتابِ مُستطاب "جاء الحَقّ و زَهَقَ الباطِل" كښې د بِدعاتو او د دې د قِسمونو وغيره په باره كښې نور تفصيلات كتلې شئ.



www.dawateislami.net

کوئی آیا پا کے چلا گیا کوئی عمر بھر بھی نہ پاسکا
مرے مولٰی تجھ سے گلہ نہیں یہ تو اپنا اپنا نصیب ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ښو خلقو سره د مَحَبَّت فضائل

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو وليده! د عاشقانِ رَسُول د مَدَنِي قَافِلِې په بَرَکت يو خوش نصيب اِسلامي ورور ته اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د تاجدارِ رِسالت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدارنصيب شو. په مَدَنِي قَافِلِه کښې سفر کوونکو خوش نصيبو ته د ښو صُحبت او نيکو بندګانو سره د مَحَبَّت کولو بهترينه موقع نصيب کيږي. د رضائے اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ د پاره ښو خلقو سره د مَحَبَّت ساتلو اته فضائل واورئ او خوشحاله شئ:

## د "مَحَبَّتِ رسُول" د اته حُروفو په نِسبت د الله تعالٰی د پاره د مَحَبَّت ساتلو مُتَعَلِّق ۸ فرامِينِ مُصطَفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

﴿۱﴾ الله تعالٰی به د قيامت په ورځ فرمائي: چرته دي [هغه خلق] چا به چه زما د جَلال په وجه په خپل مينځ کښې مَحَبَّت ساتلو! نن به زه هغوئي په خپل سوري کښې ساتم، نن زما د سوري نه سِوا يو سوري نشته دي (مُسلِم ص۱۳۸۸ حديث۲۵۶۶) ﴿۲﴾ الله تعالٰی اِرشاد فرمائي: کوم خلق چه زما په وجه په خپل مينځ کښې مَحَبَّت ساتي او زما په وجه يو بل سره کښيني او خپل مينځ کښې ملاقات کوي او مال خرچ کوي هغوئي سره زما مَحَبَّت واجِب شو. (الموطا ج۲ ص۴۳۹ حديث ۱۸۲۸) ﴿۳﴾ الله تعالٰی فرمائي: کوم خلق چه زما د جَلال په وجه په خپل مينځ کښې مَحَبَّت ساتي د هغوئي د پاره به د نُور مِنبرونه وي، انبياء او شُهَداء به په هغوئي غِبطه (يعني رَخه) کوي. (تِرمِذِی ج۴ ص۱۷۴ حديث۲۳۹۷) ﴿۴﴾ دوو کسانو د الله د پاره د يو بل سره مَحَبَّت وکړو او يو په مشرِق کښې دي



www.dawateislami.net

او بل په مغرِب كښې، د قيامت په ورځ به الله تعالیٰ دواړه يو ځائ كوي او فرمائي به: هُم دا هغه دې چا سره چه تا زما د پاره مَحَبَّت كړې وو. (شُعَبُ الْاِیْمان ج٦ ص٤٩٢ حديث٩٠٢٢) ﴿٥﴾ په جَنَّت كښې د ياقُوت ستنې [يعني پِلرې] دې، په هغو باندې د زَبَرجَدو بالاخانې [يعني اوچت ځايونه] دې، د هغو دروازې برسيره دې، هغه داسې روښانه دې لكه ځليدونكې ستورې. خلقو عرض وكړو: يا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هغې كښې به څوك اوسيږي؟ خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: "هغه خلق څوك چه د الله د پاره په خپل مينځ كښې مَحَبَّت ساتي، يو ځائ كښيني، په خپل مينځ كښې ملاقات كوي". (شُعَبُ الْاِیْمان ج٦ ص٤٨٧ حديث٩٠٠٢) ﴿٦﴾ د الله د پاره مَحَبَّت ساتونكې به د عرش نه چاپيره د ياقوتو په كُرسو وي (مُعجَم كَبير ج٤ ص١٥٠ حديث٣٩٧٣) ﴿٧﴾ څوك چه د چا سره د الله د پاره مَحَبَّت وساتي او د الله د پاره دُښمني وساتي او د الله د پاره وركول وكړي او د الله د پاره منع وكړي هغه خپل اِيمان كامِل كړو. (اَبو داوُد ج٤ ص٢٩٠ حديث٤٦٨١) ﴿٨﴾ دوه كسان چه كله د الله (تعالیٰ) د پاره په خپل مينځ كښې مَحَبَّت ساتي، د هغوئي په مينځ كښې جُدائي هغه وخت كيږي چه په هغوئي كښې يو [كس] څه ګناه وكړه. (الادب المفرد ص١٠٩ حديث٤٠١) يعني د الله (تعالیٰ) د پاره چه كوم مَحَبَّت وي د هغې پيژندل دا دي چه كه يو ګُناه وكړه نو بل د هغه نه جُدا شي. (د تفصيلي معلوماتو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوې بهارشريعت جلد٣، صفحه ٥٧٦ تا ٥٧٩ ولولئ)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د تراوِيح ٣٥ مَدَنـي ګلونه

﴿١﴾ تَراوِيح د هر عاقِل، بالِغ اسلامي ورور او اسلامي خور د پاره سُنَّتِ مُؤَكَّدَه دي. (دُرِّ مُختار ج٢ ص٥٩٦) د دې پريښودل جائز نه دي. (بهار شريعت ج١ ص٦٨٨)

﴿٢﴾ تَراوِيح شل ركعاته دي. د سيِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ په زمانه كښې به هُم شل ركعاته كيدل. (اَلسُّنَنُ الْكُبْرٰى لِلْبَيْهَقِي ج٢ ص٦٩٩ حديث٤٦١٧)



www.dawateislami.net

﴿۳﴾ د تَراوِیح جَمعه سُنَّتِ مُؤَکَّدَه عَلَی الْکِفَایَه ده، که د جُمات ټولو خلقو پرېښودله نو ټول د اِساءَت مُرتَکِب شو (یعني بد ئې وکړل) او که یو څو کسانو د جَمعې سره وکړلې نو يواځې کوونکې د جَمعې د فضيلت نه محرومه پاتې شو. (هِدایه ج۱ص۷۰)

﴿٤﴾ د تَراوِیح وخت د ماسخُتن د فرضو ادا کولو نه پس د صبا صادِقه پورې دې. که د ماسخُتن د فرضو ادا کولو نه مخکښې ئې وکړې نو نه کيږي. (عالمگیری ج۱، ص۱۱۵)

﴿۵﴾ د وِترو نه پس هُم تَراوِیح کیدې شي. (دُرِّمُختار ج۲ ص۵۹۷) څنګه چه بعضې وخت په ۲۹ [تاریخ] د رُویَتِ هِلال (یعني د میاشت د ليدلو په ګواهئ) راتلو کښې د ناوخته کیدو په وجه داسې وشي.

﴿٦﴾ مُستَحَب دا دي چه په تَراوِیح کښې د دریمې حِصّې شپې پورې تاخير وکړئ، که د نيمې شپې نه پس ئې وکړئ نو بیا هُم کراهَت نشته. (خو د ماسخُتن فرض دومره ناوخته کول نه دي پکار)

(ایضاً ص۵۹۸)

﴿۷﴾ تَراوِیح که پاتې شي نو د دې قضا نشته. (ایضاً)

﴿۸﴾ بهتره دا ده چه د **تَراوِیح** شل رکعاته په دوه دوه ادا کولو د لسو سلامونو سره ادا کړئ.

(ایضاً ص۵۹۹)

﴿۹﴾ د **تَراوِیح** شل رکعاته د يو سلام سره هُم ادا کولې شي خو داسې کول مکروهِ (تنزِيهي) دي. (ایضاً) په هرو دوو رکعاتو قَعده کول فرض دي، په هره قَعده کښې د **اَلتَّحِیّاتُ** نه پس درود شریف هُم لوَلئ او په طاق رَکعَت (یعني ورومبې، دريم، پينځم وغيره) کښې ثناء لوَلئ او اِمام دِ **تَعَوُّذ** او **تَسمِیه** هُم لوَلي.



www.dawateislami.net

﴿۱۰﴾ چه کله دوه دوه رکعاته کوي نو په هرو دوو رکعاتو [شروع کولو] دِ جُدا جُدا نِيَّت کوي او که د شلو رکعاتو ئې په يو ځل نِيَّت وکړو نو بيا هُم جائز دي. (رَدُّالْمُحْتَار ج۲ ص۵۹۷)

﴿۱۱﴾ بې عُذره تَراوِيح په ناسته کول مکروه دي بلکه د بعضو فُقَهائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی په نزد خو هډو کيږي نه. (دُرِّ مُختار ج۲ ص۶۰۳)

﴿۱۲﴾ **تَراوِيح** په جُمات کښې د جَمعې سره ادا کول افضل [يعني غوره] دي، که په کور کښې ئې د جَمعې سره ادا کړې نو د جَمعې پريښودو ګُناه ونشوه خو هغه ثواب به نه حاصليږي کوم چه په جُمات کښې د کولو وو. (عالمگيری ج۱ ص۱۱۶) د ماسخُتن فرض په جُمات کښې د جَمعې سره ادا کولو نه پس بيا په کور يا هال کښې **تَراوِيح** ادا کوئ، که د شرعي عُذر نه بغير ئې د جُمات په ځائ په کور يا هال وغيره کښې د ماسخُتن جَمعه قائمه کړه نو د ترکِ واجِب [يعني د واجِب پريښودلو] ګنهګار به وي. د دې تفصيلي مسئله د فيضانِ سُنَّت (جِلد اوَّل) باب "د خيټې قُفلِ مدينه" صفحه۱۴۳، ۱۴۴ کښې ولولئ.

﴿۱۳﴾ په نابالِغه اِمام پسې صرف نابالغان **تَراوِيح** کولې شي.

﴿۱۴﴾ د بالِغ تَراوِيح (بلکه يو لمونځ هُم تر دې چه نفل ئې هُم) په نابالِغه پسې نه کيږي.

﴿۱۵﴾ په **تَراوِيح** کښې پوره کَلامُ الله شريف لوستل او اوريدل **سُنَّتِ مُؤَكَّدَه عَلَی الْكِفَايَه** دي لِهٰذا که يو څو کسانو په شريکه په تَراوِيح کښې د خَتمِ قُرآن اِهتِمام وکړو نو بقيه علاقې والؤ د پاره به کِفايت کوي. "فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه" جِلد ۱۰ صفحه ۳۳۴ کښې دي: قُرآن در تَراوِيح ختم کردَن نه فرض اَست ونه سُنَّتِ عَين. يعني په تَراوِيح کښې قُرآنِ پاك ختمول نه فرض او نه سُنَّتِ عَين دي. او صفحه ۳۳۵ کښې دي: خَتمِ قُرآن در تَراوِيح سُنَّتِ كِفايه اَست. يعني په تَراوِيح کښې ختمِ قُرآن سُنَّتِ کِفايه دې.



www.dawateislami.net

﴿١٦﴾ كه با شرائط حافِظ ونه موندلې شي يا په څه وجه ختم ونكړې شي نو په **تَراوِيح** كښې كوم سورتونه ولولئ، كه غواړئ نو د اَلَمْ تَرَ نه وَالنَّاس پورې دوه ځله ولولئ، دغسې به شل ركعاته ياد ساتل آسان شي. (ماخوذاز عالمگیری ج۱، ص۱۱۸)

﴿١٧﴾ يو ځل بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم په جَهر سره (يعني اوچت آواز كښې) لوستل سُنَّت دي او د هر سُورت په شروع كښې پټ وئيل **مُسْتَحَب** دي. مُتأخِّرين (يعني وروسته راغلو فُقَهائے كرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى) په **ختمِ تَراوِيح** كښې درې ځله قُلْ هُوَ اللهُ [پوره سورت] لوستل **مُسْتَحَب** وئيلې دي او بهتره دا ده چه د ختم په ورځ په آخري ركعت كښې د الٓمّٓ نه مُفْلِحُوْن پورې ولولې. (بهارِ شريعت ج۱ ص۶۹۴، ۶۹۵)

﴿١٨﴾ كه په څه وجه د تَراوِيح لمونځ فاسِد شي نو څومره قُرآنِ پاك مو چه په هغه ركعاتونو كښې لوستلې وو د هغې اِعاده وكړئ چه په ختم كښې نقصان پاتې نه شي. (عالمگیری ج۱ص۱۱۸)

﴿١٩﴾ كه اِمام په غَلَطئ كښې يو آيت يا سُورت پريښودو او مخكښې تير شو نو **مُسْتَحَب** دا ده چه هغه ولولي بيا مخكښې لاړ شي. (ايضاً)

﴿٢٠﴾ په جُدا جُدا جُماتونو كښې **تَراوِيح** كولې شي هله چه په خَتمِ قُرآن كښې نُقصان رانشي، مَثَلًا درې جُماتونه داسې دي چه په هغو كښې هره ورځ پاؤ باندې يوه سيپاره وئيله شي نو درې واړو ته وار په وار تللې شي.

﴿٢١﴾ كه په دوه ركعاتو كښيناستل ترې هير شو نو تر څو ئې چه د دريم [ركعت] سَجده نه وي كړې نو كښيني دِ او په آخره كښې دِ سَجدۀ سَهْوْ وكړي او كه د دريم [ركعت] سَجده ئې وكړه نو څلور دِ پوره كړي خو دا به دوه شميرلې شي. خو كه په دوه ئې قَعده كړې وه نو څلور شو. (ايضاً)



www.dawateislami.net

﴿٢٢﴾ درې رکعاته ئې وکړل او سلام ئې وګرځولو که په دویم نه وو ناست شوې نو ونه شو، د هغې د بدل دوه رکعاته دِ دوباره وکړي. (ایضاً)

﴿٢٣﴾ سلام ګرځولو نه پس څوك وائي دوه شو، څوك وائي درې، نو اِمام ته چه څه یاد وي د هغې اِعتِبار دې، که اِمام پخپله هُم په تَذَبذُب (یعني شك وشُبه) کښې وي نو په چا ئې چه اِعتِماد وي د هغه خبره دِ اُومني. (ایضاًص١١٧)

﴿٢٤﴾ که د خلقو شك وي چه شل وشو که اتلَّس؟ نو دوه رکعاته دِ یواځې یواځې وکړي. (ایضاً)

﴿٢٥﴾ بهتره دا ده چه په ټولو شُعفُونو کښې برابر قِراءَت وشي، که داسې ئې ونکړل نو بیا هُم باك نشته. هُم دغسې د هر شُفع (چه په دوه رکعاتو مُشتَمِل وي) په وړومبي او دویم رکعت کښې قِراءَت مساوي (یعني برابر) وي، د دویم قَراءَت د وړومبي نه زیات نه دې پکار. (ایضاً)

﴿٢٦﴾ اِمام او مُقتَدي دِ د هرو دوو رکعاتو په وړومبي کښې ثناء لوَلي (اِمام دِ اَعُوذُ بِاللہ او بِسْمِ اللہ هُم لوَلي) او د اَلتَّحِیّات نه پس دُرودِ ابراهیم او دُعا هُم. (دُرِّ مُختار و رَدُّالْمُحْتَار ج٢ ص٦٠٢)

﴿٢٧﴾ که مُقتدیانو ته مشکله وي نو دتَشَهُّد نه پس دِ په اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّ اٰلِهٖ اِکتِفا کوي.
(بهارشریعت ج١ص٦٩٠ دُرِّ مُختار و رَدُّالْمُحْتَار ج٢ ص٦٠٢)

﴿٢٨﴾ که په ووه وِیشتمه یا د هغې نه مخکښې قُرآنِ پاك ختم شو نو بیا هُم د رَمَضان د آخري پورې تَراوِیح کوئ ځکه چه سُنَّتِ مُؤَکَّدَه دي. (عالمگیری ج١، ص١١٨)

﴿٢٩﴾ د هرو څلورو رکعاتو نه پس هُم هغه هُمره ساعت کښیناستل مُستَحَب دي په څومره ساعت کښې ئې چه څلور رکعاته کړي وو. (بهارشریعت ج١ص٦٩٠، عالمگیری ج١، ص١١٥)



www.dawateislami.net

﴿۳۰﴾ په دي کښيناستلو کښې ورته اختيار دې چه که خاموشه ناست اوسي او که ذِکر و دُرُود او تِلاوت کوي يا څلور رکعاته يواځې نفل کوي (دُرِّمُختار ج۲. ص۶۰۰) (بهارشريعت ج۱.ص۶۹۰) دا تَسْبِيْح هُم وئيلې شي:

سُبْحَانَ ذِى الْمُلْكِ وَالْمَلَكُوْتِ ۝ سُبْحَانَ ذِى الْعِزَّةِ وَالْعَظَمَةِ وَالْهَيْبَةِ وَالْقُدْرَةِ ط وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْجَبَرُوْتِ ۝ سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْحَيِّ الَّذِىْ لَا يَنَامُ وَلَا يَمُوْتُ ۝ سُبُّوْحٌ قُدُّوْسٌ رَّبُّنَا وَ رَبُّ الْمَلٰۤئِكَةِ وَالرُّوْحُ ۝ اَللّٰهُمَّ اَجِرْنَا مِنَ النَّارِ ۝ يَا مُجِيْرُ يَا مُجِيْرُ يَا مُجِيْرُ ۝ بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ ۝

﴿۳۱﴾ شلو رکعاتو پوره کيدو نه پس پينځمه تَروِيحه هُم **مُسْتَحَب** ده، که خلقو ته مُشکِله وي نو پينځم ځل دِ نه کښيني. (عالمگيرى ج۱، ص۱۱۵)

﴿۳۲﴾ مُقتدي له جائز نه دي چه ناست اوسي او چه کله اِمام رُکُوع کولو والا وي نو ودريږي، دا د مُنافِقِينو سره مُشابَهَت دې. د سُوْرَةُ النِّسَآءِ په آيت نمبر ۱۴۲ کښې دي: وَ اِذَا قَامُوْٓا اِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰى ؕ (مَفهُوم ترجمۂ کَنزُالاِيمان: او مُنافِقان چه کله په لمانځه ودريږي نو په مات زړه)

(بهارشريعت ج۱ص۶۹۳، غُنيه ص۴۱۰)

د فرضو په جَمعه کښې هُم که اِمام د رُکُوع نه پورته شو نو په سَجدو وغيره کښې فوراً شامليږئ او که اِمام په قَعدهٔ اُولٰى کښې وي نو بيا هُم د هغه د ودريدلو انتظار مه کوئ بلکه ورسره شامِل شئ. که په **قَعده** کښې شامِل شوئ او اِمام پاڅيدلو نو د **اَلتَّحِيّات** پوره کيدو نه مخکښې مه ودريږئ.



www.dawateislami.net

﴿۳۳﴾ په **رَمَضان** شريف کښې وِتر د جَمعې سره کول غوره دي، خو چا چه د ماسخُتن فرض د جَمعې نه بغير وکړل هغه دِ وِتر هُم يواځې وکړي. (بهارِ شريعت ج۱ص۶۹۲، ۶۹۳ مُلَخَّصاً)

﴿۳۴﴾ دا جائز دي چه يو کس د ماسختن جَمعه او د وِترو جَمعه ورکړي او بل تَراوِيح.

﴿۳۵﴾ حضرتِ سَيِّدُنا عُمَر فاروقِ اَعظم رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ به د فرضو او وِترو جَمعه ورکوله او حضرتِ سَيِّدُنا **اُبَیِّ بن کَعب** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ به د **تَراوِيح** جَمعه ورکوله. (عالمگيری ج۱، ص۱۱۶)

اے زمونږه خوږه **الله** عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته نيك، مُخلِص او صحيح قُرآنِ کريم لوستونکي حافِظ صاحِب پسې د خُشوع او خُضُوع سره د **تَراوِيح** ادا کولو سعادت نصيب کړې او قبولې ئې هُم کړې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د کينسر مريض ښه شو

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ په دعوتِ اسلامي اسلامي باندې د **الله** تعالٰی او د هغه د خوږ حبيب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيحده کرم دې. ډير ځل مو اوريدلي دي چه ډاکټرانو کوم مريضان لاعِلاج قرار کړي دي د هغوئې په **مَدَني قَافِلو** کښې په خير سره علاج شوې دې! چنانچه د ماړي پور (بابُ الْمَدِينه کراچئ) اوسيدونکي يو اسلامي ورور يو اِيمان تازه کوونکې مَدَني سپرلې ليکلې دې چه د هغې خُلاصه څه داسې ده: د هاکس بے (بابُ الْمَدِينه کراچئ) يو اسلامي ورور د کينسر مريض وو، هغوئې د تبليغِ **قُرآن و سُنَّت** عالمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** په **مَدَني قَافِله** کښې د عاشقانِ رَسُول سره د سفر سعادت حاصل کړو. د سفر په دوران کښې غريب ډير غلې غلې او مايوسه شان وو. شُرَکَاءِ قافِله به هغه ته تسلِّي هُم ورکوله او د هغه د پاره به ئې دُعا هُم کوله.



www.dawateislami.net

یوه ورځ ئې سحر په ناسته ناسته ناڅاپه ګرځُون [یعني اُلټئ] وکړې او په هغې کښې ئې د غوښې یوه بوټئ وګرځوله! د اُلټو نه پس هغه کافي سُکون محسوس کړو. **مَدَني قَافِلې** نه چه بیرته راغلو او ډاکټرانو ته ورغلو او دوباره ئې ټیسټونه وکړل نو ډیره د حیرانتیا خبره ده چه په **مَدَني قَافِله** کښې د سفر په بَرَکت د هغه د کینسر مرض بالکل ختم شوې وو.

السر اور کینسر اب یا ہو دردِ کمر　　چلئے ہمت کریں، قافلے میں چلو
دور بیماریاں اور پریشانیاں　　ہوں گی بس چل پڑیں، قافلے میں چلو

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٧٧)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب!　　صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد
تُوبُوا اِلَی الله!　　اَسْتَغْفِرُ الله
صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب!　　صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد



www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# فَيضانِ لَيْلَةُ الْقَدْر



## د دُرُود شريف فضيلت

د الله تعالیٰ د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد مُبارك دي: ”چا چه په ما باندي په ورځ کښې يو زر کرته دُرُود شريف ولوستلو، هغه به مړ کيږي نه تر څو پوري چه په جَنَّت کښې خپل ځائ ونه وِيني.“ (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج٢ ص٣٢٨ حديث٢٢)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## لَیْلَۃُ الْقَدْر ته لَیْلَۃُ الْقَدْر ولې وائي؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! لَیْلَۃُ الْقَدْر ډيره زياته بَرَکتونو والا شپه ده. دې ته لَیْلَۃُ الْقَدْر ځکه وائي چه په دې کښې د ټول کال اَحکام نافِذ کيږي او فرښتې د ټول کال په کارونو او خِدماتو مامور کړې شي او دا هُم وئيلې شوي دي چه د نورو شپو په مقابله کښې د دې شپې د قَدر او مَنزِلت په وجه دې ته لَیْلَۃُ الْقَدْر وائي او دا هُم منقول دي چه په دې شپه کښې نيك اعمال مقبول وي او بارګاهِ اِلٰهی کښې د دې [نيکو اعمالو] قدر کيږي ځکه دې ته لَیْلَۃُ الْقَدْر وائي. (تفیسرِ خازن ج٤ ص٤٧٣) نور هُم ګڼړ شمير شرافتونه دې شپې ته حاصل دي.

په **بُخاري** شريف کښې دي، **فرمانِ مُصطَفیٰ** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "چا چه په لَیْلَۃُ الْقَدْر کښې د اِيمان او **اِخلاص** سره قِيام وکړو (يعني لمونځ ئې وکړو) نو د هغه تير شوي (صغيره) ګناهونه به مُعاف کړې شي." (بُخاری ج١ ص٦٦٠ حديث ٢٠١٤)

## ٨٣ کالو او څلورو مياشتو نه زيات ثواب

دا مُقَدَّسه شپه هيڅ کله هُم په غَفلت کښې تيرول نه دي پکار، **په دې شپه کښې عِبادت کوونکي ته د يو زر مياشتو يعني د درې اَتيا کالو او څلورو مياشتو نه هُم زيات ثواب ورکولې کيږي** او د دې "زيات" عِلم **الله** تعالیٰ ته دې يا د هغه جَلَّ جَلَالُهٗ په ښودلو د هغه خوږ **حبيب** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دې چه څومره دې. په دې شپه حضرتِ سَيِّدُنا جبرِيل عَلَیْهِ السَّلَام او [نورې] فرښتې نازليږي او بيا عِبادت کوونکو سره **مُصافَحه** کوي [يعني لاس ملاووي]. د دې مُبارکې شپې هر يو ساعت سلامتي او سلامتي ده او دا سلامتي د صبا صادِقه پورې برقراره اوسي. دا د **الله** تعالیٰ خاصُ الخاص کرم دې چه دا عظيمه شپه ئې صرف خپل خوږ حبيب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته او د هغوئي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطِر ئې د هغوئي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّت ته عطا کړې ده. **الله** تعالیٰ په قُرآنِ پاك کښې اِرشاد فرمائی:



www.dawateislami.net

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

اِنَّاۤ اَنۡزَلۡنٰہُ فِیۡ لَیۡلَۃِ الۡقَدۡرِ ۚ﴿ۖ۱﴾ وَ مَاۤ اَدۡرٰىکَ مَا لَیۡلَۃُ الۡقَدۡرِ ؕ﴿۲﴾ لَیۡلَۃُ الۡقَدۡرِ ۬ۙ خَیۡرٌ مِّنۡ اَلۡفِ شَہۡرٍ ؕ﴿ؔ۳﴾
تَنَزَّلُ الۡمَلٰٓئِکَۃُ وَ الرُّوۡحُ فِیۡہَا بِاِذۡنِ رَبِّہِمۡ ۚ مِنۡ کُلِّ اَمۡرٍ ۙ﴿ۛ۴﴾ سَلٰمٌ ۟ۛ ہِیَ حَتّٰی مَطۡلَعِ الۡفَجۡرِ ٪﴿۵﴾

مَفهُوم ترجمۂ کَنْزُالْاِیمان: د الله په نامه شروع چه نهايت مهربان رَحم والا دي. بيشکه مونږه هغه د قدر په شپه کښې نازِل کړو او ته څه پوهه شوې چه څه ده د قدر شپه؟ د قدر شپه د زرو مياشتو نه غوره ده، په دې کښې فرښتې او جِبرِيل راکوزيږي د خپل رب په حُکم، د هر کار لپاره، هغه سلامتي ده د صبا ځليدو پورې.

(پ ۳۰ : سُوْرَةُ الْقَدْر)

**مُفَسِّرِينِ** كِرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی د سُوْرَةُ الْقَدْر په باره کښې فرمائي: "په دې شپه کښې **الله** تعالیٰ قُرآنِ کريم د لَوحِ **محفوظ** نه آسمانِ دُنيا باندې نازِل کړو او بيا ئې تقريباً د ۲۳ کالو په موده کښې په خپل خوږ حبيب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې په واره واره نازل کړو." (تفیسرِ صاوی ج۶ ص۲۳۹۸)

نَبِيِّ اکرم، رسُولِ **مُحترم** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلي دي: بيشکه **الله** تعالیٰ زما اُمَّت ته **شَبِ قَدر** عطا کړه او دا شپه ئې ستاسو نه **مخکښې** يو اُمَّت ته هُم نه ده ورکړې.

(اَلْفِردَوْس بِمَأثُور الْخطاب ج۱ ص۱۷۳ حدیث۶۴۷)

## د زرو مياشتو نه بهتره يوه شپه

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام **مُجاهِد** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د بـني اِسرائيل يو کس به ټوله شپه عِبادت کولو او ټوله ورځ به په جِهاد کښې مصروف اوسيدلو او دغسې هغه زر مياشتې تيرې کړې وې نو **الله** تعالیٰ دا آيتِ مُبارَکه نازل کړو: لَیۡلَۃُ الۡقَدۡرِ ۬ۙ خَیۡرٌ مِّنۡ اَلۡفِ شَہۡرٍ ؕ﴿ؔ۳﴾ (مَفهُوم ترجمۂ کَنْزُالْاِیمان: د قدر شپه د زرو مياشتو نه غوره ده) يعني د شَبِ قدر قِيام [يعني عِبادت] د هغه عابِد (يعني عِبادت گُزار) د زرو مياشتو د عِبادت نه بهتر دې. (تفسیرِ طبری ج۲۴ ص۵۳۳)



www.dawateislami.net

## زمونږه عُمرونه خو ډير لږ دي

اور په ”تفسيرِ عزيزي“ کښې دي: **حَضَراتِ** صحابهٔ کرام عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان چه کله د حضرتِ **شَمعُون** رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د عِباداتو او جِهاد تَذکِره واوريدله نو هغوئي ته په حضرتِ شَمعُون رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه ډير رَشك [يعني رَخه] ورغله او د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې ئې عرض وکړو: ”يَارَسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! مونږ ته خو ډير لږ عُمرونه راکړې شوي دي، په دې کښې هُم څه حِصّه په خوب کښې تيريږي او څه په طَلَبِ مَعاش کښ، پخلي او خوراك کښې او نورو دُنيوي اُمُورو کښې هُم څه وخت ولګي. لِهذا مونږ خو د حضرتِ شَمعُون رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه په شان عِبادت هډو کولې نه شو، دغسې به بنې اِسرائيل زمونږ نه په عِبادت کښې مخکښې شي.“ د اُمَّت غَمخوار آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چه دا واوريدل نو غمګِين شو، په هُم هغه ساعت حضرتِ سَيِّدُنا جِبرَئيلِ اَمِين عَلَيۡهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام **سُوۡرَةُ الۡقَدۡر** راوړو او د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربارِ مُبارك کښې حاضر شو او تَسَلِّي ورکړې شوه چه **خوږه حَبِيبه** (صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) خفه کيږه مه، ستاسو صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّت ته مونږه په هر کال کښې يوه داسې شپه ورکړې ده چه **که هغوئي په هغه شپه کښې عِبادت کوي نو د** (حضرتِ) **شَمعُون** رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه **د زرو مياشتو د عبادت نه به هُم مخکښې شي.**

(ماخوذ از تفسیرِ عزیزی ج۳ ص۲۵۷)

## د باکَرامَت شَمعُون اِيمان تازه کوونکې حِکايت

د هُم دې حضرتِ **شَمعُون** رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه په باره کښې په ”**مُكَاشَفَةُ الۡقُلُوب**“ کښې يو نهايت ايمان تازه کوونکې حِکايت بيان کړې شوې دې، د هغې مضمون څه داسې دې: د بنې اِسرائيل يو بزرګ **حضرتِ شَمعُون** رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د زرو مياشتو پورې داسې عِبادت وکړو چه د شپې به ئې قِيام کولو او د ورځې به ئې روژه نيولو سره سره د الله تعالٰی په لار کښې د کُفّارو سره جِهاد هُم کولو. هغه دومره طاقتور وو چه د وسپنې وزنې او مضبوط زنځيرونه به ئې په لاسونو ماتول. کُفّارو



www.dawateislami.net

بدكِردارو چه وليده چه د **حضرتِ شَمعُون** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه خِلاف يوه طريقه هُم نه چليږي نو په خپلو كښې د مشورې نه پس ئې د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ښځې ته د مال او دولت لالچ وركړو او دې خبرې ته ئې تياره كړه چه كله هغې چرته په كومه شپه هغه د خوب په حالت كښې وليدو نو په مضبوطو رسو دِ ئې وتړي او هغوئي ته دِ ئې حواله كړي. بې وفا ښځې هُم داسې وكړل. چه كله هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه رابيدار شولو او خپل ځان ئې په رسو تړلې وليدلو نو فوراً ئې خپلو اندامونو ته حَرَكت وكړو او فوراً رسۍ وشليدلې او هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه آزاد شو. بيا ئې د خپلې ښځې نه تپوس وكړو چه "زه چا تړلې ووم؟" بې وفا ښځې دروغ اُووئيل چه دا خو ما ستاسو د طاقت اندازه معلوملو د پاره داسې كړې وو. خبره ختمه شوه.

بې وفا ښځه د موقعې په تلاش كښې وه. يو ځل بيا چه كله پرې د خوب غَلَبه شوه نو هغه ظالمې ښځې د وسپنو په زنځيرونو كلك وتړلو. چه څنګه ئې سترګې وغړيدلې نو په يوه جټكه كښې ئې د زنځير يوه يوه كړۍ ماته كړه او آزاد شو. ښځې ئې چه وليدو نو وئې يَريدله خو بيا ئې د مكارۍ نه كار واخستو او بيا ئې هُم هغه خبره وكړه چه ما خو ستاسو (رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه) ازميښت كولو. د خبرو په دوران كښې (حضرتِ) **شَمعُون** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه خپلې ښځې ته خپل راز ښكاره كړو او وئې فرمائيل: په ما باندې د **الله** تعالٰی لوئ كرم دې، هغه ما ته د خپل وِلايت شرف راكړې دې، په ما باندې د دُنيا يو څيز هُم اثر نه شي كولې خو، "**زما د سر وِيښته**". چالاكه ښځه په ټوله خبره پوهه شوه.

آه! هغه د دُنيا مَحَبَّت ړنده كړې وه. آخر دا چه هغې يو ځل موقع اُوموندله او حضرتِ **شَمعُون** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ئې د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د هغه اَته زُلفو نه وتړلو چه د هغې اُوګږدوالې د زمكې پورې وو. (دا د پخواني اُمَّت بُزرګ وو، زمونږه د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت زُلفې د غوږونو د نيمې پورې، د پوره غوږونو پورې او اُوګو مباركو پورې دې، د اُوګو نه ښكته وِيښته غټول د نارينه د پاره حرام دي) چه د



www.dawateislami.net

هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه سترګې وغړيدلي نو ډېر زور ئي ولګولو خو آزاد نه شو او د دُنيا د دولت په نشه کښې مستې بې وفا ښځې خپل نيك او پرهيزګاره خاوند دُښمنانو ته حواله کړو.

کُفّارو بد کِردارو **حضرتِ شَمعُون** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه **يوې ستنې سره وتړلو او په انتِهائي بې دردئ سره ئې د هغوئې شونډې او غوږونه پريك کړل.** نو هغه نيك بنده د **الله** تعالیٰ په بارګاه کښې سوال وکړو چه ما ته د دې غوږو د خلاصولو قُوَت راکړې او په دې کافرو باندې دا ستن سره د چته راپريباسې او ما ته د دوئي نه خلاصې راکړې چنانچه **الله** تعالیٰ هغوئي ته قُوَّت ورکړو، چه هغوئي اُوخوزيدلو نو ټولې غوټې ئې وشليدلې، بيا هغوئي ستن اُوخوزوله نو د هغې په وجه په کافرو چت راپريوتو او هغوئي ټول هلاك شو او هغه نيك بنده ته **الله** تعالیٰ خلاصې ورکړو.

(مأخوذ از مُکَاشَفَةُ الْقُلُوب ص۳۰٦ وغيره)

## آه! مونږ قدر نه کوو!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو وليده! **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی د خپل خوږ **محبوب** صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اُمَّت څومره مهربانه دې او هغه په مونږه څنګه عظيمُ الشَّان احسان کړې دې چه که مونږه په **شَبِ قَدر** کښې عبادت وکړو نو د يو زر مياشتو د عبادت نه به هُم زيات ثواب حاصل کړو. خو آه!مونږه د **شَبِ قَدر**، قدر کله کوو! يو خو صحابهٔ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان وو چه د هغوئي د ارمان کولو په وجه مونږ ټولو ته دومره غټ **اِنعام** بغير د څه خواهش نه راکړې شو! بيشکه هغوئي د دې قَدر هُم وکړو خو افسوس مونږه ناقدره پاتې شو! آه! هر کال راکړې شوې دا عظيم الشّان اِنعام مونږه په غفلت کښې ضائع کوو.

## د مَدَني انعاماتو د رِسالې بَرَکت

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د **شَبِ قَدر** عَظَمت په زړه کښې زياتولو د پاره د **تبليغِ قُرآن** و



www.dawateislami.net

**سُنَّت** د عالــمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تړون مضبوط ساتئ. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د مسلمانانو نيك او لــمونځ ګزاره جوړولو مُتَعَلِّق د اِسلامي ورونړو د پاره ۷۲، اسلامي خويندو د پاره ٦٣ او د طَلَبهٔ عِلمِ دِين د پاره ۹۲، دِيني طالِباتو لپاره ۸۳، د مَدَنــي ماشومانو [وړو هلكانو] او ماشومو [يعني وړو جينكو] د پاره ٤٠ او د خُصُوصي (يعني چاړاګانو او، نابِينا اسلامي ورونړو) د پاره ۲۵ او د قيديانو د پاره ۵۲ مَدَني انعامات د تپوسونو په صُورت كښې مرَتَّب كړې شوي دي. د فِكرِ مدينه (يعني د خپلو اعمالو مُحاسبه كولو) په ذريعه هره ورځ د مَدَني انعاماتو رِساله [كښې خانې] ډكول او د دعوتِ اسلامي مُقامي ذِمَّه دار ته د هرې اسلامي مياشتې په يكم تاريخ جمع كول وي. مَدَني انعاماتو د ګنړ شمير اسلامي ورونړو او اسلامي خويندو په ژوند كښې مَدَنــي اِنقِلاب راوستې دې! د دې يو خرك اوګورئ: د نوې كراچئ د يو اِسلامي ورور څه داسې بيان دې: د علاقې د جُمات اِمام صاحب چه **دعوتِ اسلامي** سره تَعَلُّق لري، هغوئي د اِنفرادي كوشش په دوران كښې زما مشر ورور ته د **مَدَني انعاماتو** يو ه رِساله په تُحفه كښې وركړه. هغوئي كور ته راوړه او چه وئې لوستله نو حيران پاتې شو چه په دې مختصره شان رِساله كښې يو مسلمان ته د اسلامي ژوند تيرولو دومره زبردسته فارمولا وركړې شوي ده! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د مَدَني انعاماتو رِساله حاصليدو په بَرَكت هغوئي د لــمانځه جذبه اُومونده او د جَمعې سره لــمونځ كولو د پاره جُمات ته حاضر شو او اوس پينځه وخته لــمونځ ګزاره جوړ شوي دي، ګيره مباركه ئې هُم پريښې ده او د مَدَني انعاماتو رِساله هُم ډكوي.

مدنی انعامات کے عامل پہ ہر دم ہر گھڑی
یاالٰہی! خوب برسا رحمتوں کی تُو جھڑی

## په مدني اِنعاماتو عمل كوونكو د پاره عظِيم زيرې

**خوږو خوږو اِسلامي ورونړو!** د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډكوونكي څومره خوش قِسمته وي، د دې اندازه د دې **مَدَني سپرلي** نه ولګوئ هغه دا چه د زَم زَم نګر (حيدرآباد بابُ الاِسلام سِندھ) د يو



www.dawateislami.net

اسلامي ورور څه په دې ډول حَلفِيَّه (يعني په قسم سره) بيان دې چه دَ رَجَبُ الْمُرَجَّب په يوه شپه ما ته په خوب کښې د رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د لِيدلو عَظِيم سعادت رانصيب شو. مُبارَکو شونډو حَرَکت وکړو او د رحمت ګُلونه ترې ريژيدل شُروع شو، الفاظ څه داسې وو: **څوك چه په دې مِياشت کښې هره ورځ په پابندئ سره د مَدَني انعاماتو مُتَعَلِّق فِکرِ مدينه کوي، اللّٰه تعالٰی به د هغه بخښنه وکړي.**

مَدَنی اِنعامات کی بھی مرحبا کیا بات ہے
قُربِ حق کے طالبوں کے واسطے سوغات ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! دا شپه په هر شان د خيريت او سلامتئ ضامِنه ده. دا شپه د اوّل نه واخله تر آخره پورې رَحمت او رَحمت ده. مفسِّرِينِ کِرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی فرمائي: "دا شپه د مار لړم، آفتونو او مُصيبتونو او د شيطانانو نه هُم محفوظه ده، په دې شپه کښې سلامتي او سلامتي ده."

## د ټولو خيرونو نه محرومه څوك؟

حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس بن مالِك رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: يو ځل چه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك مياشت راغله نو سردارِ دوجهان صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: تاسو ته دا مياشت راغلې ده چه په دې کښې يوه شپه داسې هُم ده چه هغه د زرو مياشتو نه بهتره ده، کوم کس چه د دې شپې نه محرومه پاتې شو، لکه چه د ټولو خيرونو نه محرومه پاتې شو او د دې د خير نه محرومه نه پاتې کيږي خو هغه کس کوم چه حقيقةً مَحرومه دې." (اِبنِ مَاجَه ج۲ص۲۹۸ حديث۱٦٤٤)

## شِين بَيراغ

د خوږ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو فرمان مبارك حِصّه ده: "چه کله شَبِ قَدر راشي نو په حُکمِ اِلٰهی (حضرتِ) جِبرِيل (عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام) يو شِين بَيراغ [جَنډه] راغستې د فرښتو د ډېر غټ



www.dawateislami.net

فوځ سره زمكې ته راكُوز شي (او د يو رِوايت مطابق: "د دې فرښتو شمير د زمكې د شګټيو [يعني وړو وړو كاڼړو] نه هُم ډير وي" (مُسْنَد اَحمَد ج۳ص۶۰۶حديث۱۰۷۳۹)) او هغه شين بَيراغ په كعبهٔ مُعَظّمه اُوپړقوي د (حضرتِ) جِبرِيل (عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام) سل وزرې دي چه په هغې كښې دوه وزرې صرف په دې شپه خلاصوي، هغه وزرې په مشرق او مغرب كښې خورې شي، بيا (حضرتِ) جِبرِيل (عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام) فرښتو ته حُكم وركوي چه كوم يو مسلمان نن شپه په قِيام، لمانځه يا ذِكْرُ الله عَزَّوَجَلَّ كښې مشغول دې د هغه سره **سلام او مصافحه** وكړئ او د هغوئې په دُعاګانو آمِين هُم اُووائې. چنانچه تر سحره پورې هُم دا سلسله جاري وي. په سحر كيدو (حضرتِ) جِبرِيل (عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام) فرښتو ته د بيرته تللو حُكم وركوي. فرښتې عرض كوي: اے جِبرِيل (عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام) **الله** تعالیٰ د **اُمَّتِ مُحَمَّدِ يّه** (عَلٰى صَاحِبِهَا الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام) د حاجاتو په باره كښې څه مُعامَله اُوفرمائيله: (حضرتِ) جِبرِيل (عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام) فرمائي: **الله** تعالیٰ په دې خلقو خُصُوصي نظرِ كرم اُوفرمائيلو او د څلور قِسمه خلقو نه علاوه ئې ټول مُعاف كړل." صحابهٔ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض وكړو: "يَارَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! هغه څلور قِسمه خلق څوك دي؟" اِرشاد ئې اُوفرمائيلو: ﴿۱﴾ يو خو عادت لرونكې شرابي ﴿۲﴾ دويم د مور و پلار نافرمانه ﴿۳﴾ قَطعِ رِحمي كوونكې (يعني خپلوانو سره تَعَلُّقات پريښودونكې) او ﴿۴﴾ څلورم هغه، كوم خلق چه په خپل مينځ كښې عَداوت [يعني دُښمني ساتي] او په خپل مينځ كښې قَطعِ تَعَلُّق كوونكې. (شُعَبُ الْاِيْمان ج۳ص۳۳۶حديث۳۶۹۵)

## د جګړې وَبال

د **حضرتِ** سَيِّدُنا عُباده بِن صامِت رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې چه خوږ خوږ آقا مكِّى مَدَنى مُصطَفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بَهر تشريف راوړو چه مونږ ته د **شَبِ قَدر** په باره كښې وښائي (چه په كومه شپه كښې دې) دوو مسلمانانو په خپل مينځ كښې **جګړه** كوله. خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: "زه ځكه راغلې ووم چه تاسو ته **شَبِ قَدر** وښايم خو فلانكې فلانكې



www.dawateislami.net

کس **جګړه** کوله، ځکه د دې تَعَیُّن اوچت کړې شو، او کیدې شي چه په هُم دې کښې ستاسو بهتري وي، اوس دا (د آخري عَشرې په) په **نهمې، وومې** او **پینځمې** شپو کښې ولټوئ.“
(بُخاری ج۱ ص۶٦٣ حديث ٢٠٢٣)

**مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد یار خان رَحمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیه په مِراٰة جِلد ۳ صفحه ۲۱۰ کښې د دې حدیثِ پاك لاندې فرمائي: یعني زما د عِلم نه د هغې تَقَرُّر لرې کړې شو او زما نه هیره کړې شوه، دا مطلب نه دې چه د سره ئې **شَبِ قَدر** ختم کړو او اوس به ګني هغه هډو کیږي نه. د دې نه دا معلومه شوه چه دُنیاوي جګړې سپیرې دي، د دې وَبال ډیر زیات دې، د دې په وجه د **الله** تعالیٰ رحمتونه راتلل ودریږي.

## مونږ خو د شریف سره شریف او ...

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! **د مسلمانانو په خپل مینځ کښې جنګ جګړه کول د رَحمت نه د لرې والي سبب جوړیږي.** خو آه! اوس به څوك کوم یو پوهه کړي! نن صبا خو په ډیر فخر سره دا خبره کیږي چه ”وروره په دې دُنیا کښې په شرافت سره اوسیدلو ګُزاره نه کیږي، مونږ خو د شریفانو سره شریفان او بدماشانو سره بدماشان یو!“ صرف دا وئیل کافي نه ګڼړي، اوس خو په معمولي خبره باندې اول د خُلې بد رد، بیا لاس اچولو، او د هغې نه پس چاقو چاړې بلکه ډزو ته خبره ورسي. اَفسوس! نن صبا بعضې مسلمانان کله د **پښتون**، کله د **پنجابي**، کله د **مُهاجِر**، کله د **سندهي** او کله د **بلوچ** قومِیَّت نعره لګوي او د یو بل مرئ پریك کوي. د یو بل مال او جائداد سوزوي . په خپل مینځ کښې صرف د نسلي او لِساني فرق په وجه په جنګ جګړو کښې اخته وي. مسلمانانو! تاسو خو د یو بل محافظ وئ، دا په تاسو څه وشو؟ ستاسو د خوږ آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان خو دا دې چه: ”د مُؤمِنانو مِثال خو د یو بدن په شان دې چه که یو اندام ته تکلیف ورسي نو ټول بدن د هغې تکلیف محسوسوي.“ (بُخاری ج٤ ص١٠٣ حدیث٦٠١١)



www.dawateislami.net

يو شاعر په څومره ښکلي انداز پوهه کول کړي دي:

مبتلائے درد کوئی عضو ہو روتی ہے آنکھ
کس قدر ہمدرد سارے جسم کی ہوتی ہے آنکھ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! مونږ ته په خپل مينځ کښې د جنګ جګړې کولو په ځائ د يو بل سره همدردي او غمګُساري کول پکار دي. مسلمان يو بل وهلو والا او کټ کولو او لوټ کولو والا نه وي.

## د مسلمان مُؤمِن او مُهاجِر تعريف

د حضرتِ سَيِّدُنا فَضاله بِن عُبَيد رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دي چه تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حَجَّةُ الْوَداع په موقع باندې اِرشاد اُوفرمائيلو: ”آيا تاسو ته د مُؤمِن په باره کښې خبر درنکړم؟“ بيا ئې اِرشاد اُوفرمائيلو: ”مُؤمِن هغه دې د چا نه چه نور مسلمانان د خپل ځان او خپلو مالونو نه بې يَرې وي او مسلمان هغه دې د چا د ژبې او لاس نه چه نور مسلمانان محفوظ اوسي او مُجاهِد هغه دې چا چه د اِطاعتِ خُداوندي عَزَّوَجَلَّ په مُعامَله کښې د خپل نفس سره جِهاد وکړو او مُهاجِر هغه دې چا چه د خطا او ګُناهونو نه علٰيحدګي اختيار کړه.“ (اَلْمُسْتَدْرَك ج۱ص۱۵۸حديث۲٤) او اِرشاد ئې اُوفرمائيلو: د مسلمان د پاره جائز نه دي چه د بل مسلمان طرف ته په سترګه داسې اِشاره وکړي چه د هغې نه تکليف ورسي. (اِتحَافُ السَّادَة ج۷ص۱۷۷) په يو مُقام ئې اِرشاد اُوفرمائيلو: يو مسلمان ته جائز نه دي چه هغه يو مسلمان وَيَروي. (اَبو داؤد ج٤ص۳۹۱ حديث۵۰۰٤)

طریق مصطفٰی کو چھوڑنا ہے وجہ بربادی
اسی سے قوم دنیا میں ہوئی بے اقتدار اپنی



www.dawateislami.net

## ناقابِل برداشت خارخت

**حضرتِ** سَیِّدُنا **مُجاهِد** رَحْمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: دوزخيان به په داسې **خارخت** کښې اخته کړې شي چه په ګرَولو ګرَولو به د هغوئي خرمن ولاړه شي تر دې چه په هغوئي کښې به د چا هډوکي ښکاره شي. بيا به غږ واوري، اے فلانکيه: آيا د دې نه درته تکليف کيږي؟ هغه به وائي: آو. هله به هغوئي ته اُووئيلې شي: په دُنيا کښې به چه تاسو مسلمانان تنګول [يعني تکليف به مو ورکولو] دا د هغې سزا ده.'' (اِتحَافُ السَّادَة ج۷ ص۱۷۵)

## د تکليف لرې کولو ثواب

د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد دې: ما يو کس په **جَنَّت کښې په ګرځيدو** [راګرځيدو] وليدو چه کوم ځائ ته غوارې اُوځي ځکه چه هغه په دې دُنيا کښې يوه داسې ونه د لارې نه کټ کړې وه چه هغې به خلقو ته تکليف ورکولو. (مُسلِم ص۱٤۱۰ حديث۲٦۱۸)

## که جنګ کوې نو د نفس سره جنګ کوه!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې اَحادِيثِ مبارکه نه درس حاصل کړئ او په خپل مينځ کښې د جنګ جګړې او لُوټ مار نه پرهيز وکړئ. که جنګ کوئ نو د شيطان مردود سره جنګ وکړئ، بلکه ضرور ورسره جنګ وکړئ، **نَفسِ اَمّاره** سره جنګ وکړئ، د جِهاد په وخت کښې د دِين د دُښمنانو سره قِتال وکړئ، خو په خپل مينځ کښې ورونړه ورونړه جوړ شئ.

فرد قائم ربط ملت سے ہے تنہا کچھ نہیں
موج ہے دریا میں اور بیرونِ دریا کچھ نہیں



www.dawateislami.net

## آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم مُسکي وو!

اَلْحَمْدُلِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ د **دعوتِ اسلامي** په مَدَني ماحول کښې د هيڅ قِسمه لِساني او قومي اختلاف نشته، هرې ژبې وئيلو والا او هرې ورورولۍ سره تَعَلُّق لرونکي د خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کرم والا لــمن کښې پناه اخستې ده. تاسو هُم هر دَم د **دعوتِ اسلامي** په مَدَني ماحول کښې شامل اوسئ او په عِشقِ رَسُول صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې ډوب ژوند تيرولو د پاره خپل ځان د مَدَني انعاماتو په قالب کښې واچوئ. د ترغيب او تَحریص د پاره يو خوشګوار او خوشبودار مَدَنــي سپرلي تاسو ته اُوروم، د **تبليغ قُرآن و سُنَّت** د عالــمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** عالمي مَدَنــي مرکز فيضانِ مدينه بابُ الْمَدِينه کراچۍ ته د **مَدَني قَافِله کورس** کولو د پاره تشريف راوړونکي د **راولپنډۍ** يو مُبَلِّغ چه کوم حَلفِيه بيان ليکلې راکړې دې د هغې خُلاصه دا: زه په **عالَمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه** کښې اُوده ووم، د سر سترګې مې څه پټې شوې چه اَلْحَمْدُلِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ د زړه سترګې مې وغړيدې، په خوب کښې مې وليدو چه حُضُور رِسالت مآب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په يوه اوچته چوتره باندې تشريف فرما دې، نزدې ورته د مَدَني انعاماتو د کارډونو بورۍ پرتې دي. خوږ مَدَنــي آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **مَدَني انعاماتو** يو يو کارډ په غور کتلو او مُسکي وو. بيا زما سترګې وغړيدې.

مدنی انعامات سے عطار ہم کو پیار ہے　　اِنْ شَآءَاللّٰہ دو جہاں میں اپنا بیڑا پار ہے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب!　　صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د جادوګر جادو ناکام

**حضرتِ** سَیِّدُنا اِسمٰعیل **حَقِّی** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نقل کوي: دا شپه د آفتونو نه د سلامتۍ ده په دې کښې صرف رَحمت او خير په زمکه نازليږي. نه په دې کښې شيطان په چا د بدۍ کولو طاقت لري او نه **د جادوګر جادو** په دې کښې چليږي. (رُوحُ البَیان ج۱۰ ص۴۸۵ مُلَخّصاً)



www.dawateislami.net

## د شَبِ قَدر نښې

حضرتِ سَیِّدُنا عُبادَه بِن صامِت رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په بارګاهِ رسالت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې د شَبِ قَدر په باره کښې سوال وکړو نو سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائیلو: ''شَبِ قَدر د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د آخري عَشرې په طاق شپو یعني یو وِیشتمه، دریوِیشتمه، پینځه وِیشتمه، ووه وِیشتمه یا یو کم دیرشمه شپه کښې ولټوئ. نو څوك چه د اِیمان سره د ثواب په نِیَّت په دې شپه کښې عِبادت وکړي، د هغه تیر شوي او راروان ګناهونه به اُوبخښلې شي. د هغې په نښو کښې دا هُم دي چه هغه مبارکه شپه ښکاره، روښانه او بالکل صفا وي. په دې کښې نه زیاته ګرمي وي نه زیاته یخني، بلکه دا شپه مُعتَدِله وي، [داسې ښکاري] لکه په دې کښې چه سپوږمئ روښانه وي، په دې پوره شپه شیطان د آسمان په ستورو نه وِیشتلې کیږي. د نورو نښو نه دا هُم دي چه د دې شپې د تیریدو نه پس چه کوم سحر راځي په هغې کښې د لـمر ستړګه بغیر د پلوشو نه راخیژي او هغه داسې وي لکه د څوارلسمې سپوږمئ. اللّٰه تعالٰی په دې ورځ د لـمر د ستړګې راختو سره شیطان د راوتلو نه حصار کړې دې.'' (د دې یوې ورځې نه علاوه هره ورځ د لـمر دسترګې سره سره شیطان هُم را اُوځي) (مُسْنَدِ اِمام اَحمَد ج۸ ص۴۰۲، ۴۱۴، حدیث۲۲۷۷۶، ۲۲۸۲۹)

## د شَبِ قَدر پټ ساتلو حِکمت

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په حدیثِ پاك کښې فرمائیلې شوي دي چه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د آخري عَشرې په طاق شپو کښې یا د آخرئ شپې اګر که هغه دیرشمه شپه وي، [یعني په دې شپو کښې] یوه شپه شَبِ قَدر وي. د دې شپې په مخفي (یعني پټ) ساتلو کښې یو حِکمت دا هُم دې چه مسلمان د دې شپې په تلاش (یعني لټون) کښې هره شپه د اللّٰه تعالٰی په عِبادت کښې د تیرولو کوشش وکړي معلومه نه ده چه کومه شپه به شَبِ قَدر وي.



www.dawateislami.net

## د سمندر اوبه خوږې شي (حِکایت)

د حضرتِ سَیِّدُنا عُثمان بِن اَبِـی العاص رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ غُلام هغوئي ته عرض وکړو: ”اے آقا رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ زه د یوې مودې نه جاله واني کووم [یعني کشتئ چلووم]، ما د سمندر په اوبو کښې یوه داسې عجیبه خبره محسوسه کړه.“ هغوئي ترې تپوس وکړو: ”هغه عجیبه خبره څه ده؟“ عرض ئې وکړو: ” اے زما آقا رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ هر کال یوه داسې شپه هُم راځي چه په هغې کښې د سمندر اوبه خوږې شي.“ هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ غُلام ته اُوفرمائیل: ”دا پیره خیال ساته چه څنګه د شپې اوبه خوږې شي ما ته خبر وکړه.“ چه کله د رَمَضان ووه وِیشتمه شپه راغله نو غُلام آقا ته عرض وکړو چه ”آقا! نن د سمندر اوبه خوږې شوې دي.“ (تَفْسِیر عزیزی ج ۳ ص ۲۵۸، تفسیرِ کَبِیر ج ۱۱ ص ۲۳۰)

**د اللّٰه تعالیٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بي حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## مونږه نښې ولې نه وِینو؟

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د **شَبِ قَدر** د ګنړ شمیر علاماتو [یعني نښو] تذکِره تیره شوه. زمونږه په ذِهن کښې دا سوال پیدا کیدې شي چه زمونږه د عُمر ډیر کلونه تیر شو، هر کال **شَبِ قَدر** راځي او تیره شي خو مونږ ته تر اوسه پورې د دې عَلامتونه ښکاره نه شو؟ د دې په جواب کښې عُلَمائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی فرمائی: د دې خبرو تَعَلُّق د **کَشف او کَرامت** سره دې، دا عام سړې نه شي لیدلې. صرف هغه ئې لیدلې شي چا ته چه د بصیرت (یعني قَلبي نظر) نعمت حاصل وي. هر وخت د مَعصِیَت [یعني نافرمانئ] په نجاست کښې ککړ اوسیدو والا ګنهګار انسان دا نظارې چرته لیدلې شي! ؎

آنکھ والا ترے جوبن کا تماشا دیکھے
دیدہ کور کو کیاآئے نظر کیا دیکھے



www.dawateislami.net

# په طاقو شپو كښې ئې تلاش كړئ

د اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا نه رِوايت دې: د نبيانو سرتاج، صاحِبِ مِعراج صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلې دې: **شَبِ قَدر** د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د آخري عَشرې په **طاق شپو** (يعني يو وِيشتمې، درويشتمې، پينځه وِيشتمې، ووه وِيشتمې او يو كم ديرشمې شپو) كښې تلاش كړئ." (بُخاری ج۱ ص٦٦١ حديث۲۰۱۷)

# آخرو ووه شپو كښې ئې تلاش كړئ

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا رِوايت كوي: د حُضُور انور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بعضو صحابهٔ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته په خوب كښې **شَبِ قَدر** ښودلې شوې دې. خوږ خوږ آقا مكّـى مَدَنـى مُصطَفىٰ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلې دې: "زه وِينم چه ستاسو خوبونه په آخري ووه شپو كښې مُتَّفِق شوي دي. ځكه دِ د دې تلاش كوونكې دا په آخري ووه شپو كښې تلاش كړي." (بُخاری ج۱ ص٦٦٠ حديث ۲۰۱۵)

# لَيْلَةُ الْقَدْر پټ ولې؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د **الله** تعالیٰ سُنَّتِ كريمه دې چه هغه بعض اَهَم ترين مُعامَلات په خپل مَشِيَّت د بندګانو نه پټ ساتلي دي. څنګه چه منقُول دي: **الله** تعالیٰ خپله **رِضا** په نيكو كښې، خپله **ناراضي** په ګُناهونو كښې او خپل **اولياء** رَحِمَهُمُ اللہُ تَعَالٰی په خپلو بندګانو كښې پټ ساتلي دي." (اَخلاقُ الصَّالِحِين ص٥٦) د دې خُلاصه دا ده چه بنده دِ د ورې ګنړلو په وجه يوه نيكي هُم نه پريږدي. ځكه چه هغه نه دې خبر چه **الله** تعالیٰ به په كومه نيكۍ راضي كيږي، كيدې شي چه په ظاهره وړه ښكاريدو والا نيكۍ باندې **الله** تعالیٰ راضي شي. مَثَلًا د قِيامت په ورځ به يو ګنهګار كس صرف د دې نيكۍ په عِوَض كښې اُوبخښلې شي چه هغه په يو تږې سپي باندې



www.dawateislami.net

په دُنيا کښې اوبه څښلې وې. هُم دغسې خپله ناراضي په ګناهونو کښې د پټولو حِکمت دا دې چه بنده يوه ګناه د ورې ګنړلو په وجه ونکړي، بس چه د هرې ګناه نه ځان ساتي. ځکه چه هغه نه دې خبر چه الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی به په کومه ګناه ناراضه کيږي. هُم دغسې ئې اولياء رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی په بندګانو کښې ځکه پټ کړي دي چه انسان د هر نيك حقيقي پابندِ شرع مسلمان رِعايت او تعظيم وکړي ځکه چه کيدې شي هغه وَلِیُّ الله وي. چه کله مونږه د نيکو خلقو د زړه نه تعظِيم [يعني ادب] کوو، د بدګُمانئ نه ځان ساتو او هر مسلمان د خپل ځان نه ښه ګنړل شروع کړو نو زمونږه مُعاشره به هُم صحيح شي او اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالٰی زمونږه آخرت به هُم بهتر شي.

## د حِکمتونو مَدَني ګلونه

اِمام فَخرُ الدِّين رازي رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه په "تفسيرِ کَبِير" کښې فرمائي: الله تعالٰی شَبِ قَدر په يو څو وجهو پټ ساتلې ده. اوّل دا چه څنګه ئې نور څيزونه پټ ساتلې دي، مَثَلًا الله تعالٰی خپله رِضا په طاعتونو [يعني نيکو] کښې پټه ساتلې ده چه بنده په هر طاعَت کښې رَغبت حاصل کړي. خپل غضب ئې په ګناهونو کښې پټ ساتلې دې چه بنده د هرې ګناه نه ځان ساتي. خپل ولي ئې په خلقو کښې پټ کړې دې چه خلق د هر کس تعظِيم [يعني ادب] کوي، قبولِيَّتِ دُعا ئې په دُعاګانو کښې پټ کړې دې چه په ټولو دُعاګانو کښې مُبالَغه کوي او اِسمِ اَعظم ئې په اِسمونو کښې پټ کړې دې چه خلق د ټولو اَسماء تعظيم کوي. او صَلٰوةِ وُسطٰی ئې په لمونځونو کښې پټ کړې دې چه په ټولو لمونځونو مُحافَظَت (يعني هميشګي) اختيار کړي او قبولِ تَوبه ئې پټ ساتلې دې چه بنده د توبه په ټولو قِسمونو هميشګي اختيار کړي، او د مرګ وخت ئې پټ ساتلې دې چه مُکَلَّف (يعني بنده) په ويره کښې اوسيږي. هُم دغسې ئې شَبِ قَدر هُم پټ ساتلې دې چه د رَمَضَانُ الۡمُبَارَك د ټولو شپو تعظيم کوي. بله دا چه لکه الله تعالٰی چه اِرشاد فرمائي: "که ما شَبِ قَدر مُعَيَّن کړې (په تا ظاهر کړې) وې او دا چه ما ته په ګُناه باندې ستا جُرأت هُم معلوم دې نو که کله شَهوَت ته په دې شپه د نافرمانئ غاړې ته راوستې وې او ته په



www.dawateislami.net

ګُناه کښې اخته شوې وي نو ستا د دې شپې د پيژندلو باوجود ګناه کول به ستا [د دې نه په] بې خبرئ سره ګناه کولو نه زياته سخته وي، پس په دې وجه دا ما پته وساتله چه بنده د دې په طَلَب کښې کوشش وکړي او د هغه کوشش ثواب وګټي. خلورمه دا چه بنده ته د شَبِ قَدر تَعَيُّن حاصل نه وي نو د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په هره شپه کښې به د الله تعالیٰ په اِطاعَت کښې کوشش کوي په دې اُمِّيد چه کيدې شي دا شَبِ قَدر وي. (تفسيرِ كَبِير ج١١ ص٢٩ مُلَخَّصاً)

## په کال کښې کومه شپه هُم شَبِ قَدر کيدې شي

د شَبِ قَدر په تَعَيُّن کښې په عُلَمائے کرامو رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی کښې کافي اختلاف موجود دې. تر دې چه د بعضو بُزرګانو رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی په نزد شَبِ قَدر په پوره کال کښې تاويږي راتاويږي. مَثَلًا د فَقِيهُ الأُمَّه حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ مسعُود رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمان دې: شَبِ قَدر هُم هغه کس موندلې شي چه څوك د پوره کال په شپو تَوَجُّه ساتي. (تفسيرِ كَبِير ج١١ ص٢٣٠) د دې قول په تائيد کښې اِمامُ العارِفِين سيِّدُنا شيخ مُحىُ الدِّين اِبنِ عَرَبِى رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي چه ما د شَعْبَانُ الْمُعَظَّم په پينځلَّسمه شپه (يعني په شَبِ بَراءَت) او يو ځل د شَعْبَانُ الْمُعَظَّم په يو کم ديرشمه شپه شَبِ قَدر موندلې ده او د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په ديارلسمه شپه او اَتلَّسمه شپه مې هُم ليدلې ده او په مختلفو کلونو کښې مې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د آخرئ عَشرې په هره طاق شپه کښې موندلې ده. نور فرمائي: اګرچه زيات تر شَبِ قَدر په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې وي خو زما تجرِبه هُم دا ده چه دا په پوره کال کښې تاويږي راتاويږي. يعني د هر کال د پاره د دې صرف يوه ورځ مخصوصه نه ده.
(اِتحَافُ السَّادَة ج٤ ص٣٩٢)

## د رَحمَتِ کَونَين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم سره د شيخينو رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا تشريف راوړل

اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د اعتِکاف ښه ښکلي سپرلي وي، د دُنيا په مختلفو ملکونو کښې اِسلامي وروڼړه په جُماتونو کښې او اسلامي خويندې



www.dawateislami.net

په ”مسجِدِ بَيت“ کښې د اِعتِکاف سعادت حاصلوي او ښه ډير بَرَکتونه حاصلوي. د ترغيب د پاره يو مَدَنـي سپرلي تاسو ته اوروم: د تحصِيل لياقت پور، ضلع رَحِيم يار خان (پنجاب پاکستان) د يو اسلامي ورور د بيان خُلاصه ده: زه د فِلمونو داسې شوقي ووم چه زمونږ د کلي د سي ډيانو د دُکان تقريباً نيمې سي ډيانې مې کتلې وې. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ما ته د طلباني کلي په مَدَنـي مسجِد کښې (په ١٤٢٢ھ، 2001ء کښې) د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د آخري عَشرې د اِعتِکاف کولو سعادت نصيب شو. د دعوتِ اسلامي د عاشقانِ رَسُول د صُحبت د بَرَکتونو به څه وائې! د ۲۷ رَمَضَانُ الْمُبَارَك ناقابِلِ فراموش ايمان تازه کوونکې واقعه د تَحدِيثِ نِعمت د پاره عرض کووم: ټوله شپه مې په بيدارئ کښې تيره کړه او په ژړا ژړا مې د سرکارِ نامدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د دِيدار خيرات اُوغوښتو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د سحر په وخت کښې په ما د کرم دروازه برسيره شوه، ما د خوب په حالت کښې وليدل چه زه په يو جُمات کښې دننه يم، په دې کښې چا اعلان وکړو: ”حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به تشريف راوړي او د لـمانځه اِمامت به کوي.“ لږ ساعت پس رَحمَتِ کَونَين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د شيخينِ کرِيمَين رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا تشريف راوړو او زما سترګې وغړيدې. صرف يو نظر مې وليدو او هغه ښکلې منظر مې د سترګو نه پناه شو، په دې مې يو دم زړه نرې شو او د سترګو نه مې اوښکې رواني شوې دومره مې وژړل چه سلګئ راباندې ولګيدې اے کاش!ــه

اتنی مدت تک ہو دِیدِ مصحف عارض نصیب
حفظ کر لوں ناظرہ پڑھ پڑھ کے قرآنِ جمال

(ذوقِ نعت)

اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د هغې نه پس زما په زړه کښې د **تبليغ قُرآن و سُنَّت** د عالـمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** مَحَبَّت نور زيات شو بلکه بس زه نور پخپله د **دعوتِ اسلامي** شوم. د کور نه مې ترکيب جوړ کړو او **بابُ الْمَدِينه** کراچئ ته روان شوم او درسِ نِظامي کولو د پاره مې په



www.dawateislami.net

جامِعَةُ الْمدِينه کښې داخله واخستله. د دې بيان ورکولو په وخت په درجهٔ اُولٰی کښې عِلمِ دِين حاصلولو سره سره تنظيمي طور د يو ذيلي حلقه ذِمَّه دار په حيثِيَّت د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني کارونو عام کولو کوشش کووم.

جلوه یار کی آرزو ہے اگر مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
میٹھے آقا کریں گے کرم کی نظر مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص ۶۳۹)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د اِمام اعظم، اِمام شافعي او صاحبينو اقوال

د سَيِّدُنا امامِ اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه نه په دې باره کښې دوه قَوله منقول دي: ﴿۱﴾ لَيْلَةُ الْقَدْر په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې دې خو کومه شپه مُعَيَّنه (Fix) نه ده ﴿۲﴾ د سَيِّدُنا امامِ اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه يو مشهور قول دا دې چه لَيْلَةُ الْقَدْر په پوره کال کښې تاويږي راتاويږي، کله د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په مياشت کښې وي او کله په نورو مياشتو کښې. هُم دا قول د سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عبّاس، سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ مَسعُود او سَيِّدُنا عِکرَمه رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُم نه هُم منقول دې.

(عُمدةُ القاری ج۸ص۲۵۳ تحت الحديث ۲۰۱۵)

د سَيِّدُنا اِمام شافِعِي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه په نزد "**شَبِ قَدر**" د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په آخري عَشره کښې ده او د دې شپه مُعَيَّن (Fix) ده، په دې کښې به تر قيامته بدلون نه کيږي.

د سَيِّدُنا اِمام اَبُو يُوسُف او سَيِّدُنا اِمام محمد رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْهِمَا په نزد لَيْلَةُ الْقَدْر په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې ده خو يوه شپه مُعَيَّن (Fix) نه ده. او د هغوئي يو قول دا دې چه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په آخري پينځلَس شپو کښې لَيْلَةُ الْقَدْر وي. (ايضاً)



www.dawateislami.net

## شَبِ قَدر بدلیږي را بدلیږي

د سَیِّدُنا اِمام مالِك رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ په نزد شَبِ قَدر د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د آخري عشرې په طاقو شپو کښې وي. خو کومه یوه شپه مخصوص نه ده، هر کال په دې طاقو شپو کښې تاویږي راتاویږي، یعني کله یووِیشتمه شپه لَیْلَةُ الْقَدْر وي نو کله درېویشتمه، کله پینځه وِیشتمه نو کله ووه وِیشتمه او کله کله یو کم دیرشمه شپه هُم شَبِ قَدر شي. (عُمدةُالقاری ج١ص٣٣٥)

## شیخ ابُوالحسن شاذِلي رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ او شَبِ قَدر

د سلسلهٔ قادِرِیَّه شاذِلیه عظیم پیشوا [یعني مشر بزرګ] حضرتِ سَیِّدُنا شیخ اَبُوالحسن شاذِلي رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ (مُتَوَفّٰی ٦٥٦ھ) فرمائي: ''چه کله د اِتوار یا چارشنبې په ورځ ورومبۍ روژه راغلې ده نو ما په یو کم دیرشمه شپه، که د کل په ورځ ورومبۍ روژه شوې ده نو په ما په یو وِیشتمه شپه، که ورومبۍ روژه د نهې یا جُمعې په ورځ راغلې ده نو په درېوِیشتمه شپه کښې مې شَبِ قَدر موندلې ده.'' (تَفسیرِ صاوی ج٦ ص٢٤٠٠)

## ووه وِیشتمه شپه شَبِ قَدر ده

اګر چه بُزرګانِ دِین او مُفَسِّرین و مُحَدِّثِین رَحِمَہُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی د شَبِ قَدر په تَعَیُّن کښې اختِلاف لري، خو د یو درانه اکثرِیَّت رائے هُم دا ده چه هر کال د رَمَضَانُ الْمُبَارَك ووه وِیشتمه شپه شَبِ قَدر ده. د سیِّدُ الانصار، سیِّدُ الفُقَراء، حضرتِ سَیِّدُنا اُبَـئ بن کَعْب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہ په نزد د رَمَضان ووه وِیشتمه ''شَبِ قَدر'' ده. (صحیح مُسلِم ص٣٨٣ حدیث٧٦٢)

حضرتِ سَیِّدُنا شاه عبد العزیز مُحَدِّث دِهلوي رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ هُم فرمائي چه شَبِ قَدر د رَمَضَانُ الْمُبَارَك ووه وِیشتمه شپه وي. د خپل بیان د تائید د پاره هغوئي دوه دلیلونه بیان کړي دي: ﴿١﴾ په لَیْلَةُ الْقَدْر کښې نهه حُروف دي او دا کَلِمه په سُوْرَةُ الْقَدْر کښې درې ځله راغلې ده، دغسې درې له چه په نهه کښې ضرب ورکړې شي نو حاصِلِ ضرب ''ووه وِیشت'' راځي کوم چه دي



www.dawateislami.net

خبرې طرف ته اِشاره کوي چه شَبِ قَدر ووه وِیشتمه شپه ده. ﴿٢﴾ په دې سُورهٔ مبارکه کښې دیرش کَلِمات (یعنې دیرش الفاظ) دي. ووه وِیشتمه کَلِمه ''هِیَ'' ده چه د هغې مرکز لَيلَةُ الْقَدْر دې. لکه د الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی له طرفه نیکو خلقو د پاره دا اِشاره ده چه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك ووه وِیشتمه شپه، شَبِ قَدر دې. (تَفسِیر عزیزی ج٣ ص٢٥٩ مُلَخَّصاً)

## لکه شَبِ قَدر ئې چه حاصله کړه

**فرمانِ مُصطَفٰی** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دي: چا چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم[1]'' درې ځله ولوستو نو هغه چه لکه شَبِ قَدر حاصِله کړه. (اِبنِ عساکِر ج٦٥ ص٢٧٦) که کیدې شي نو هره شپه دا دُعا درې ځله لوستل پکار دي.

د رِضائے اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ خواهشمندو! که کیدې شي نو ټول کال هره شپه په اِهتِمام سره څه نه څه نیك عمل کول پکار دي ځکه چه معلومه نه ده چه کله شَبِ قَدر شي. په هره شپه کښې دوه فرض لـمونځونه راځي، د نورو لـمونځونو سره سره د ماښام او ماسخُتن د لـمونځونو هُم د جَمعې سره ښه اِهتِمام کول پکار دي چه که په شَبِ قَدر کښې د دې دواړو لـمونځونو جَمعه نصیب شوه نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی بیړئ به مو پوریوځي، بلکه هُم دغسې د پینځه واړو لـمونځونو سره سره د ماسخُتن او سحر د جَمعې هُم په خُصُوصِیَّت سره عادت جوړ کړئ. دوه **فرامینِ مُصطَفٰی** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ﴿١﴾ چا چه د ماسخُتن لـمونځ د جَمعې سره وکړو لکه هغه چه نیمه شپه قِیام وکړو او چا چه د سحر لـمونځ د جَمعې سره ادا کړو نو لکه هغه چه پوره شپه قِیام وکړو. (مُسلِم ص٣٢٩ حدیث٦٥٦) ﴿٢﴾ چا چه د ماسخُتن لـمونځ د جَمعې سره وکړو تَحقِیق هغه د لَيلَةُ الْقَدْر نه خپله حِصّه حاصله کړه. (مُعجَم کَبِیر ج٨ ص ١٧٩ حدیث٧٧٤٥)

---

[1] ترجَمه: یعني د الله عَزَّوَجَلَّ نه سِوا هیڅ څوك د عِبادت لائق نشته، چه حِلم او کرم والا دې، الله عَزَّوَجَلَّ پاك دې کوم چه د ووه واړه آسمانونو او د لوئ عرش مالِك دې.



www.dawateislami.net

د الله تعالیٰ د رَحمت تلاش کوونکو! که ټول کال مو هُم دا د جَمعي عادت جوړ وي نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ په شَبِ قَدر کښې به هُم د دې دوارړو لـمونځونو جَمعه درنصیب شي او ټوله شپه د خوب کولو باوجود به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د هرې شپې په شان په شَبِ قَدر کښې هُم لکه د ټولې شپې عبادت کوونکي قرار شئ.

## د شَبِ قَدر دُعا

د اُمُّ الْمُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدَتُنا عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا نه رِوایت دې: ما په بارګاهِ رِسالت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې عرض وکړو: یارَسُولَ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! که ما ته د شَبِ قَدر عِلم وشي نو څه ولولم؟" اِرشاد ئې اُوفرمائیلو: داسې دُعا اُوغواړه: اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ عَفُوٌّ كَرِيْمٌ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّی. یعني اے الله عَزَّوَجَلَّ بیشکه ته بخښونکې ئې او بخښنه ورکول خوښوې لِـهذا ما اُوبخښې. (تِرمِذی، ج۵ ص۳۰۶ حدیث۳۵۲۴)

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! کاش چه! مونږه هره شپه کم از کم یو ځل دا دُعا لَوَلو چه کله خو به را ته شَبِ قَدر نصیب شي. او په ووه ویشتمه شپه خو دا دُعا بیا بیا لوَستل پکار دي.

## د شَبِ قَدر نفلونه

حضرتِ سَیِّدُنا اِسمٰعِیل حَقِّي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په "تَفسِیر رُوحُ الْبَیان" کښې دا روایت نقل کوي: خوك چه په شَبِ قَدر کښې د اخلاص په نِیَّت نفلونه وکړي د هغه تیر شوي او راروان ګناهونه به اُوبخښلې شي. (رُوحُ البَیان ج۱۰ ص۴۸۰)

چه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك آخري لس ورځې به راغلې نو سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به عبادت ته ملا وتړله، په هغې کښې به ئې شپې رُوڼړولې [یعني په وِینښه تیرولې] او د خپل کور کسان به ئې راویښول. (ابنِ مَاجَه ج۲ ص۳۵۷ حدیث۱۷۶۸)



www.dawateislami.net

**حضرتِ** سَیِّدُنا اِسمٰعِیل حَقِّي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نقل کوي چه بُزرګانِ دِین رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی به د دې عَشرې په هره شپه کښې دوه رکعاته نفل د **شَبِ قَدر** په نِیَّت ادا کول. او د بعضو اَکابِرو نه منقُول دي چه څوك هره شپه لس آياته په دې نِيَّت لوَلي نو د دې د بَرَکت او ثواب نه به نه **محرومه** کیږي.

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** دا شپه د بَرَکتونو کان دې. چنانچه حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس بن مالِك رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: یو ځل چه د **رَمَضان** میاشت راغله نو حُضُورِ انور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: "تاسو ته دا میاشت راغلې ده چه په دې کښې یوه شپه داسې هُم ده چه د زرو میاشتو نه بهتره ده. کوم کس چه د دې شپې نه **محرومه** پاتې شو، لکه د ټولو خیرونو نه چه **محرومه** پاتې شو او د دې د خیر نه **محرومه** نه پاتې کیږي خو هغه کس کوم چه حقیقةً **محرومه** دې." (اِبنِ مَاجَه ج۲ ص۲۹۸ حدیث۱۶٤٤)

اے زمونړه خوږه خوږه الله عَزَّوَجَلَّ! د خپل خوږ حبیب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر مونږ ګنهګاران د لَیْلَةُالْقَدْر د بَرَکتونو نه مالامال کړې او زیات نه زیات د خپل عبادت توفیق را کړې. اٰمِین بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

لیلۃ القدر میں مطلعِ الفجر حق　　　مانگ کی استقامت پہ لاکھوں سلام
(حَدائقِ بخشِش ص۲۹۹)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد



www.dawateislami.net

# ھوا جاتا ھے رُخصت ماہِ رَمَضان یا رسولَ اللّٰہ

ہوا جاتا ہے رخصت ماہِ رمضان یارسول اللہ
رہا اب چند گھڑیوں کا یہ مہماں یارسول اللہ

❖ ❖ ❖

خوشی کی لہر دوڑی ہر طرف رمضان جب آیا
ہیں اب رنجیدہ رنجیدہ مسلماں یارسول اللہ

❖ ❖ ❖

مسرت ہی مسرت اور خوشی ہی تھی خوشی جس دم
نظر آیا ہلالِ ماہِ رمضاں یا رسول اللہ

❖ ❖ ❖

شہا! اب غم کے مارے خون کے آنسو بہاتے ہیں
چلا تڑپا کے ہائے ماہِ رمضاں یارسول اللہ

❖ ❖ ❖

چلا اب جلد یہ رمضاں ستائیس آگئی تاریخ
فقط دو دن کا اب رمضاں ہے مہماں یارسول اللہ

❖ ❖ ❖

فضائیں نور برساتیں ہوائیں مسکراتی تھیں
سماں اب ہو گیا ہر سمت ویراں یارسول اللہ

❖ ❖ ❖

ریاضت کچھ نہ کی ہم نے عبادت کچھ نہ کی ہم نے
رہے بس ہر گھڑی مشغولِ عصیاں یارسول اللہ

❖ ❖ ❖



www.dawateislami.net

میں ہائے جی چراتا ہی رہا رب کی عبادت سے
گزارا غفلتوں میں سارا رمضاں یارسول اللہ

❖ ❖ ❖

میں سوتا رہ گیا غفلت کی چادر تان کر افسوس
خدارا میری بخشش کا ہو ساماں یارسول اللہ

❖ ❖ ❖

جدائی کی گھڑی جاں سوز ہے عشاقِ رمضاں پر
چلا ان کو رلا کر ماہِ رمضاں یارسول اللہ

❖ ❖ ❖

تڑپتے ہیں بلکتے ہیں قرار آتا نہیں ان کو
بہت بے چین ہیں عشاقِ رمضاں یارسول اللہ

❖ ❖ ❖

گناہوں کی سیاہی چھا رہی ہے رخ پہ محشر میں
مرا چہرہ پئے رمضاں ہو تاباں یارسول اللہ

❖ ❖ ❖

مہ رمضاں کی رخصت جانِ عشق پر قیامت ہے
گدا تیرے ہیں حیران و پریشاں یارسول اللہ

❖ ❖ ❖

خدا کے نیک بندے نیکیوں میں لگ گئے لیکن
گنہ کرتا رہا عطار ناداں یارسول اللہ

❖ ❖ ❖

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٧٨)



www.dawateislami.net

# قلبِ عاشق هے اب پاره پاره اَلوَداع اَلوَداع آه! رَمَضان

(په دې کلام کښې بعضې مِصرعې د يو نامعلومه شاعر دي، کلام ډير د غم نه ډك وو ځکه مې د چا په فرمائش د هُم هغه کلام په مدد د خپلو جذباتو اِظهار د الفاظو په ذريعه کړې دې)

قلب عاشق ہے اب پارہ پارہ — الوداع الوداع آہ! رَمضاں
کلفتِ ہجر وفرقت نے مارا — الوداع الوداع آہ! رَمضاں

❖ ❖ ❖

تیرے آنے سے دل خوش ہوا تھا اور ذوقِ عبادت بڑھا تھا
آہ! اب دل پہ ہے غم کا غلبہ — الوداع الوداع آہ! رَمضاں

❖ ❖ ❖

مسجدوں میں بہار آگئی تھی — جوق در جوق آتے نمازی
ہو گیا کم نمازوں کا جذبہ — الوداع الوداع آہ! رَمضاں

❖ ❖ ❖

بزمِ افطار سجتی تھی کیسی! — خوب سحری کی رونق بھی ہوتی
سب سماں ہو گیا سونا سونا — الوداع الوداع آہ! رَمضاں

❖ ❖ ❖

تیرے دیوانے اب رو رہے ہیں — مضطرب سب کے سب ہو رہے ہیں
ہائے اب وقتِ رخصت ہے آیا — الوداع الوداع آہ! رَمضاں

❖ ❖ ❖

تیرا غم ہم کو تڑپا رہا ہے — آتشِ شوق بھڑکا رہا ہے
پھٹ رہا ہے ترے غم میں سینہ — الوداع الوداع آہ! رَمضاں

❖ ❖ ❖



www.dawateislami.net

یادِ رمضاں کی تڑپا رہی ہے　　آنسوؤں کی جھڑی لگ گئی ہے
کہہ رہا ہے یہ ہر ایک قطرہ　　الوداع الوداع آہ! رَمضاں

❖ ❖ ❖

دل کے ٹکڑے ہوئے جارہے ہیں　　تیرے عاشق مرے جارہے ہیں
رو رو کہتا ہے ہر ایک بچارہ　　الوداع الوداع آہ! رَمضاں

❖ ❖ ❖

حسرتا ماہِ رمضاں کی رخصت　　قلبِ عشاق پر ہے قیامت
کون دے گا انہیں اب دلاسا　　الوداع الوداع آہ! رَمضاں

❖ ❖ ❖

کوہِ غم عاشقوں پر پڑا ہے　　ہر کوئی خون اب رو رہا ہے
کہہ رہا ہے یہ ہر غم کا مارا　　الوداع الوداع آہ! رَمضاں

❖ ❖ ❖

تم پہ لاکھوں سلام آہ! رمضاں　　الوداع آہ! اے رب کے مہماں!
جاؤ حافظ خدا اب تمہارا　　الوداع الوداع آہ! رَمضاں

❖ ❖ ❖

نیکیاں کچھ نہ ہم کر سکے ہیں　　آہ! عصیاں میں ہی دن کٹے ہیں
ہائے! غفلت میں تجھ کو گزارا　　الوداع الوداع آہ! رَمضاں

❖ ❖ ❖

واسطہ تجھ کو میٹھے نبی کا　　حشر میں ہم کو مت بھول جانا
روزِ محشر ہمیں بخشوانا الوداع الوداع آہ! رَمضاں

❖ ❖ ❖



www.dawateislami.net

جب گزر جائیں گے ماہ گیارہ　　تیری آمد کا پھر شور ہو گا
کیا مری زندگی کا بھروسا　　الوداع الوداع آہ! رَمضاں

❖ ❖ ❖

ماہِ رمضاں کی رنگیں فضاؤ!　　ابرِ رحمت سے مملو ہواؤ
لو سلام آخری اب ہمارا　　الوداع الوداع آہ! رَمضاں

❖ ❖ ❖

کچھ نہ حسنِ عمل کر سکا ہوں　　نذر چند اشک میں کر رہا ہوں
بس یہی ہے مرا کل اثاثہ　　الوداع الوداع آہ! رَمضاں

❖ ❖ ❖

ہائے عطار بدکار کاہل　　رہ گیا یہ عبادت سے غافل
اس سے خوش ہو کے ہو نا روانہ　　الوداع الوداع آہ! رَمضاں

❖ ❖ ❖

سالِ آیندہ شاہِ حرم تم　　کرنا عطار پر یہ کرم تم
تم مدینے میں رمضاں دکھانا　　الوداع الوداع آہ! رَمضاں

❖ ❖ ❖

(وَسائلِ بخشِش ص٦٥١)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد



www.dawateislami.net

**سُوال**: د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په راتلو داسې وئيل څنګه دي چه ډيره دَرَنه [يعني سخته] مياشت راغله!

**جواب**: فُقَهائے کرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی فرمائي: څوك چه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د تَوهِين [يعني بې اَدَبئ] په نِيَّت اُووائي: "ډيره دَرَنه [يعني سخته] مياشت راغله." هغه کافِر دې. (اَلبَحرُ الرَّائق ج۵ ص۲۰۶) خو که روژه نيول ورته مشکل وي او په دې وجه داسې وائي او د روژې تَوهِين [يعني بې اَدَبي] ئې مقصد نه وي نو کُفر نه دې. خو داسې وئيل نه دي پکار ځکه چه د الله تعالٰی د عبادت نه زړه تنګيدل بد دي. (کُفريه کَلِمات کے بارے ميں سوال جواب ص۳۷۹)

**سُوال**: د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د روژو د شمير په باره کښې داسې وئيل څنګه دي چه زه خو نور په روژو نيولو نيولو بور [يعني تنګ] شوم.

**جواب**: په دې جُمله کښې کُفرِيه ډېره موجوده ده. چنانچه په "فَتَاوىٰ عالمګيرى" کښې دي: څوك چه د رَمَضَان د روژې په باره کښې اُووائي: "څومره ډيرې دي زما خو ترې نور زړه تنګ شوې دې." دا قول [يعني وينا] کُفر دې. (عالمګيرى ج۲ ص۲۷۰)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

تُوبُوا اِلَى الله! اَسْتَغْفِرُ الله

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# اَلوَداع ماهِ رَمَضان



## د درود شريف فضيلت

حُضُور نَبِيِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: ”چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف ولوستو الله تعالٰی په هغه لس رحمتونه ليږي.“ (مُسلِم ص۲۱۶ حديث۴۰۸)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ”اَلوَداع ماہِ رَمَضان“ لوستل جائز دي

د ”اَلوَداع ماهِ رَمَضان“ داسې شعرونه چه هيڅ شرعي خرابي پکښې نه وي د هغې لوستل او اوريدل مُباح و جائز دي، البته په دې د ثواب حاصلولو د پاره ښه **نِيَّت** ضروري دې او ښه **نِيَّتونه** چه څومره زيات وي هغه هُمره به ثواب هُم زيات حاصليږي.

## د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د دولسو حُروفو په نِسبت
## د ”اَلوَداع ماہِ رَمَضان“ مُتَعَلِّق دولس نِيَّتونه

﴿۱﴾ د ”اَلوَداع ماهِ رَمَضان“ وئيلو او اوريدلو په ذريعه به وعظ و نصيحت حاصلووم ﴿۲﴾ [د دې په ذريعه به] په خپل زړه کښې د الله و رسول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د مياشې مَحَبَّت زياتووم ﴿۳﴾ د نيکو د پاره به رَغبَت حاصلووم ﴿٤﴾ د ګناهونو نه د بچ کيدو فِکر به جوړووم (دا نِيَّتونه به صرف په دې صُورت کښې صحيح وي چه کوم کلام لوستلې کيږي هغه د شريعت مطابق وي او وعظ و نصيحت وغيره پکښې شامل وي) ﴿۵﴾ د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د آخري ساعته پورې به په بارګاهِ اِلٰهی کښې د خپلې بخښنې د پاره ساعت په ساعت د زارئ فرياد او ژړا کوشش کووم. (آه! آه! آه! په يو فرمانِ مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې دا هُم دي: ”محرومه دې هغه کس چا چه رَمَضان اوموندو او د هغه بخښنه ونشوه، **چه د هغه په رَمَضان کښې بخښنه ونشوه نو بيا به کله کيږي!**“)

(اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط ج۵، ص۳٦٦ حديث۷٦٢۷)

واسطہ رمضان کا یا رب! ہمیں تو بخش دے
نیکیوں کا اپنے پلے کچھ نہیں سامان ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

﴿٦﴾ په دې نيت به د ”اَلوَداع ماهِ رَمَضان“ په اِجتِماع کښې شرکت کووم چه د نيکو جذبه مې برقراره پاتې شي بلکه نوره زياته شي. (ځکه چه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په مياشت کښې په نيکو خلقو کښې د نيکئ جذبه نوره زياته شي) ﴿٧﴾ ډير خلق د خوفِ خُدا په وجه د ګناهونو نه منع شي، خو افسوس! رَمَضَانُ الْمُبَارَك چه څنګه رُخصت شي نو بې عَمَلي يو ځل بيا زياته شي او د لمونځ ګُزارو شمير هُم کم شي، آه جُماتونه بيا تش تش ښکاري، د دې تصوّراتو په نِيَّت چه ځپله هُم د بې عملئ نه بچ پاتې شم بلکه د نورو خلقو مُتَعَلِّق هُم په خپل زړه کښې د درد پيدا کولو د پاره او په غمژن او خفه زړه به ماهِ رَمَضان ته اَلوَداع وئيلو د پاره او په زړه کښې د الله تعالیٰ ويره زياتولو د پاره به پکښې شريك کيږم ﴿٨﴾ راروان کال د رَمَضان شريف د مياشتې د نصيب کيدو په ارمان او په هغې کښې د ډيرو ډيرو نيکو کولو د نِيَّت شاملو سره به په ژړا ژړا د دې کال د رَمَضان مياشتې ته اَلوَداع وايم ﴿٩﴾ تَشَبُّه بِالصّٰلِحِيْن (يعني نيکو خلقو سره به مُشابَهَت [يعني يو شان والې]) اختياروم ځکه چه سَلَف صالِحِين (يعني د تيرې زمانې بُزرګانِ دين) رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی به د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په تللو باندې غمژن کيدل ﴿١٠﴾ د خائِفِينو (يعني خوفِ خُدا لرونکو) د اِجتِماع بَرَکتونه به حاصلووم (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ داسې روح تازه کوونکې اجتماعات په دعوتِ اسلامي کښې ليدلې کيږي) ﴿١١﴾ د اَشعارو په صورت کښې غوښتونکو دُعاګانو کښې به شريك کيږم ځکه چه د اَلوَداع بعضې شعرونه د اِصلاحِ اَعمال، د خاتِمه بِالخير او د بخښنې [غوښتلو] په دُعاګانو باندې مُشتمِل وي ﴿١٢﴾ د الله و رسول او نيکو اعمالو په مَحَبَّت کښې به د ژړيدو کوشش کووم ځکه چه اَلوَداع لوستونکو او اوريدونکو ته عام طور د ژړا سعادت نصيب کيږي.

څوك چه عِلمِ نِيَّت لري هغه نور نِيَّتونه هُم زياتولې شي.

ہائے عطار بدکار کاہل رہ گیا یہ عبادت سے غافل

اس سے خوش ہو کے ہونا روانہ الوداع الوداع آہ! رمضان

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٥٣)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

# د رَمَضان په راتلو مباركي وركول د سُنَّت نه ثابِت دي

مشهور **مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیۡه د حديثِ پاك د دې حِصّې : **اَتَاكُمۡ رَمَضَانُ شَهۡرٌ مُّبَارَكٌ** "يعني د رَمَضان مياشت راغله كومه چه ډيره زياته بركتي ده." د دې نه لاندې په "مِرآة" جِلد ٣ صفحه ١٣٧ كښې فرمائي: د بَرَكت معنٰى ده كښيناستل، په يو ځائ ټينګيدل. ځكه د اوښانو غوژل ته **مُبَارَكُ الۡاِبِل** وئيلې كيږي ځكه چه هلته اوښان كښيني او تړلې كيږي. نو د خير (يعني نيكۍ) هُغه ډير والې كوم چه راشي او بيا نه ځي هغې ته بَرَكت وائي، ولې چه د رَمَضان په مياشت كښې حِسّي (يعني محسوس كيدونكي) بَرَكتونه هُم وي او غيبي بَرَكتونه هُم وي، ځكه د دې مياشتې نوم "مباركه مياشت" هُم دې. په رَمَضان كښې قدرتي طور د مُؤمِنانو په رزق كښې بَرَكت كيږي او د هرې نيكۍ ثواب ٧٠ هُمره يا د دې نه هُم زيات دې. **د دې حديث نه معلومه شوه چه د رَمَضَانُ الۡمُبَارَك د مياشتې په راتلو خوشحاليدل او يو بل ته مباركي وركول** (د) **سُنَّت** (نه ثابت) **دي** او د څه په راتلو چه **خوشحاليدل** پكار دي د هغې په تلو **غم** هُم پكار دې، اوګورئ! د نِكاح په ختميدو باندې ښځې ته شرعاً غم كول لازِم دي، ځكه اكثر مسلمانان په **جُمُعَةُ الۡوَداع** كښې غمژن وي او ژاړي او خُطَبا (يعني خطيب صاحِبان) په هغه ورځ څه وَداعِيه كَلِمات (يعني د اَلوَداع ماهِ رَمضان مُتَعَلِّق څه جُملې) وائي چه مسلمانان دا پاتې ساعتونه غنيمت وګڼړي او په نيكو كښې نور زيات كوشش وكړي.

(مِرآةُ المناجيح ج ٣ ص ١٣٧)

كوه غم عاشقوں پر پڑا ہے — ہر كوئى خون اب رو رہا ہے
كہہ رہا ہے يہ ہر غم كا مارا — الوداع الوداع آہ! رمضان

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٥٢)

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

# د رَمَضان په غم کښې زړونه خفه شي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د عَظَتونو نه څوك خبر نه دي! د دې په تشریف راوړلو مسلمانان بېحده خوشحاله وي، د ژوند ټول انداز ئې بدل شي، جُماتونه آباد شي او د عبادت او تِلاوت خوند زيات شي، او د پيشمني او روژه ماتي هُم په خپل خپل ځائ څه ښکلي سپرلي وي! دا مبارکه مياشت ډېر ډېر رحمتونه وروي، د بخښنې زيري اوروي او ګنهګارو ته د جهنَّم نه آزادي ورکوي. د **دعوتِ اسلامي** په مَدَني ماحول کښې د دُنيا په بېشميره جُماتونو کښې بېشميره عاشِقانِ رَسُول د رَمَضَان د پوره مياشتې اِعتِکاف کوي او په زرګاؤ زرګاؤ اسلامي ورونړه د آخرئ عَشَرې **اِعتِکاف** کوي، په اِعتِکاف کښې د هغوئي د سُنَّتو ډك تربِيَّت کيږي، هغوئي ته د نيکو رَغبَت او د ګناهونو نه نفرت ورکولې کيږي، د خوفِ خُدا عَزَّوَجَلَّ او عِشقِ مُصطَفیٰ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډېر ډېر درس ورکولې کيږي. بهر حال که مُعتَکِف وي او که غيرِ مُعتَکِف وي، ټول د رَمَضَان د مياشتې بَرَکتونه حاصلوي. د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د مياشتې سره د مَحَبَّت لرلو د هر چا خپل خپل انداز وي، د دې د رُخصتيدلو ورځې چه رانزدې شي نو بِالخصوص د مُعتَکِفينو عاشقانِ رَمَضان زړونه غمژن شي!

قلبِ عاشق ہے اب پارہ پارہ الوداع الوداع آہ! رمضان

کلفتِ ہجر و فرقت نے مارا الوداع الوداع آہ! رمضان

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٥١)

په زړونو ئې دا غم راخور وي چه آه! نزدې ده چه محترمه مياشت زمونږ نه وَداع کيدو (يعني رخصتيدو) والا ده! افسوس! د جُمات د دې رُوح تازه کوونکې مَدَني ماحول نه په وتلو به مونږه يو ځل بيا د دُنيا په لانجو کښې اخته شو. آه! نزدې ده چه مونږه به بيا د غفلت نه ډکو بازارونو ته تللو باندې مجبوره شو، هائے! هائے! نزدې ده چه مونږه به د اِعتِکاف د بَرَکتونو او د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د



www.dawateislami.net

رَحمتونو ډك ماحول نه جُدا شو! د هُم داسې سوچونو په سبب د عاشقانِ رَمَضان زړونه د غَمِ رَمَضان نه ډك شي!ــ

تیرے آنے سے دل خوش ہوا تھا اور ذوق عبادت بڑھا تھا
آہ! اب دل پہ ہے غم کا غلبہ الوداع الوداع آہ! رمضان

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٥١)

# د ستړګو نه ئې اوښکې رواني شي

[ د عاشقانِ رَمَضان] زړونه د رَمَضان ورځې په غَفلت کښې د تیرولو په وجه ډیر خفه وي، د خپلو عبادتونو سستئ وریادیږي او په زړه ئې یوه ویره خوره وي چه هسې نه چه زمونږه د کوتاهیانو په وجه زمونږه خوږ خوږ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ زمونږ نه ناراضه شوې وي! او د اللہ تعالیٰ د بیشمیره رحمتونو اُمِّید هُم لري او د خَوف و رَجا یعني د ویرې او اُمِّید د مابین په حالت کښې وي. کله ئې د رَحمتونو په اُمِّید د زړه مړاوي غوټئ کُل شي او په مخ ئې د تازګئ اثرات راښکاره شي او کله پرې د اللہ تعالیٰ د ویرې غَلبه شي او زړه ئې په غم کښې ډوب شي، په مخ ئې خفګان راخور شي او د ستړګو نه ئې اوښکې رواني شي.ــ

کچھ نہ حسن عمل کر سکا ہوں نذر چند اشک میں کر رہا ہوں
بس یہی ہے مرا کل اثاثہ الوداع الوداع آہ! رمضان

(وَسائلِ بخشِش ص٦٥٣)

# زما د ژوند هیڅ معلومات نشته

عاشقانِ رَمَضان ته بالخصوص د دې خبرې ډیر زیات احساس وي چه اګرچه رَمَضَانُ الْمُبَارَك به راروان کال بیا هُم ضرور تشریف راوړي خو معلومه نه ده چه مونږه به ژوندي پاتې یو او که نه!ــ



www.dawateislami.net

جب گزر جائیں گے ماہ گیارہ تیری آمد کا پھر شور ہو گا
کیا مری زندگی کا بھروسہ الوداع الوداع آہ! رمضان

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٥٣)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د پخوانو خلقو په دُعا کښې به تول کال د رَمَضان یاد وو!

یو بُزرگ رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: پخوانو خلقو به د رَمَضَانُ الْمُبَارَك نه شپږ میاشتې مخکښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د حاصلیدو [دُعاګانې] او د رَمَضَانُ الْمُبَارَك نه پس به ئې شپږ میاشتې د رَمَضان د عبادتونو د قبلیدو دُعاګانې کولې. (لطائف المعارِف لابن رجب ص ٣٧٦)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د اختر په شپه د عاشِقانِ رَمَضان جذبات

د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په آخرو ورځو یا آخرو ساعتونو کښې د رَمَضان د میاشتې سره د مَحَبَّت په وجه که یو عاشقِ رَمَضان خفه شي یا په غَمِ رَمَضان کښې وژاړي یا د رَمَضان میاشت په غفلت کښې د تیرولو په سبب وژاړي نو دا هُم یو ډیر ښه عمل دې او د ښه نِیَّت په وجه یقیناً هغه د ثواب حقدار دې. بیشکه په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې د بیشمیره ګنهګارانو بخښنه کیږي خو مونږ ته معلومه نه ده چه زمونږ په باره کښې به څه فیصله شوي وي! یقیناً کوم غافِله مسلمان چه د رَمَضان په میاشت کښې د مغفِرت نه محرومه پاتې شو هغه ډیر زیات محرومه شو څنګه چه زمونږه د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په فرمان کښې هُم دي: رَغِمَ اَنْفُ رَجُلٍ دَخَلَ عَلَیْہِ رَمَضَانُ ثُمَّ انْسَلَخَ قَبْلَ اَنْ یُّغْفَرَ لَہٗ یعني د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي په چا چه رَمَضان راشي بیا د هغه د بخښنې نه مخکښې تیر شي." (ترمِذِی،ج٥ ص٣٢٠ حدیث٣٥٦٥)



www.dawateislami.net

میں ہائے ! جی چراتا ہی رہا رب کی عبادت سے گزارا غفلتوں میں سارا رمضاں یارسول اللہ !
میں سوتا رہ گیا غفلت کی چادر تان کر افسوس ! خدارا ! میری بخشش کا ہو ساماں یارسول اللہ !

(وَسائلِ بخشِش ص ۲۷۹)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د غَمِ رَمَضان ترغيب

د نن (يعني د دي لِيك د وخت) نه تقريباً ٦٢٥ كاله مخكښې تير شوي د قاهِره (مِصر) صوفي بزرګ، د مَكّې مُكَرَّمې اوسيدونكي مُبَلِّغِ اسلام، سيِّدُنا شيخ شُعَيب حَرِيفِيش رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه (سِنِ وفات ٨١٠هـ) فرمائي: اے خلقو! تاسو د رَمَضان په جُدائي كښې غمګِين شئ! ځكه چه دا داسې موسِم دي چه په دې كښې تاسو د رحمتونو د راوريدو او د دُعاګانو د قبولِيَّت سعادت حاصلوئ. (اَلروضُ الفائق ص٤٠ مُلَخَّصاً)

جاں فدا تجھ پہ نانائے حسنین! قلب ہے غمزدہ اور بے چین
دل پہ صدمہ بڑھا جا رہا ہے ہائے تڑپا کے رمضان چلا ہے

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٨٣)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د رَمَضان په جُدائي كښې ولې ژړيدل نه دي پكار

سيِّدُنا شيخ شُعَيب حَرِيفِيش رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: زما وروڼړو! د **رَمَضان** د مياشتې په روژو او د شپو په قِيام (يعني د شپو په عِبادت) كښې ولې رَغبت ونكړې شي! د هغه مُبارَكې مياشتې [په جُدائي] باندې ولې ارمان ونكړې شي چه په هغې كښې د بنده ټول ګناهونه بخښلې كيږي او

د هغه بَرَكتونو والا مياشت په جُدائي ولې ژړا ونكړي شي د كومې د تللو سره چه د ډيرو نيكو كټملو موقع هم د لاسه لاړه شي. (اَلروضُ الفائق ص٤١)

خوب روتا ہے تڑپتا ہے غمِ رمضان میں
جو مسلماں قدر دان و عاشقِ رمضان ہے

(وَسائلِ بخشِش ص ۷۰۲)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د جُمُعَةُ الْوَداع په بيان كښې ئې ساه وختله (حِكايت)

د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اِداري مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د ٦٤٩ صفحو كتاب، "حِكايتیں اور نصیحتیں" صفحه ٩٦ تا ٩٧ كښې وركړې شوې حِكايت لږ تَصَرُّف سره بيانيږي: يو بزرګ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي چه زه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د جُمُعَةُ الوَداع په ورځ د حضرتِ سَيِّدُنا منصُور بن عَمّار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په محفِل كښې حاضر شوم. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د رَمَضان شريف د روژو د فضيلت، د شپو د عِبادت او د مُخلِصِينو يعني خُلُوص سره د عِبادت كوونكو د پاره د اجر مُتَعَلِّق بيان كولو او داسې ښكاريدله لكه د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د بيان د اثر په وجه چه د سختو كاڼرو نه اور را اُوځي. بيشكه قَسَم په خُدائے تعالٰی! (داسې كيدې شي) ځكه چه د الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰى اِرشاد شي:

وَ اِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْاَنْهٰرُ ؕ

مَفهُوم ترجمهٔ كَنْزُالْاِيمان: او په كاڼرو كښې خو څه هغه دي د كومو نه چه نَهرونه روان دي.

(پ١، البقرة: ٧٤)

خو د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په محفل كښې نه خو چا حركت وكړو او نه چا په خپلو ګناهونو باندې پښيمانتيا ښكاره كړه. چه هغوئي د محفل دا حالت وليدو نو اِرشاد ئې اُوفرمائيلو: اے



www.dawateislami.net

خلقو! د خپلو عُیُوبو (يعني عيبونو) نه خبردار يو كس هُم ژړيدو والا نشته؟ آيا دا د توبه او اِستِغفار مياشت نه ده؟ آيا دا د عفو و مغفِرت (د معاف كيدو او بخښنې حاصليدو) مياشت نه ده؟ آيا په دې مباركه مياشت كښې د جَنَّت دروازې نه برسيره كيږي؟ آيا په دې كښې د جَهنَّم دروازې نه بنديږي؟ آيا په دې كښې شيطانان نه قيد كيږي؟ آيا په دې ماهِ صِيام (يعني د روژو په مياشت) كښې د اِنعام او اِكرام بارانونه نه راوريږي؟ آيا په دې بابَرَكته مياشت كښې **الله** تعالیٰ تَجَلِّـی نه فرمائي؟ آيا په دې مباركه مياشت كښې هره شپه د روژه ماتي په وخت كښې لس لاكه ګنهګاران د جَهنَّم نه نه آزاديږي؟ په تاسو څه شوي دي چه ځان د دې ثوابِ عظيم نه مَحرومه كوئ او په لِباسِ مُخالَفَت كښې فخر كوئ (مطلب دا چه عمل نه كوئ او په ګناهونو كښې مصروف اوسيږئ). د **الله** تعالیٰ اِرشاد دې:

اَفَسِحۡرٌ هٰذَاۤ اَمۡ اَنۡتُمۡ لَا تُبۡصِرُوۡنَ ﴿۱۵﴾

مَفهُوم ترجمهٔ كَنزُالاِيمان: نو آيا دا جادُو دې يا تاسو پرې نه پوهيږئ. (پ ۲۷ الطور: ۱۵)

(بيا هغوئي رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه اُوفرمائيل) ټول د خُدائے غَفّار جَلَّ جَلَالُهٗ په بارګاه كښې حاضر شئ او توبه او اِستِغفار وكړئ! نو ټولو حاضِرينو په اوچت آواز ژړا او زاري فرياد شروع كړل، په دې كښې يو ځلمي په ژړا ژړا ودريدو او عرض ئې وكړو: "يا سيِّدِی! (يعني اے زما سرداره!) تاسو اِرشاد اوفرمائيې چه آيا زما روژې قبولې دي؟ آيا زما (د رَمَضان) د شپو قِيام (يعني په شپو كښې عبادت كول) به د قبولِيَّت موندونكو عبادت ګُزارو سره ليكلې كيږي؟ حالانكه زما نه ډير ډير ګناهونه شوي دي، ما خو خپل ټول عُمر په نافرمانئ كولو كښې برباد كړې دې، آه! زه د عذاب د ورځې نه غافِله ووم." هغوئي رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه اِرشاد اُوفرمائيلو: اے هلكه! د **الله** تعالیٰ په بارګاه كښې توبه وكړه، ولې چه هغه په قُرآنِ كريم كښې اِرشاد فرمائيلې دې:



www.dawateislami.net

وَ اِنِّیْ لَغَفَّارٌ لِّمَنْ تَابَ

مَفهُوم ترجمۂ کَنْزُالْاِیمان : او بيشکه زه ډير بخښونکې يم د هغه، چا چه توبه وکړه. (پ۱۶، طٰهٰ:۸۲)

هغوئي رَحْمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیْه قاري ته د دې آيتِ مبارکه د لوستلو حُکم وکړو:

وَ هُوَ الَّذِیْ یَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ وَ یَعْفُوْا عَنِ السَّیِّاٰتِ

مَفهُوم ترجمۂ کَنْزُالْاِیمان : او هُم هغه دې کوم چه د خپلو بندګانو توبه قبلوي او ګناهونه مُعاف کوونکې دې. (پ ۲۵ ، الشُّورٰی:۲۵)

هغه ځلمي چه دا واوريدل نو يوه چغه ئې اُووهله او وئې وئيل: "زما خوش نصيبي ده چه د الله تعالٰی احسان ما ته مسلسل رارسيدلو خو د هغې باوجود ما په نافرمانو کښې اِضافه کوله او د غلطې لارې نه ونه ګرځيدم. آيا د تير شوي وخت په ځائې به څه نور وخت وي چه په هغې کښې به الله تعالٰی بخښنه کوي؟" بيا هغه دوباره چغه اُووهله او ځان ئې الله تعالٰی ته وسپارلو (يعني وفات شو) د دې حِکايت نقل کولو نه پس صاحِبِ کتاب ليکي:

زما ورونړو! د **رَمَضان** د مياشتې په فِراق (يعني جُدائي) ولې ژړل نه دي پکار او د بخښنې او مغفرت د مياشتې په رخصتيدو افسوس ولې ونکړې شي! د دې مياشتې په جُدائي ولې غم ونکړې شي په کومه چه ګنهګارو ته د جَهنَّم نه آزادي نصيب کيږي! (اَلروضُ الفائق ص۴۵)

کر رہے ہیں تجھ کو رو رو کر مسلماں الوداع
آہ! اب تو چند گھڑیوں کا فقط مہمان ہے
واسطہ رمضان کا یارب! ہمیں تو بخش دے
نیکیوں کا اپنے پلے کچھ نہیں سامان ہے

(وَسائلِ بخشِش ص ۷۰۴)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد



www.dawateislami.net

## د رَمَضان د مياشتې په آخرئ شپه د الله د ويرې وفات (حکايت)

د **رَمَضان** مياشت په عِباداتو او رياضاتو کښې د تيرولو نه پس په آخرئ شپه د وفات شوي يوې نيکې بندې حِکايت اوګورئ او په دې کښې د خپل ځان د پاره د عِبرت **مَدَنـي ګلونه** ولټوئ چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا **محمد** بِن ابو فَرَج رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي: ما ته د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** په مياشت کښې د يوې وِينزې ضرورت شو چه هغه زمونږ د پاره طعام تياروي، بازار کښې مې يوه وِينزه وليدله، د هغې رنګ زيَړ، بدن کمزورې او پوستکې وچ وو. زما پرې زړه خُوګ شو ځکه مې هغه [په بَيعه] واخستله او کور ته مې راوستله او ورته مې اُووئيل چه لوښې راواخله او د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د ضروري څيزونو د اخستو د پاره ما سره بازار ته لاړه شه. نو هغې اُووئيل: اے زما آقا! زه خو داسې خلقو سره ووم چه د هغوئي به لکه پوره زمانه **رَمَضان** وه! (يعني هغه خلقو به د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د فرض روژو نه علاوه نفل روژې هُم په کثرت سره نيولې او شپه او ورځ به په عبادت کښې مشغول اوسيدل). د هغې دا خبره چه ما واوريدله نو ما اندازه ولګوله چه دا به ضرور د **الله** تعالٰی نيکه بندئ وي. مَاشَآءَاللّٰه هغې به د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** په مياشت کښې ټوله ټوله شپه عبادت کولو چه کله آخري شپه راغله نو ما ورته اُووئيل: د اختر ضروري څيزونه اخستلو د پاره ما سره بازار ته لاړه شه. هغې را نه تپوس وکړو چه اے زما آقا د عامو خلقو د ضرورت څيزونه به اخلئ که د خاصو خلقو؟ ما ورته اُووئيل چه د خپلې خبرې وَضاحت وکړه! نو هغې اُووئيل: ”د عامو خلقو ضروريات خو د اختر مشهور خوراکونه دي، او د خاصو خلقو ضروريات د **مخلوق** نه ډډه کول، د عبادت د پاره ځان وزګارول، د نفلونو په ذريعه د **الله** تعالٰی نزديکت حاصلول او د هغه په بارګاه کښې د عِجز و انکسارئ اِظهار کول دي.“ ما په جواب کښې اُووئيل: زما مطلب د خوراك ضروري څيزونه دي. هغې بيا تپوس وکړو: کوم طعام؟ کوم چه د بدنونو طعام دې هغه او که د زړونو [طعام]؟ ما ورته اُووئيل چه خپله خبره واضحه وکړه! هغې اُووئيل: د بدنونو طعام خو خوراك څښاك دې او د زړونو طعام ګُناه



www.dawateislami.net

پرېښودل او خپل عیبونه لرې کول، د محبوب د دِیدار خوند اخستل او د مقصود په حاصولولو (یعني د مُراد په پوره کېدو) راضي کېدل وي خو د دې څیزونو د حاصلولو د پاره خُشُوع، پرهیزګاري، تَرکِ تَـکَبُّر [یعني تَـکَبُّر پرېښودل]، مالِك و مولٰی عَزَّوَجَلَّ ته رُجُوع کول او په ظاهر او باطِن کښې صرف د هغه اسره اخستل دي.“ بیا هغه وېنزه په لـمانځه ودرېدله، هغې په وړومبي رکعت کښې پوره سُوْرَةُ الْبَقَرہ ولوستو، بیا ئې سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰن شروع کړو، بیا د یو سورت ختمولو نه پس به ئې وریسې بل سورت شروع کړو تر دې چه د سُوْرَةُ اِبْرَاهِیْم وولَّسم آیت ته ورسیدله:

يَّتَجَرَّعُهٗ وَلَا يَكَادُ يُسِيْغُهٗ وَيَاْتِيْهِ الْمَوْتُ
مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَّمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ؕ وَمِنْ وَّرَآىِٕهٖ عَذَابٌ غَلِيْظٌ ﴿۱۷﴾

مَفهُومِ ترجمۂ کَنْزُالْاِیمان: په مُشکِله به د هغې لږ لږ ګُوټ اخلي او د مرئ نه ښکته د کوزولو اُمِّید به ئې نه وي او هغه له به د هر طرف نه مرګ راځي او مړ کېږي به نه او په هغه پسې شاته یو ټینګ عذاب.

بیا هغې په ژړا ژړا هُم هغه آیت بیا بیا لوستلو تر دې چه بیهوشه شوه او په زمکه راپرېوتله، چه ما اُوخوزوله را اُوخوزوله نو د بدن نه ئې رُوح وتلې وو. (اَلروضُ الفآئق ص٤١)

د اللّٰه تعالیٰ دِ په هغې رحمت وي او د هغې په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

دست بستہ التجا ہے ہم سے راضی ہو کے جا — بخشوانا حشر میں ہاں تو مہِ غفران ہے
اَلسَّلام اے ماہِ رمضان تجھ پہ ہو لاکھوں سلام — ہجر میں اب تیرا ہر عاشق ہوا بے جان ہے

(وَسائلِ بخشِش ص ٧٠٤)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

# د ”اَلوَداع ماهِ رَمَضان“ شَرعي ثُبُوت څه دي؟

د ”**اَلوَداع ماهِ رَمَضان**“ شعرونه لوستل اوريدل يقيناً ډير ښه كار دي، دا فرض يا واجِب يا سُنَّت نه دي بلكه صرف مُباح او جائز دي. او په مُباح كار (يعني داسې عمل چه په هغې كښې نه ثواب وي او نه ګُناه [د دې په كولو]) كښې چه ښه نِيَّت شامِل كړې شي نو هغه **مُستَحَب** او د ثواب كار جوړ شي. لِهٰذا ”**اَلوَداع ماهِ رَمَضان**“ هُم په ښه مقصد مَثَلًا په ګناهونو او كوتاهيانو باندې د پښيمانتيا او آئنده د نيكو نه ډك رَمَضان تيرولو په نِيَّت وئيل او اوريدل د ثواب كار دي. اعلٰی حضرت رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د ”**خُطبةُ الوَداع**“ مُتَعَلِّق شوي د يو سوال په جواب كښې فرمائي: هغه (يعني د ”اَلوَداع“ خُطبه) په خپل ذات كښې مُباح ده، هر مُباح په نِيَّتِ حَسَن (يعني په ښه نِيَّت) **مُستَحَب** شي او د عُرُوض او عَوارِض خِلاف (يعني د شرعي ممنوعاتو شامِليدو) په وجه د مكروه نه حرامو پورې [رسيږي] (لكه د سړو او ښځو په يو ځائ راجمع كيدل يا هغه يعني د اَلوَداع خُطبه واجِب يا ضروري ګڼړل يا د ښځو داسې په سُر لوستل چه آواز ئې سړو ته رسي يا د اَلوَداع د شعرونو خِلافِ شرع كيدل).

(فَتَاوٰی رَضَوِيَّه ج۸، ص٤٥٢)

بهرحال د ”**اَلوَداع ماهِ رَمَضان**“ لوستلو موجوده انداز اګر چه نوې وي خو شَرعاً په دې كښې باك نشته. ياد ساتئ د مُباح [كار] په كولو يا نه كولو ملامتيا نه كيږي. **فرمانِ مُصطَفٰی** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: حلال هغه كوم چه **الله** په خپل كِتاب كښې حلال كړو او حرام هغه كوم چه **الله** په خپل كتاب كښې حرام كړو او د كوم نه ئې چه خاموشي اوفرمائيله هغه مُعاف دي.“

(تِرمِذِی، ج۳ ص۲۸۰ حديث۱۷۳۲)

**مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د حديثِ پاك د دې حِصّې، ”د كوم نه ئې چه خاموشي اوفرمائيله هغه مُعاف دي.“ نه لاندې ليكي: يعني كومو څيزونو ته چه نه قُرآنِ كريم حلال يا حرام وئيلي دي او نه حديثِ پاك، يعني د هغوئي ذِكر په



www.dawateislami.net

يو ځائ کښې هُم نشته هغه حلال دي. دلته ”مِرقات[1]“ او ”اَشِعَّةُ اللَّمعات[2]“ او ”لَـمعات[3]“ فرمائيلي دي چه: د دې حديث نه معلومه شوه چه اَصل، په څيزونو کښې اِباحَت دې يعني د څه نه چه په قُرآن و حديث کښې خاموشي وي هغه حلال دي. آم، مالټا، هُم دغسې پُلاؤ، زرده، فِرني، هُم دغسې لټّه، ململ هُم دغسې د مِيلاد [يعني مولود] شريف او د فاتِحه [يعني د ختم] شِيريني ټول حلال دي، ولې؟ ځکه چه دې ته قُرآن او حديث حرام نه دي وئيلي، دا د اِسلام کُلِّـى (يعني اکثري) قانون دې. (مِراٰۃُ المناجیح ج٦ ص٤٣)

## اصل په څيزونو کښې اِباحَت دې

د اعلٰی حضرت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه والِدِ ماجِد رئيسُ الْمُتَكَلِّمِيْن حضرتِ مولانا علي نقـي خان رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ليکي: اصل په څيزونو کښې اِباحَت دې يعني د کوم عمل په فِعل و تَرك (يعني کولو او پريښودلو) کښې چه شَرعاً څه باك ونه موندلې شي هغه شرعاً مُباح و جائز دې. (اُصُولُ الرَّشّاد ص٩٩ مُلَخَّصاً) (د دې قاعدې: ”اصل په څيزونو کښې اِباحَت دې“ تفصيلات ”اُصُولُ الرَّشّاد“ صفحه ٩٩ تا ١١٦ کښې اوګورئ)

## په دِين کښې د ښو نوو طريقو اِيجاد کولو په شريعت کښې اِجازت دې

د ”اَلوَداع ماهِ رَمَضان“ د شعرونو وئيلو، اوريدلو سره د خلقو په زړونو اثر کيږي، د رَمَضَانُ الْمُبَارَك اَهَمِيَّت ئې په زړونو کښې پيدا کيږي، خپلې کوتاهيانې ورياديږي او د ګناهونو نه د توبه کولو ذِهن ئې جوړيږي لِـهذا دا يو ښه انداز دې. بيشکه تر قيامته پورې په دِين کښې د ښو ښو طريقو ايجاد کولو ځپله په حديثِ پاك کښې اجازت ورکړې شوې دې چنانچه **فرمانِ مُصطَفٰی** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې: کوم کس چه په اسلام کښې **ښه طريقه** جاري کړي، د هغې نه

---

[1] (مرقاۃ المفاتیح ج٨، ص٥٧، تحت الحدیث٤٢٢٨)

[2] (اَشِعَّةُ اللّمعات، ج٣، ص٥٤٠)

[3] (لمعاتُ التنقیح ج٧ ص٢٧١ تحت الحدیث ٤٢٢٨)



www.dawateislami.net

پس په هغه طريقه عمل وکړي شو نو په هغه طريقه باندې د عمل کوونکو په شان ثواب به هغه (جاري کوونکي) ته هُم کيږي او د هغوئي (يعني عمل کوونکو) د ثواب نه به هيڅ نه کميږي او کوم کس چه په اسلام کښې **بده طريقه** جاري کړي، د هغه په هغه بده طريقه عمل وکړي شو نو په هغه طريقه باندې د عمل کوونکو په شان گُناه به هغه (جاري کوونکي) ته هُم کيږي او د هغوئي (يعني عمل کوونکو) په گناه کښې به هيڅ کمي نه کيږي.

(مُسلِم ص١٤٣٨ حديث١٠١٧)

عاشقانِ ماہِ رمضان رو رہے ہیں پھوٹ کر
دل بڑا بے چین ہے افسردہ روح و جان ہے
داستانِ غم سنائیں کس کو جا کر آہ! ہم
یا رسول اللہ! دیکھو چل دیا رمضان ہے

(وَسائلِ بخشِش ص ٧٠٢)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## اَلوَداع" اوريدو سره د توبه کولو او نيکئ جذبه پيدا کيږي

**خليفهٔ** اِمام اَحمد رضا خان، مُفَسِّرِ قُرآن، صاحِبِ تفسيرِ **خَزائِنُ الْعِرفان** صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا مُفتي سيِّد **محمّد** نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نه هُم د **اَلوَداع ماهِ رَمَضان** مُتَعَلِّق تپوس وشو، د هغې جواب هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه داسې ښکلې ورکړو چه د هغې يو يو لفظ د اُمَّت په خير خواهئ، د نيکئ د دعوت په جذبه، د مسلمانانو د اِصلاح و فلاح په درد او د اَحکامِ اِسلاميه په حِکمتونو مشتمل دې. د هغه سوال و جواب بعضې اِقتِباسات سره د خُلاصې اوکورئ: **سُوال**: د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** په آخرئ **جُمُعه خُطبَةُ الْوَداع** لوستله کيږي چه په هغې کښې د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** فضائل او بَرَکات بيانيږی او د دې مُبارکې مياشتې د رخصتيدلو او په داسې بَرَکتي مياشت کښې د حَسَناتو او خيرونو ذخيره نه جمع کولو باندې د حسرت او افسوس [احساس] او د آئنده د پاره خلقو ته د عملِ خير ترغيب او د **رَمَضان** په باقي ورځو کښې په



www.dawateislami.net

كثرت سره د عبادت كولو شوق وركولې كيږي، مسلمانان د دې خُطبې په اوريدو ډير ژاړي او د ګناهونو نه توبه او اِستِغفار كوي او د آئنده د پاره د نيكۍ عَزم [يعني اِراده] كوي. پاس ذِكر كړې شوې كار جائز دې كه نه؟ ځكه چه بعضې خلق د اَلْوَداع لوستلو نه منع كول كوي.

**جواب**: صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سيِّد محمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې خطبې نه د منع كوونكو د اِعتراضاتو جواب وركړو چنانچه د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د عبارت خُلاصه دا ده چه: د دې منع كوونكو سره د ممانعت هيڅ شرعي دليل نشته او نه هغوئي يو حديث يا يو فِقهي عِبارت د دې په عَدمِ جَواز (يعني د ناجائز كيدو) پيش كولې شي. خو د داسې خلقو طريقه هُم دا ده چه هغوئي خپله ذاتي رائے او خيال په دين كښې داخلوي او په خپل خيال چه څه څيز غواړي ناجائزه ئې كړي! هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نور فرمائي: خُطبَةُ الْوَداع آخر څنګه ناجائزه شوه؟ په خُطبه كښې چه كوم څيزونه شرعاً مطلوب دي (يعني شريعت چه كوم څيزونه غواړي) په هغې كښې كوم يو په دې كښې نشته؟ يا كوم يو اَمرِ ممنوع (يعني داسې كار چه هغه اسلام منع كړې وي هغه) په دې كښې داخل دې؟ تَذكِير (څه داسې خبره چه د هغې نه مسلمانانو ته نصيحت حاصل شي) د خُطبې په سُنَّتو كښې يو سُنَّت دې. د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په تيرو شوو ورځو كښې په عَمَلِ خير (يعني نيكو پاتې كيدو) باندې ارمان او افسوس او بَرَكتي ورځې په غفلت كښې تيريدو باندې پښيمانتيا او (د دې مباركې) مياشتې د رخصتۍ په وخت خپلې تيرې شوي كوتاهيانې يادولو او د آئنده د پاره د راويښولو او بيدارولو او مسلمانانو ته د عَملِ خير د تحريص او تَشوِيق (يعني د نيكو د شوق وركولو) دا بهترينه طريقهٔ تِذكِير (يعني د نصيحت ډير ښه انداز) دې او په دې (اندازِ ''اَلْوَداع ماهِ رَمَضان'') كښې نهايت فائده مند او سُود مند وعظ و نصيحت دې، د دې دا اثر كيږي چه خلق دومره ژړيږي چه سَلګۍ وهل شروع كړي او رښتيني توبه ورنصيب كيږي، په بارګاهِ اَلٰهی كښې اِستِغفار كوي او د آئنده د پاره د نيك عمل مُصَمَّم (يعني پخه) اِراده كوي. دې تذكِير (يعني وعظ و نصيحت) ته فُقَهاء سُنَّت وئيلې دې. په



www.dawateislami.net

**فَتَاوىٰ عالمگیری** کښې دي: (عَاشِرُهَا) اَلْعِظَةُ وَ التَّذْكِيْرُ. يعني "د خطبې لسم سُنَّت وعظ و نصيحت (يعني د نيکئ دعوت) دې." (فَتَاوىٰ صدرُ الافاضِل،ص٤٦٦تا٤٨٢)

## د صدرُ الافاضِل د فتوې نه حاصل شوي نهه مَدَنــي ګلونه

❁ د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په آخرو ورځو کښې **اَلْوَداع لوستلو، اوريدلو** سره د نيکو په پاتې کيدو غم او افسوس کيږي، او دا نهايت **محمود** يعني خوښ شوې کار دې او ❁ "اَلْوَداع" د رَمَضان شريف مبارکې ورځې په غفلت کښې تيرولو باندې د پښيمانتيا يو صورت دې ❁ دې سره تيرې شوي سستئ راياديږي او د آئنده د پاره د عَملِ خير يعني نيکو کولو جذبه پيدا کيږي او ❁ دا "اَلْوَداع" د مسلمانانو په زړونو کښې د نيکو د حِرص او لالچ پيدا کولو يوه بهترينه طريقه ده ❁ په دې انداز **اَلْوَداع** کولو کښې انتهائي فائده مند نصيحت حاصليږي ❁ **اَلْوَداع** کولو سره د رښتيني توبې توفيق نصيب کيږي (د **دعوتِ اسلامي** په **مَدَني ماحول** کښې خو د دې باقاعده مُشاهَده شوې ده بلکه تاسو پخپله شرکت وکړئ نو د دې بَرَکاتو نظاره کولې شئ) او په بارګاهِ خُداوندي کښې ژړيدل نصيب کيږي. ❁ **اَلْوَداع** سره خلق په بارګاهِ اِلٰهی کښې اِستِغفار کوي ❁ د **اَلْوَداع** په بَرَکت د مسلمانانو يو غټ شمير آئنده د نيکو کولو پخه اِراده کوي (او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ ډيرو خوش نصيبو ته په دې باندې اِستِقامت هُم نصيب شي) ❁ د **جُمُعې** په خُطبه کښې تذکِير يعني وعظ و نصيحت کول **سُنَّت** دي او په خُطبه کښې **اَلْوَداع** لوستل په هُم دې سُنَّتو باندې د عمل کولو يو صُورت دې (يعني موجوده شکل ئې اګر چه سُنَّت نه دې خو د دې اصل ثابت دې او هغه تذکِير دې او تذکِير (يعني وعظ و نصيحت) سُنَّت دې)

ياد ساتئ! د صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سيّد **محمّد** نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فتوىٰ په خُطبهٔ جُمُعه کښې د **اَلْوَداع** لوستلو مُتَعَلِّق ده خو د **اَلْوَداع** لوستلو، اوريدلو چه کومې فائدې او بَرَکات بيان شوي دي هغه د دې خُطبې نه علاوه د آخرې **جُمُعې** د لـمانځه نه پس د



www.dawateislami.net

صلٰوة و سلام په وخت كښې، او دغسې د رَمَضان شريف په آخرو ورځو كښې د مازديګر د لـمانځه نه پس يا بل يو وخت لوستلو، اوريدلو سره هُم حاصليږي.

## په خُطَبِ عِلمي كښې اَلْوَداعي اَشعار

په يو دَوَر كښې په هِند كښې ښه ډير لوستلو والا د خُطبو كتاب ''**خُطَبِ عِلمي**'' كښې په نهايت ارمان سره د **رَمَضان** مياشتې ته **اَلْوَداع** وئيلې شوې دہ. اعلٰى حضرت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د ''**خُطَبِ عِلمي**'' د مُصَنِّف تَعارُف په دې الفاظو كښې بيان كړې دې: ''مولانا محمد حَسَن عِلمي بريلوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه سُنِّي صحيحُ العقيده او واعظ و ناصِح (يعني وعظ او نصيحت كوونكې) او د حُضُورِ اَقدس صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مَدّاح (يعني صِفت بيانوونكې) او زما د جَدِّ اَمجَد رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه (يعني زما د نيكه حضرت مولانا رضا علي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه) شاګرد وو.'' (فتاوىٰ رَضَوِيَّه ج۸، ص۴۴۷) حضرتِ مولانا محمد حَسَن عِلمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د خپلو خُطبو په مجموعه ''**خُطَبِ عِلمي**'' كښې رَمَضَانُ الْمُبَارَك ته ''**اَلْوَداع**'' وئيلو كښې ليكي: اَلْوداعُ اَلْوَدَاعُ يَا شَهْرَ رَمَضَانَ - فَتَحَسَّرُوْا عَلٰى اِتْمَامِه وَتَأَسَّفُوْا عَلٰى اِخْتِتَامِه - اَلْوداعُ اَلْوَدَاعُ يَا شَهْرَ رَمَضَانَ (يعني اَلْوَداع اَلْوَداع اے د رَمَضان مياشتې! (اے خلقو!) د دې مياشتې په ختميدو ارمان او افسوس وكړئ! اَلْوَداع اَلْوَداع اے د رَمَضان مياشتې!) هغوئې خپل هُم دې كتاب كښې په اُردو كښې هُم **اَلْوَداعي كَلام** شامِل فرمائيلې دې، د هغه كلام نه دولس شعرونه وړاندې كيږي، تاسو ئې هُم ولولئ او كه كيدې شي نو په غمِ **رَمَضان** كښې اوښكې توئ كړئ.



www.dawateislami.net

# افسوس تُو رُخصت ہوا ماہِ رَمَضان اَلْوَداع

افسوس تو رخصت ہوا، ماہِ مبارک اَلْوَدَاع
رو رو کے دل نے یوں کہا: ماہِ مبارک اَلْوَدَاع

مدت سے تھے ہم منتظر، شکرِ خدا آیا تو پھر
پر حیف جلدی چل دیا، ماہِ مبارک اَلْوَدَاع

دوزخ کے اندر بالیقیں، تھا قید شیطانِ لعین
مؤمن عذابوں سے بچا، ماہِ مبارک اَلْوَدَاع

پڑھتا تھا سنت کوئی جب، یا کوئی پڑھتا مستحب
پاتا ثواب اک اجر کا، ماہِ مبارک اَلْوَدَاع

جو فرض ادا تجھ میں کرے، اجر اس کو ستر ملے
تھا یمن و رحمت سے بھرا، ماہِ مبارک اَلْوَدَاع

عاصی روزہ دار پر، پہنچے گی جب نارِ سقر
بن کر سپر لے گا بچا، ماہِ مبارک اَلْوَدَاع

اب کوچ ہے پیش نظر، آنکھوں میں اشک آتے ہیں بھر
کرتا ہے دل آہ و بکا، ماہِ مبارک اَلْوَدَاع

تو ماہ، استغفار کا، اور طاعتِ غفار کا
کچھ بھی نہ ہم سے ہو سکا، ماہِ مبارک اَلْوَدَاع

گر زیست ہے پھر پائیں گے، ورنہ بہت پچھتائیں گے
تو اب ہے رخصت ہو چلا، ماہِ مبارک اَلْوَدَاع

رخصت سے ہے دل پر الم، فرقت سے جاں پر سخت غم
شدت سے ہے رنج و عنا، ماہِ مبارک اَلْوَدَاع

تعریف کیا کوئی کرے، خالی نہیں ہے فضل سے
روز اور شب صبح و مسا، ماہِ مبارک اَلْوَدَاع

علمی نہ کی کچھ بندگی، از بس کہ ہے شرمندگی
واحسرتا واحسرتا ماہِ مبارک اَلْوَدَاع

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

الفاظ و معاني: حَیف:افسوس، یُمْن: بَرَکت، نارِ سَقَر: د دوزخ اور، سِپر:ډال، آہ وبُکا: ژړا فریاد، زِیست:ژوند، پُر اَلَم:غمګین، فُرقَت:جُدائي، عَنا:غم، مسا: ماښام، ازبس: نتیجه.



www.dawateislami.net

## د خُطبې يوه اَهَمه مسئله

په ”بَهارِ شريعت“ کښې دي: په غيرِ عر [يعني بله ژبه] کښې خُطبه وئيل يا د عربئ سره بله ژبه په خُطبه کښې ګډول خِلافِ سُنَّتِ مُتوارِثه (يعني د هميشه نه راروانو سنتو) خِلاف دي. هُم دغسې په خُطبه کښې شعرونه وئيل هُم نه دي پکار اګر که د عربئ وي، خو که يو دوه شعرونه د وعظ و نصيحت ئې پکښې کله اُووئيل نو باك نشته. (بہارِشریعت ج۱ ص ۷۶۹) لِـهذا په اُردو [يا بله ژبه] کښې که اَلْوَداع يا بل يو کلام وئيل وي نو د خُطبې نه مخکښې يا د لـمانځه نه پس دِ ولوستلې شي.

## د اَلْوَداع ماهِ رَمَضان مدني سپرلې

د بابُ الْمَدِينه کراچئ يو اِسلامي ورور به مَدَني ماحول کښې راتلو نه مخکښې د عامو هلکانو په شان ژوند تيرولو، د لـمونځونو د پابندئ څه فِکر ئې نه لرلو او نه ئې د اسلامي حُليے [يعني نه ئې د اسلامي لباس وغيره] ترکيب وو. په غفلتونو کښې ئې د ژوند قيمتي وختونه ضائع کيدل. سِن 1999ء کښې ئې د ميټرك امتحان ورکړو، د هغې نه پس ئې د سکول چوټيانې [يعني کليزې د رُخصت ورځې] راغلې، په هُم هغه ورځو کښې ”شَبِ براءَت“ راغله او د هغوئي خپلې علاقې ”ډالـميا“ ته نزدې د ”**کَنزُ الاِيمان مسجِد**“ افتتاح وشوه، هلته د ماښام د لـمانځه د فرضو او سُنَّتو نه پس د **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** شپې نفلونه د جمعَې سره ادا کړې شو، بيا په **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** کښې په هُم دې زيرِ تعمِير جُمات کښې هغوئي ته د ”**دعوتِ اسلامي**“ له طرفه کيدونکې اجتماعي اعتکاف کښې د عاشقانِ رَسُول سره د اِعتِکاف کولو سعادت هُم نصيب شو، د دې اعتکاف په بَرَکت ورته ډيره د عِلمِ دِين زده کولو موقع په لاس ورغله او چه په آخرئ ورځ د **رَمَضان** د مياشتې د رخصتيدو په موقع باندې ”**اَلْوَداع**“ ولوستله شوه نو په عاشقانِ رَسُول باندې د رِقَّت [يعني د زړه نرې کيدو] کيفيت خور وو، په هغوئي هُم د رِقَّت [يعني د



www.dawateislami.net

زړه نري كيدو] كيفيت راغېِ او د ډېر وخته پورې ئې ژړل، تر دې چه اسلامي وروڼړو د طعام خوړلو د پاره كښينولو خو د هغوئي سلګئ جاري وې. بيا هغوئي ته د عِمامې شريفې په سر كولو شَرف حاصل شو. د هغه ورځې نه تر اوسه (يعني د د ې ليك د وخته پورې) هغه د **دعوتِ اسلامي** د **مَدَني ماحول** سره تړون كړې دې، په ډېرو **مَدَني قَافِلو** كښې ورته د سفر او په مدينةُ الاَولياء مُلتان شريف كښې د درې ورځو د سُنَّتو ډكې اِجتِماع كښې ورته د شريك كيدو سعادت هُم حاصل شو، د دې ليك د وخته پورې، [يعني] ٤ **رَجَبُ الْمُرَجَّب** ١٤٣٨ھ د ځلورو كالو نه په يو جُمات كښې د اِمامت په مَنصَب باندې هُم فائز دې. په **جَامِعَةُ الْمدِينه** فيضانِ **محمّدي** ګُلشنِ معمار (كراچۍ) كښې د عَصري علومو يعني رياضۍ او انګلش تدرِيس هُم كوي. او (د دې الفاظو د ليكلو په وخت) اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ هغوئي ته درې ځله په عالمي مَدَنـي مركز "**فيضانِ مدينه**" كښې د اِجتِماعي اِعتِكاف سعادت هُم نصيب شوي دې. او د دې ليك په وخت ورته د شُعبۀ تعليم (دعوتِ اسلامي) د ډويژن سطح ذِمَّه داري هُم حاصله ده.

## "مِسواك سُنَّت دې" د لسو حُروفو په نِسبت

## د مِسواك په باره كښې لس فرامِينِ مُصطفىٰ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

﴿١﴾ د مسواک کولو سره دوه رکعته کول د مِسواک نه بغير د ٧٠ رکعاتو نه افضل [يعني غوره] دي. (التَّرغِيب والتَّرهِيب ج١ ص١٠٢ حديث١٨) ﴿٢﴾ د **مِسواك** سره [يعني د **مِسواك كولو سره**] لـمونځ كول بغير د **مِسواك** لـمانځه كولو نه آويا هُمره افضل [يعني غوره] دې (شُعَبُ الْاِيمان ج٣ ص٢٦ حديث٢٧٧٤) ﴿٣﴾ "ځلور خيزونه د رسولانو عَلَيْهِمُ السَّلَام د سُنَّتو نه دي: (١) عِطر لګول (٢) نِكاح كول (٣) **مِسواك** كول او (٤) حياء كول." (مُسْنَدِ اِمام اَحمَد بِن حَنْبَل، ج٩ ص١٤٧، حديث٢٣٦٤١) ﴿٤﴾ **مِسواك** كوئ **مِسواك** كوئ زما خوا ته زيړ غاښونه مه راځئ. (جمعُ الْجَوامِع ج١ ص٣٨٩ حديث٢٨٧٥) ﴿٥﴾ په **مِسواك** كښې د مرګ نه سِوا د هر مرض نه شِفا ده (اَلْجَامِعُ الصَّغِير ص٢٩٧، حديث٤٨٤٠) ﴿٦﴾ كه ما ته د



www.dawateislami.net

خپل اُمَّت د مَشَقَّت او سختئ خيال نه وې نو ما به هغوئ ته د هر اوداسه سره د **مِسواك** كولو حُكم وركړې وو. (بُخاری ج١ ص٦٣٧) ﴿٧﴾ د مِسواک اِستعمال په ځان لازِم كړئ ځكه چه په دې كښ د خُلې صفائي ده او دا د رَبّ تعالٰى د رضا سبب دې. (مُسندِاِمام احمدبن حنبل ج٢ ص٤٣٨ حديث ٥٨٦٩) ﴿٨﴾ اودَس نِيم اِيمان دې، او **مِسواك** كول نِيم اودَس دې (مُصَنَّف اِبنِ اَبی شَیبه ج١ ص١٩٧ حديث ٢٢) ﴿٩﴾ بنده چه كله **مِسواك** وكړي، بيا په لمانځه ودرېږي نو فرښته په هغه پسې شا ته ودرېږي او قِراءَت اوري، بيا هغه ته نزدې شي تر دې چه خپله خُله د هغه په خُله كيږدي (البحر الزخار ج٢ ص٢١٤ حديث٦٠٣) ﴿١٠﴾ چا چه د جُمُعې په ورځ غسل وكړو او **مِسواك** ئې وكړو، خوشبو ئې ولګوله، ښې جامې ئې واغوستلې، بيا جُمات ته راغي او د خلقو په څټونو وا نه اُوښتو، بلكه لمونځ ئې وكړو او د اِمام د راتلو نه پس (يعني په خُطبه كښې او) د لمانځه نه د فارغيدو پورې خاموشه پاتې شو نو الله تعالٰى د هغه ټول ګناهونه كوم چه په هغه پوره هفته كښې شوي وو، معاف كړي." (مُسنَدِاِمام اَحمَدبِن حَنبَل. ج٤ ص١٦٢ حديث١١٧٦٨)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد
تُوبُوْا اِلَى الله! اَسْتَغْفِرُ الله
صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# فَيضانِ اِعتِكاف



## د دُرُود شريف فضيلت

د الله تعالیٰ د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد مُبارك دي: ”چا چه په ما باندي په ورځ كښې يو زر كرته دُرُود شريف ولوستلو، هغه به مړ كيږي نه تر څو پوري چه په جَنَّت كښې خپل ځائ ونه وِيني.“ (اَلتَّرغِيْب وَالتَّرهِيْب ج۲ ص۳۲۸ حديث۲۲)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د برکتونو به څه وائې! دغسې خو د دې هر هر ساعت د بیشمیره بَرَکتونو نه ډك دې، خو په دې مُحترمه میاشت کښې شَبِ قَدر د ټولو نه زیات اَهَمِّیَّت لرې. د دې د حاصلولو د پاره زمونږه خوږ خوږ آقا مکّی مَدَنی مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د پوره میاشتې اِعتِکاف هُم فرمائیلې دې او د آخرو لسو ورځو به ئې ډیر زیات اِهتِمام کولو. تر دې چه یو ځل د څه خاص عُذر په وجه ”حُضُور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِعتِکاف ونکړې شو نو د شَوَّالُ الْمُکَرَّم په آخري عَشره کښې ئې اِعتِکاف وکړو.“ (بُخاری ج۱ ص۶۷۱ حدیث۲۰۴۱)
”یو ځل د سفر په وجه د خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِعتِکاف پاتې شو نو په بل رَمَضان شریف کښې ئې د شلو ورځو اِعتِکاف اُوفرمائیلو.“ (تِرمِذی ج۲ ص۲۱۲ حدیث۸۰۳ مُلَخَّصاً)

## اِعتِکاف پخوانې عبادت دې

پخوانو اُمَّتونو کښې هُم د اِعتِکاف عبادت موجود وو. چنانچه ورومبئ سیپاره سُوْرَۃُ البَقَرَہ آیت نمبر ۱۲۵ کښې اللہ تعالٰی اِرشاد فرمائې:

وَ عَهِدْنَاۤ اِلٰۤى اِبْرٰهٖمَ وَ اِسْمٰعِیْلَ اَنْ طَهِّرَا بَیْتِیَ لِلطَّآىٕفِیْنَ وَ الْعٰكِفِیْنَ وَ الرُّكَّعِ السُّجُوْدِ (۱۲۵)

مَفهُوم ترجمۂ کَنزُالاِیمان: او مونږه تاکید وکړو ابراهِیم او اِسمٰعِیل ته چه زما کور ښه سُتره کړئ طواف والؤ او اِعتِکاف والؤ او رُکُوع او سُجُود والؤ د پاره.

## د فا ساتلو حُکم دې

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د طواف او لمانځه او اِعتِکاف د پاره د کعبې مُشرَّفې د پاکیزګۍ او صفائي پخپله د رَبِّ کَعبه عَزَّوَجَلَّ له طرفه فرمان جاري کړې شوې دې. مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائې: ”معلومه شوه چه جُماتونه صفا او سُتره ساتل پکار دي، هلته ګندګي او بدبُوداره خیز راوړل نه دي پکار، دا سُنَّتِ انبیاء دي. دا هُم معلومه شوه چه اِعتِکاف عبادت دې او د پخوانو اُمّتونو په لمونځونو کښې رُکُوع او سُجُود



www.dawateislami.net

دواړه وو. دا هُم معلومه شوه چه د جُماتونو څوك مُتَوَلِّي پکار دي او چه مُتَوَلِّي صالِح (پرهيزګاره) انسان وي.“ نور مخکښې فرمائي: ”طواف او لـمونځ او اِعتِكاف ډير پخواني عبادتونه دي چه په زمانهٔ اِبراهِيمي کښې هُم وو.“ (نُور العِرفان ص ۲۹)

## د لسو ورځو اِعتِكاف

اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رضی اللہ تعالیٰ عنہا فرمائي چه رسولِ اکرم صلی اللہ تعالیٰ علیہ واٰلہٖ وسلّم به د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د آخري عَشرې (يعني د آخرو لسو ورځو) اِعتِكاف کولو. تر دې چه اللّٰه تعالیٰ هغوئي صلی اللہ تعالیٰ علیہ واٰلہٖ وسلّم ته (ظاهِري) وَفات ورکړو. بيا د هغوئي صلی اللہ تعالیٰ علیہ واٰلہٖ وسلّم نه پس به د هغوئي صلی اللہ تعالیٰ علیہ واٰلہٖ وسلّم اَزواجِ مُطَهَّراتو اِعتِكاف کولو. (بُخاری ج۱ ص٦٦٤ حديث ۲۰۲٦)

## د عاشقانو خواهش

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! دغسې خو د اِعتِكاف بيشميره فضائل دي خو د عاشقانو د پاره خو دومره خبره کافي ده چه د آخري عَشرې اِعتِكاف سُنَّت دې. صرف دا تصوُّر هُم شوق زياتولو د پاره کافي دې چه مونږه د خوږ مَدَنـي آقا صلی اللہ تعالیٰ علیہ واٰلہٖ وسلّم خوږ خوږ سُنَّت ادا کوو. د عاشقانو خو ټول خواهش هُم دا وي چه فلانکې فلانکې کار زمونږه خوږ نبي صلی اللہ تعالیٰ علیہ واٰلہٖ وسلّم کړې دې بس ځکه ئې مونږه هُم کوو، خو د عمل د پاره دا ضروري دي چه زمونږ د پاره څه شرعي مُمانَعت نه وي.

## د اُوښې سره چاپيره د تاويدلو حِکمت

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمَر رضی اللہ تعالیٰ عنہما ډير زيات مُتَّبِعِ سُنَّت وو او د ادائے مُصطَفیٰ ادا کولو ډيره زياته جذبه ئې لرله چنانچه په يو مقام کښې ئې خپله اُوښه تاؤ راتاؤ کړه، چه تپوس ترې وکړې شو نو اِرشاد ئې اُوفرمائيلو: ”زه د دې په باره کښې معلومات نه لرم، صرف دومره



www.dawateislami.net

راته ياد دي چه ما رَسُولِ اکرم صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دې مُقام باندې په داسې کولو ليدلې وو لِـهذا ما هُم داسې وکړل." (اَلشِّفاء ج۲ ص۱۵)

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مُعتَکِف اصل مقصد د جَمعې د لـمانځه انتظار

فَتَاویٰ عالَـمگیری کښې دي: د اِعتِکاف فائدې بالکل ښکاره دي ځکه چه په دې کښې بنده د الله تعالٰی د رِضا حاصلولو د پاره خپل ځان پوره پوره د الله تعالٰی په عِبادت کښې مشغول کړي او د هغه ټولو دُنیاوي مشغلو نه ډډه اختیار کړي کومې چه د الله تعالٰی د نزدیکت په لار کښې رُکاوټ جوړېږي او د مُعتَکِف ټول وختونه حقیقةً یا حُکماً په لـمانځه کښې تیرېږي. (ولې چه د لـمانځه اِنتِظار کول هُم د لـمانځه په شان ثواب لري) او د اِعتِکاف اصل مقصد د جَمعې د لـمانځه انتظار کول دي او مُعتَکِف د هغه فرښتو سره مُشابَهَت [یعني یو شان والې] لري کومې چه د الله تعالٰی د حُکم نافرماني نه کوي او هغوئ ته چه څه حُکم ورکولې کیږي هُم هغه کوي او د هغوئ سره مُشابَهَت لري کومې چه مسلسل د الله تعالٰی تسبِیح (یعني پاکي) بیانوي او د هغې نه ئې زړونه نه مړيږي." (عالمگیری ج۱، ص۲۱۲)

## د یوې ورځې د اِعتِکاف فضیلت

**فرمانِ مُصطَفٰی** صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه د الله تعالٰی د رِضا او خوشنودئ د پاره د یوې ورځې اِعتِکاف وکړي الله تعالٰی به د هغه او د جَهنَّم تر مینځه درې خندقه رُکاوټ جوړ کړي چه د هر خندق فاصله (یعني لرې والې) به د مَشرِق او د مَغرِب د فاصلې نه هم زیات وي."

(مُعْجَم اَوْسَط ج۵ ص۲۷۹ حدیث۷۳۲۶)



www.dawateislami.net

## د تيرو شوو ګناهونو بخښنه

د اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا نه رِوايت دي چه د دوارِو جهانو سردار خوږ نبي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلي دي: ”مَنِ اعْتَكَفَ اِيْمَانًا وَّاحْتِسَابًا غُفِرَ لَه مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِه“ ترجمه: چا چه د ايمان سره او د ثواب حاصلو په نِيَّت اِعتِكاف وكړو د هغه تير ګناهونه به اُوبخښلې شي.“ (جامِع صغِير ص٥١٦ حديث ٨٤٨٠)

## د آقا ﷺ د اِعتِكاف ځائ

حضرتِ سَيِّدُنا نافِع رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ وائي چه حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فرمائي چه خوږ مَدَنـي آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د **رَمَضان** د مياشتي د آخرئ عَشرې اِعتِكاف كولو. حضرتِ سَيِّدُنا نافِع رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي چه حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا ما ته په جُمات كښې هغه ځائ را اُوښودلو كوم ځائ كښې به چه سركارِ مدينه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِعتِكاف كولو. (مُسلِم ص٥٩٧ حديث١١٧١)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** په مسجِدِ نَبَوِي شريف عَلٰى صَاحِبِهَا الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام كښې به چه په كوم ځائ كښې زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اِعتِكاف د پاره سَرير (يعني تخت) اچولو هلته د يادګار په طور يوه مُباركه ستن د ”اُسطُوانَةُ السَّرِير“ په نوم اوس هُم قائمه ده. خوش نصيبه عاشقانِ رَسُول د هغې دِيدار كوي او د بَرَكت حاصلولو د پاره هلته نفلونه ادا كوي.

## د ټولې مياشت اِعتِكاف

د **حضرتِ** سَيِّدُنا اَبُو سعيد خُدري رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دي: يو ځل خوږ مكِّـى مَدَنـى سُلطان صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يكُم رَمَضان نه شلم رَمَضان پورې د اِعتِكاف كولو نه پس اِرشاد اُوفرمائيلو: ما د شَبِ **قَدر** تلاش كولو د پاره د رَمَضان د وړومبئ عَشرې **اِعتِكاف** وكړو بيا مې



www.dawateislami.net

د مینځنۍ عَشرې اِعتِکاف وکړو بیا ما ته اُوښودلې شو چه شَبِ قَدر په آخرۍ عَشره کښې دې لِـهذا په تاسو کښې چه کوم کس زما سره اِعتِکاف کول غواړي هغه دِ ئې وکړي.“

(مُسلِم ص۵۹۴حدیث۱۱۶۷)

## په تُرکي خیمه کښې اِعتِکاف

حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو سعید خُدري رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: خوږ مَدَنـي سردار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په یوه تُرکي **خیمه** کښې دننه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د وړومبۍ عَشرې اِعتِکاف وکړلو، بیا د مینځنۍ عَشرې، بیا ئې سر مبارك راوِیستلو او وئې فرمائیل: ”ما د **وړومبۍ عَشرې اِعتِکاف** د شَبِ قَدر تلاش کولو د پاره وکړو بیا مې د هم دې مقصد د پاره **د دویمې عَشرې اِعتِکاف** هُم وکړو، بیا ما ته د **الله** تعالٰی له طرفه دا خبر راکړې شو چه **شَبِ قَدر په آخرۍ عَشره کښې** دې. لِـهذا کوم کس چه زما سره اِعتِکاف کول غواړي هغه دِ د آخرۍ عَشرې اِعتِکاف وکړي. ځکه چه ما ته مخکښې **شَبِ قَدر** ښودلې شوې وه بیا را نه هیره کړې شوه، او اوس ما دا لیدلې دي چه د **شَبِ قَدر** په سحر په لـمده خاوره کښې سجده کووم، لِـهذا اوس تاسو **شَبِ قَدر** د آخرۍ عشرې په طاقو شپو کښې تلاش کړئ. حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو سعید خُدري رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي چه په هغه شپه باران وشو او د جُمات شریف چت مبارك راوڅڅیدلو، چنانچه د یو وِیشت رَمَضَانُ الْمُبَارَك په سحر زما سترګو خوږ خوږ آقا مکّـي مَدَنـي مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په داسې حالت کښې ولیدلو چه د هغوئي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په تَندې مبارك باندې د لـمدې خاورې نښه وه.

(مِشْکٰوۃ ج۱ ص۳۹۲حدیث۲۰۸۶)

## د اِعتِکاف عظیم مقصد

**خوږو خوږو اسلامي وروڼړو!** مونږ ته په ژوند کښې یو ځل خو د دې ادائے مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ادا کولو د پاره د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د پوره میاشتې اِعتِکاف کول پکار دي. په رَمَضَانُ



www.dawateislami.net

**الْمُبَارَك** کښې د اِعتِکاف کولو د ټولو نه غټ مقصد د **شَبِ قَدر** تلاش دې. او راجِح (یعنې غالِب [قول]) هُم دا دې چه **شَبِ قَدر** د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د آخرو لسو ورځو په طاقو شپو کښې وي. د دې حدیث مبارك نه دا هُم معلومه شوه چه په هغه ځل شَبِ قَدر په یو وِیشتمه شپه وه خو دا فرمائیل چه دا د آخري عَشرې په طاقو شپو کښې تلاش کړئ." دا خبره ظاهروي چه شَبِ قَدر بدلیږي رابدلیږي. یعني کله یو وِیشتمه، کله دریویشتمه، کله پینځه وِیشتمه، کله ووه وِیشتمه نو کله یو کم دیرشمه شپه. مسلمانانو ته د شَبِ قَدر د سعادت حاصلولو د پاره د آخري عَشرې د اِعتِکاف کولو ترغیب ورکړې شوې دې، ځکه چه مُعتَکِف لس واړه ورځې په جُمات کښې تیروي او په دې لسو ورځو کښې کومه یوه شپه شَبِ قَدر وي. او دغسې هغه شَبِ قَدر په جُمات کښې تیرولو کښې کامیاب شي. یوه بله نُکته د دې حدیثِ پاك نه دا هُم معلومه شوه چه رَسُولِ پاك صاحِبِ لَولاك صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاورو سجده کړي وه ځکه خو د خاورو خوش نصیبه ذَرّې د خوږ خوږ نبي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نُوراني تندي مبارك پورې ونښتلې.

## په زمکه باندې بِلا حائل سَجده کول مُسْتَحَب دي

**فُقَهائے کرام** رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی فرمائي: "په زمکه باندې بِلا حائل (چه مُصَلّٰی، کپړه وغیره پرې نه وي خوره، داسې) سَجده کول غوره دي." (مراقی الفلاح ص۱۹۰) **حُجَّةُ الْاِسلام** اِمام ابو حامِد محمّد بن محمّد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: حضرتِ سَیِّدُنا عُمَر بن عبد العزیز رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه به همیشه **په زمکه سَجده کوله** یعني د سَجدې په ځائ به ئې مُصَلّٰه وغیره نه خوروله. (اِحْیَاءُ الْعُلُوم ج۱ ص۲۰٤)

## دوه فرامینِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دوو حجونو او دوو عُمرو ثواب

﴿۱﴾ "چا چه په **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** کښې د لسو ورځو اِعتِکاف وکړو هغه داسې دې لکه دوه حجونه او دوه عُمرې ئې چه وکړې." (شُعَبُ الْاِیمان ج۳ ص٤۲۵ حدیث۳۹٦٦) ﴿۲﴾ اعتکاف کوونکي د



www.dawateislami.net

ګناهونو نه بچ کيږي او د هغه د پاره ټولې نيکۍ ليکلې کيږي څنګه چه د هغو [نيکو] د کوونکو د پاره وي." (اِبنِ مَاجَه ج٢ ص٣٦٥ حديث١٧٨١)

## بې کړ و د نيکو ثواب

مشهور **مُفَسِّر حَکِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د حديث نمبر ٢ نه لاندې په مِرآة جِلد ٣ صفحه ٢١٧ کښې فرمائي: يعني د اِعتِکاف فوري فائده خو دا ده چه دا مُعتَکِف د ګناهونو نه حصاروي. د **عَکۡف** معنٰی ده حصارول، منع ساتل، ځکه چه اکثر ګناهونه غِيبت، دروغ او **چُغلي** وغيره د خلقو سره د اِختِلاط [يعني د يو ځائ ناستې ولاړې] په وجه کيږي مُعتَکِف ګوشه نشين [يعني يو ګُوټ کښې ناست] دې او څوك چه د هغه سره ملاقات د پاره راځي هغه هُم د جُمات او اِعتِکاف لحاظ ساتي او نه بدې خبرې کوي او نه ئې په بل کوي. يعني مُعتَکِف چه د اِعتِکاف په وجه د کومو نيکو نه محرومه شو لکه د مسلمانانو د قبرونو د زيارت کولو نه، د مريض د تپوس نه، د جنازې په لـمانځه کښې حاضريدو نه، هغه ته د دې ټولو نيکو ثواب هُم هغسې حاصليږي څنګه چه د دې کارونو کوونکو ته ثواب حاصليږي، اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالٰی د غازي، حا او طالبِ عِلمِ دِين هُم دا حال دې."

## هره ورځ د حج ثواب

د **حضرتِ** سَيِّدُنا حَسَن بَصري رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه نه منقُول دي: "مُعتَکِف ته هره ورځ **د يو حج ثواب** حاصليږي." (شُعَبُ الۡاِيۡمَان ج٣ ص٤٢٥ حديث٣٩٦٨)

## د اِعتِکاف تعريف

"په جُمات کښې د **اللّٰه** تعالٰی د رِضا د پاره د اِعتِکاف په نِيَّت حصاريدل اِعتِکاف دې". د دې د پاره د مسلمان عاقِل کيدل او د جَنابَت او حَيض و نِفاس نه پاك کيدل شرط دي. بالِغ کيدل



www.dawateislami.net

شرط نه دي، نابالِغه هُم چه تميز لري [يعني ښه بد پيژني] که هغه په جُمات کښې د اِعتِکاف په نِيَّت حصاريږي نو اِعتِکاف ئې صحيح دې. (عالمگیری ج۱، ص۲۱۱)

## د اِعتِکاف لفظي معنٰى

د اِعتِکاف لُغوي معنٰى ده "په يو ځائ ټِينګ اوسيدل" مطلب دا چه مُعتَکِف د الله رَبُّ الْعِزَّت په بارګاهِ عَظَمت کښې د هغه عبادت ته ملا تړلې په يو ځائ مضبوط ناست اوسي. د هغه هُم دا کوشش وي چه په څه طريقه د هغه **ربّ** تعالٰى د هغه نه راضي شي.

## اوس خو مې د غني په در بسترې واچولې

حضرتِ سَيِّدُنا عطا خُراساني رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: د مُعتَکِف مثال د هغه کس په شان دې څوك چه د **الله** تعالٰى در ته راغلې پروت وي او دا وائي: "يا **الله** عَزَّوَجَلَّ! تر څو چه ته زما بخښنه ونکړې زه به د دې ځائ نه لرې نه شم. (بدائع الصنائع ج۲ ص۲۷۳)

ہم سے فقیر بھی اب پھیری کو اٹھتے ہوں گے
اب تو غنی کے در پر بستر جمادیئے ہیں

(حدائقِ بخشش ۱۰۱)

## د اِعتِکاف قِسمونه

د اِعتِکاف درې قِسمونه دي ﴿۱﴾ اِعتِکافِ واجِب ﴿۲﴾ اِعتِکافِ سُنَّت ﴿۳﴾ اِعتِکافِ نَفل.

## اِعتِکافِ واجِب

د اِعتِکاف نذر (يعني منښته) ئې وکړه يعني په ژبه ئې اُووئيل: "د **الله** تعالٰى د پاره به زه په فلانکۍ ورځ يا د دومره ورځو اِعتِکاف کووم." نو اوس ئې چه د څو ورځو وئيلې دي د هغه



www.dawateislami.net

هُمره ورځو اِعتِکاف واجِب شو. د منښتي الفاظ په ژبه ادا کول شرط دي، صرف په زړه کښې د منښتې نِیَّت کولو سره منښته نه صحیح کیږي. (او د داسې منښتې پوره کول واجِب نه وي) (رَدُّالْمُحْتَار ج۳ ص٤٩٥ مُلَخَّصاً)

د منښتي اِعتِکاف دِ نارینه په جُمات کښې وکړي او زنانه په مسجِدِ بَیت کښې، په دې کښې روژه هُم شرط ده. (زنانه چه کوم ځائ په کور کښې د لـمانځه د پاره مخصوص کړي هغې ته "مسجِدِ بَیت وائي)[1]

## اِعتِکافِ سُنَّت

د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د آخري عَشرې اِعتِکاف "سُنَّتِ مُؤَکَّده عَلَی الْکِفَایه" دې. (دُرِّ مُختار ج۳ ص٤٩٥) که ټول ئي پریږدي نو د ټولو نه به مطالَبه کیږي او که په ښار کښې یو [کس] وکړو نو ټول برئُ ا ِلذِّمَّه [شو]. (بهارِشریعت ج۱ ص۱۰۲۱)

په دې اِعتِکاف کښې دا ضروري دي چه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په شلم تاریخ د لـمر پریوتو نه مخکښې مخکښې په جُمات کښې د اِعتِکاف په نِیَّت موجود وي او د یو کـم دیرشمې د میاشتې ښکاره کیدلو نه پس یا دِ د دیرشمې د لـمر پریوتو نه پس د جُمات نه اُوځي. که په شلم رَمَضَانُ الْمُبَارَك د لـمر پریوتو نه پس جُمات ته داخل شو نو د اِعتِکاف سُنَّتِ مُؤَکَّده ئې ادا نه شو.

## د اِعتِکاف نِیَّت داسې وکړئ

زه د الله تعالٰی د رِضا د پاره د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د آخري عَشرې د سُنَّتِ اِعتِکاف نِیَّت کووم." (په زړه کښې نِیَّت کول شرط دي، په زړه کښې د نِیَّت کیدو سره په ژبه وئیل هُم بهتر دي)

---

[1] د منښتي په باره کښې د تفصیلي اَحکامو د معلومات د پاره بَهارِ شریعت جِلد۱ صفحه۱۰۱۵ تا ۱۰۱۹ او بهارِ شریعت جِلد ۲ صفحه ۳۱۱ تا ۳۱۸ ولولئ.



www.dawateislami.net

# اِعتِكافِ نفل

د نذر [يعني منبتيِ] او **سُنَّتِ مُؤَكَّده** نه علاوه چه كوم اِعتِكاف وكړيِ شي هغه **مُسْتَحَب** او **سُنَّتِ غيرِ مُؤَكَّده** ديِ. (بهارِشريعت ج١ص١٠٢١) د ديِ د پاره نه روژه شرط ده او نه د وخت څه قيد، چه كله هُم جُمات ته داخل شئ د **اِعتِكاف** نِيَّت وكړئ، چه كله د جُمات نه اُوځئ نو **اِعتِكاف** به ختم شي. اعلٰى حضرت رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه فرمائي: چه كله [څوك] جُمات ته لاړ شي نو د اِعتِكاف نِيَّت دِ وكړي، تر څو پوريِ چه په جُمات كښيِ وي د اِعتِكاف ثواب به هُم حاصلوي. (فَتَاوٰى رَضَوِيّه مُخرَّجة.ج٨ص٩٨) نِيَّت د زړه اِرادي ته وائي، كه په زړه كښيِ مو اِراده وكړه چه زه د **سُنَّت اِعتِكاف نِيَّت** كووم." تاسو مُعتَكِف شوئ، په زړه كښيِ د نِيَّت حاضِر كيدو سره په ژبه هُم دا الفاظ وئيل بهتر دي. په مورنئ ژبه كښيِ هُم نِيَّت كيديِ شي خو په عربيِ ژبه كښيِ زيات بهتر هله چه معنٰى ئي په ذِهن كښيِ موجوده وي. په "**مَلفُوظاتِ اعلٰى حضرت**" صفحه ٣١٧ كښيِ ديِ:

"نَوَيْتُ سُنَّةَ الْاِعْتِكَاف

تَرجَمه: ما د سُنَّتِ اِعتِكاف نِيَّت وكړو."

د **مَسجِدُ النَّبَوِيِّ الشَّرِيف** عَلٰى صَاحِبِهَا الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام په قديمه او مشهوره دروازه "**بَابُ الرَّحۡمَة**" چه داخل شئ نو مخامخ ستن مُباركه ده په هغيِ بانديِ د وريادولو د پاره د پخوانئ زمانيِ نه ښكاره نَوَيْتُ سُنَّةَ الْاِعْتِكَاف ليكليِ شوي ديِ.

# جُمات كښ خوراك څښناك

ياد ساتئ په جُمات كښيِ د خوراك څښناك، پيشمني او روژه ماتي كولو، د آبِ زم زم يا دم كړو اوبو څښلو او د اُوده كيدلو شَرعاً اجازت نشته، كه د اِعتِكاف نِيَّت مو وو نو ضِمناً به د ديِ ټولو كارونو اِجازت وشي. دلته په ديِ خبره هُم پوهيدل ضروري دي چه د اِعتِكاف نِيَّت صرف د



www.dawateislami.net

خوراك څښاك او اُوده كيدو وغيره د پاره كول نه دي پكار، د ثواب د پاره كول پكار دي. رَدُّالْمُحْتَار (شامي) كښې دي: ”كه څوك په جُمات كښې خوراك، څښاك يا اُوده كيدل غواړي نو د اِعتِكاف نِيَّت دِ وكړي، څه ساعت دِ ذِكْرُ الله عَزَّوَجَلَّ وكړي بيا چه څه (خوراك څښاك [يا اُوده كيدل]) غواړي نو كوي دِ ئې.“ (رَدُّالْمُحْتَار ج٣. ص٥٠٦)

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د تبليغِ قُرآن و سُنَّت د عالـمګير غير سياسي تحريك دعوتِ اسلامي له طرفه د دُنيا د مُختلفو ملكونو په جُدا جُدا ښارونو كښې د رَمَضان د پوره مياشتې او د آخري عَشرې د اِعتِكاف تركيب كيږي. د دعوتِ اسلامي د مركزي مَجلِسِ شوریٰ له طرفه د مُعتَكِفينو د پاره باقاعِده تربِيَّتي جَدوَل هُم پيش كيږي.

## د اِجتِماعي اِعتِكاف ٤١ نِيَّتونه

**فرمانِ مُصطَفىٰ** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: نِيَّةُ الْمُؤمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ۔ ”د مسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بِهتر دې.“ (مُعجَم كَبِير ج٦، ص١٨٥ حديث٥٩٤٢)

د خپل اِعتِكاف د عظيمُ الشَّاني نيكۍ سره نور ښه نِيَّتونه شامِل كړئ او په ثواب كښې ښه ډيره اِضافه وكړئ. د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه له طرفه شائع شوي كارډ كښې د سركارِ اَعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه بيان كړو جُمات ته د تللو څلويښتو نِيَّتونو نه د حسبِ حال نِيَّتونو سره سره د موقعې په مُناسبت نور دا نِيَّتونه هُم وكړئ او د كوره اُوځئ. (جُمات ته راتلو نه پس هُم حَسبِ حال نِيَّتونه كيدې شي، چه كله هُم ښه ښه نِيَّتونه كوئ نو د ثواب نِيَّت په نظر كښې ساتئ)

﴿١﴾ په تَوجُّه سره عبادت كولو، د ذاتي مُطالَعې يا د اَهلِ عِلم په موجود كيدو باندې به د عِلمِ دِين د موقعو حاصلولو د پاره د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د پوره مياشتې (يا د آخرو لسو ورځو) سُنَّت اِعتِكاف د پاره ځم ﴿٢﴾ د تَصَوُّف په دې اُصولو (الِف) تَقلِيلِ طَعام (يعني كم خورا) (ب) تَقلِيلِ كَلام (يعني كمې خبرې) او (ج) تَقلِيلِ مَنام (يعني كم اُوده كيدلو) باندې به كاربند اوسيږم ﴿٣﴾ هره ورځ به



www.dawateislami.net

پينځه واره لـمونځونه په ورومبي صَف کښې ﴿٤﴾ د تکبيرِ اُولٰی سره ﴿٥﴾ د جَمعې سره ادا کووم ﴿٦﴾ د هر اذان او ﴿٧﴾ هر اِقامَت جواب به ورکووم ﴿٨﴾ هر ځل به سره د اوّل و آخر دُرُود شريف د اذان نه پس وئيلو والا دُعا لوَلم ﴿٩﴾ هره ورځ به د تَهَجُّد ﴿١٠﴾ اِشراق ﴿١١﴾ څاښت او ﴿١٢﴾ اَوّابِينو نفلونه ادا کووم ﴿١٣﴾ د تِلاوت او ﴿١٤﴾ دُرُود شريف کثرت به کووم ﴿١٥﴾ هره شپه به سُوْرَةُ الْمُلْك لوَلَم يا اَورم ﴿١٦﴾ کم از کم په طاقو شپو کښې به صَلٰوةُ التَّسْبِيْح ادا کووم ﴿١٧﴾ د سُنَّتو ډکو ټولو حلقو او ﴿١٨﴾ بياناتو کښې به د اوّل نه تر آخره پورې شِرکت کووم ﴿١٩﴾ خپلوان او مُلاقاتيان به هُم د اِنفرادي کوشش په ذريعه د سُنَّتو ډکو حلقو کښې کښينووم ﴿٢٠﴾ په ژبه به قُفلِ مدينه لګووم يعني د فُضُولو خبرو نه به ځان ساتم او که کيدې شوه نو په دې ښه نِيَّت به د ضرورت خبره هُم حَتَّی الاِمکان د ليك په صورت کښې يا په اِشاره کووم چه په فُضولو يا بدو خبرو کښې اخته نه شم يا د شور او غوغا سبب جوړ نه شم ﴿٢١﴾ جُمات به د هر قِسمه بد بوئي نه ساتم ﴿٢٢﴾ په جيب کښې به يوه پونړئ ځان سره د دې د پاره ساتم چه که په جُمات کښې څه خزلې او وِيښته وغيره وينم نو په هغې کښې به ئې اچووم. فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ''څوك چه د جُمات نه د تکليف څيز اُوباسي الله تعالٰی به د هغه د پاره په جَنَّت کښې يو کور جوړ کړي '' (اِبنِ مَاجَه ج١ ص٤١٩ حديث٧٥٧) ﴿٢٣﴾ د جُمات فرش يا درئ يا کارپيټ [قالين] به د خپل بدن د خولې نه او د خُلې په کيازو [يعني لاړو] وغيره باندې ککړيدو نه ساتلو د پاره صرف په خپل ذاتي څادر يا پزکي باندې اُوده کيږم ﴿٢٤﴾ د حياء کولو په نِيَّت به د اُوده کيدو په وخت کښې د پردې د پاسه پرده کولو د هر قِسمه خيال ساتم (د اُوده کيدو په وخت کښې په پاجامه [پرتوګ] د پاسه لنګ وهل او د پاسه يو بل څادر اغوستل فائده مند دي. په جَامِعَةُ الْمدِيْنه او مَدَني قَافِله او کور وغيره او هرځائ کښې د اُوده کيدو په وخت کښې د دې خيال ساتل پکار دي) ﴿٢٥﴾ چه په جُمات کښې ګندګي ونشي په دې وجه به که اودس خانه په فِنائے مسجِد کښې وه نو [په سر او ګيره] تيل لګول او ګمنز کول به هلته کووم او کوم ويښته



www.dawateislami.net

چه اُوخَي هغه به راپورته کووم (كه څوك د اودس كولو د پاره په اِنتِظار وي نو د سِيټ نه پاڅيږئ او جُدا ځائ كښې كمنز كوئ) ﴿۲۶﴾ بې اِجازته د بل كس څيز استعمالولو د ګناه نه به ځان ساتم، مَثَلًا استنجا خانې ته تللو د پاره به د بل چا پيزار وغيره نه استعمالووم بلکه ﴿۲۷﴾ د چا سره مې چه د مخکښې نه لين دين او دوستي نه وه نو خپل ځان د خِلافِ مُرَوَّت كار نه ساتلو د پاره به د هغوئي نه ورُوكې ورُوكې څيز هُم عاريتاً نه غوارم او كه هغه څيز د هغه په اِستعمال كښې وي نو هغه د نه پريشانه كولو نِيَّت به هُم پكښې ساتم لِـهذا د پيزار، څادر، بالښت وغيره د يو څيز سوال به هُم د چا نه نه كووم ﴿۲۸﴾ وَقف اَملاك د نقصان نه محفوظ ساتلو، لـمونځ ګُزاره د تكليف نه ساتلو او د جُمات اِنتِظاميه د پريشانئ نه ساتلو د پاره به د طعام خوړلو د پاره په فِنائے مسجِد كښې د طعام مخصوصه درئ يا دسترخوان وغيره خوروم او په هغې به ئې خورم، د لـمانځه په درئ به ئې بالكل نه خورم ﴿۲۹﴾ كه طعام كم وو نو د لوَږې باوجود به د اِيثار په نِيَّت په قلاره خوراك كووم چه نور اسلامي وروڼه زياته اُوخوري. د اِيثار ثواب بيشميره دې چنانچه تاجدارِ رِسالت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: ”كوم كس چه د يو څيز خواهش لري، بيا هغه خواهش حصار كړي [او] په خپل ځان باندې بل چا ته ترجِيح وركړي، نو الله تعالیٰ هغه بخښي“ (ابنِ عَساكِر ج۳۱ ص۱۴۲) ﴿۳۰﴾ د خيټې قُفلِ مدينه[1] به لګووم يعني د خواهش نه به كم خوراك كووم چه په عبادت كښې مې سستي واقع نه شي او د زيات خوراك په وجه مې په صِحَت كښې څه داسې خرابي پيدا نه شي چه هغه عبادت مُتأثِّره كړي ﴿۳۱﴾ كه چا راسره زياتي وكړو نو د الله تعالیٰ د رِضا د پاره به صبر كووم او ﴿۳۲﴾ هغه به د الله تعالیٰ د رِضا د پاره مُعاف كووم ﴿۳۳﴾ خُصُوصاً د ګاونډي مُعتَكِف او عُمُوماً د هر يو سره به حُسنِ سُلوك كووم ﴿۳۴﴾ د اِعتِكاف د حلقه نګران به د اِنتِظامي مُعامَلاتو او د جَدوَل مُتَعَلِّق اِطاعت كووم چه د جُمات په اِجتِماعي نظم و ضبط كښې څه خَلَل واقع نه شي او بد اِنتِظامي پيدا نه شي ﴿۳۵﴾ د فِكرِ مدينه كولو په ذريعه به هره ورځ د مَدَني انعاماتو رِساله [كښې خانې] ډكووم

[1] د دعوتِ اسلامي په اِصطِلاح كښې حلال خوراك هُم د لوَږې نه كم كولو ته ”د خيټې قُفلِ مدينه“ وائي.



www.dawateislami.net

﴿۳۶﴾ اسلامي ورونړو ته به د موقعې په مُناسبت د مُسکې کيدو په ذريعه د صَدقې ثواب ګټم ﴿۳۷﴾ که څوك ما ته په کتلو کښې مُسکي شو نو دا دُعا به لوَلم: اَضْحَكَ اللّٰهُ سِنَّكَ (يعني الله تعالیٰ دِ تا خنديدلې لري) ﴿۳۸﴾ خپل ځان او د کور کسانو او دوستانو او ټول اُمَّت د پاره به دُعاګانې کووم ﴿۳۹﴾ که کوم مُعتَكِف بيمار شو نو څومره چه کيدې شوه د هغه زړه به ساتم او خِدمت به ئې کووم ﴿۴۰﴾ د بوډاګانو مُعتَكِفينو سره به ډير زيات حُسنِ سُلُوك کووم ﴿۴۱﴾ د اِعتِکاف په دوران کښې به حَسبِ توفيق رسالې تقسيموم (هر مُعتَكِف اسلامي ورور ته د درد نه ډك دا مَدَني عرض دې چه حسبِ توفيق يا د اِعتِكاف په دوران کښې كم از كم د ۱۱۲ روپو د مَكْتَبَةُالْمَدِينه رسالې يا د سُنَّتو ډكو بياناتو سي ډي يا د مَدَني ګُلونو پمفلِټ [يعني پرچې] راتلونکو مُلاقاتيانو وغيره باندې ضرور تقسيم کړئ. په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې به د تقسيمِ رَسائل ثواب هُم زيات حاصل کړئ)

## اِعتِکاف په کوم جُمات کښې کول وي؟

جامِع مسجِد کيدل د اِعتِکاف د پاره شرط نه دې بلکه مسجِدِ جَماعَت [يعني د جَمعې په جُمات] کښې هُم کيدې شي. د جَمعې جُمات هغه دې چه په هغې کښې اِمام او مُؤَذِّن مُقرر وي، اګر که په هغې کښې پينځه وخته جَمعه نه کيږي او آساني په دې کښې ده چه مُطلقاً په هر جُمات کښې اِعتِکاف صحيح دې اګرکه هغه د جَمعې جُمات نه وي خُصوصاً په دې زمانه کښې ډير جُماتونه داسې دي چه په هغې کښې نه اِمام شته او نه مُؤَذِّن. (رَدُّالْمُحتَار ج۳ ص۴۹۳) د ټولو نه غوره په حَرَم شريف کښې اِعتِكاف دې بيا په مَسجِدُ النَّبَوِيّ الشَّرِيف عَلٰی صَاحِبِهَا الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام کښې بيا په مَسجِدِ اقصٰی (يعني بَيتُ المُقَدَّس) کښې، بيا په هغې کښې کوم کښې چه غټه جَمعه کيږي. (جَوْهَره ص۱۸۸، بهارشريعت ج ص ۱۰۲۰، ۱۰۲۱)

## مُعتَكِف او اِحتِرامِ مَسجِد

خوږو مُعتَكِفو اِسلامي ورونړو! تاسو به په جُمات کښې لس ورځې تيروئ ځکه يو څو خبرې د جُمات د اِحتِرام مُتَعَلِّق زده کړئ. د اِعتِکاف په دوران کښې په جُمات کښې ضرورتاً د دُنيوي



www.dawateislami.net

خبرې کولو اجازت شته دې خو په داسې طريقه چه يو لـمونځ کوونکې يا عبادت کوونکې يا اُوده کس په تشوِيش کښې اخته نه شي. ياد ساتئ! په جُمات کښې د بې ضرورته خبرو اترو کولو مُعتَکِف ته هُم اِجازت نشته.

## الله به په هغوئي کرم نه کوي

د حضرتِ سَيّدُنا حَسَن بَصري رَحمَۃُاللہِ تعالٰی علیہ نه رِوايت دې چه د نَبِيّ رَحمت شَفِيع اُمَّت صَلَّی اللہُ تعالٰی علیہ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دې: په خلقو به يوه زمانه داسې راځي چه په جُماتونو کښې به د دُنيا خبرې کيږي، تاسو د هغوئي سره مه کښينئ ځکه چه الله تعالیٰ ته د داسې خلقو هيڅ حاجت نشته. (شُعَبُ الْاِیْمان ج۳ ص۸٦ حدیث۲۹٦۲)

مشهور مُفَسِّر حَکِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحمَۃُاللہِ تعالٰی علیہ د دې حديثِ پاك نه لاندې فرمائي: يعني الله به په هغوئي کرم نه کوي، ګني **ربّ** د يو بنده هُم هيڅ ضرورت نه لري، هغه د ضرورتونو نه پاك دې. (مِراٰۃُالمناجیح ج۱ ص٤٥٧)

## الله دِ ستا ورك شوې څيز پيدا نه کړي

د حضرتِ سَيّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللہُ تعالٰی عنہُ نه رِوايت دې چه خوږ مَدَنـي آقا صَلَّی اللہُ تعالٰی علیہ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: څوك چه يو کس په جُمات کښې ورك شوې څيز پسې لټولو باندې واوري (يا اُووِيني) نو وِدِ وائي: "الله عَزَّوَجَلَّ دِ وکړي چه تا ته هغه څيز پيدا نه شي." ځکه چه جُماتونه د دې د پاره نه دي جوړ کړې شوي. (مُسلِم ص۲۸٤ حدیث۵٦۸)

## نو تاسو ته به ما سزا درکړې وه

حضرتِ سَيّدُنا سائب بِن يزيد رَضِیَ اللہُ تعالٰی عنہُ فرمائي: "زه په جُمات کښې ولاړ ووم چه چا په کِتِکئ [يعني وړوکي کاڼړي] اُو وِيشتم، ما چه وکتل نو هغه اَمِيْرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيّدُنا عمر فاروقِ اعظم



www.dawateislami.net

رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ وو ، هغوئي ما ته (په اشاره كښې) اوفرمائيل چه ''هغه دوه كسان زما خوا ته راوله!'' ما هغه دواړه راوستل، حضرتِ سَيِّدُنا عمر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ د هغوئي نه تپوس وكړو چه: ''تاسو د كوم ځائ سره تَعَلُّق لرئ؟ هغوئي عرض وكړو چه ''د طائِف سره'' ورته ئي اوفرمائيل: كه تاسو د مديني مُنَوَّرې اوسيدونكي وې (ځكه چه هغوئي د جُمات د آدابو نه ښه خبر دي) نو ما به تاسو ته ضرور ۱۰ دركړې وه (ځكه چه) تاسو د رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په جُمات كښې آوازونه اوچتوئ! (بُخاری ج۱، ص۱۷۸، حديث۴۷۰)

## مُباح كَلام نيكئ خوري

حضرتِ سَيِّدُنا عَلَّامه علي قاري رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ د **مُحَقِّقِ عَلَی الۡاِطۡلاق شيخ اِبن هُمام** رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ په حواله نقل كوي: ''په جُمات كښې مُباح (يعني په كومه كښې چه نه ثواب وي او نه گُناه داسې جائز) خبره كول مكروه دي او نيكئ خوري.'' (مِرقاةُ الۡمَفَاتِيح ج۲ ص۴۴۹)

## د ځلوېښتو كالو اَعمال دِ برباد كړي

۞ اِمام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ ليكي: خوك چه په جُمات كښې د دُنيا خبره وكړي، **الله** تعالیٰ دِ د هغه د ځلوېښتو كالو نيك اَعمال اَكارَت (يعني برباد) كړي. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج۱۶، ص۳۱۱، غَمزُ العُيُون ج۳ ص۱۹۰)

## په جُمات كښې خندل په قبر كښې تِياره راولي

د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس بن مالِك رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه رِوايت دې چه مَدَني سردار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلي دي: اَلضِّحْكُ فِي الْمَسْجِدِ ظُلْمَةٌ فِي الْقَبْرِ **ترجَمَه**: ''په جُمات كښې خندل په قبر كښې تِياره ده (يعني تِياره راولي).'' (اَلۡفِرۡدَوۡس بِمَأۡثُورِ الۡخِطَاب ج۲ص۴۳۱ حديث۳۸۹۱)



www.dawateislami.net

## په قبر کښې تياره

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! دا پاس رِوايت بيا بيا ولولئ او د **اللّٰه** تعالیٰ د يَرې نه ولړزيږئ! چرې داسې ونه شي چه جُمات ته داخِل خو د ثواب د پاره شوئ خو په خندا او خبرو مو نيکئ برباد کړې او بيا ترې اُووتلئ ځکه چه په جُمات کښې بغير د شرعي اِجازته د دُنيا جائز خبرې هُم نيکئ خوري، لِهٰذا په جُمات کښې په سُکون او خاموشه اوسئ. که بيان کوئ يا اورئ نو هغه هُم د سنجيدګئ سره، چه څه داسې خبره ونکړئ چه خلقو ته پرې خندا ورشي، مه ښچپله خاندئ او مه نور خندوئ ځکه چه په جُمات کښې خندا په قبر کښې تِياره راولي. خو ضرورتاً مُسکې کيدل منع نه دي. د جُمات د احترام ذِهن جوړولو د پاره د دعوتِ اسلامي په مَدَني قَافِلو کښې سفر خپل معمول جوړ کړئ. ستاسو د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلي وړاندې کووم چنانچه

## د مُفتيِ دعوتِ اسلامي اِعتِکاف

د حويلياں کينټ (خيبر پښتونخواه، پاکستان) يو اسلامي وررور په ګناهونو کښې ډوب وو، ښچې ئې ځلمي شوي وو خو بيا هُم د فيشن په آفت کښې اخته وو. د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په مياشت کښې د **تبليغِ قُرآن و سُنَّت** د عالـمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د عاشقانِ **رَسُول** د يوې مياشتې مَدَني قَافِله **حويلياں** ته راغله. د هغه **مَدَني قَافِلې** خُصُوصِيَّت دا وو چه په هغې کښې د دعوتِ اسلامي د **مجلِسِ** شُوریٰ رُکن **مُفتيِ دعوتِ اسلامي الحاج الحافِظ محمد فاروق عطّاري مَدَني** رَحمَةُاللّٰهِ تَعالٰی عَلَيه هُم شريك وو. د هغه اِسلامي وررور مشر ځوئ هغه د مَدَني قَافِلې والؤ سره د مُلاقات د پاره بوتللو. د **مُفتيِ دعوتِ اسلامي** رَحمَةُاللّٰهِ تَعالٰی عَلَيه په **اِنفرادي کوشش** هغه هُم د مَدَني قَافِلې سره په آخري عَشره کښې مُعتَکِف شو. د **مُفتيِ دعوتِ اسلامي** رَحمَةُاللّٰهِ تَعالٰی عَلَيه حُسنِ اخلاق په هغه ډير اثر وکړو، نورو **عاشقانِ رَسُول** هُم په هغه ښه اِنفرادي کوشش وکړو، تر دې چه د هغه زړه



www.dawateislami.net

ډير نرم شو او اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په زړه کښې ئې **مَدَني اِنقِلاب** راغې. فيشن ئې پريښودو، په سُنَّتو عمل کوونکې جوړ شو، کِيره خرئيل ئې پريښودل، بد کارونه ئې پريښودل او مکمل طور ئې د مَدَني ماحول سره تړون وکړو. غَرَض دا چه د ګناهونو نه ئې توبه وکړه، کِيره ئې پريښودله او د **عِمامې شريفې** تاج ئې په سر کړو. مَدَني ماحول سره تړون نه پس به د هغه دا کوشش وو چه کوم يو سُنَّت هُم ورته معلوم شي چه په هغې عمل وکړي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د **دعوتِ اسلامي** د مَدَنـي کارونو عام کولو د پاره تنظيمي طور **د حلقه سطح ذِمَّه** دار هُم جوړ شو.

آئیں گی سنّتیں جائیں گی شامتیں — مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
تم سدھر جاؤگے پاؤگے برکتیں — مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٣٩)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## مُفتيِ دعوتِ اسلامي د وفات نه پس
## هم د مدني قافلې دعوت ورکړو

د مُفتيِ دعوتِ اسلامي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه به هُم څه وائې! په مَدَني ماحول کښې هغوئې په **مَدَني قَافِلو** کښې ډير ځله سفر کړې وو او د بيشميره اِسلامي وروڼرو د اصلاح کولو په ذريعه ئې ځان د پاره د ثوابِ جارِيه ذخيره جمع کړي وه او په ١٨ **مُحَرَّمُ الْحَرَام** (١٤٢٧هـ. 17.2.2006) د **جُمُعې** د لـمانځه نه پس وفات شو او د دُنيا نه د تللو نه پس ئې هُم په خوب کښې د **اِنفرادي کوشش** په ذريعه يو اسلامي ورور د **مَدَني قَافِلې** مُسافِر جوړ کړو او بيا په **مَدَني قَافِله** کښې هُم په خوب کښې ورغلو او بِاِذْنِ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د مثاني د مرض نه ئې نجات هُم ورکړو چنانچه د څه مودې نه د يو اِسلامي ورور په مثانه کښې تکليف وو، هغوئې په خوب کښې د **حضرتِ مُفتيِ دعوتِ اسلامي مولانا الحاج الحافِظ محمد فاروق عطّاري مَدَني** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه دِيدار وکړو، هغوئې رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه



www.dawateislami.net

ورته په مَدَني قَافِله كښې د سفر كولو حُكم وكړو. هغه د سفر نِيَّت وكړو خو په جُمَادَى الْاُوْلٰى (١٤٢٧هـ) كښې ئې سفر ونكړې شو. په ٢٤ جُمَادَى الْآخِرة (١٤٢٧هـ) ئې د درې ورځو په مَدَني قَافِله كښې د عاشقانِ رَسُول سره د سُنَّتو ډك سفر اختيار كړو. قافلې والا جُمات ته چه كله ورسيدلو او ځملاستلو نو د خوب دُنيا ته ورسيدلو [په خوب كښ] څه ګوري چه مُفتيِ دعوتِ اسلامي رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ د پردې د پاسه پرده كړې (يعني په كپړو د پاسه ئې په غيره كښې څادر داسې خور كړې چه ورنونه وغيره ئې پرې پټ كړي وو) ناست دې او خپل ملفُوظات بيانوي، خو هغه د هغوئې رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ په اِرشاداتو پوهه نه شو. په مَدَني قَافِله كښې د سفر په بَرَكت اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ هغه ته د مَثاني د تكليف نه نَجات حاصل شوې دې.

درد گرچہ تمہارے مثانے میں ہے　　درس فاروق دیں قافلے میں چلو

فائدہ آخرت کے بنانے میں ہے　　سب مبلغ کہیں قافلے میں چلو

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٧٧)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د "بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ" د نولَّسو حُرُوفو په نِسبت د جُمات مُتَعَلِّق ١٩ مَدَني ګلونه

﴿١﴾ رِوايت دې چه يو جُمات د خپل ربّ تعالیٰ په بارګاه كښې ګيله كولو د پاره روان شو چه خلق په ما كښې د دنيا خبرې كوي. فرښتې راروانې وې او د هغه سره ئې ملاقات وشو او وئې وئيل چه: مونږه د دوئي (يعني په جُمات كښې د خبرو كولو والؤ) د هلاك كولو د پاره راليږلې شوي يو.

(فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج١٦، ص٣١٢)



www.dawateislami.net

﴿۲﴾ **رِوایت** شوي دي چه کوم خلق غیبت کوي او کوم خلق په **جُمات** کښې د دُنیا خبرې کوي د هغوئ د خُلې نه ګنده بوئي اُوځي چه د هغې په وجه فرښتې د **الله** تعالیٰ په بارګاه کښې شکایت کوي.'' سُبْحٰنَ الله! چه د مُباح او جائز خبرو کولو د پاره بې د شرعي ضرورته **جُمات** کښې د ناستې دا آفتونه دي نو (په جُمات کښې به) د حرام او ناجائزه کار [او خبرو] کولو څه حال وي! (ایضاً)

﴿۳﴾ **درزي** ته اجازت نشته چه هغه په جُمات کښې جامې وګنډي. خو که د ماشومانو د حصارولو او د **جُمات** د حفاظت د پاره کښېناستو نو باك نشته. هُم دغسې کاتِب [یعني لیکونکي] ته (په جُمات کښې) په اُجرت [یعني مزدورئ] باندې د کتابت اجازت نشته. (عالمگیری، ج۱، ص۱۱۰)

﴿٤﴾ په **جُمات** کښې هیڅ قِسم خزَلې بالکل مه غورزوئ. سَیِّدُنا شیخ عبدُالحق **مُحَدِّث** دِهلَوي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه په ''جَذبُ القُلوب'' کښې نقل کوي چه که په جُمات کښې خَس (یعني معمولي ذرّه) واچولې شي نو په هغې **جُمات** ته دومره تکلیف کیږي څومره تکلیف چه انسان ته په خپله سترګه کښې د خَس (یعني د معمولي ذرّې) پریوتو په وجه کیږي. (جَذبُ القُلوب ص۲۲۲)

﴿۵﴾ د **جُمات** په دیوال، یا فرش باندې، یا د پزَکې یا درئ د پاسه یا ترې لاندې لا ړې تُوکل، پوزه سُونړ کول، د پوزې یا غوږ خیرې پرې لګول، د **جُمات** د درئ نه تار راښکل یا د پزَکې نه تیلئ ماتول وغیره ټول شرعاً منع دي.

﴿٦﴾ ضرورتاً (په جُمات کښې دننه) په خپل رومال وغیره باندې پوزه پاکولو کښې باك نشته.

﴿۷﴾ د **جُمات** خزلې په داسې ځائ کښې مه اچوئ چه بې ادبي ئې کیږي. (بهارشریعت ج۷ ص ٦٤٧)



www.dawateislami.net

﴿٨﴾ که څپلۍ وغیره اوباسئ او ځان سره ئې جُمات ته دننه ورل غواړئ نو ګرد وغیره ترې بهر څنډئ. که د ښپو په تلو پورې مو د ګرد ذرې نښتې وي نو په خپل رومال وغیره ئې پاکوئ او بیا جُمات ته داخلیږئ. چه په جُمات کښې د ګرد یوه ذَرّه هُم ونه غورزیږي، د دې خیال ساتئ.

﴿٩﴾ د اودس کولو نه پس ښپې په اودس خانه کښې وچوئ. په لـمدو ښپو د جُمات فرش ګنده کیږي او درئ خیرنیږي.

اوس د اعلٰی حضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مُجَدِّدِ دِین و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان د ملفُوظاتو شریفو نه د جُمات بعضې آداب وړاندې کیږي:

﴿١٠﴾ په جُمات کښې منډه وهل یا داسې په زوره ښپه اېښودل چه درب پیدا کیږي منع دي.

﴿١١﴾ د اوداسه نه پس د اوداسه د اندامونو نه یو څاڅکې اوبه هُم د جُمات په فرش څڅیدل نه دي پکار. (یاد ساتئ د اوداسه د اندامونو نه د اوبو څاڅکې د جُمات په زمکه باندې څڅول ناجائزه او ګُناه ده)

﴿١٢﴾ د جُمات د یوې درجې نه بلې درجې ته د داخلیدو وخت کښې (مَثَلًا انګڼ ته د داخلیدو په وخت کښې او د انګڼ نه دننه حصّې طرف ته د داخلیدو په وخت کښې هُم) ښۍ ښپه مخکښې کول پکار دي، تر دې چه که درئ خورې وي نو په هغې باندې هُم مخکښې ښۍ ښپه کېږدئ او چه کله د هغه ځائ نه لرې کیږئ نو هُم ښۍ ښپه د جُمات په فرش کېږدئ (یعني د تلو راتلو وخت کښې هر یو خور شوي صف باندې مخکښې ښۍ ښپه کېږدئ) یا چه کله خطیب مِنبر ته د ختلو اِراده وکړي نو ښۍ ښپه دِ مخکښې خیژوي او چه کله کوزیږي نو هُم ښۍ ښپه دِ مخکښې کوزوي.

﴿١٣﴾ په جُمات کښې چه پرنجې درشي نو کوشش کوئ چه په قلاره آواز اُوځي او هُم دغسې په ټُوخیدو کښې هُم. زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په جُمات کښې په زوره پرنجې ناخوښه



www.dawateislami.net

کنړلو. هُم دغسې ډرقې هُم حصارول پکار دي او که نه حصاریږي نو ځومره چه کیدې شي آواز حصارول پکار دي اګرکه غیرِ جُمات کښې وي. خصوصاً په تولګي کښې یا د یو مُعَظَّم (یعني بزرګ، مشر) په مخکښې [دا ځیزونه په زوره کول] بې ادبي ده. په حدیث کښې دي چه یو کس د حُضُورِ اقدس صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوا کښې ډرقې وکړو، حُضور صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: ''زمونږ نه خپل ډرقې لرې وساته ځکه چه په دُنیا کښې به چا د زیاتې مودې پورې خیټې ډکولې هغوئي به د قیامت په ورځ د زیاتې مودې پورې اُوږې اوسیږي.'' (تِرمِذِی، ج٤ ص٢١٧حدیث٢٤٨٦) او په هوَکـې [یعني اګرې] کښې آواز چرې هُم ویستل نه دي پکار اګر که د جُمات نه بهر یواځې ځائې کښې هُم وي ځکه چه دا د شیطان قَهقَهه [یعني په زوره خندا] ده. هَوَکـې چه کله هُم درشي نو ځومره چه کیدې شي خُله بنده ساتئ، خُله چه وازه شي نو شیطان پکښې لاړې تُوکي. که داسې نه حصاریږي نو په پاسنو غاښونو لاندینۍ شونډه زور کړئ، که داسې هُم حصار نه شي نو ځومره چه کیدې شي خُله کمه بیرته کوئ او د ګڅ لاس شا په خُله کړدئ. ولې چه هَوَکـې د شیطان له طرفه دې او انبیاءِ کِرام عَلَیۡهِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام د دې نه محفوظه دي لِـهذا که هَوَکـې درشي نو دا تصوَّر کوئ چه انبیاءِ کِرام عَلَیۡهِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام ته هَوَکـې نه ورځي.'' اِنۡ شَـآءَاللّٰه تعالٰی فوراً به حصار شي. (رَدُّالۡمُحۡتَار ج٢، ص٤٩٨، ٤٩٩)

﴿١٤﴾ **تَمَسخُر** (یعني مسخرې کول) هسې هُم منع دي او په **جُمات** کښې سخت ناجائزه.

﴿١٥﴾ **جُمات** کښې خندل منع دي ځکه چه په قبر کښې تِیاره راولي. د موقعې په لحاظ سره مُسکـې کیدو کښې باك نشته.

﴿١٦﴾ د **جُمات** په فرش باندې یو ځیز هُم غورزول نه دي پکار بلکه په قلاره اینبودل پکار دي. د اوړي په موسم کښې خلق ځان ته ببوزې وهي او بیا ئې اوغورزوي (په جُمات کښې خولۍ [یعني ټوپۍ] او څادر وغیره هُم مه غوزارئ، هُم دغسې په څادر یا رومال باندې فرش داسې مه څنډئ چه



www.dawateislami.net

آواز پیدا شي) یا [بعضې خلق] لرګې [یعني کونټۍ] یا چترۍ وغیره ایښودلو وخت کښې د پاس نه پریږدي. دا منع دي. غرض دا چه د **جُمات** احترام په هر مسلمان باندې فرض دې.

﴿۱۷﴾ په **جُمات** کښې حَدَث (یعني باد خارجول) منع دي، (ځوك چه په اعتِکاف کښې نه وي هغه ته که [د بادلو خارجولو] ضرورت شي نو بهر ته دِ ځي. لِهٰذا مُعتَکِف [یعني اعتکاف کوونکي] ته پکار دي چه د اعتکاف په ورځو کښې کم خوراك کوي او خیټه سپکه ساتي، چه د قضائے حاجت [یعني د اودس ماتولو] د وخت نه علاوه بل وخت د بادو خارجولو ضرورت نه پیښیږي. [ځکه چه] هغه به د دې د پاره بهر نه شي تللې (البته په فِنائے مسجِد کښې موجودې بیتُ الخلا ته د هوا خارجولو د پاره تلې شي).

﴿۱۸﴾ **قبلې** طرف ته ښپې خورول خو هر ځائے کښې منع دي او په **جُمات** کښې یو طرف ته هُم خورول نه دي پکار ځکه چه دا د دربار د آدابو خِلاف دي. حضرتِ سري سقطي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په جُمات کښې یواځې ناست وو، ښپه ئې خوره کړه، د جُمات د یوې حِصَّې نه غیبي آواز راغې: اِبراهیم! "آیا د بادشاهانو په دربار کښې ځوك داسې کښیني؟" فوراً ئې ښپې راټولې کړې او داسې ئې راټولې کړې چه د وفات په وخت کښې ئې خورې کړې. (انوار القدسیة لِلشّعرانی ج۲ ص۶۷)

(ورو ماشومانو سره هُم چه مِینه کوئ یا ئې په غیږ کښې اخلئ یا ئې څملوئ نو احتیاط کوئ چه ښپې ئې قبلې ته نه شي او چه کله ئې ښوَلو ته کښینوئ نو هُم خیال کوئ چه مخ یا شا ئې قبلې ته نه وي)

﴿۱۹﴾ **استعمال** شوې پیزار په ښپو جُمات ته تلل ګُستاخي او بې ادبي ده. (مُلَخَّص از ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت ص۳۱۷ تا ۳۲۳)

کرم از پئے مصطفٰے میرے رب ہو مجھے مسجدوں کا میسر ادب ہو

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد



www.dawateislami.net

# جُماتونه خوشبوداره ساتئ

## حُضُور ﷺ په جُمات کښې بلغم وليدل نو خفه شو

يو ځل حُضُورِ اکرم، رسولِ مُحتَشَم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مسجِدِ نَبَوِی عَلٰی صَاحِبِہَا الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام کښې قبلې طرف ته بلغم پراته وليدل نو خفګان ئې ښکاره کړو. يوې انصاريه صحابِيه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا چه وليدل نو راپاڅيدله او هغه ئې په ګرولو صفا کړل او په هغه ځائ ئې خوشبو ولګوله. حُضُور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوشحاله کيدو په انداز کښې اُوفرمائيل: دا څومره بهترين کار دې. (نَسائی ص ۱۲۶ حدیث ۷۲۵)

## فاروقِ اعظم او په جُمات کښې خوشبو

حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ به په هره جُمُعَةُ الْمُبارَك په مَسجِدُ النَّبَوِيّ الشَّرِيف عَلٰی صَاحِبِہَا الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام کښې د خوشبو لُوګي کولو. (اَبی یَعْلٰی ج۱ ص ۱۰۳ حدیث ۱۸۵)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## جُماتونه خوشبوداره ساتئ!

اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدّيقه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا رِوايت فرمائي چه: حُضُورِ پُرنُور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مَحَلّو کښې د جُماتونو جوړلو حُکم ورکړو او دا چه هغه صفا او خوشبوداره وساتلې شي. (اَبو داؤد ج۱ ص ۱۹۷ حدیث ۴۵۵)

## د اِئير فريشنر په وجه کينسر کيدې شي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! معلومه شوه چه جُماتونه په عُود، لُوبان او اګربتئ وغيره خوشبوداره ساتل د ثواب کار دې. جُمات د بدبوئي نه بچ کول واجِب دي لِهٰذا [د ماچس



www.dawateislami.net

تِيلي پکښې مه بَلَوئ ځکه چه د هغې نه د بارُودو **بدبوئي** اُوځي. لُوبان يا اګربتئ وغيره بهر دومره لرې بلوئ چه جُمات ته د بارودو **بدبوداره** لُوګې نه راځي، بيا ئې جُمات ته راوړئ. اګربتئ په يو غټ لوښي وغيره کښې ايښودل ضروري دي چه د هغې اِيرې د جُمات په فرش وغيره نه پريوځي، که د اګربتئ په پاکټ باندې د يو ژوندي ځيز تصوير وي نو هغه ترې وکروئ. په جُمات (کورونو او موټرو) کښې په ''اِئير فريشنر'' (AIR FRESHNER) [يعني د اسپرې] خوشبو مه شيندئ ځکه چه د دې کِيميائي مادّې په هوا کښې خورې شي او د ساه په ذريعه سګې ته داخليږي او نقصان رسوي. د يو طِبّي تحقيق مطابق د ائير فريشنر د استعمال سره د خرمني ناسور [يعني کينسر] هُم کيدې شي. کوم ځائ چه عُرف وي [يعني د جُمات په چنده باندې د اخستلو رواج وي] هلته د جُمات په چنده باندې د خوشبوئي کولو اجازت دې او کوم ځائ چه عُرف نه وي هلته د خوشبو د صَراحَت [يعني وَضاحَت] کولو سره د دې د پاره جُدا چنده حاصلوئ.

## که په خُله کښې بدبوئي وي نو جُمات ته ننوتل حرام دي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د لوَږې نه د کم خوراك کولو [يعني د ځان پوره نه مړولو] عادت جوړ کړئ يعني چه لا نور خواهش مو کيږي او ترې بس کړئ. که ښه په مړه خيټه خوراکونه کوئ او وخت بې وخته سيخ کباب، برګر، آلوچهولې، پِزّې، آئسکريم، يخې بوتلې وغيره خيټې ته اچوئ او خيټه مو خرابه شوه او خدانخواسته د ''ګنده دَهَنئ'' يعني د خُلې نه د بدبوئي راتلو په مرض کښې اخته شوئ نو په سخت امتحان کښې به پريوځئ، ځکه چه که د خُلې نه بدبوئي راځي نو جُمات ته داخليدل حرام دي، تر دې چه څه وخت د خُلې نه بدبوئي راځي نو هغه وخت د جَمعې د لـمانځه د پاره هُم جُمات ته ننوتل ګناه ده. ولې چه د فِکرِ آخِرت د کمي په وجه اکثر خلق د خوراك حِرص زيات لري او نن صبا هر طرف ته د ''فُوډ ګلچر'' [يعني د قِسم قِسم خوراکونو د



www.dawateislami.net

رواج] دَوَر دي، په دې وجه د يو شمير خلقو د خُلې نه بدبوئي راځي. زما د ډير ځله تجرِبه ده چه کله څوك خُله رانزدې کړي او خبره کوي نو **د خُلې نه ئې بدبوئي** راځي او زه په ساه بندولو **مجبوره** شم. افسوس! ډير داسې کسان چه د هغوئي د خُلې نه بدبوئي راځي **مَعَاذَالله** هغوئي هُم په جُمات کښې مُعتَکِف شي [يعني په اعتکاف کښې کښيني]. ياد ساتئ! شرعي حُکم دا دې چه که د اِعتِکاف په دوران کښې هُم د چا په خُله کښې د بدبوئي مرض پيدا شي نو اعتکاف به ماتوي او د جُمات نه به ځي. وروسته دِ بيا د يوې ورځې د اعتکاف قضا وکړي. په **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** کښې د کباب، سموسو او نورو سرو کړو څيزونو او قِسم قِسم غوړو څيزونو د ډير خوراك په وجه که د خُلې د بدبوئي والا مريضان زيات شي نو هيڅ عجبه نه ده، د دې بهترين علاج دا دې چه ساده خوراك کول پکار دي او په هغې هُم ځان پوره مړول نه دي پکار او هاضِمه هُم صحيح ساتل پکار دي. او چه کله هُم خوراك وکړي نو د خِلال کولو او په ښه طريقه د خُلې پاکولو عادت جوړول پکار دي، که داسې ونکړې نو د خوراك ذرې د غاښونو په چاوونو کښې پاتې شي او بيا سخا شي او بدبوئي کوي. صرف د خُلې بدبوئي نه بلکه د هر قِسم بدبوئي نه جُمات بچ ساتل واجب دي.

## که په خُله کښې بدبوئي وي نو لمُونځ مکروه وي

په فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه، جلد ۷ صفحه ۳۸٤ کښې دي: په خُله کښې د بدبوئي کيدو په صورت کښې(په کور کښې کړي) لمُونځ هُم **مکروه** دې او په داسې حالت کښې جُمات ته تلل حرام دي تر څو چه خُله پاکه نه کړي. او بل لمونځ کوونکي ته تکليف رسوَل حرام دي او که بل لمونځ کوونکي نه وي نو هُم د بدبوئي نه ملائکه [يعني فرښتو] ته تکليف رسي. په حديث کښې دي: ''د کوم څيز نه چه انسان تکليف محسوسوي، فرښتې هُم د هغې نه تکليف محسوسوي.'' (مُسلِم ص۲۸۲ حديث٥٦٤)



www.dawateislami.net

## بدبودارو مرهمو لګولو سره جُمات ته د راتلو منع

اعلٰی حضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیۡہ فرمائي: ”د چا په بدن کښې چه بدبوئي وي چه د هغې نه لـمونځ کوونکو ته تکليف رسي مَثَلًا مَعَاذَالله ګنده دَهَن (يعني خوك چه د خُلې نه د بدبوئي راتلو مريض وي)، ګنده بغل (يعني خوك چه د ترَخونو نه د بدبوئي راتلو مريض وي) يا چا چه د خارخت وغيره په وجه ګوګړ لګولي وي (يا بل څه بدبوداره مرهم يا لوشن ئې لګولي وي) هغه دِ هُم جُمات ته د راتللو نه منع کړې شي.“ (فَتَاوٰی رَضَوِیّه مُخَرَّجه، ج۸، ص۷۲)

## کچه پياز خوړلو سره هُم خُله بدبوداره کيږي

کچه مُولۍ، کچه پياز، کچه اُوږه او هر هغه څيز چه د هغې بوئي ناخوښه وي، چه خوك اُوخوري نو تر هغې پورې جُمات ته تلل جائز نه دي ترڅو چه ئې د لاسونو يا خُلې وغيره نه بدبوئي ځي ځکه چه ملائکو [يعني فرښتو] ته د هغې نه تکليف رسي. په حديث شريف کښې دي، د الله تعالٰی خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ”چا چه پياز، اُوږه، يا ګندنه (د اوږي په شان يو قسم سبزي) اوخوړله هغه دِ زمونږه جُمات ته نزدې بالکل نه راځي.“ (مُسلِم ص۲۸۲ حديث۵۶۴)

او فرمائي: ”که خوړل ئې غواړئ نو پاخه ئې کړئ او بُوئي ئې لرې کړئ.“ (اَبو داوٗد ج۳، ص۵۰۶ حديث۳۸۲۷)

## جُمات ته کچه غوښه مه وړئ

صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه حضرت علامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي: په جُمات کښې کچه اُوږه او کچه پياز خوړل يا د خوړلو نه پس تلل جائز نه دي تر څو ئې چه بوئي باقي وي او هُم دا حُکم د هر هغه څيز دې چه هغه بوئي لري لکه ګندنه (دا د اُوږي په شان يوه سبزي وي) مولۍ، کچه غوښه او د خاورو تيل او [د اور بلولو



www.dawateislami.net

هغه تيلې چه د هغې د مړلو سره بوئي پيدا كيږي يا هوا خارجول وغيره وغيره. څوك چه د **ګنده دَهَنئ** مريض وي يا ئې د زخم نه بدبوئي ځي يا ئې څه بدبوداره دوائي لګولي وي نو تر څو پورې چه بدبوئي نه وي ختمه شوي هغه ته جُمات ته راتلل منع دي. (بهارِشريعت ج١، ص٦٤٨) كچه غوښه وغيره پاك ځيز چه [په څه پونړئ وغيره كښ] داسې ونغښتې شي چه معمولي بوئي هُم ترې بهر نه را اُوځي نو بيا جُمات ته وړلو كښې باك نشته.

## كچه پيازو والا چكنئ نه محتاط اوسئ

**كچه** پيازو والا تورو چنړو، چهولو، رائتې او چكنئ او د كچه اُوړې والا د اچارو چكنئ وغيره خوړلو نه د لمُونځونو په وختونو كښې ځان ساتئ. روژه ماتي د پاره جُمات ته راوړو بازاري چهولو او سموسو كښې اكثر د كچه پيازو وړې وړې ټُكړې وي، هغه جُمات ته مه راوړئ بلكه په كور كښې ئې هُم د لمانځه نه مخكښې مه خورئ.

## په ګنړه كښې اګربتئ بلول

د **مسلمانانو** په اجتِماع كښې د خوشبو كولو په نِيَّت اګربتئ وغيره بلول د ثواب كار دې. كه د لُوبان يا اګربتئ د لوګي نه چا ته تكليف رسي نو په داسې موقع خوشبو بلول نه دي پكار، هُم دغسې په ګنړه باندې "خوشبوداري اوبه" هُم مه شيندئ ځكه چه عام طور د دې نه خلق تنګيږي او پريشانه كيږي.

## بدبوداري خُلې سره د مسلمانانو ګنړې ته د تللو مُمانَعَت

**مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي: د مسلمانانو ګنړې، د درسِ قُرآن مجلسونو، د عُلَماءِ دِين او اولياءِ كامِلين دربارونو ته بدبُوداره خُله مه ځئ. نور فرمائي: تر څو دِ چه په خُله كښې **بدبوئي** وي تر هغې پورې په كور كښې اوسه، د



www.dawateislami.net

مسلمانانو جلسو او کنړې ته مه ورځه، چیلم څښلو والؤ، تماکو استعمالولو والؤ او د پان خوړلو نه پس خُله نه وینځلو والؤ ته د دې نه عِبرت اخستل پکار دي. فُقَهائے کِرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی فرمائي: چا ته چه د گنده دَهَنئ بیماري وي [یعني چه د خُلې نه ئې بدبوئي راځي] هغه ته د جُماتونو حاضري معاف ده. (مِراٰۃُالمناجیح ج۶، ص۲۵، ۲۶)

## د لـمونځونو په وختونو کښې کچه پیاز خوړل څنګه دي؟

**سُوال:** ”گنده دَهَن“ ته د جُمات حاضري معاف ده، نو آیا د کچه پیازو رائته [یعني د کچه پیازو او ماستو نرئ چکني] یا ټکیدلي چکني یا داسې کباب او سموسې چه په هغې کښې اُوږه او پیاز سم نه وي پاخه شوي او بوئي ترې راځي یا د باجرې هغه ډوډئ چه په هغې کښې کچه اُوږه شامله وي داسې خوراك وغیره د جَمعې د لـمانځه نه لږ ساعت مخکښې په دې نِیَّت خوړل څنګه دي چه په خُله کښې مې بدبوئي پیدا شي او جَمعه راباندې واجب نه شي!

**جواب:** داسې کول جائز نه دي. مَثَلًا کوم ځائ کښې چه د ماسخُتن د لـمانځه جَمعه په اول وخت کیږي نو هلته دِ ماښام د لـمانځه نه پس داسې چکني یا سلاد وغیره نه خوري چه په هغې کښې کچه مولئ، کچه پیاز یا کچه اُوږه وي ځکه چه دومره زر خُله پاکول او جُمات ته رسیدل مُشکِل وي خو که زر خُله پاکیدې شي یا په بله څه وجه د جُمات د حاضرئ نه معذوره وي لکه ښځه. یا په لـمانځه کولو کښې لا ډیر وخت وي او د هغه وخته پورې به بوئي ختم شي نو بیا خوړلو کښې باك نشته. اعلٰی حضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مُجَدِّدِ دِین و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحۡمَةُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه فرمائي: کچه اُوږه او پیاز خوړل چه بیشکه حلال دي او د هغې د خوړلو نه پس چه تر څو پورې ئې بوئي لاړ نه شي [تر هغې] جُمات ته تلل منع دي خو کوم چیلم چه داسې تینګ او بې اهتمامه وي چه مَعَاذَاللّٰه تَغَیُّرِ باقي (یعني د اُوګرږه وخته پورې بدبوئي) پیدا کوي چه د جَمعې د وخته پورې په خُله وینځلو هُم پوره نه لرې کیږي نو جَمعې ته نزدې د هغې څښل شرعاً ناجائزه دي ځکه چه اوس هغه د جَمعې پریښودو او د سَجدې پریښودو



www.dawateislami.net

[باعِث جوړېږي] او یا به د **بدبوئي** سره جُمات ته د ننوتلو (سبب) وي او دا دواړه مَـمنُوع او ناجائزه دي او (دا شرعي أُصول دې چه) هر مُباح **فِی نَفسِهٖ** (یعني هر هغه کار چه په حقیقت کښې جائز وي خو) اَمرِ مَـمنُوع طرف ته **مُؤَدِّی** (یعني ممنوع کار طرف ته بوتلو والا) وي هغه منع او ناروا دې.
(فَتَاوٰی رَضَوِیّه، ج۲۵، ص۹٤)

## کچه پیاز خوړلو وخت کښې بِسْمِ الله مه لوَلئ

فتاوٰی فیضُ الرَّسول جِلد۲ صفحه ۵۰٦ کښې دي: د چیلم، بیړي، او سګریټ څښلو [او نسوار اچولو] او (کچه) اُوربې، پیازو په شان څېزونو خوړلو وخت کښې او د نَجاسَت [یعني ګندګئ] په ځائیونو کښې **بِسْمِ الله** وئیل مکروه (تنزیهي) دي.

د نَجاسَت په ځائیونو کښې **بِسْمِ الله** لوستل خو مکروهِ تنزیهي دي، عَلّامه شامي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د لفظِ قِیل نه یو قول دا هم نقل کړې دې چه د دُخان څښلو [یعني لُوګي څښلو لکه سګریټ، چیلم، بیړي وغیره څښلو] په وخت کښې هم **بِسْمِ الله** لوستل مکروه دي او بیا د دې په وَضاحَت کښې عَلّامه شامي د هر بدبوداره څیز مَثَلًا د پیازو او اُوربې ذِکر هُم کړې دې، په دې اِعتِبار په دې یو قَول د بدبوداره څیز خوړلو وخت کښې هُم **بِسْمِ الله** لوستل مکرُوه دي. (مُلَخَّص از رَدُّالْمُحْتَار ج۱ ص۳۸) او اګر چه په شامي کښې د تَحرِیمي او تنزِیهي صَراحَت نشته خو دلته مُراد مکروهِ تنزیهي دي.

## د خُلې د بدبوئي معلومولو طریقه

که په خُله کښې څه **تَغَیُّرِرائِحَه** (یعني بدبوئي) وي نو خومره پیرې مِسواك او خُله وینځلو سره چه د هغې اِزاله (یعني لرې کول) کیدې شي (هغه هُمره ځله خُله وینځل وغیره) لازِم دي، د دې د پاره هیڅ حد مقرر نه دې. بدبوداره کَثِیف (یعني تینګ) د بې احتیاطئ چیلم څښلو والؤ ته د



www.dawateislami.net

دې خيال (ساتل) سخت ضروري دي او د هغوئي نه زيات سګريټ څښلو والا ته [احتياط پکار دې] ځکه چه د دې بوئي د مُركّبو تماكو (يعني په كومو كښې چه څه خيزونه ګډولې كيږي د هغې) نه هُم ډېر سخت او د اوګږد وخته پورې وي او د دې ټولو نه زيات اَشَد [يعني ډېر زيات د احتياط] ضرورت تماكو خوړلو والؤ ته دې چه د هغوئي په خُلو كښې د هغې پاترې (يعني د لُوګي په ځائ پخپله تماكو) نښتي وي او خُله ئې د بوئي نه ډكه وي. دا ټول دِ د هغې پورې مِسواك كوي او خُله دِ وينځي چه خُله بالكل صفا شي او د بوئي پكښې بالكل څه نښه پاتې نه شي او د دې امتِحان داسې دې چه لاس خپلې خُلې ته نزدې كړئ او خُله بيرته كړئ او په زوره زوره د حلق نه درې ځله پوره ساه په لاس كښې واخلئ او فوراً ئې بوئي كړئ. بغير د دې [يعني بغير د داسې كولو] نه د دننه بدبوئي پخپله كمه محسوسيږي او چه كله په خُله كښې بدبوئي وي نو جُمات ته تلل حرام، لمانځه كښې داخليدل منع [دي]. وَاللّٰهُ الْهَادِی. (فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه مُخَرَّجه، ج ١، ص٦٢٣) اعلٰی حضرت اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د سِګريټ بدبوئي د چيلم او مُركّبو تماكو نه زياته قرار كړې ده. دا د سِګريټ په قِسم باندې مُنحَصِره ده. بعضې قِسم سِګريټ د چيلم نه زيات او بعضې كم بدبوداره هُم كيدې شي.

## د خُلې د بدبوئي عِلاج

كه د څه خيز د خوراك په وجه مو په خُله كښې **بدبوئي** پيدا شي نو "شنه دنړيا" وجُوئ او تيره ئې كړئ او د ګُلاب تازه يا وچ شوي ګُلونه په غاښونو پورې اُومږئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی فائده به وشي. خو كه د خيټې د خرابئ په وجه د خُلې نه **بدبوئي** راځي نو د "كم خوراك" كولو [د عادت] سعادت حاصل كړئ او د لوَږې بَرَكتونه حاصل كړئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د ښپو دردونو او د بدن د مختلفو حِصُّو د دردونو، د قبض او د معدې د سوزيدو، د خُلې پخيدو او دائمي نزلې او ټوخې او د مرئ د خوګيدو او د ورو وينې كيدو وغيره ډېرو مرضونو سره سره به د خُلې د بدبوئي نه هُم خلاص شئ. د لوَږې نه كم



www.dawateislami.net

خوراك كولو [يعني ځان پوره نه مړولو] سره د آَتيا **فيصده** مرضونو نه بچ كيدل كيدې شي. (د تفصيلي معلوماتو حاصلو د پاره د فيضانِ سنَّت جلد اوّل باب ”د خيټې قُفلِ مدينه“ ولولئ) كه د نفس د حِرص علاج وشي نو ډير جسماني او روحاني مرضونه به بځپله ختم شي. ؎

رضا نفس دشمن ہے دم میں نہ آنا
کہاں تم نے دیکھے ہیں چندرانے والے

(حدائقِ بخشش شريف ص١٥٩)

## د خُلي د بدبوئي مَدَني علاج

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ عَلَى النَّبِيِّ الطَّاهِرِ

دا پاس ليكلي درود شريف په موقع موقع په يوه ساه ١١ ځله لوَلئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د خُلي **بدبوئي** به مو لرې شي. په **يوه** ساه كښې د وئيلو بهتره طريقه دا ده چه خُله بنده كړئ او په قلاره قلاره په پوزه ساه اغستل شروع كړئ او چه څومره كيدې شي هغه همره هوا په **سګي** [يعني پهيپړو] كښې جمع كړئ او بيا **درود شريف** لوستل شروع كړئ. چه يو څو ځله داسې مشق وكړئ نو د ساه ماتيدو نه مخكښې مخكښې به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د يوولس ځله وئيلو تركيب جوړ شي. په دې بيان شوې طريقه چه په پوزه باندې ښه خخه [يعني ډيره] ساه واغستې شي او څومره چه كيدې شي حِصاره كړې شي او د هغې نه پس په خُله خارِجه كړې شي نو دا د صِحت د پاره ډير زيات فائِده مند دي. په ټوله ورځ كښې چه كله موقع وي خاص طور په ښكاره هوا كښې هره ورځ يو څو ځله داسې كول پكار دي. ما (يعني سګِ مدينه عُفِيَ عَنْهُ) ته يو بوډا حكيم صاحب وئيلي وو چه زه د ساه اخستو نه پس د نيمې ګينټې پورې (يا ئې اُووئيل چه) د دوو ګينټو پورې هوا دننه حصاره كړم او په دې دوران كښې خپل وظائف هُم لوَستلي شم. د هغه حكيم



www.dawateislami.net

صاحب وينا ده چه د ساه حصارولو داسې داسې مَشّاق (يعني ماهران) په دُنيا کښې وي چه هغه سحر ساه واخلي نو ماښام ئې اُوباسي!

## استنجا خانې د جُمات نه څومره لرې پکار دي؟

د اعلىٰ حضرت رَحمَۃُاللہِ تَعالٰی عَلَیْہ نه تپوس وکړې شو چه د لمُونځ ګزارو د پاره **استنجاخانې** د جُمات نه څومره لرې جوړول پکار دي؟ د دې په جواب کښې اعلىٰ حضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، **مُجَدِّدِ** دِين و مِلّت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحمَۃُاللہِ تَعالٰی عَلَیْہ ارشاد اُوفرمائيلو: جُمات د بوئي نه ساتل واجب دي وَ لِهٰذا په جُمات کښې د خاورو تيل سيزل حرام، په جُمات کښې (د بدبودارو بارودو والا ماچس) تِيلي بلول حرام، تر دې چه په حديث کښې ارشاد شوې دې چه: جُمات ته کچه غوښه وړل **جائز** نه دي. (اِبنِ مَاجَه ج١ ص٤١٣ حديث٧٤٨) حالانکه د کچه غوښې بوئي ډير **خَفِيف** (يعني کم) وي. نو د کوم ځائ نه چه بوئي رسي د هغه ځائ پورې به (د استنجاخانو جوړولو) مُمانَعت کيږي. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج۱٦، ص۲۳۲) د کچه غوښې بدبوئي کمه وي او چه د دې جُمات ته وړل جائز نه دي نو کچه مهي وړل خو به بدرجه اَولىٰ ناجائزه وي ځکه چه د هغې بوئي د غوښې نه زيات تيز وي بلکه کله کله د ښخولو والؤ د بې احتياطئ په وجه د مهي د اِنګولې خوړلو سره په لاسونو او خُله کښې خراب بوئي پيدا شي. په داسې حالت کښې د بوئي لرې کولو نه بغير جُمات ته تلل نه دي پکار. د استنجاخانو چه کله صفائي کيږي نو هغه وخت بدبوئي ډيره خوريږي. لِهٰذا (په جُمات او استنجاخانو کښې) دومره فاصله کيدل ضروري دي چه د صفائي په موقع هُم **بدبوئي** جُمات ته نه شي داخليدې. که د استنجاخانو دروازې جُمات طرف ته وي نو ضرورتاً پکښې داسې ديوال هُم کيدې شي چه دروازې بهر طرف ته بيرته کيږي او جُمات د بدبوئي نه بچ کړې شي.



www.dawateislami.net

## په خپل لِباس وغيره باندې د غور كولو عادت جوړ كړئ

جُمات ته بدبوئي وړل حرام دي. او د هر قِسم بدبوئي والا كس ننوتل هُم حرام دي. په جُمات كښې د غاښونو خِلال هُم مه كوئ ځكه چه څوك په پابندئ سره خِلال نه كوي، د خِلال كولو سره د هغوئي د خُلې نه بدبوئي ځي. مُعتَكِف دِ په فِنائے مسجِد كښې دومره لرې په غاښونو كښې خِلال كوي چه بدبوئي اَصلِ مسجِد ته نه داخليږي. بدبوداره زخم والا يا هغه مريض چا ته چه د وړو بولو يا غټو بَولو خلته (Urine bag/ Stool bag) [يعني تيلئ] لګيدلي وي هغه دِ جُمات ته نه داخليږي. هُم دغسې د ليبارټري ټيسټ كولو د پاره د ويستلي ويني بوتل يا د مِتيازو بوتل او د څاروي د حلالولو په وخت كښې وتلې وِينه باندې ككړې شوي جامې وغيره [داسې څيزونه] كه په څه څيز كښې پټ وي نو هُم جُمات ته ئې نه شي وړلې چنانچه فُقَهائے كرام رَحِمَهُمُ اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡه فرمائي: جُمات ته نَجاسَت وړل اګركه په هغې جُمات ككړ نه شي يا د چا په بدن پورې چه نَجاسَت نښتي وي د هغه د پاره جُمات ته تلل منع دي. (رَدُّالْمُحْتَار ج۲ ص۵۱۷) په جُمات كښې په يو لوښي كښې مِتيازې كول يا د فَصد وينه راويستل (مثلاً د ټيسټ د پاره د سِرينج په ذريعه وِينه وِيستل) هُم جائز نه دي. (دُرِّمُختار ج۲ ص۵۱۷)

كه پاكه بدبوئي پټه وي څنګه چه د اكثرو خلقو د بدن نه د خوَلې بوئي راځي خو د لباس [يعني جامو] نه لاندې پټه وي او نه محسوسيږي په دې صورت كښې جُمات ته ننوتلو كښې باك نشته. هُم دغسې كه په رومال كښې د خوَلو وغيره بدبوئي وي څنګه چه د ګرمئ په موسم كښې د مخ خوَلې وچولو كښې اكثر كيږي نو داسې رومال دِ په جُمات كښې نه را اُوباسي، په جيب كښې دِ پروت وي، كه د عِمامې يا د خوَلئ [يعني ټوپئ] لرې كولو سره د خوَلې يا خيرې وغيره بوئي راځي نو په جُمات كښې دِ ئې نه لرې كوي. چنانچه د دې په مثال وركولو كښې مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡه فرمائي: "خو كه په څه



www.dawateislami.net

صورت د خاورو تيلو بدبوئي لرې کړې شي يا په ډيوه وغيره کښې داسې بند کړې شي چه بوئې ئې نه ظاهيږي نو (په جُمات کښې) جائز دي.“ (فَتَاوىٰ نعيميه، ص۴۹) هر مسلمان ته په خپله خُله، بدن، رومال، لباس او پيزار وغيره باندې هر وخت غور کول پکار دي چه د دې نه بدبوئي خو نه راځي او داسې خيرن لباس اغوستې جُمات ته هُم مه ځئ چه خلق ترې کرکه کوي. افسوس! د افسرانو وغيره خوا ته چه ځي نو ښه لِباس اغوندي او د خپل خوږ الله جَلَّ جَلَالُهٗ دربار ته د حاضريدو په وخت يعني لـمانځه کښې د صفائي، سُترائي وغيره څه خاص اهتمام نه کوي. انسان چه جُمات ته ځي نو کم از کم هغه جامې خو دِ اغوندي کومې چه دعوتونو ته د تللو د پاره اغوندي. خو د دې خبرې خيال ساتئ چه لِباس د شريعت او سُنَّت مطابق وي.

## جُمات ته د ماشوم راوستلو مُـمانَعَت

د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دې:جُماتونه د **ماشومانو** او **ليونو** او اخستلو او خرخولو او جګړې او آواز اوچتولو او حُدودو قائمولو او د تُورې راښکلو نه وساتئ. (اِبنِ مَاجَه ج۱ص۴۱۵حديث۷۵۰)

ماشوم او ليونې چه د کوم يو نه د نَجاسَت [يعني مِتيازو وغيره] ګُمان وي [د هغه] جُمات ته بوتلل حرام دي ګني [يعني که د نَجاسَت خطره ترې نه وي نو] مکروه. خوك چه خپلې ځان سره [جُمات ته] دننه ورې هغوئي ته د دې خبرې خيال ساتل پکار دي چه که نَجاسَت پرې لګيدلې وي چه هغه ترې پاك کړي او خپلې په ښپو جُمات ته ننوتل بې ادبي ده. (رَدُّالْمُحْتَار ج۲ ص۵۱۸) ماشومان يا ليونې (يا بيهوشه کس يا په چا چه پيريان راغلي وي) اګرکه”**پيـمـپر**“ ورته اچولې شوي وي، هغه د دَمولو د پاره جُمات ته بالکل بوتلل نه دي پکار. که تاسو داسې کسان جُمات ته د راوستلو غلطي کړې وي د چا چه جُمات ته راوستل جائز نه وو نو فوراً توبه وکړئ او آئنده د نه راوستلو عهد وکړئ. خو فِنائے مسجد مَثَلًا د اِمام صاحب حُجرې ته ئې بوتلې شئ هله چه په جُمات کښې دننه د تيريدلو ضرورت نه پيښيږي.



www.dawateislami.net

## غوښه او مهيان خرخولو والا

د غوښه يا مهيانو خرخولو والؤ په جامو کښې سخته **بدبوئي** وي لِهٰذا هغوئي ته پکار دي چه کله وزګاريږي نو په ښه طريقه دِ لامبي، صفا جامې دِ اغوندي، خوشبو دِ لګوي او بيا دِ جُمات ته راځي. لامبل او خوشبو لګول شرط نه دي صرف مشورةً مې عرض کړل، که په هره طريقه وي خو داسې ترکيب کوئ چه بدبوئي مکمل طور لرې کيږي.

## په اُودو په خُله کښې بدبوئي پيدا کيږي

په اُودو د خيټې ګنده هواګانې پورته راخيژي، لِهٰذا د رابيداريدو نه پس اکثر په خُله کښې بدبوئي وي. په دې باره کښې د **فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه**، جلد ۲۳ صفحه۳۷۵ او ۳۷۶ نه سوال او جواب اوګورئ. **سُوال:** د خوب نه رابيداريدو باندې آيَةُ الْكُرسِى لوستل څنګه دي؟ ځينې اُستاذان چيلم څښې او شاګردانو ته (قُرآنِ کريم) هُم وائي. **جواب:** د خوبه چه [څوك] راپاڅي نو لاسونه او خُله دِ وينځي د هغې نه پس دِ آيَةُ الْكُرسِى لوَلي، که په خُله کښې د چيلم وغيره بدبوئي وي يا پکښې د خوراك څښاك څيز وي نو بغير د خُلې وينځلو نه دِ تِلاوت نه کوي. کوم اُستاذان چه داسې کوي بد کوي. وَاللهُ تَعَالٰى اَعْلَم. (فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه، ج۲۳، ص۳۷۵، ۳۷۶) زمونږه د خوشبودار او خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وجود مبارك نه به هر وخت خوشبو راتله، په مِزاج مبارك کښې ئې ډير زيات نَفاست [يعني ډيره زياته صفائی، پاکيزګي] وه، د خوبه راپاڅيدو نه پس **مِسواك** کول سُنَّت دي. چنانچه د اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا نه رِوايت دې چه د خوږ مَدَنـي آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوا ته به د شپې د اوداسه اوبه او **مِسواك** کيښودلې شو، چه کله به هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شپې راپاڅيدلو نو مخکښې به ئې قضائے حاجت کولو بيا به ئې **مِسواك** کولو. (اَبو داؤد ج۲، حديث۵۶)



www.dawateislami.net

## د خوَلې د بدبوئي والا جامې

خُصوصاً په ووړې [يعني د ګرمۍ په موسم] کښې د جامو نه ښکاره بدبوئي راځي، داسې خلقو ته په داسې حالت کښې جُمات ته داخليدل حرام دي. بعضې خوراکونه داسې وي چه د هغې د خوړلو سره **بدبوداره خوَله** راځي داسې خلق دِ خوراکونه بدل کړي.

## د خُلې د صفائي طريقه

څوك چه مِسواك نه کوي او د طعام نه پس خِلال نه کوي او د غاښونو په صفائي کولو کښې سستي کوي اکثر د هغوئي خُلې **بدبوداري** وي. صرف رسمي طور مِسواك او د خِلال دِکې غاښونو ته هسې لګول کافي نه وي. په داسې احتياط سره چه ورئ زخمي نه شي چه څومره کيدې شي يوه يوه زرّه د غاښونو نه وِيستل پکار دي ګنې د غاښونو په مينځ کښې به د خوراك اجزاء پراته پراته سخا کيږي او د سختې بدبوئي باعِث به جوړيږي. د غاښونو د صفائي يوه طريقه دا هُم ده چه د څه څيز خوړلو او چائے وغيره څښلو نه پس او د دې نه علاوه هُم چه کله درته موقع وي مَثَلًا که په ناسته ناسته څه کار کوئ هغه وخت يو ګُوټ اوبه په خُله کښې اچوئ او حَرَکت ورکوئ يعني خوزوئ ئې، دغسې به د خُلې کچره او خِيرې صفا کيږي. ساده اوبه هُم صحيح دي او که مالګينې ترمې اوبه وي نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی بهترين ”ماؤتھ واش“ [يعني د خُلې وينځلو دوائي] به ثابت شي.

## کِيره د بدبوئي نه ساتئ

په کِيره کښې اکثر د خوراك ذرّات ونښلي او په اُودو پکښې کله کله د خُلې **بدبوداره** کيازې [يعني تينګې لاړې] هُم داخليږي او دغسې پکښې بدبوئي پيدا شي لِهٰذا وخت په وخت په صابُن کيره وينځل مناسب دي. هُم دغسې د سر وِيښته هُم وخت په وخت وينځئ. **فرمانِ**



www.dawateislami.net

**مُصطَفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: ”د چا چه ويښته وي د هغې اِکرام دِ کوي.“ (اَبو داوُد ج٤، ص١٠٣ حديث٤١٦٣)

يعني هغه دِ وينځي، په تيلو دِ ئې غوړوي او ګمنزوي دِ ئې. (اَشِعَّةُ اللّمعات، ج٣، ص٦١٧)

## د خوشبودارو تيلو جوړلو آسانه طريقه

په سر کښې د شړشمو تيلو استعمالولو والا چه د سر نه توپيۍ يا عِمامه لرې کړي نو بعضې وخت ترې بدبوئي پورته شي لِهٰذا د چا نه چه کيدې شي هغه دِ ښه او خوشبوداره تيل استعمالوي. د خوشبودارو تيلو جوړولو يوه آسانه طريقه دا هُم ده چه د کوپرې د تيلو په بوتل کښې د خپلې خوښې د عطرو يو څو څاڅکې ګډ کړئ. خوشبوداره تيل تيار دي. (د خوشبودارو تيلو جوړولو مخصوص ايسينس هُم د خوشبوياتو د دُکانونو نه تر لاسه کيدې شي)

## که کيدې شي نو هره ورځ لامبئ

**که کيدې شي نو هره ورځ لامبئ ځکه چه د کافي حده پورې به د بدن بيروني بدبو لرې کيږي او دا د صحت د پاره هُم فائده مند دي.** (خو مُعتکِفِين دِ د جُمات په غُسل خانو کښې بې له سخت ضرورته نه لامبي ځکه چه د لـمونځ ګزارو د پاره د اوداسه د اوبو تنګي کيدې شي او هله لامبئ چه غُسل خانې په فِنائے مسجِد کښې وي، او که په خارِجِ مسجد کښې وي نو د غسلِ جُمُعه اجازت هُم نشته صرف د فرض غسل اجازت دې)

## عِمامه وغيره د بدبوئي نه د ساتلو طريقه

ځينې اسلامي وروڼه د ډيرې غټې عِمامې تړلو جذبه لري خو په صفائي کولو کښې کوتاهي کوي او دغسې ډير ځله په بې شعورئ [يعني بې خيالئ] کښې په جُمات کښې د ”بدبوئي“ خورولو په جُرم کښې اخته کيږي. لِهٰذا **مَدَني عرض دې** چه عِمامه، سربند شريف او څادر استعمالولو والا اسلامي وروڼه دِ د موسم په اعتبار يا ضرورتاً زر زر د دې څيزونو د وينځلو ترکيب جوړوي، ګنې د خيرو، خوَلې او تيلو وغيره په وجه په دې څيزونو کښې بدبوئي پيدا کيږي،



www.dawateislami.net

اګرچه بځپله هغه کس ته نه محسوسیږي خو نورو ته د بدبوئي په وجه ډیره کرکه ورځي، بځپله پرې ځکه نه پوهیږي چه د چا سره د ډیر وخته پورې څه مخصوصه خوشبو یا **بدبوئي** وي د هغې سره د هغه پوزه عادت شي.

## عِمامه خنګه پکار ده

په کلکه خوَلئ [یعني ټوپئ] باندې بخه تړلي عِمامه استعمالولو په وجه هُم په هغې کښې **بدبوئي** پیدا کیدې شي. که کیدې شي نو د ململ د نرئ سپکې کپړې عِمامه شریف استعمالوئ او د دې د پاره د کپړې داسې [نرمه د نرئ کپړې] خوَلئ [یعني ټوپئ] په سر کوئ چه هغه په سر پورې نښتي وي ځکه چه [په داسې خوَلئ عمامه تړل هُم] سُنَّت دي. د بخې تړلې عِمامې په سر کولو او په تړلي حالت کښې د سر نه لرې کولو په ځائ ئې هره پیره په یو یو وَل راتاوولو تړئ او هره پیره ئې هُم دغسې د خلاصولو ترکیب هُم کوئ. کیدې شي چه دغسې بیا بیا پرې هوا لګي نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د بدبوئي نه به بچ کیږي. عِمامه، سربند، څادر او ویستلي شوي جامې چه نمر ته خورې کړې شي نو هُم د خوَلې **بدبوئي** ترې لرې کیدې شي او په دې خیزونو باندې د ښو ښو نِیَّتونو سره ښه عطر لګولو سره هُم بدبوئي لرې کیدې شي. ضِمناً د عطرو لګولو نِیَّتونه او موقعې هُم ولولئ:

## د خوشبو لګولو نِیَّتونه او موقعې

**فرمانِ مُصطَفیٰ** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "د مسلمان نِیَّت د هغه د عمل نه بهتر دې." (مُعْجَم کَبِیْر ج۶، ص۱۸۵حدیث۵۹۴۲)

**اِرشادِ غزالي:** خوشبو استعمالول جائز دي البته په دې باندې د ثواب حاصلولو د پاره ښه نِیَّت ضروري دې. (اِحْیَاءُ الْعُلُوم ج۵ ص۹۷ مُلَخَّصاً)



www.dawateislami.net

﴿۱﴾ د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي ځکه به خوشبو لګووم ﴿۲﴾ د لګولو نه مخکښې به بِسمِ الله ﴿۳﴾ د خوشبو اخستلو يا بوئي کولو په وخت به په دې نِيَّت دُرُود شريف لوَلم چه دا به خوږ مَدَنـي آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوښوله او په کثرت سره به ئې استعمالوله او ﴿٤﴾ د نعمت د شُکر ادا کولو په نِيَّت به اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْن وايم ﴿٥﴾ ملائکو [يعني فرښتو] او ﴿٦﴾ مسلمانانو ته به فَرحَت (يعني خوشحالي) رسووم ﴿۷﴾ عقل ورسره زياتيږي نو د اَحکامِ شريعت يادولو او سُنَّتونو زده کولو د پاره به [د دې په ذريعه] قُوَّت حاصلووم (اِمام شافِعي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي چه د ښې خوشبو لګولو سره عقل زياتيږي. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج۱ ص٢٤٤) ﴿۸﴾ د خپل بدن د بدبوئي نه به خلق بچ کووم (خُصُوصاً په ګرمئ کښې د خوَلې د بدبوئي نه د بچ کولو نيّت کيدې شي) ﴿۹﴾ د لِباس وغيره نه به [د خوشبو لګولو په ذريعه] بدبو لرې کووم چه مسلمانان د غِيبت د ګناه نه بچ کړم (ځکه چه د يو مسلمان جامې بدبوداره وي نو بې د شرعي اِجازته د هغه په باره کښې مَثَلًا داسې وئيل چه "د هغه د جامو يا لاسونو يا خُلې نه بدبوئي راتلله" غِيبت دې. اِمام غزالي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: څوك چه [د غِيبت اوريدلو نه] ځان ساتلې شي او د هغې باوجود ځان په غِيبت پيش کړي [يعني اِرادتاً غِيبت واوري] هغه هُم د دې غِيبت په ګُناه کښې شريك دې (ايضاً ج۵ ص۹۸) ) د موقعې په مناسبت دا نِيَّتونه هُم کيدې شي، مَثَلًا: ﴿۱۰﴾ د لـمانځه د پاره به زينت [يعني ښکلا] حاصلووم ﴿۱۱﴾ جُمات د الله تعالیٰ کور دې د هغې د تعظيم په نِيَّت ﴿۱۲﴾ د لـمانځه په صَف کښې خوا ته ناستو خلقو ته د راحَت رسَولو د پاره ﴿۱۳﴾ د تَهَجُّد د لـمانځه ﴿١٤﴾ د جُمُعې ﴿١٥﴾ د ګُل شريف د ورځې ﴿١٦﴾ د رَمَضَانُ الْمُبَارَك ﴿۱۷﴾ د واړه اختر ﴿۱۸﴾ د غټ اختر ﴿۱۹﴾ د مِيلاد شريف د شپې ﴿۲۰﴾ د عِيدِ مِيلَادُ النَّبِی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ﴿۲۱﴾ د جُلوسِ مِيلاد ﴿۲۲﴾ د شَبِ مِعْرَاجُ النَّبِی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ﴿۲۳﴾ د شَبِ براءَت ﴿٢٤﴾ د يوولسمې شريفې ﴿۲۵﴾ د يومِ رضا ﴿۲۶﴾ د درسِ قُرآن ﴿۲۷﴾ د حديث ﴿۲۸﴾ د تِلاوت ﴿۲۹﴾ د اَوراد و وظائفو ﴿۳۰﴾ د دُرُود شريف ﴿۳۱﴾ د دِيني کتاب د مطالَعې ﴿۳۲﴾ د تدرِيسِ عِلمِ دِين ﴿۳۳﴾ د تعليمِ عِلمِ دِين ﴿٣٤﴾ د فتوىٰ نويسئ ﴿۳۵﴾ د دِيني کتابونو د تصنيف او تالِيف ﴿۳۶﴾ د سُنَّتو ډکې اجتماع ﴿۳۷﴾ د اِجتِماعِ ذِکر و نعت ﴿۳۸﴾ د درسِ فيضانِ سُنَّت ﴿۳۹﴾ د مَدَنـي



www.dawateislami.net

دورې برائے نيكئ ﴿٤٠﴾ د سُنَّتو ډك بيان كولو په وخت ﴿٤١﴾ د عالِم ﴿٤٢﴾ د مور ﴿٤٣﴾ پلار ﴿٤٤﴾ د مومِن صالِح ﴿٤٥﴾ د پير صاحِب ﴿٤٦﴾ د موئے مبارك او تَبَرُّكاتو شريفو د زيارت [يعني ليدلو] او ﴿٤٧﴾ د مزار شريف د حاضرئ په موقع باندې هُم د تعظيم په نِيَّت د خوشبو استعمال كيدې شي. د عُلَمائے كِرامو نه په لاندې ليكلو شوو موقعو باندې هُم د خوشبو لګولو اِستِحباب (يعني مُستَحَب كيدل) ثابِت دي[1] ﴿٤٨﴾ د اودس كولو نه پس ﴿٤٩﴾ د اِحرام د نِيَّت كولو نه مخكښې په لِباس او بدن دواړو باندې ﴿٥٠﴾ د حج د اِحرام خلاصيدو نه پس د طوافِ زيات د پاره ﴿٥١﴾ ښځې او خاوند دواړو د پاره د "كور والي" نه مخكښې ﴿٥٢﴾ د چا چه ځنكدن وي هغه له ﴿٥٣﴾ د مړي په خوا كښې خوشبو بلول بلكه په كوم تخت يا كټ ئې چه لـمبوئ هغې ته درې يا پينځه يا ووه ځله خوشبو لُوګې كول ﴿٥٤﴾ د غُسل وركولو نه پس د مړي په بدن باندې د كافورو (چه يوه خوشبوداره ماده ده د هغې) اوبه بهيول ﴿٥٥﴾ د كفن ور اغوستلو نه پس د مړي په كِيره او ټول بدن باندې خوشبو مږل او د [مړي د] سَجدې په ځائيونو (يعني په هغه حِصّو كومې چه په سَجده كښې په زمكه لږي په هغې) كافُور لګول. چه څومره ښه ښه نِيَّتونه كوئ هُم هغه هُمره به مو زيات ثواب كيږي. هله چه د نِيَّت موقع هُم وي او هغه نِيَّت شرعاً صحيح هُم وي. كه چا ته زيات نه وي ياد نو هُم كم از كم دوه درې ښه ښه نِيَّتونه كول پكار وي.

اے زمونږه خوږه خوږه الله عَزَّوَجَلَّ! تر اوسه پورې كه مونږه څو ځله هُم جُمات ته د بدبوئي ورلو ګناه كړې وي د هغې نه توبه كوو او دا عزم كوو چه آئنده به كله هُم هيڅ قِسمه بدبوئي جُمات ته نه وړو. يا رَبِّ مُصطَفیٰ عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته جُماتونه د خوشبوداره ساتلو سعادت راكړې. يا الله عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته د هر قِسمه ظاهري او باطِني بدبوئي نه د پاك كيدو سره جُمات ته د حاضرئ سعادت راكړې. يا الله عَزَّوَجَلَّ! د خوشبودار آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر مونږ ته د ګناهونو د

[1] د دې تفصيل د دارُ الاِفتاء اَهلِسُنّت په فتوئ نمبر: ٧٩٨٢– nor غيرِ مطبوعه كښې موجود دې.



www.dawateislami.net

بدبوئي نه خلاصې راکړي او د خوشبو نه ډك جَنَّتُ الفِردَوس كښې د خپل خوشبودار حبيب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ رانصيب کړي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

واللہ جو مل جائے مرے گل کا پسینہ ماںگے نہ کبھی عطر نہ پھر چاہے دلہن پھول

(حدائقِ بخشش ص٦٨)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## فِنائے مسجِد او مُعتَکِف

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! مُعتَکِف که بې ضرورته هُم فِنائے مسجِد ته لاړ شي نو اِعتِکاف ئې نه ماتيږي. فِنائے مسجد نه هغه ځائيونه مُراد دي کوم چه د جُمات د مَصالِح يعني د جُمات د ضرورياتو د پاره د جُمات په اِحاطه کښې دننه وي، لکه مَناره، اودس خانه، غُسل خانه، جُمات سره مُتَّصِل مدرسه، جُمات سره مُلحِق د اِمام او مُؤَذِّن وغيره حُجرې، د څپلو ويستلو ځائ وغيره دا مُقامات په بعضو مُعامَلاتو کښې د جُمات په حُکم کښې دي او په بعضو مُعاملاتو کښې د خارِجِ مسجِد. مَثَلًا دې ځائيونو ته جُنُبي (يعني په چا چه غسل فرض وي هغه) تلې شي. هُم دغسې د اِقتِدا او اِعتِکاف په مُعامَله کښې دا مُقامات د جُمات په حُکم کښې دي. مُعتَکِف بې ضرورته هُم دلته تلې شي نو داسې ده لکه هغه چه د جُمات يوې حِصې ته تلې دې.

## مُعتَکِف فِنائے مسجد ته تلې شي

حضرتِ صَدرُ الشَّرِيعه، صاحِبِ بهارِ شريعت حضرت مولانا مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: "فِنائے مسجد کوم ځائ چه د جُمات [يعنی اصلِ مسجِد] نه بهر د هغې سره مُلحِق د جُمات د ضرورياتو د پاره دې، مَثَلًا د څپلو ويستلو ځائ او غُسل خانه وغيره دې ته تللو سره



www.dawateislami.net

به اِعتِكاف نه ماتيږي.“ نور مخكښې فرمائي: ”فِنائے مسجد په دې مُعامَله كښې د جُمات په حُكم كښې دې.“ (فَتَاوىٰ امجديه، ج١، ص٣٩٩)

هُم دغسې مَناره هُم فِنائے مسجد ده، كه د هغې لار د جُمات چار ديوارئ كښې دننه وي نو مُعتَكِف بې تَكَلُّفه هغې ته تلې شي او كه د جُمات نه بهر لاره وي نو صرف د اذان كولو د پاره تلې شي او اذان كول حاجتِ شرعي دې.

## د اعلىٰ حضرت فَتوىٰ

اعلىٰ حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: بلكه كه د جُمات سره مُتَعَلِّق هغه مدرسې د جُمات په حُدُودو كښې دننه وي او د هغوئې لار جُدا نه وي صرف د يو فَصِيل (يعني ديوال) په ذريعه ئې د [دواړو د] انګنړو فرق كړې وي نو هغې ته تلل د جُمات نه بهر تلل نه دي، تر دې چه داسې ځائ ته د مُعتَكِف تلل جائز دي ځكه چه هغه لكه د جُمات يوه قِطعه (يعني حِصّه) ده.“

﴿وَضاحت: د دې عِبارت صفا مفهوم دا دې چه مدرسې د جُمات سره مُتَعَلِّق وي يعني څنګه چه په جُماتونو كښې ضِمني مدرسې لګولې كيږي او كوم ځائ كښې چه مدرسه لګې هغه د جُمات د ضروريَاتو او مصالِحو د پاره وَقف وي نو په حقيقت كښې هغه مدرسو ته تلل فِنائے مسجد ته تلل شو، ځكه اِمامِ اهلِسُنّت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي چه هلته مُعتَكِف تلې شي. دلته دا غلط فهمي كيدل نه دي پكار چه كُني جُماتونو سره مُتَّصِل جُداګانه مدرسو ته هُم د مُعتَكِف تلل جائز دي ځكه چه جُداګانه مُستقِلو مدرسو باندې د فِنائے مسجد اِطلاق بالكل نه كيږي د هغې د يو مستقل وقف حيثيت وي ځكه داسې مدرسې اګر كه د جُمات سره مُتَّصِلې اِحاطه كښې جوړې كړې شوي وي هغې ته تللو سره به اِعتِكاف مات شي﴾

رَدُّالْمُحْتَار جِلد ۳ صفحه ٤٣٦ کښې د ''بَدائِعُ الصَّنائع'' په حواله دي: که مُعتَکِف مَنارې ته وختلو نو بِالاِتِّفاق د هغه اِعتِکاف به نه ماتیږي ځکه چه مَنارې هُم د جُمات په حُکم کښې دي.(فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه مُخرَّجة، ج۷، ص٤٥٣)

## د جُمات سر ته ختل

انګنړ د جُمات حِصّه ده لِهذا د مُعتَکِف د پاره انګنړ ته تلل راتلل او هلته ناست اوسیدل مطلقاً جائز دي. د جُمات سر [یعني **چَت**] ته هُم تلې راتلې شي خو دا هغه وخت دي چه **چَت** ته د ختلو لار په جُمات کښې دننه وي. که پاس تللو د پاره پوړئ د جُمات د اِحاطې نه بهر وي نو مُعتَکِف نه شي تللې، که لاړ شي نو اِعتِکاف به ئې مات شي. دا هُم یاد ساتئ چه د مُعتَکِف او غیرِ مُعتَکِف دواړو د پاره د جُمات **چَت** ته بې ضرورته ختل مکرُوه دي ځکه چه دا بې اَدَبي ده.

### د مُعتَکِف د پاره د جُمات نه د بهر وتلو صورتونه

د اِعتِکاف په دوران کښې د دوو وجوهاتو په سبب د جُمات (د اِحاطې) نه د وتلو اِجازت دي:

﴿۱﴾ حاجتِ شرعي ﴿۲﴾ حاجتِ طبعي.

## (۱) حاجتِ شرعي

**حاجتِ** شرعي مَثَلًا د جُمعې د لمانځه ادا کولو د پاره تلل یا د اذان کولو د پاره تلل وغیره.



www.dawateislami.net

## د ”کــرم“ د درېٖ حُــروفـو پــه نِسبت
## د حاجتِ شرعي مُتَعَلِّق ۳ مَدَنــي ګلونه

﴿۱﴾ که د مَنارېٖ لار په خارِجِ مسجِد (یعني د جُمات د اِحاطېٖ نه بهر) وي نو هُم د اذان د پاره مُعتَکِف تلې شي ځکه چه اوس دا د جُمات نه وتل د حاجتِ شَرعي په وجه دي. (رَدُّالْمُحْتَار ج۳ ص۵۰۲ مُلَخَّصاً)

﴿۲﴾ که هلته د جُمُعې لـمونځ نه کیږي نو مُعتَکِف د جُمُعــې د لـمانځه د پاره بل جُمات ته تلې شي. او د خپلې اِعتِکاف ګاه نه دِ اندازًا داسې وخت ووځي چه د خطبې شروع کیدو نه مخکښې هلته ورسیږي او څلور رکعاته سُنَّت ادا کړې شي او د جُمُعــې د لـمانځه نه پس دومره ساعت نور حصاریدې شي چه څلور یا شپږ رکعاته وکړي. او که د دې نه زیات حِصار شو بلکه باقي اِعتِکاف ئې هُم هلته پوره کړو نو بیا به هُم اِعتِکاف نه ماتیږي. خو د جُمُعــې د لـمانځه نه پس د شپږو رکعاتو نه زیات حصاریدل مکروه دي. (دُرِّمُختار ، رَدُّالْمُحْتَار ج۳، ص۵۰۲)

﴿۳﴾ که د خپلې مَحَلّې په داسې جُمات کښې ئې اِعتِکاف وکړو چه په هغې کښې جَمعه نه کیږي نو بیا د جَمعې د پاره د وتلو اِجازت نشته ځکه چه اوس غوره هُم دا ده چه د جَمعې نه بغیر په دې جُمات کښې لـمونځ ادا کړې شي. (جَدُّالْمُمتار ج٤ ص٢٨٨)

## (۲) حاجتِ طَبعي
## دحاجتِ طَبعي مُتَعَلِّق څلور پیرائے

﴿۱﴾ **حاجتِ طَبعي** هغه چه په جُمات کښې نه شي پوره کیدې لکه غټ یا واړه بَول کول، اودس او که د غُسل ضرورت وي نو غُسل، خو په غُسل او اودس کښې دا شرط دې چه په جُمات کښې نه شي کیدې یعني چه څه داسې څیز نه وي چه په هغې کښې د اوداسه او غُسل [استعمال شوي] اوبه واړوي، داسې چه په جُمات کښې د اوبو یو څاڅکې هُم توئ نه شي ځکه



www.dawateislami.net

چه د اوداسه او غُسل اوبه په جُمات كښې اړول ناجائزه دي او كه ښانك وغيره داسې څيز موجود وي او په هغې كښې داسې اودس كولې شي چه يو څاڅكې هُم په جُمات كښې نه پريوځي نو د اوداسه د پاره د جُمات نه وتل جائز نه دي، كه اُووتلو نو اِعتِكاف به ئې مات شي. هُم دغسې كه په جُمات كښې د اوداسه او غُسل د پاره ځائ جوړ شوې وي يا پكښې حوض وي نو بيا د بهر تللو اجازت نشته. (دُرِّمُختار ، رَدُّالْمُحْتَار ج۲، ص۵۰۱، بهارِ شريعت ج۱ ص۱۰۲۳ تا ۱۰۲٤)

﴿۲﴾ كه قضائے حاجت [يعني اودس ماتولو د پاره] لاړو نو طَهارت دِ وكړي او فوراً دِ راروانيږي د حِصاريدو اجازت نشته او كه د مُعتَكِف كور د جُمات نه لرې دې او د هغه د دوست كور نزدې دې نو دا ضروري نه ده چه قضائے حاجت د پاره دِ دوست كره لاړ شي بلكه خپل كور ته هُم تلې شي او كه د هغه پخپله دوه مكانونه [يعني كورونه] دي يو نزدې بل لرې نو نزدې كور ته دِ ځي ځكه چه بعضې مَشائخ فرمائي چه كه لرې والا ته لاړو نو اِعتِكاف به ئې مات شي. (رَدُّالْمُحْتَار ج۳ ص۵۰۱، عالمگيرى ج۱ ص۲۱۲)

﴿۳﴾ عام طور د لـمونځ ګُزارو د سهولت د پاره د جُمات په اِحاطه كښې بيتُ الخلا، غُسل خانه، استنجا خانه او اودس خانه وي. لِـهذا مُعتَكِف دِ هُم هغه استعمالوي.

﴿٤﴾ بعضو جُماتونو كښې د استنجا خانو او غُسل خانې وغيره د پاره لار د جُمات (يعني فِنائے مسجد) نه هُم بهر وي لِـهذا دغه استنجا خانو او غُسل خانو ته [مُعتَكِف] د حاجتِ طَبعي نه علاوه نه شي تلې.

## د اِعتِكاف ماتوونكو څيزونو بيان

اوس د هغه څيزونو بيان كيږي د كومو سره چه اِعتِكاف ماتيږي. كوم كوم ځائ كښې چه جُمات نه وتلو باندې د اِعتِكاف ماتيدلو حُكم دې هلته د اِحاطهٔ مسجد (يعني د جُمات د عمارت د چار ديوارئ) نه وتل مُراد دي.



www.dawateislami.net

## د ”سیِّدِي قُطبِ مدینه“ د دولسو حُروفو په نِسبت
## د اِعتِکاف ماتوونکو څیزونو مُتَعَلِّق ١٢ مَدَني ګلونه

﴿١﴾ **اِعتِکافِ** واجب کښې مُعتَکِف ته د جُمات نه بې عُذره وتل حرام دي، که اُووتلو نو اِعتِکاف ئې مات شو اګر که په هیر کښې وتلې وو. هُم دغسې (د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د آخري عَشرې) اِعتِکافِ سُنَّت هُم بې عُذره وتلو سره ماتیږي. (بهارِشریعت ج١ص١٠٢٣)

﴿٢﴾ د جُمات نه وتل به هله ګڼړل شي چه ښپې ئې د جُمات نه داسې بهر شي چه هغې ته عُرفاً د جُمات نه وتل وئیلې شي. که صرف سر ئې د جُمات نه راویستلو نو په دې به **اِعتِکاف** نه فاسِد کیږي. (اَلبَحرُ الرَّائق ج٢ص٥٣٠)

﴿٣﴾ په شرعي اجازت بهر اُووتو، خو د فارغیدو نه پس د یو ساعت د پاره هُم بهر حصار شو نو **اِعتِکاف** به مات شي.

﴿٤﴾ ولې چه په دې کښې روژه شرط ده ځکه د روژې ماتولو سره هُم **اِعتِکاف** ماتیږي. اګر که دا روژه ئې د څه عُذر په وجه ماته کړې وي یا بې عُذره، که قصداً ئې ماته کړې وي او که په غلطۍ کښې ماته شوې وي، په هر صورت کښې به **اِعتِکاف** مات شي. که په هیره ئې څه خوراك څښاك وکړو نو نه روژه ماته شوه او نه **اِعتِکاف**.

﴿٥﴾ دا ضابطه یاده ساتئ چه هغه ټول اُمور په کومو چه روژه ماتیږي، [په هغې به] **اِعتِکاف** هُم ماتیږي.

﴿٦﴾ بَولو کولو د پاره (د جُمات د احاطې نه بهر) تلې وو. قرض خواه حصار کړو، **اِعتِکاف** فاسِد [یعني مات] شو. (عالمگیری ج١، ص٢١٢)



www.dawateislami.net

﴿۷﴾ بیهوشي او لیونتوب که اُوګړېد شو چه روژه نه شي کیدې نو **اِعتِکاف** مات شو او قضا واجب ده، اګر که ډېر کلونه پس جوړ شي. (ایضاً ص۳۱۲)

﴿۸﴾ مُعتَکِف دِ په جُمات کښې خوراك څښاك کوي او اُوده کیږي، که د دې اُمورو د پاره د جُمات نه بهر شي نو **اِعتِکاف** به مات شي. (اَلْبَحْرُ الرَّائق ج۲ ص۵۳۰) خو دا خیال ساتئ چه جُمات [د خوراك څښاك په څیزونو وغیره] ککړ نه شي.

﴿۹﴾ که طعام راوړلو والا هیڅ څوك هُم نه وي نو بیا خپل طعام راوړلو د پاره ځپله بهر تلې شئ خو راوړئ ئې او په جُمات کښې ئې خورئ.

﴿۱۰﴾ که د مرَض د علاج د پاره د جُمات نه اُووتلو نو **اِعتِکاف** مات شو. که په خوب کښې د راپاڅیدلو او ګرځیدلو بیماري لري او په اُودو روان روان د جُمات نه اُووتلو نو **اِعتِکاف** به مات شي.

﴿۱۱﴾ که د ډوبیدونکي یا سوزیدونکي د بچ کولو د پاره د جُمات نه بهر لاړو یا د ګواهئ ورکولو د پاره لاړو یا جِهاد له ټول خلق اُوغوښتلې شو او دا هُم اُووتلو یا د مریض پوښتنې له یا جنازې له لاړو، اګر که بل څوك د [جنازې جَمعه] ورکولو والا نه وي نو په دې ټولو صورتونو کښې **اِعتِکاف** مات شو. (بهارِ شریعت ج۱ ص۱۰۲۵)

﴿۱۲﴾ که **څوك** بد نصیبه د اِعتِکاف په دوران کښې **مُرتَد** شو (نَعُوْذُبِالله عَزَّوَجَلَّ) نو **اِعتِکاف** ئې مات شو او بیا که **الله** تعالیٰ مُرتَد ته د اِیمان توفیق ورکړي نو د فاسِد شوي اِعتِکاف قضا نشته. (ماخوذاز دُرِّمُختار ج۳ ص۵۰٤)

## زما د ملا درد بنه شو

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د اِعتِکاف د عَظَمت به څه وائې او که په اِعتِکاف کښې د عاشقانِ رَسُول صُحبت نصیب شي نو څه ښه خبره به وي! چنانچه د **عَطّار آباد** (جیکب آباد، بابُ الاسلام سندھ) یو اسلامي ورور د **دعوتِ اسلامي** د **مَدَني ماحول** سره د تړون نه مخکښې لوفر



www.dawateislami.net

[فُضول ګرځیدونکي] او ګنده ذِهن لرونکي وو، د دوستانو په محفلونو کښې ګنده خبرې کول او بیا پرې د پاسه په زوره زوره خندل د هغه خاص مشغله وه. د یوې ناشائسته ګناه په وجه ئې په ملا کښې درد شوې وو، او هغه د هیڅ قِسمه علاج سره نه ښه کیدو. د هغه د قِسمت ستورې داسې وځلیدو چه د بعضو شناخته اسلامي ورونړو په زاري مِنَت د رَمَضانُ الْمُبَارَك (۱٤۲٦ھ) په آخرئ عَشره کښې د **عاشقانِ رَسُول** سره په **مَیمَن مسجد** (عطّار آباد) کښې مُعتَکِف شو، [هغه ته] داسې ښکاریده لکه یوې نوې دُنیا ته چه راغلې وي، د پینځه وخته لمونځونو سپرلي، د سُنَّتو ډك [او د آخرت] د غم نه ډك بیانونه، ژړوونکي دُعاګانې، د سُنَّتو ډکې حلقې او د عاشقانِ رَسُول مهربانئ او بَرَکتونه، اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ د اِعتِکاف په دوران کښې د هغه د ملا درد بغیر د څه دوائي نه بِخپله ښه شو او په زړه کښې ئې مَدَني اِنقِلاب راپورته شو، د ګناهونو نه ئې توبه وکړه، مخ ئې د خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **مَحَبَّت** په مبارکه نښه یعني ګِیره باندې ښکلې کړو او شنه عِمامه ئې هُم په سر کړه. اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ د ٤۱ ورځو **مَدَني قَافِله** کورس کولو سعادت ئې هُم حاصل کړو او د دعوتِ اسلامي د مَدَني کارونو عام کولو د پاره ئې کوششونه شروع کړل.

اِنْ شَآءَاللّٰہ بھائی سُدھر جاؤ گے — مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
مرضِ عصیاں سے چھٹکارا تم پاؤ گے — مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص٦٤٤)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د خاموشه اوسیدو روژه

حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د "صَومِ وِصال" (یعني د پیشمنې او روژه ماتې کولو نه بغیر مسلسل روژو نیولو) او "صَومِ سُکُوت" (یعني د خاموشه اوسیدو روژه نیولو) نه منع فرمائیلې دي. (مُسْنَدِ اِمام أعظم ص۱۹۲)



www.dawateislami.net

بعضې خلقو ته دا غلط فهمي ده چه مُعتَکِف ته په جُمات کښې پردې لګول او په هغې کښې خاموشه پروت اوسيدل پکار دي، بلکه بعضې خو دا ضروري ګڼړي حالانکه داسې نه ده. که ضررورت وي او څه رُکاوټ نه وي نو پرده لګول ډير ښه کار دې ځکه چه د حُضُورِ انور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه د **اِعتِکاف** د پاره خيمه لګول ثابت دي، البتّه د پردې لګولو نه بغير هُم **اِعتِکاف** صحيح دې. خاموشي بذاتِ خود عبادت ګڼړل غلط دي چنانچه بهارِ شريعت جِلد اوَّل صفحه ۱۰۲۶ تا ۱۰۲۷ کښې مسئله نمبر ۳۲ ده: مُعتَکِف که د عبادت په نِيَّت خاموشي اختيار کړي يعني چُپ اوسيدل د ثواب خبره وګڼړي نو **مکروهِ تَحريمي** دي او که خاموشه اوسيدل ثواب نه ګڼړي نو باك نشته او که د بدې خبرې نه خاموشه پاتې شو نو دا مکروه نه دي، بلکه دا خو د اعلٰی درجې څيز دې ځکه چه بده خبره د خُلې نه نه ويستل واجب دي او په کومه خبره کښې چه نه ثواب وي او نه ګناه يعني مُباح خبره کول هُم د مُعتَکِف د پاره مکروه دي خو په وخت د ضروت کښې [مُباح خبره کولې شي] او بې ضرورته مُباح خبرې نيکۍ داسې خورې څنګه چه اور لرګي [خوري]. (دُرِّ مُختار ج۳ ص۵۰۷)

## د چا حاجت پوره کول او د يوې ورځې د اِعتِکاف فضِيلت

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا په **مَسجِدُ النَّبَوِيِّ الشَّرِيف** عَلٰی صَاحِبِہَا الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام کښې مُعتَکِف وو. يو غمژن کس د هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خِدمت کښې حاضر شو. دوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ترې د غم د وجهې تپوس وکړو نو هغه عرض وکړو: ''اے د رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تره مبارك د ځيګر ټکړې! د فلانکې په ما باندې څه حق دې.'' زه د هغه د حق ادا کولو اِستِطاعَت (يعني طاقت) نه لرم.'' حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ اُوفرمائيل: ''آيا زه ستا سِفارش وکړم؟ هغه عرض وکړو: ''څنګه چه تاسو بهتره ګڼړئ.'' دا ئې واوريدل نو حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا فوراً د **مَسجِدُ النَّبَوِيِّ الشَّرِيف** عَلٰی صَاحِبِہَا الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام نه بهر را اُووتلو. دا



www.dawateislami.net

ئې چه وليدل نو هغه كس عرض وكړو: "عالي جاه! آيا تاسو نه **اِعتِكاف** هير شو؟" هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اُوفرمائيل: "نه **اِعتِكاف** را نه نه دې هير شوې." بيا ئې د مَدَنـي تاجدار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مزار مبارك ته اِشاره وكړه او په ستركو كښې ئې اُوښكې راغلې. او وئې فرمائيل: زيات وخت نه دې تير شوې چه ما په دې مزار شريف كښې آرام كوونكي محبوب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پخپله په خپلو غوږونو اوريدلي دي چه فرمائيل ئې: "څوك چه د خپل يو ورور د حاجت پوره كولو د پاره روان شي او هغه پوره كړي نو دا د لسو كالو د اِعتِكاف نه غوره دي او څوك چه د رِضائے اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ د پاره د يوې ورځې اِعتِكاف وكړي نو الله تعالىٰ به د هغه او د جَهنَّم په مينځ كښې درې خندقونه حائل [يعني رُكاوټ جوړ] كړي، د هر خندق فاصله به د مشرِق او مغرب د مينځئ فاصلې نه زياته وي." (شُعَبُ الْاِيْمان ج۳ ص۴۲۴ حديث۳۹۶۵ مُلَخَّصاً) **د الله تعالىٰ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمِين بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِين صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عربي لُغَت په مشهور كِتاب "اَلْقَامُوْسُ الْمُحِيط" كښې دي: خندق هغه كندې ته وائي كوم چه د يو ښار نه ګير چاپيره كنستلې كيږي. (اَلْقَامُوْسُ الْمُحِيط ج۲ ص۱۱۷۰) مطلب دا دې چه هغه د جَهنَّم نه ډير لرې كړې شي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مسلمان د خوشحالولو فضيلت

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! سُبْحٰنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ! چه د يوې ورځې د اِعتِكاف دومره فضيلت دې نو بيا "د لسو كالو د **اِعتِكاف** نه هُم د غوره" عمل د بَرَكتونو اندازه څوك لګولې شي! د دې حِكايت نه د خپلو اِسلامي ورونړو د حاجت پوره كولو فضيلت هُم معلوم شو. ياد ساتئ! د چا حاجت پوره كولو د پاره هُم د جُمات نه وتلو باندې اِعتِكاف ماتيږي. مونږه كه د چا ضرورت پوره كړو نو د هغه زړه به خوشحاله شي او د مسلمان د زړه خوشحالولو [د ثواب] به څه وائي!



www.dawateislami.net

چنانچه **فرمانِ مُصطَفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: ”د فرائضو نه پس په ټولو اعمالو کښې **الله** تعالیٰ ته زيات خوښ د مسلمان زړه خوشحالول دي.“ (مُعجَم کَبِیر ج۱۱ ص۵۹ حدیث۱۱۰۷۹) واقِعي که په دې بيکاره دوَر کښې مونږه د يو بل په غمخوارئ کښې لګيا شو نو د دُنيا نقشه به بدله شي. ليکن آه! نن صبا خو ګورو چه د مسلمان عزّت او حياء او ځان و مال د مسلمان د لاسه تباه کيږي! **الله رَبُّ الْعِزَّت** عَزَّوَجَلَّ دِ مونږ ته په خپل مينځ کښې د نفرتونو ختمولو او مَحَبَّتونو زياتولو سعادت رانصيب کړي. **اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د ”مَسجِدِ نَبَوِی“ د اته حُروفو په نِسبت په اِعتِکاف کښې د جائزو کارونو په اِجازت مُشتمل ۸ مَدَني ګلونه

﴿۱﴾ خوراك، څښاك او اُوده کيدل (خو د جُمات په درئ باندې د خوراك کولو او اُوده کيدلو په ځائ په خپل څادر د پاسه يا په خپل پزګي باندې خوراك کوئ او اُوده کيږئ، خو خپل څادر او پزګې په طعام وغيره ککړيدو نه ساتل ضروري دي چه بدبوئي پيدا نه شي)

﴿۲﴾ ضرورتاً دُنيوي خبرې اترې کول. (خو په قلاره قلاره، او فالتو خبرې بالکل مه کوئ)

﴿۳﴾ په جُمات کښې جامې بدلول، عِطر لګول، سر يا ږِيره په تيلو غوړول.

﴿٤﴾ د ږِيرې خط جوړول، زُلفې پريك کول، ګمنز کول، خو په دې ټولو کارونو کښې دا احتياط ضروري دې چه يو وِيښته هُم په جُمات کښې پرينوځي، چه په تيلو يا طعام وغيره باندې د جُمات صَفونه [يعني درئ، قالين] او ديوالونه وغيره ککړ نه شي. د دې يو آسان صورت دا دې چه د دې کارونو د پاره په اودس خانه يا فِنائے مسجِد کښې خپل څادر خور کړئ او په هغې د پاسه ئې وکړئ.

﴿۵﴾ په جُمات کښې بِلا اُجرت [يعني د فيس اخستو نه بغير] د يو مريض مُعائنه کول، دوائي ورښودل يا هغه ته نُسخه ليکل.



www.dawateislami.net

﴿۶﴾ په جُمات کښې بِلا اُجرت [یعني د معاوضه اخستو نه بغیر] قُرآنِ کریم یا عِلمِ دِین زده کول، بل ته ښودل یا سُنَّتونه او دُعاګانې زده کول او ښودل.

﴿۷﴾ د ځان یا د کور د کسانو د ضرورت د پاره په جُمات کښې اخستل خرڅول د مُعتَکِف د پاره جائز دي. خو د تِجارت څه څیز جُمات ته نه شئ راوړې. خو که لږ شان څیز وي چه په جُمات کښې ځائ نه ګیروي نو راوړې ئې شئ. اخستل خرڅول چه صرف د ضرورت د پاره وي او که مال ګټل مقصد وي نو جائز نه دي، اګر که هغه مال د جُمات نه بهر هُم وي. (دُرِّ مُختار ج۳ ص۵۰۶، بهارِ شریعت ج۱ ص ۱۰۲۶)

﴿۸﴾ جامې او لوښي وغیره په جُمات کښې وینځل جائز دي په شرط د دې چه د جُمات په درئ یا فرش باندې د هغې یو څاڅکې هُم نه کیږي. د دې صورت دا دې چه په یو غټ لوښي وغیره کښې ئې وینځئ.

د دې خبرو نه علاوه هُم هغه ټول کارونه کوم چه د اِعتِکاف د پاره مُفسِد [یعني ماتوونکي] او ممنوع نه وي او فِی نَفْسِهٖ جائز هُم دي او د هغې په وجه د جُمات بې ادبي هُم نه کیږي او د یو عبادت کوونکي یا اُوده کس د پاره د تشویش باعِث هُم نه وي، د مُعتَکِف د پاره جائز دي.

## د اِعتِکاف د قضا راګرځولو طریقه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! که د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د آخرئ عَشرې سُنَّت اِعتِکاف مو مات شو نو ستاسو په ذِمّه صرف د هغه یوې ورځې قضا راګرځول دي په کومه ورځ چه **اِعتِکاف** مات شوې وو، که د **رَمَضان** شریف ورځې باقي وي نو په هغې کښې هُم قضا کیدې شي، ګنې وروسته ئې په بله ورځ وکړئ خو د واړه اختر په ورځ او د **ذُوالْحِجَّةُ الْحَرَام** د لسمې [یعني غټ اختر] نه واخله دیارلسمې پورې نه علاوه څکه چه د دې پینځه ورځو روژې مکروهِ تَحریمي دي. **د قضا طریقه** دا ده چه په کومه ورځ د لـمر پریوتو په وخت کښې (بلکه احتیاط په دې کښې



www.dawateislami.net

دي چه یو څو مِنټه مخکښې) د اِعتِکاف د قضا راګرځولو په نِیَّت جُمات ته داخِل شئ او اوس چه کومه ورځ راروانه ده د هغې د لـمر پریوتلو پورې مُعتَکِف شئ. په دې کښې روژه شرط ده.

## د اِعتِکاف فِدیه

که د قضا راګرځولو د مُهلت حاصلیدو باوجُود ئې قضا را ونه ګرځوله او د مرګ وخت راورسیدو نو وارِثانو ته وَصِیَّت کول واجب دي چه هغوئي د هغه اِعتِکاف په بدله کښې فِدیه ادا کړي، که وَصِیَّت ئې نه وو کړې او وارِثان ئې د فِدئې د ادائیګئ اجازت ورکړي نو هُم فِدیه ادا کول جائز دي. (عالمگیری ج۱، ص۲۱٤) فِدیه ادا کول زیات مشکل نه دي. د اِعتِکاف د فِدئې په نِیَّت چا مُستحقِ زکوٰة ته د صَدَقهٔ فِطر په مقدار کښې (یعني د دوه کلو نه ۸۰ ګرامه کم) غنم یا د هغې رقم ادا کړئ.

## د اِعتِکاف ماتولو توبه

که اِعتِکاف مو د څه صحیح مجبورئ په وجه مات کړې وو یا په هیر کښې مات شو نو ګناه نشته او که قصداً [یعني اِرادَتاً] مو بغیر د څه صحیح مجبورئ نه مات کړې وو نو دا ګُناه ده لِـهذا د قضا راګرځولو سره سره توبه هُم وکړئ.

## د مشهورې بِــیم باجه پارټئ د مالِك توبه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د تبلیغِ قُرآن و سُنَّت د عالــمګیر غیر سیاسي تحریك **دعوتِ اسلامي** مَدَني ماحول ته راتللو سره بیشمیره وران کاري خلق د لـمونځونو او سُنَّتو پابند جوړ شوي دي، په دې باره کښې یو خوشبودار مَدَنـي سپرلې واورئ چنانچه د **مندسور** ښار (ایم.پي. اَلهِند) د مشهورې **بِــیم باجه پارټئ** مالِك د مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي د اِنفرادي کوشش په نتیجه کښې د ۱٤۲٦ھ د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** په آخرئ عَشره کښې د عاشقانِ رَسُول سره مُعتَکِف شو. په



www.dawateislami.net

تربِيَّتي حلقو كښې ئې چه د ګناهونو تباه كارئ واوريدلي نو په زړه ئې ډير اثر وشو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه د تيرو ګُناهونو نه توبه وكړه او د يو مُوټې ګيرې پريښودلو او د عاشقانِ رَسُول سره د يوې مياشتې په مَدَني قَافِله كښې د سُنَّتو ډك سفر كولو نِيَّت ئې وكړو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د بِـيم باجې د ګناهونو نه ډك حرام روزګار ئې هُم پريښودو.

چوٹ کھا جائے گا اک نہ اک روز دل — مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
فضلِ رب سے ہدایت بھی جائے گی مل — مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٣٩)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مُعتَكِفِينو د پاره ضروري څيزونه

﴿١﴾ د تَوجُّه برقراره ساتلو د پاره او د سامان د حفاظت د پاره كه پرده لګوئ نو حسبِ ضرورت كپړه (كه شنه وي نو مدينه مدينه) مزې او بكسيوې ﴿٢﴾ كَنْزُالْاِيمان شريف ﴿٣﴾ د خپل پير صاحِب شَجره ﴿٤﴾ تسبيح ﴿٥﴾ مِسواك ﴿٦﴾ د مَدَني انعاماتو رساله ﴿٧﴾ قلم ﴿٨﴾ عِطر ﴿٩﴾ قفلِ مدينه پيډ ﴿١٠﴾ د قُفلِ مدينه چشمې ﴿١١﴾ ډائرې ﴿١٢﴾ حسبِ ضرورت اسلامې كتابونه ﴿١٣﴾ ستن او تار ﴿١٤﴾ نُوك تراش ﴿١٥﴾ قينچې ﴿١٦﴾رانجه او سلائې ﴿١٧﴾ د تيلو بوتل ﴿١٨﴾ ګمنز ﴿١٩﴾ آئنه ﴿٢٠﴾ حسبِ ضرورت د سُنَّتو مطابق لباسونه (د موسِم مطابق) ﴿٢١﴾ عِمامه شريف بمع سربند او خوَلۍ [ټوپۍ] ﴿٢٢﴾ په سر كولو د پاره سپين څادر ﴿٢٣﴾ لنګ ﴿٢٤﴾ د اوده كيدو د پاره داسې پزَكې چه په جُمات كښې ترې ډكې نه رژيږي ﴿٢٥﴾ كه ضرورت وي نو بالښت ﴿٢٦﴾ د اُوده كيدو په وخت د اغوستلو د پاره څادر يا كمبل ﴿٢٧﴾ د اوده كيدو په وخت كښې سر ته ايښودلو د پاره سُنَّت بكس ﴿٢٨﴾ د پردې د پاسه پرده كولو د پاره نسوارې څادر ﴿٢٩﴾ د خاورې ركيبۍ ﴿٣٠﴾ د خاورې پياله ﴿٣١﴾ تهرماس ﴿٣٢﴾ دسترخوان ﴿٣٣﴾ د



www.dawateislami.net

غابنونو د خِلال د پاره ډكي [خخنړي، تِيلي] ﴿۳٤﴾ توليه ﴿۳۵﴾ ټِشو پيپرز ﴿۳٦﴾ كه ضرورت وي نو ټائلټ پيپرز ﴿۳۷﴾ د سر درد، نزلې او تبې وغيره د پاره ګولۍ ﴿۳۸﴾ حسبِ ضرورت رقم ﴿۳۹﴾ په جُمات كښې پرتې خزلې وغيره جمع كولو د پاره پونړۍ (لږې زياتې واخلئ چه نورو ته ئې هُم وركولې شئ)

مَدَني مشوره: په خپلو څيزونو نښه (مَثَلًا ☾ ✯ وغيره) جوړ كړئ چه د ګډ وډ كيدو په صورت كښې موندل آسان وي، په څادر وغيره باندې خپل نوم بلكه څه انګريزي حَرف هُم مه ليكئ ګني كيدې شي چه بيا ئې بې ادبي كيږي (د نښو نمونې د هُم دې كتاب "فيضانِ اِعتِكاف" په آخرئ صفحه اوګورئ)

## "د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د اِعتِكاف به هُم څه وائې!" د ديرشو حُرُوفو په نِسبَت د اِعتِكاف ۳۰ مَدَني ګلونه

﴿۱﴾ د جُمات ديوالونو يا درئ وغيره باندې د پوزې يا غوږ خيرې او غوږ لاسونه مه لګوئ، د فِنائے مسجد په پټو ګوټونو وغيره كښې هُم د پان لارې وغيره مه تُوكئ. د جُمات د صفائي خاص خيال ساتئ، د جُمات په فرش باندې پرتې د ويښتو جاخې او خزلې وغيره اچولو د پاره كه كيدې شي نو يو شاپر [پونړۍ] په جيب كښې كيږدئ. **فرمانِ مُصطَفٰی** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه د جُمات نه د تكليف څيز اُوباسي **اللّٰه** تعالٰى به د هغه د پاره په جَنَّت كښې يو كور جوړوي. (اِبنِ مَاجه ج۱ ص۴۱۹ حديث۷۵۷)

﴿۲﴾ د جُمات د درو نه تارونه او د پزكو نه ډكې شوكولو نه پرهيز وكړئ. (هر ځائ كښې د دې خيال ساتئ)

﴿۳﴾ په جُمات كښې ځان د پاره غوښتل جائز نه دي او هغه ته وركولو نه هُم عُلَماء منع فرمائيلې دي، تر دې پورې چه اِمام اِسمٰعِيل زاهِد رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائيلې دي: څوك چه د جُمات سوالګر ته يوه پيسه وركړي هغه ته پكار دي چه اويا پيسې د **اللّٰه** تعالٰى په نامه نورې وركړي



www.dawateislami.net

چه د هغه پیسې کَفّاره شي او که د بل د پاره ئې اُوغوښتله یا جُمات [د پاره] یا د بل ضرورتِ دِیني د پاره چنده کول جائز او د سُنَّت نه ثابت دي. (فَتَاوٰی رَضَوِیَّه، ج۱۶ص۴۱۸)

﴿۴﴾ مُعتَکِف که صرف یوه ښپه د جُمات نه وِیستله نو هیڅ باك نشته.

﴿۵﴾ دواړه لاسونه او ورسره ئې سر هُم د جُمات نه بهر وِیستلو نو باك نشته.

﴿۶﴾ که بې خیالئ کښې د جُمات نه اُووَتلو او چه څنګه ورياد شو نو فوراً جُمات ته دننه هُم راغې بیا هُم اِعتِکاف مات شوې دې.

﴿۷﴾ د شپې چه د خومره وخته پورې په جُمات کښې د رڼړا بلولو عُرف (یعني رواج) دې د هغه همره وخته پورې د هغې په رڼړا کښې دیني مطالعه کیدې شي.

﴿۸﴾ اخبارونه د ژوندو څیزونو د تصویرونو بلکه د فِلمي اشتهاراتو نه عام طور ډك وي لِـهذا په جُمات کښې د دې د لوستلو نه ځان ساتئ.

﴿۹﴾ غل که د چا څپلئ یا د بل یو اِسلامي ورور څپلئ غلا کړې او وتښتیدو نو د هغه د نیولو د پاره که د جُمات نه اُووتلو نو **اِعتِکاف** مات شو.

﴿۱۰﴾ په جُمات کښې بیان کولو یا نعت شریف وغیره لوستلو کښې احتیاط لازمي دې، د چا په عبادت یا آرام کښې خلل پریوتل نه دي پکار.

﴿۱۱﴾ که د جُمات **چَت** وغیره راپریوتو یا چا په زور ویستلئ نو فوراً په بل جُمات کښې مُعتَکِف شئ، **اِعتِکاف** به صحیح شي.



www.dawateislami.net

﴿۱۲﴾ د اِعتِكاف په دوران كښې حَتَّى الامكان [يعني چه څومره كوشش كولې شئ] خپل وخت په نفلونو، تِلاوتِ قُرآن، ذِكر و دُرُود، د اسلامي كتابونو په مُطالعه او سُنَّتونه او دُعاګانې وغيره زده كولو او ښودلو كښې تيروئ.

﴿۱۳﴾ كه د اِعتِكاف د پاره په جُمات كښې پرده لګوئ نو كم نه كم ځائ ګيروئ. **اعلىٰ حضرت** اِمامِ اهلِسُنّت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: كه په جُمات كښې څيزونه كيږدي چه په هغې د لمانځه ځائ بند شي نو سخت ناجائزه دي. (فَتَاوىٰ رَضَوِيّه ج۸،ص۹۷)

﴿۱۴﴾ په جُمات كښې شور و غوغا، ټوقې ټقالې وغيره كول ګُناه ده.

﴿۱۵﴾ تاسو راغلي خو د نيكو ګټلو د پاره ئې خو چرې داسې ونشي چه د جُمات د بې ادبئ كولو په وجه د ګناهونو پيټې ځان سره يوسئ. لِهذا خبردار! په جُمات كښې مو د خُلې نه بې ضرورته يو لفظ هُم ونه اُوځي، په ژبه مضبوطه **قُفلِ مدينه** ولګوئ.

﴿۱۶﴾ د خپل ضرورت څيزونه د مُخكښې نه ځان سره كيږدئ چه د چا نه د سوال كولو حاجت نه وي، د خلقو نه هر وخت څيزونه غوښتل هُم ښه عادت نه دې. چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارې مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د ۶۹۵ صفحو كتاب، "**الله والوں کی باتیں**" جِلد۱ صفحه۳۴۰ تا ۳۴۱ كښې دي: حضرتِ سَيِّدُنا ثَوبان رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي چه خوږ نبي مكِّـي مَدَنـي آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "څوك چه ما ته د يو څيز ضمانت راكړي زه هغه ته د جَنَّت ضمانت وركووم." ما عرض وكړو: "يارَسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه ضمانت دركووم." اِرشاد ئې اُوفرمائيلو: "كله د چا نه سوال مه كوه." راوي فرمائي: بعضې وختونو كښې به حضرتِ سَيِّدُنا ثَوبان رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ په اُوښ باندې سور وو او كوړه به ترې پريوتله نو د هغې د پاره به ئې هُم د چا نه سوال نه كولو بلكه پخپله به كوزيدلو او راخستله به ئې."



www.dawateislami.net

﴿۱۷﴾ ډېر ډېر تِلاوتِ قُرآن كوئ خو دا مسئله ياده ساتئ ځنگه چه په بهارِ شريعت جِلد۱ صفحه ۵۵۲ كښې دي: ”چه په ټولگي كښې ئې ټول خلق په اوچت آواز لوَلي دا حرام دي، اكثر په دريمو كښې ټول په اوچت آواز [قُرآن] لوَلي دا حرام دي، كه يو څو كسان لوستونكي وي نو حُكم دې چه په قلاره ئې لوَلي.“

﴿۱۸﴾ د نورو مُعتَكِفينو د صُحبت د حُقُوقو لِحاظ ساتئ د هغوئي خِدمت د ځان د پاره د سعادت باعث گڼړئ، د هغوئي د ضروورياتو پوره كولو كوشش كوئ او د اِيثار سُلوك كوئ. د اِيثار ثواب بيشميره دې، د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دې: ”كوم كس چه د يو څيز خواهش لري، بيا هغه خواهش حصار كړي، [او] په خپل ځان باندې بل چا ته ترجِيح وركړي، نو الله تعالٰی هغه اُوبخښي“ (ابنِ عَساكِرج۳۱ص۱٤۲)

﴿۱۹﴾ په مَدَني انعاماتو باندې عمل كوئ او هره ورځ د فِكرِ مدينه په ذريعه رِساله [كښې خانې] ډكوئ او د دې د هميشه د پاره عادت جوړ كړئ.

﴿۲۰﴾ د جُمات په فرش، درئ يا پزكـي [چټائي] باندې د اُوده كيدو نه پرهيز كوئ ځكه چه د خوَلې بدبوئي، د سر د تيلو داغ او د گنده خوب ليدلو په صُورت كښې [د دې څيزونو] د ناپاكه كيدو هُم خطره ده. لِـهذا خپل پزكې يا پيړ څادر خوروئ.

﴿۲۱﴾ كه كور وي او كه جُمات، په هر ځائ كښې چه اُوده كيږئ نو ”د پردې د پاسه پرده“ كوئ، په پاجامه د پاسه لنگ تړئ يا يو څادر د لنگ په شان راتاو كړئ او په ملاسته د پاسه هُم يو څادر يا لِـحاف [يعني كمبل وغيره] واغوندئ ځكه چه په اُودو بعضې وخت د جامو اغوستلو باوجود مَعَاذَالله سخته بې پردگي كيږي.

﴿۲۲﴾ هيڅ كله هُم دوه اسلامي وروڼه په يو بالښت يا په يو څادر كښې مه اُوده كيږئ.



www.dawateislami.net

﴿۲۳﴾ هُم دغسې که د فساد اندیښنه وي نو د چا په وروُن باندې یا غیرِه کښې سر ایښودې خملاستلو نه هُم پرهیز کوئ.

﴿۲٤﴾ چه کله په ۲۹ **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د واره اختر د میاشتې ښکاره کیدو خبر واورئ یا د دیرشم **رَمَضان شریف** لـمر پریوځي نو د اِعتِکاف پوره کیدو په سبب د جُمات نه داسې مه تښتئ لکه څوك چه د قید نه خلاص شي، بلکه پکار خو دا ده چه د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د رخصتیدلو خبر اوریدو سره زړه غمژن شي چه آه! **محترمه** میاشت زمونږ نه جُدا شوه او ښه په ژړا ژړا او که نه شي کیدې نو د ژړا صورت جوړ کړئ او د **رَمَضان** میاشتې ته **اَلْوَداع** وکړئ. کاش چه! داسې حالت مو وي چه ؎

تم گھر کو نہ کھینچو نہیں جاتا نہیں جاتا میں چھوڑ کے فیضانِ مدینہ نہیں جاتا

﴿۲۵﴾ د اِعتِکاف په ختمیدو ښه په ژړا ژړا د **الله** تعالیٰ نه د خپلو کوتاهیانو او د جُمات د بې ادبئ بخښنه اُوغواړئ. ډیر په ژړا ژړا د خپل او د ټولې دُنیا د مُعتَکِفِینو د اِعتِکاف د قبولیَّت او د ټول اُمَّت د بخښنې دُعا وکړئ.

﴿۲٦﴾ خپل مینځ کښې د یو بل نه د حق تلفئ مُعافي اُوغواړئ.

﴿۲۷﴾ اِمام صاحِب، مُؤَذِّن صاحب او د جُمات خادِمانو ته هُم که کیدې شي نو د هغوئي د زړونو خوشحالولو د پاره څه نه څه نذرانه وړاندې کړئ او د جُمات د انتِظامیه شکریه هُم ادا کړئ.

﴿۲۸﴾ په اِعتِکاف کښې د عامو ورځو په مُقابله کښې بجلي زیاته اِستعمالیږي لِـهذا مشوره ده چه هر مُعتَکِف دِ د چندې په طور کم از کم ۱۰۰ روپئ د جُمات اِنتَظامِیه ته وړاندې کړي. (که مُعتَکِفِین زیات وي نو خپل مینځ کښې راجمع کړې رقم په یو ځائ هُم ورکولې شي)



www.dawateislami.net

﴿٢٩﴾ كه كيدي شي نو د واړه اختر شپه په عبادت كښي تيره كړئ. ګني كم از كم د ماسخُتن او سحر لـمونځونه د جَمعي سره ادا كړئ چه د حديث د حُكم مطابق د پوره شپې د عبادت ثواب حاصل كړئ.

﴿٣٠﴾ كوشش وكړئ او د نفل اِعتِكاف په نِيَّت د اختر شپه په هُم هغه جُمات كښي تيره كړئ كوم كښي مو چه اِعتِكاف كړې وو. حضرتِ سَيِّدُنا ابراهيم نَخعِي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: بُزُرګانِ دِين به د مُعتَكِف د پاره دا خبره خوښوله چه د واړه اختر شپه په جُمات كښي تيره كړي چه د هُم هغه ځائ نه د هغه (د اختر) ورځ شروع شي." (مُصَنَّف اِبنِ اَبِی شَيْبَة ج٣ ص٥٠٤) حضرتِ سَيِّدُنا اِمام مالِك رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د بُزُرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى دا معمول بيان كړې دې چه هغه حَضَراتو به د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په آخرئ عَشره كښي اِعتِكاف كولو او د اختر په شپه به خپلو كورونو ته نه تلل تر څو به ئې چه د خلقو سره د اختر لـمونځ نه وو ادا كړې. (تَفسِيرِ دُرِّ مَنثُور ج١ ص٤٨٨)

## د عاشقانِ رَسُول صُحبت زه د څه نه څه جوړ كړم!

د تبليغِ قُرآن و سُنَّت د عالـمګير غير سياسي تحريك دعوتِ اسلامي له طرفه چه په كوم ځائ كښي اِجتِماعي اِعتِكاف كيږي د هغه جُمات نه د اختر په شپه [په مَدَني قَافِله كښي روان شئ] يا په جُمات كښي شپه تيره كړئ او د اختر په ورځ د سُنَّتو د تربِيَّت په مَدَني قَافِله كښي د عاشقانِ رَسُول سره د سفر كولو سعادت حاصل كړئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې بَرَكتونه به پخپله اُووينئ. كه ماډرنو [فيشني] دوستانو وغيره سره مو د ګناهونو ډك ماحول كښي اختر تير كړو نو كيدي شي چه د اِعتِكاف ګټلي ثواب مو ضائع شي. ستاسو د ترغيب د پاره تاسو ته د اختر د مَدَني قَافِلي يو خوشبودار مَدَنـي سپرلي اورووم. چنانچه د لائنز ايريا باب الْمَدِينه كراچۍ يو اسلامي ورور چه مخكښي يو عام شان ماډرن [فيشني] او بيلمانځه ځلمي وو. د ژوند شپې او ورځې ئې په غفلتونو او ګناهونو كښي تيريدلي. د ١٤٢٣ه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په مياشت كښي پرې يو



www.dawateislami.net

اِسلامي ورور اِنفرادي كوشش وكړو او هُم د هغوئي د علاقې په **فيضانِ رضا مسجد** (لائنز ايريا) كښې كيدونكي **اِجتِماعي سُنَّتِ اِعتِكاف** كښې د كښيناستلو ترغيب ئې وركړو، هغه تيار شو او د كور د كسانو نه ئې اجازت واخستو او د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** په آخرئ عشره كښې مُعتَكِف شو. په اِعتِكاف كښې لسو ورځو پورې ئې د عاشقانِ رَسُول د صُحبتونو ډير ډير بَرَكتونه حاصل كړل او د ټول عُمر د پاره پينځه وخته لمونځ سره د جَمعې ادا كولو پخه اِراده ئې وكړه، د نورو ګناهونو سره سره ئې د ږِيرې خرَولو نه هُم توبه وكړه، سمدستي ئې عِمامه شريفه هُم په سر كړه او د سُنَّتو مطابق مَدَني لِباس نِيَّت ئې هُم وكړو. د اختر په دويمه ورځ ئې د عاشقانِ رَسُول سره د درې ورځو په **مَدَني قَافِله** كښې د سُنَّتو ډك سفر هُم وكړو او د هغه مبارك سفر په بَرَكت هغه د **تبليغِ قُرآن و سُنَّت** عالمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** كښې پوخ شامل شو. **الله** عَزَّوَجَلَّ دِ وكړي چه هغه د مرګ د ساعته پورې د **دعوتِ اسلامي** په مَدَني ماحول كښې شامل اوسي. اوس هغه ځلمي فيشن پريښودې دې. اِعتِكاف او سمدستي په **مَدَني قَافِله** كښې د سفر په دوران كښې د عاشقانِ رَسُول صُحبت اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه د څه نه څه جوړ كړو! هغه د **الله** عَزَّوَجَلَّ په كرم په خپله علاقه كښې د مَدَني انعاماتو د ذِمَّه دار په حيثِيَّت د سُنَّتو خِدمت شروع كړو.

فضلِ رب سے گناہوں کی کالک دھلے　　مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
نیکیوں کا تمہیں خوب جذبہ ملے　　مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٣٩)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

# د خپلو څيزونو ساتلو طريقه

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د تبليغ قُرآن و سُنَّت عالـمګير غير سياسي تحريك ”**دعوتِ اسلامي**“ کښې شامل زرګاؤ اِسلامي وروڼه د دُنيا په مختلفو جُماتونو کښې د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د پوره مياشتې **اِجتِماعي اِعتِكاف** كوي او په آخرئ عشره كښې د مُعتَكِفِينو نوره اِضافه وشي. د دې ټولو په خِدمت كښې عرض دې: شَرعي مسئله ده چه كه د بل كس څه څيز په غلطئ كښې تاسو سره بدل شي او د هغه خپل [ورك شوي] څيز په شان هُم وي نو بيا هُم د هغې اِستعمال ناجائزه او ګناه ده. لِـهذا مُعتَكِفِينو (او د مدرسو مُقِيمو طَلَبه بلكه هر يو) ته پكار دي چه په خپلو هغه څيزونو څه نښه لګوي د كومو چه د نورو خلقو د څيزونو سره د ګډ وډ كيدو انديښنه وي. د رهنُمائي د پاره څه نښې مخكښې راروانې دي.

(پيزار، څادر وغيره باندې نوم يا د هرې ژبې څه حَرف مَثَلًا A,B وغيره مه ليكئ بلكه كه كيدې شي نو د پيزار او څادر نه د كمپنئ نوم هُم وران كړئ، كه ليبل پرې لګيدلې وي هغه هُم ترې جُدا كړئ چه د ښپو نه لاندې راتلو په وجه ئې بې اَدَبي ونشي. د هرې ژبې د حُروفِ تَهَجِّـى (Alphabets) ادب كوئ. د دې مسئلې تفصيل د فيضانِ سُنَّت باب ”**فيضانِ بِسْمِ الله**“ كښې په صفحه ..... تا ..... كښې اوګورئ)

# په اِعتِكاف كښې د بيماريدو وجهې

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ سَګِ مدينه عُفِيَ عَنْهُ د ډيرو كلونو نه د **مُعتَكِفِينو** په خِدمتونو كښې د حاضرئ سعادت حاصلوي. د اِعتِكاف په دوران كښې مې ډير اِسلامي وروڼه په بيماريدو ليدلې دي. د دې يو ډير غټ سبب ”د خوراك بې احتياطي“ ده. د كور كسان او دوستان وغيره ورته ښه او خوندور طعامونه، خوشبودار او خواږه خواږه خوراكونه، كباب سموسې، **پِزّې**، پكوړې، تُرشې چكنيانې، كِچړا او تراوې تراوې آلو چولې او پيشمنې كښې پيروې پراټې، خوږې مينچې وغيره وړاندې كوي او بعضې مُعتَكِفِين د ډير حِرص په وجه د انجام نه بې خبره څه مخې له



www.dawateislami.net

ورځي خوري ئې او په صحيح طريقه جُوولو نه بغير ئې زر زر خيټې ته رسوي. تتيجه دا چه د قبض، ګيس، د خيټې د در، بدهضمئ، دست، ګرځُون [يعني اُلتئ]، د بدن د سستئ، نزله، زُکام، تبه، د سر او بدن درد وغيره بيمارو کښې اخته شي. بعضې عاجزان د ډيرې جذبې سره د ډير ډير عبادت کولو په سوچ د اِعتِکاف د پاره د کورونو نه راروان شوي وي خو په ډير خوراك کولو بيماران شي او بعضې وخت خو خبره دې حد ته ورسي چه د لـمانځه جَمعه ولاړه وي خو دا غريب د سر درد او تبې په وجه په جُمات کښې پروت فريادونه کوي.

نا سمجھ بیمار کو امرت بھی زہر آمیز ہے سچ یہی ہے سو دوا کی اک دوا پرہیز ہے

## د خوراك د احتياط فائده

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د **تبليغِ قُرآن و سُنَّت** د عالـمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** په عالمي مَدَنـي مرکز فيضانِ مدينه **بابُ الْمَدينه** کراچئ کښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك پوره مياشت زرګاؤ عاشقانِ رَسُول مُعتَکِف کيږي. په آخرئ عَشره کښې نوره اضافه وشي. هغوئ ته وړاندې کولو والا خوراکونو کښې د بناسپتي غوړو د بندولو او په تيلو او مصالحو کښې نيم په نيمه کمي کولو او په کبابو او سموسو او پکوړو باندې د پابندئ لګولو درخواستونه کولو کولو سره پرې څه نه څه عمل وشو او دغسې د اِعتِکاف په دوران کښې د مريضانو په شَرح کښې ښه ډيره کمي راغله. کاش چه! هر يو اِعتِکاف والا جُمات کښې بلکه د مسلمانانو په هر کور کښې په دې ذِکر کړې شوو احتياطونو عمل وکړې شي.

## ما ته د مسلمانانو صِحت عزيز دې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ زه د مسلمانانو د روحاني اِصلاح سره سره د دوئ د بدني صِحت او کاميابئ هُم خواهش مند يم. کاش! کاش! چه مُعتَکِفِين زما د درخواستونو مطابق د خواهش نه کم خوراك کوي او بې وخته مختلفو څيزونو خوړلو نه ځان وساتي او د صِحَت او عافِيَّت سره په



www.dawateislami.net

عِبادت او تربِيَّت كښې حِصّه واخلي او د **اِجتِماعي اِعتِكاف** په ختميدو د اختر په شپه سمدستي په **مَدَني قَافِله** كښې د عاشقانِ رَسُول سره د سُنَّتو ډك سفر كولو قابِل اوسي. كه زما په عرض كړو غذائي احتياطونو تول عُمر عمل كوئ نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ ژوند به مو ښكلي تيريږي او د ډاكټرانو او دوايانو د خرچو نه به هُم خلاص اوسئ. (براهِ كرم! د فيضانِ سُنَّت باب آدابِ طعام صفحه ...... 440 اردو تا ...... 451 اردو كښې د طعام جَدوَل او طِبّي مشورو نه ډك مكتُوبِ عَطّار ولولئ) ستاسو د تندرسته اوسيدو زه په دې وجه هُم خواهش لرم چه دغسې به مو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ د عبادتونو جذبه زياتيږي او د سُنَّتو د تربِيَّت په **مَدَني قَافِلو** كښې به مو شوق هُم زياتيږي. چه تاسو صِحتمند ئې نو د لمونځونو ادائيګي او په سُنَّتو عمل او د مور او پلار او بال بچو د خِدمت د پاره به منډه تره هُم كولې شئ.

## د ظالِمانو د پاره د اُوګږده عُمر دُعا كول څنګه دي؟

په خپلو مسلمانانو ورونړو باندې ظُلم او زياتي كوونكو او په ګناهونو كښې اخته خلقو ته دِ **اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت** عَزَّوَجَلَّ هِدايت وركړي. د داسې خلقو [روغ] صِحت هُم اكثر په ګناهونو كښې د زياتوالي سبب جوړيږي. حضرتِ سَيِّدُنا سُفيان ثَوري رَحْمَةُاللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: خوك چه د يو ظالِم د پاره د اُوګږده عُمر دُعا كوي، لكه دا خبره چه خوښوي چه د **اللّٰه** تعالىٰ (نوره) نافرماني دِ وشي.“ (حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء ج۷ ص۴۸ حديث۹۵۴۸) خو د ظالِمانو د پاره د ظُلم نه د توبه كولو او د صِحت او خير سره د سُنَّتو ډك اُوګږد عُمر دُعا كيدې شي. د طعام د احتياطونو قيمتي معلوماتو د پاره د فيضانِ سُنَّت باب ”**د خيټې قُفلِ مدينه**“ ضرورر ولولئ.

## د مسلمانانو خير غوښتل د ثواب كار دي

حضرتِ سَيِّدُنا جَرِير بِن عبدُاللّٰه رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي: ما د حُضُور تاجدارِ رِسالت صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه په لمانځه كولو، زكوٰة وركولو او د هر مسلمان خير خواهي كولو [يعني ښيګڼه



www.dawateislami.net

غوښتلو] باندې بَيعَت كړې دې.“ (بُخاری ج١ ص٣٥ حدیث ٥٧) اعلىٰ حضرت رَحْمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: د اسلام د هر نفر ښيګړه غوښتل په هر مسلمان فرض ده.“ (فَتَاوٰی رَضَوِیَّہ ج١٤، ص٤١٥) اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ خپل ځان د مسلمانانو په خيرخواهانو كښې د شاملولو او د ثواب ګټلو په پاكه جَذبه مې د دُعا سره سره د صِحَّت مند اوسيدو د پاره يو څو مدَني ګلونه وړاندې كړي دي. كه صرف د دُنيا د ښائِست نه د مزو اخستلو د پاره د تندُرُسته اوسيدو خواهِش لرئ نو بيشكه مكتوب [يعني خط] لوستل په هم دې ځائ پريږدئ او كه د ښه صِحَّت په ذريعه د عبادت او د سُنَّتو د خدمت كولو د پاره د قُوَّت حاصلولو ذِهن لرئ نو د ثواب ګټلو په غرض ښه ښه نيتونه وكړئ او دُرُود شريف ولولئ او [لوستل] جاري ساتئ او په شوق ئې ولولئ:

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اللّٰه رَبُّ العِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ زما، ستاسو او د ټول خاندان او د ټول اُمَّت بخښنه وكړي او مونږ ته دِ د صِحَّت او عافِيَّت سره د دعوتِ اسلامي په مدَنی ماحول كښې د اوسيدو او د اسلام د خدمت كولو استِقامت را نصيب كړي. اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ زمونږه بدني بيمارئ لري كړي او مونږه دِ بيمارِ مدينه [يعني د مديني عاشقان] جوړ كړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

# كباب سموسې خوړلو والا تَوجُّه وكړئ

د **بازارونو** او دعوتونو خوندورې سموسې خوړلو والا دِ تَوَجُّه وكړي! عام طور **كباب سموسې** خرڅولو والا **قيمه** نه وِينځي. هغوئي وائي چه كه قيمه او وِينځلې شي نو د كباب سموسې خوند كميږي! په بازاري قيمه كښې بعضې وخت څه څه وي دا هم واورئ! د غوا د **لري** نه دننه طرف ته نرې [زِيك] پوستكې لرې كړې او نور پيړ لري سره تورې بلكه مَعَاذَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ كله خو **پرم شوي وِينه** يو ځائ په مشين كښې واچوي او ورسره ميده ئې كړي نو دغسې د لري سپينه قيمه د غوښې د قيمې په شان **ګلابي** شي. او هغه په دوكه د غوښې په قيمه كښې ګډه كړې شي كله



www.dawateislami.net

كله **كباب سموسې** خرخولو والا د هغې سره يو ځائ د ضرورت مطابق اَدرك او اُوګه وغيره هم ميده كړي نو بيا خو د هغه قيمې د وِينځلو سوال نه پيدا كيږي، او بيا په هم هغه قِيمه كښې مرچكي او مصاله واچولې شي او سره كړې شي او د هغې نه **كباب سموسې** جوړوي او خرخوي ئې. په هوټلو كښې هم د دغسې قيمې د اِنګولې انديښنه وي. د ګنده **كباب سموسو** والؤ نه **پكوړې** وغيره هم مه اخلئ ځكه چه كړې يو وي او تيل هم هغه د ګنده قيمې والا وي. خير زه دا نه وايم چه مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ هر غوښې خرخولو والا داسې كوي يا خدا نخواسته هر كباب سموسې والا ناپاكه قِيمه استِعمالوي. يقيناً د خالِصې غوښې قِيمه هم پيدا كيږي. او كه د دوكې وركولو نه بغير اُووائي چه د لړي د بهر پيړ طرف قيمه ده او بيا ئې خرخوي نو هُم ګُناه نه ده. د عرض كولو مقصد مې دا دې چه **قيمه** يا **كباب سموسې** د قابِلِ اِطمِينان مسلمان نه اخستل پكار دي او كوم مسلمانان چه داسې ناپاكه حركتونه كوي هغوئي له توبه كول پكار دي.

## سرو كړو څيزونو نه كيدو والا ۱۹ بيمارئ

﴿۱﴾ د بدن وزن ورسره زياتيږي ﴿۲﴾ [سرو كړو خوراكونو سره] د كولـمو ديوالونو ته نقصان رسي ﴿۳﴾ په اِجابَت يعني د خيټې په صفائي كښې ګړ بړ پيدا كيږي ﴿٤﴾ د خيټې درد ﴿۵﴾ زړه راډكيدل [يعني اُلټئ محسوسيدل] ﴿٦﴾ ګرځون [يعني اُلټئ] يا ﴿۷﴾ دستونه هُم كيدې شي ﴿۸﴾ سره كړې څيزونه اِستعمالول په وِينه كښې نقصان وركوونكې كوليسټرول يعني LDL جوړوي ﴿۹﴾ او په فائده مندو كوليسټرولو HDL كښې كمې راولي ﴿۱۰﴾ په وينه كښې پرم شوې ټُكړې جوړيږي ﴿۱۱﴾ هاضمه خرابيږي ﴿۱۲﴾ ګيس پيدا كيږي ﴿۱۳﴾ زيات تودو كړو تيلو كښې يوه زهرژنه ماده "ايكرولين" (Acrolein) پيدا كيږي او هغه په كولـمو كښې زخم پيدا كوي بلكه مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ ﴿١٤﴾ د كينسر سبب هُم جوړيدې شي ﴿۱۵﴾ تيل زيات وخته پورې تودولو او په هغې كښې د [څيزونو] سرو كولو د عمل نه يوه بله خطرناكه زهرژنه مادّه



www.dawateislami.net

”فري ريډيکلز“ پيدا کيږي او هغه د زړه د مرضونو ﴿۱۶﴾ د کينسر ﴿۱۷﴾ د جوړونو د پړسوب ﴿۱۸﴾ د دِماغو د مرضونو او ﴿۱۹﴾ زر بوډا والي راوستلو سبب جوړيږي.

د ”فري ريډيکلز“ نومي خطرناکي زهرژني مادّې پيدا کوونکي نور عوامِل هُم شته مَثَلًا ۞ د تماکو نشه ۞ د هوا ګندګي (خنګه چه نن صبا هر وخت په کورونو کښې کوټه بنده ساتلې کيږي، نه لمر راتلې شي او نه تازه هوا) ۞ د ګاډي لوګي ۞ ايکسرې (X-ray) ۞ مائکروويواَوَن ۞ د T.V او ۞ کمپيوټر د سکرين شعاګاني ۞ د هوائي سفر تابکاري (يعني د هوائي جهاز د شعاګانو پريښودلو عمل)

## د خطرناکو زهرو رد

الله تعالٰی د دې خطرناکو زهرو يعني د ”فري ريډيکلز“ رَد هُم پيدا کړې دې چنانچه د کومو سبزيانو او شنو ميوو رنګ چه شين، زيړ يا نارنجي وي دا هغه خطرناك زهر تباه کوي د دې قِسم ميوو او سبزيانو رنګ چه څومره پوخ وي هغه هُمره په هغې کښې وِټامِنز او مَعدَني اَجزاء هُم په زيات مِقدار کښې وي او هغه دا زهر په زيات قُوّت ختموي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د سرو کړو خيزونو د نقصان کمولو طريقه

په دوو خبرو عمل کولو سره د سرو کړو خيزونو په نقصان کښې کمې راتلې شي: (۱) کباب، سموسې، پکوړې، اګئ، مهي وغيره سره کولو د پاره چه کوم ګړې يا ارکاره استعماليږي هغه نان ستِك (Non-stick) پکار وي [(Non-stick) يعني لوښي ته يو مخصوص مخ ورکړې شوې وي چه په هغې پورې سره کړي خيزونه نه نښلي] (۲) د سرو کولو نه پس يو يو خيز په بې خوشبو ټِشو پيپر کښې په ښه طريقه تاؤ کړې شي چه څه نه څه تيل ترې جذب شي.



www.dawateislami.net

## د پاتې شوو تيلو بيا اِستعمالولو طريقه

د پوهانو وينا ده چه: يو ځل [ځيزونو] سره كولو د پاره اِستعمالولو نه پس تيل دوباره تودول نه دي پكار. كه بيا اِستعمالول وي نو د دې طريقه دا ده چه هغه دِ چنړ كړې شي او بيا دِ په ريفريجريټر [يعني فِرِج] كښې كيښودلې شي، بې چنړه په فِرِج كښې ايښودل نه دي پكار.

## فنِّ طِب يقيني نه دې

د سرو كړو ځيزونو د نُقصاناتو مُتَعَلِّق چه ما څه عرض وكړو هغه زما خپل نه بلكه د طبيبانو تحقيق دې. دا اُصول د ياد ساتلو قابِل دې چه فنِّ طِب ټول ظَنِّي [يعني په گُمان مُشتمِل] دې يقيني نه دې.

## فيشن پرست د سُنَّتو مُبَلِّغ جوړ شو

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د نقصان وركوونكو ځيزونو حِرص ختمولو، د فِرنگي فيشن نه ځان خلاصولو، په سُنَّتو عمل كولو او خپل زړه د عِشقِ رَسُول مدينه جوړولو د پاره د تبليغِ قُرآن و سُنَّت د عالمگير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د سدا بهار مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تړون مضبوط ساتئ. راځئ چه ستاسو د ترغيب د پاره يو ښكلې او خوشبودار مَدَني سپرلې تاسو ته واروّوم چنانچه د **اَندور** ښار (ايم. پي اَلهِند) يو ماډرن [فيشني] ځلمي د ١٤٣٦ھ د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په آخرئ عَشره كښې د عاشقانِ رَسُول سره د اِعتِكاف كولو سعادت حاصل كړو. د عاشقانِ رَسُول د صُحبت په بَرَكت ئې په زړه كښې **مَدَني انقلاب** راپورته شو، گيره مباركه ئې پريښودله او شنه عمامه شريفه ئې په سر كړه، سمدستي د دولسو ورځو د پاره د سُنَّتو د تربِيَّت د **مَدَني قَافِلې** مُسافر جوړ شو، ښه په مَدَني رنگ كښې رنگ شو. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي هُم جوړ شو او اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې ليك د وخته پورې په خپل ښار كښې د



www.dawateislami.net

**دعوتِ اسلامي** د یو حلقه مُشاورت د نِګران په حیثیت مَدَني کارونه عام کولو کښې مصروف دي.

ګرچه دل میں ہے فیشن کی الفت بھری مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
عمر آئندہ گزرے گی سنت بھری مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٣٩)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د اِسلامي خویندو اِعتِکاف

**اُمُّ الْمُؤمِنِین** حضرتِ سَیِّدَتُنا عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا رِوایت فرمائي: د نبیانو سردار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د آخرئ عَشرې **اِعتِکاف** کولو، تر دې چه **الله** تعالیٰ وَفاتِ (ظاهِري) ورکړو. بیا به د هغوئي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اَزواجِ مُطَهَّراتو رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُنَّ اِعتِکاف کولو.'' (بُخاری ج١ ص٦٦٤ حدیث ٢٠٢٦)

## اسلامي خویندې دِ هُم اِعتِکاف کوي

**اسلامي خویندو** ته هُم د اِعتِکاف سعادت حاصلول پکار دي. ولې چه اسلامي خویندې په مسجِدِ بَیت کښې (تفصیل مخکښې راروان دې) چه هغه ډیر **مُختصر** ځائ وي په هغې کښې **اِعتِکاف** کوي، په دې کښې یو قِسم د **قَبْر** یاد هُم شته دې، چه د لونړو او هینګوریانو او وړو وړو ماشومانو په ګنړه ګُونړه کښې لسو ورځو د پاره په یو ګوَټ کښې کښیناستل مشکِل بِښکاري نو د الله عَزَّوَجَلَّ او رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ناراضئ په صُورت کښې به په قبر کښې یواځې زرګاؤ کلونه څنګه تیریږي! هیڅ عَجَبه نه ده چه **الله** تعالیٰ د دې اِعتِکاف په بَرَکت او په خپل رحمت ستاسو قبر د نظر د



www.dawateislami.net

حده پورې فراخه کړي او په نُورِ مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ئې روښانه کړي. هرې اسلامي خور ته په ژوند کښې کم از کم یو ځل خو دا سعادت ضرور حاصلول پکار دي.

## د "فیضانِ خاتونِ جَنَّت" د دیارلسو حُرُوفو په په نِسبَت د اسلامي خویندو د پاره ۱۳ مَدَني ګلونه

﴿۱﴾ اِسلامي خویندې دِ په مسجِدِ بَیت کښې اِعتِکاف کوي. مسجِدِ بَیت هغه ځائ ته وائي کوم چه زنانه د خپل لـمانځه د پاره مخصُوص کړي. د اسلامي خویندو د پاره دا مُستَحَب هُم دي چه په کور کښې د لـمانځه د پاره ځائ مُقرر کړي او هغه ځائ پاك او صفا ساتي او بهتره دا ده چه هغه ځائ د چوترې وغیره په شان اوچت کړي. بلکه اسلامي ورونړو ته هُم پکار دي چه د نفلونو د پاره په کور کښې څه ځائ مُقرَّر کړي ځکه چه نفل لـمونځ په کور کښې کول غوره دي. (دُرِّمُختار، رَدُّالْمُحتَار ج۳، ص٤۹٤، بهارِ شریعت ج۱ ص۱۰۲۱ مُلَخَّصاً)

﴿۲﴾ که اِسلامي خور د لـمانځه د پاره څه ځائ نه وي مُقرر کړې نو په کور کښې **اِعتِکاف** نه شي کولې البته که هغه وخت یعني چه کله ئې د **اِعتِکاف** اِراده وکړه، څه ځائ د لـمانځه د پاره خاص کړي نو هغه ځائ کښې **اِعتِکاف** کولې شي. (دُرِّمُختار، رَدُّالْمُحتَار ج۳، ص٤۹٤)

﴿۳﴾ د بل چا په کور کښې اسلامي خور اِعتِکاف نه شي کولې.

﴿٤﴾ د خاوند د اِجازت نه بغیر د ښځې اِعتِکاف کول جائز نه دي. (رَدُّالْمُحتَار ج۳ ص٤۹٤)

﴿۵﴾ که ښځې د خاوند په اِجازت اِعتِکاف شروع کړو، وروسته ئې خاوند منع کول غواړي نو بیا ئې نه شي منع کولې او که منع کوي ئې نو د ښځې په ذِمَّه د هغه [د حُکم] تعمیل واجب نه دې. (عالمگیری ج۲، ص۲۱۱)



www.dawateislami.net

﴿٦﴾ د اسلامي خويندو د اِعتِكاف د پاره دا هُم ضروري دي چه هغه د حَيض او نِفاس نه پاكې وي ځكه چه په هغه ورځو كښې لمونځ، روژه او تِلاوَت حرام دي. (عامهٔ كُتب) (د ښځې چه د ماشوم پيدا كيدو نه پس كومه وِينه راځي هغې ته نِفاس وائي. د هغې زيات نه زيات ميعاد څلويښت ورځې او څلويښت شپې دي، كه د څلويښتو شپو ورځو نه پس وِينه بنده نه شوه نو بيماري ده، غُسل دِ وكړي او لمونځ او روژه دِ شروع كړي. اسلامي خويندو ته دا عامه غلط فهمي ده چه د نِفاس ميعاد څلويښت ورځې دي حالانكه داسې نه ده. د شريعت حُكم دا دې چه كه وِينه په يوه ورځ كښې بنده شوه، بلكه كه د ماشوم كيدو نه فوراً پس بنده شوه نو نِفاس ختم شو، غُسل دِ وكړي او لمونځ روژه دِ شروع كړي. د حيض ميعاد كم نه كم درې ورځې او درې شپې دي او زيات نه زيات لس ورځې او لس شپې دي. درې ورځو او درې شپو نه پس چه كله هُم وِينه بنده شوه فوراً دِ غُسل وكړي او لمونځ وغيره دِ شروع كړي. (دلته د خاوند لرونكو د پاره څه تفصيل شته دې دا د بهارِ شريعت جِلد اوّل په صفحه ٢ كښې لازمي اوګورئ) او كه د لسو ورځو شپو نه پس هُم وِينه جاري وي نو اِستِحاضه يعني [جُدا] بيماري ده، چه لس ورځې او شپې ختمې شي فوراً دِ غسل كوي او لمونځ روژه دِ شروع كوي)

﴿٧﴾ كه د ماهوارئ تاريخونه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په آخرئ عَشره كښې راتلونكي وي نو اِعتِكاف مه شروع كوئ.

﴿٨﴾ كه زنانه ته حيض راشي نو اِعتِكاف به ئې مات شي. (بدائع الصنائع ج٢ ص٢٨٧) په دې صُورت كښې چه په كومه ورځ د هغې اِعتِكاف مات شوې دې صرف د هغه يوې ورځې قضا به د هغې په ذِمَّه واجِب وي. (رَدُّالْمُحتَار ج٣ ص٥٠٠) د ماهوارئ نه پاك كيدو نه پس دِ يوه ورځ د قضا راګرځولو په نِيَّت د يوې ورځې اِعتِكاف وكړي. كه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك ورځې باقي وي نو په هغې كښې هُم قضا راګرځولې شي، په دې صُورت كښې به ئې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك روژه نيول كافي شي. كه په هغه ورځو كښې قضا راګرځول نه غواړي يا د هغې د پاك كيدو نه مخكښې رَمَضَانُ الْمُبَارَك ختم شي نو په بله يوه ورځ دِ ئې قضا راوګرځوي. خو د واړه اختر او د ذُوالْحِجَّةُ الْحَرَام



www.dawateislami.net

د لسم نه واخله دیارلسم پورې نه علاوه، ځکه چه د دې پینځه ورځو روژې مکروهِ تَحریمي دي. (دُرِّمُختار ج۳ ص۳۹۱)

## د اسلامي خور د پاره د اِعتِکاف د قضا راګرځولو طریقه

﴿۹﴾ د دې طریقه دا ده چه د لـمر پریوتلو په وخت (بلکه احتیاط په دې کښې دې چه یو څو مِنَټه مخکښې) دِ د اِعتِکاف د قضا راګرځولو په نِیَّت مسجِدِ بیت ته لاړه شي او اوس چه به کومه ورځ راځي د هغې د لـمر پریوتو پورې دِ مُعتَکِفه اوسي. په دې کښې روژه شرط ده.

﴿۱۰﴾ د شرعي ضروریاتو نه بغیر د اِعتِکاف د ځائ نه وتل جائز نه دي، د هغه ځائ نه د کور بلې یوې حِصّې ته تللو د پاره هُم نه شي پاځیدلې، که لاړه شي نو اِعتِکاف به ئې مات شي.

﴿۱۱﴾ اسلامي خویندو د پاره هُم د اِعتِکاف د ځائ نه د لرې کیدو هُم هغه اَحکام دي کوم چه اسلامي ورونړو د پاره دي. یعني د کومو ضرورتونو په وجه چه د اِسلامي ورونړو د جُمات نه وتل جائز دي، د هُم هغه [کارونو] د پاره اسلامي خویندو ته هُم د خپل ځائ نه لرې کیدل جائز او د کومو کارونو د پاره چه سړو ته د جُمات نه وتل جائز نه دي، د هغې د پاره اسلامي خویندو ته هُم د خپل ځائ نه لرې کیدل جائز نه دي.

﴿۱۲﴾ اسلامي خویندې په خپل ځائ ناستې ناستې د ګنډولو او [مړئ، مشکنړي وغیره] پیولو کار کولې شي، د کور د کارونو د پاره نورو ته هِدایات هُم ورکولې شي خو پخپله دِ نه ورځي.

﴿۱۳﴾ بهتره دا ده چه د اِعتِکاف په دوران کښې ټوله تَوجُّه تِلاوت، ذِکر و دُرُود، تَسبِیحاتو، دِیني مُطالَعې، د سُنَّتو ډکو بیاناتو سي ډیانو او کیسټو اوریدو وغیره طرف ته وي.



www.dawateislami.net

**يا ربّ مُصطَفیٰ** عَزَّوَجَلَّ! د هر اِسلامي ورور او هرې اِسلامي خور اِعتِكاف قبول كړې او د دې بيشميره بَرَكتونه وركړې. يا **الله** عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته هُم د **اِعتِكاف** كولو سعادت رانصيب كړې. اٰمِين **بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د ”جَنَّتِ نعيم“ د ووه حُروفو په نِسبت مُتَفَرِّق ۷ فرامين مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

﴿۱﴾ خوك چه جُمات سره مَحَبَّت لري **الله** تعالیٰ هغه سره مَحَبَّت فرمائي. (مُعْجَمُ اَوْسَط ج٤ ص٤٠٠ حديث٦٣٨٣) حضرتِ عَلَّامه عبد الرَّؤُوف مُناوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې په شرح كښې ليكي: جُمات سره مَحَبَّت په دې شان دې چه د رِضائے اِلٰهي د پاره په هغې كښې د اِعتِكاف، لـمانځه، ذِكرُ الله او شَرعي مسائلو زده كولو او ښودلو د پاره د ناست اوسيدو عادت جوړول دي (فيض القدير ج٦ ص١١٢ تحت الحديث٨٥٢٤) ﴿۲﴾ ”بيشكه جُماتونه په زمكه كښې د **الله** تعالیٰ كورونه دي او په **الله** تعالیٰ باندې حق دې چه هغه (د خپل كور د) زيارت [يعني دِيدار] كولو والا اِكرام (يعني عِزَّت) وكړي. (مُعجَم كَبِير ج١٠ ص١٦١ حديث١٠٣٢٤) حضرتِ عَلَّامه عبد الرَّؤُوف مُناوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې په شرح كښې فرمائي: يعني جُماتونه هغه ځائيونه دي، كوم چه **الله** تعالیٰ د خپل رحمت نازلولو د پاره غوره كړي دي (فيض القدير ج٦ ص٥٦٤) ﴿۳﴾ جُمات كښې خندل په قبر كښې تِياره ده (يعني تياره راولي) (اَلْفِرْدَوْس بِمَأْثُورِ الْخطاب ج٢ ص٤٣١ حديث٣٨٩١) ﴿٤﴾ خوك چه قصداً [يعني اِرادَتاً] يو لـمونځ هُم پريږدي د هغه نوم به د جَهنَّم په هغه دروازه وليكلې شي په كومه به چه هغه جَهنَّم ته داخليږي (حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء ج٧ ص٢٩٩ حديث١٠٥٩٠) ﴿۵﴾ مِسواك د خُلې د پاكيزګۍ او د **الله** تعالیٰ د خوشنودۍ [يعني رِضا] سبب دې (اِبنِ مَاجَه ج١ ص١٨٦ حديث٢٨٩) ﴿٦﴾ **چُغلي** كوونكې به جَنَّت كښې نه داخليږي (بُخارِی ج٤ ص١١٥ حديث٦٠٥٦) ﴿۷﴾ ګناه نه توبه كوونكې داسې دې لكه هغه چه ګُناه هډو كړې نه وي. (اِبنِ مَاجَه ج٤ ص٤٩١ حديث٤٢٥٠)



www.dawateislami.net

## د نښو نموني



صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

تُوبُوا اِلَی الله! اَسْتَغْفِرُ الله

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد



www.dawateislami.net




## عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ورله تش لاس دم کړو....

**يو ځل** يو سوالګر د کُفَّارو نه سوال وکړو، مخامخ **اَميرُ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سيِّدُنا عليُّ الْمُرتَضٰى، شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم ناست وو هغوئي د توقي د پاره د هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم خوا ته وليږو. هغه حاضِر شو او د سوال کولو د پاره ئي خپل لاس خور کړو، هغوئي كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم **لس ځله دُرُود شريف** ولوستو او د هغه ورغوي [يعني د لاس تلي] ئي پرې دَم کړو او ورته ئي اوفرمائيل چه: مُوټې بند کړه او چا چه راليږلي ئي لاړ شه د هغوئي په مخکښې ئي خلاص [يعني بيرته] کړه.

(کُفّارو خندل چه په هسې پوکلو څه کيږي!) خو چه کله سوالګر د هغوئي خوا ته ورغلو او مُوتې ئې خلاص کړو نو په هغې کښې يو دِينار [يعني د سرو زرو اشرفۍ] وه! دا ګرامت ئې چه وليدو نو ډير کُفّار مسلمانان شو. (رَاحتُ الْقُلُوب ص۵۰)

وِرد جس نے کیا درود شریف — اور دل سے پڑھا درود شریف
حاجتیں سب روا ہوئیں اس کی — ہے عجب کیمیا درود شریف

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د الله تعالیٰ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په باره کښې اِرشاد فرمائيلي دي چه د دې مياشتې وړومبۍ عَشره رَحمت، دويمه مغفِرت او دريمه عَشره د جَهنَّم نه د آزادۍ ده. (ابن خُزَيمه ج۳ ص۱۹۲ حديث ۱۸۸۷)

معلومه شوه چه رَمَضَانُ الْمُبَارَك د رحمت، مَغفِرت او د جَهنَّم نه د آزادۍ مياشت ده، لِـهذا د دې رَحمتونو او بَرَکتونو ډکې مياشتې نه فوراً پس مونږ ته د اختر د خوشحالۍ کولو موقع راکړې شوې ده او د عِيدُ الْفِطْر [يعني وړوکي اختر] په ورځ خوشحالي ښکاره کول مُستَحَب دي. د الله تعالیٰ په فضل و رَحمت باندې د خوشحالۍ کولو ترغيب خو پخپله په قُرآنِ کريم کښې هُم موجود دې. چنانچه په يوولسمه سيپاره سُوْرَةُ يُوْنُس آيت نمبر ۵۸ کښې اِرشاد کيږي:

قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَبِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا ؕ

مَفهُوم ترجمۂ کَنزُالاِيمان: ته اووايه د الله په فضل او هُم د هغه په رَحمت او هُم په هغې پکار ده چه خوشحالي وکړي.



www.dawateislami.net

## زړه به ئې ژوندي اوسي

د ټولو نبيانو سُلطان، شاهِ دوجهان صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلي دي: چا چه د اخترو په شپه (يعني د واړه اختر او غټ اختر په شپه) د ثواب غوښتلو د پاره قِيام وکړو، په هغه ورځ به د هغه زړه نه مړ کيږي، په کومه ورځ به چه (د خلقو) زړونه مړه شي. (اِبنِ مَاجَه ج٢ ص٣٦٥ حديث١٧٨٢)

## جَنَّت واجِب شي

په يو بل مُقام کښې د حضرتِ سَيِّدُنا مُعاذ بِن جَبَل رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دي، فرمائي: څوك چه په پينځه شپو کښې شَب بيداري وکړي [يعني په عبادت کښې په ويښه شپه تيره کړي] د هغه د پاره جَنَّت واجِب شي. د ذُوالْحِجَّةُ الْحَرَام اَتمه، نَهَمه او لَسَمه شپه (دغسې درې شپې خو دا شوې) او څلورمه د واړه اختر شپه، پينځمه د شَعْبَانُ الْمُعَظَّم پينځلَّسمه شپه (يعني شَبِ بَراءَت). (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج٢ ص٩٨ حديث٢)

## د بخښنې عام اعلان

د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا نه رِوايت دي: چه کله د عِيدُ الْفِطْر شپه مبارکه راشي نو دا د "لَيْلَةُ الْـجَائِزَة" يعني "د انعام شپه" په نوم ياديږي. چه کله د اختر سحر شي نو الله تعالیٰ خپلې معصُومې فرښتې ټولو ښارونو ته وليږي، چنانچه هغه فرښتې په زمکه تشريف راوړي د ټولو کوڅو او لارو په سرونو ودريږي او داسې نِدا [يعني غږ] کوي: "اے اُمَّتِ مُحَمَّد! د هغه رَبِّ کريم د بارګاه طرف ته لاړ شئ! چه ډير زيات عطا کوونکې او د غټې نه غټه ګُناه بخښونکې دې." بيا الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰى خپلو بندګانو ته داسې مُخاطِب شي: "اے زما بندګانو! اُوغواړئ! څه غواړئ؟ زما د عِزَّت او جَلال قَسم دې! په نن ورځ په دې (د اختر د لمانځه په) اِجتِماع کښې چه د خپل آخرت په باره کښې څه سوال کوئ هغه به پوره کووم او څه چه د دُنيا په باره کښې غواړئ په هغې کښې به ستاسو د خير په باره کښې نظر کووم (يعني په دې مُعامَله کښې به هغه


www.dawateislami.net

کووم په څه کښې چه ستاسو خیر وي) زما د عِزَّت قَسم دې! تر څو پورې چه تاسو زما لِحاظ ساتئ زه به هُم ستاسو د خطاګانو پرده پوشي کووم. زما د عِزَّت او جَلال قَسم دې! زه به تاسو د حَد نه اَووښتلو والؤ (یعني مُجرِمانو) سره نه رُسوا کووم. بس خپلو کورونو ته بخښلي شوي بیرته وګرځئ. تاسو زه راضي کړم او زه هُم ستاسو نه راضي شوم.“ (اَلتَّرغِیْب وَالتَّرهِیْب ج۲ ص۶۰ حدیث۲۳)

## یو سوال کوونکې هُم مایوسه نه ځي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! سوچ خو وکړئ! د عِیدُ الْفِطْر ورځ څومره اَهَم ترینه ورځ ده، په دې ورځ د الله رَبُّ الْعِزَّت رَحمت په نِهایت جوش کښې وي او د دربارِ اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ نه یو سوال کوونکې هُم بیرته مایوسه نه لیږلې کیږي. یو طرف ته د الله تعالیٰ نیك بندګان د الله تعالیٰ په بیحده رحمتونو خوشحالیانې کوي نو بل طرف ته په مُؤمِنانو باندې چه د الله تعالیٰ دومره فضل و کرم اُووینې نو د انسان بد ترین دُښمن شیطان باندې اور بل شي. چنانچه

## د شیطان وارخطائي

حضرتِ سَیِّدُنا وَهب بِن مُنَبِّه رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیه فرمائي: چه کله هُم اختر راشي نو شیطان په چغو چغو ژاړي. د هغه وارخطائي چه اُووینې نو ټول شیطانان ترې ګیرچاپیره راجمع شي او تپوس ترې کوي: اے زمونږه سرداره! ته ولې غَضَب ناك او خفه ئې؟ هغه وائي: هائے افسوس! الله تعالیٰ په نن ورځ اُمَّتِ مُحَمَّد اُوبخښلو، لِهذا تاسو هغوئي په لَذَّاتو [یعني خوندونو] او نفساني خواهشاتو کښې مشغول کړئ. (مُکَاشَفَةُ الْقُلُوب ص۳۰۸)

## آیا شیطان کامیاب دې؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده! په شیطان باندې د اختر ورځ ډیره زیاته سخته تیریږي لِهذا هغه شیطانانو ته حُکم ورکړي چه تاسو مسلمانان په نفساني خوندونو کښې



www.dawateislami.net

مشغول كړئ! داسې ښكاري لكه په دې زمانه كښې چه شيطان په خپل وار كښې كامياب وي. د اختر په راتلو خو دا ﭘكار وه چه په ډيرو ډيرو عبادتونو او نيكو كولو د خپل **ربّ** عَزَّوَجَلَّ زيات نه زيات شُكر ادا كړې شي، خو افسوس! ډير ډير افسوس! اوس اكثرو مسلمانانو د اختر حقيقي مقصد هير كړې دې! افسوس! افسوس! اوس د اختر د خوشحالو كولو انداز دا جوړ شوې دې چه د بيهُوده نقش و نِگار بلكه **مَعَاذَاللّٰه** عَزَّوَجَلَّ د ژوندو ځيزونو تصويرونو والا د شوخ رنګونو جامې اغوستلې كيږي (بهارِ شريعت كښې دي چه په كومه جامه باندې د ژوندي ځيز تصوير وي او هغه په غاړه وي نو په هغې كښې لمونځ كول مكروهِ تَحريمي دې، د لمانځه نه علاوه هُم داسې جامه اغوستل ناجائزه دي. (بهارِشريعت ج١ص٦٢٧)) د ګډا او سندرو **محفلونه** ﭘكښې لګي، د ګناهونو نه ډكې ميلې، ګنده لوبې، ګډاګانې او د سندرو او فِلمونو او ډرامو اهتمام ﭘكښې كيږي او ښه په فراخه زړه ﭘكښې وخت او دولت دواړه په خِلافِ سُنَّت كارونو كښې بربادولې كيږي. افسوس! افسوس! اوس مسلمانان دا مُباركه ورځ په څومره غلطو كارونو كښې تيروي. زما اِسلامي وروڼړو! د دې خِلافِ شرع كارونو په وجه كيدې شي چه دا عيدِ سَعِيد د ناشُكرو د پاره ”يومِ وَعِيد“ جوړ شي. د خُدائے د پاره! په خپل حال رَحم وكړئ. فيشن پرستي او فُضُول خرچي پريږدئ! **اللّٰه** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فُضُول خرچ كوونكي په قُرآنِ **مجيد** كښې د شيطانانو وروڼړ ګرځولې دې. چنانچه سيپاره ١٥ **سُوْرَةُ بَنِیْٓ اِسرآءِيْل** آيت نمبر ٢٦ او ٢٧ كښې اِرشاد كيږي:

وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيْرًا ﴿۲۶﴾ اِنَّ الْمُبَذِّرِيْنَ كَانُوْٓا اِخْوَانَ الشَّيٰطِيْنِ ؕ

وَكَانَ الشَّيْطٰنُ لِرَبِّهٖ كَفُوْرًا ﴿۲۷﴾

مَفهُوم ترجمهٔ كَنْزُالْاِيمان: او خوشې [يعني فُضُول] ئې مه اَلوَځوه بيشكه [د مال] خوشې اَلوَځوونكي د شيطانانو وروڼړه دي او شيطان د خپل رب لوئ ناشكره دې.



www.dawateislami.net

د مَكْتَبَةُالْمَدِينه چاپ شوي "تفسير صِرَاطُ الْجِنان" جِلد ۵ صفحه ٤٤٧ تا ٤٤٨ كښې د دې آياتِ مباركه نه لاندې ﴿وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيْرًا﴾ او فُضول خرچي مه كوه.﴾ يعني خپل مال په ناجائزه كار كښې مه لګوه. حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله ابنِ مسعُود رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه د "تَبْذِير" متعلق تپوس وكړې شو نو هغوئي اُوفرمائيل چه په كوم ځائ كښې د مال خرچ كولو حق دې د هغې په ځائ چرته بل ځائ كښې خرچ كول تَبذِير دې. لِـهذا كه څوك خپل پورا مال په حق كښې يعني د هغې په مَصرف كښې خرچ كړي هغه فُضول خرچ كوونكي نه دې او كه څوك يو دِرهَم هُم په باطِل يعني ناجائزه كار كښې خرچ كړي نو هغه فُضول خرچ كوونكي دې. (تفيسرِ خازن ج٣ص١٧٢)

## د اِسراف ۱۱ تعريفونه

اِسراف بېشكه مَـمنُوع او ناجائزه دې او عُلَماءِ كِرامو د دې مختلف تعريفات بيان كړي دي، په هغې كښې ۱۱ تعريفونه لاندې ليكلې شوي دي: ﴿۱﴾ په غيرِ حق كښې صَرف [يعني خرچ] كول ﴿۲﴾ د الله تعالىٰ د حُـكم د حد نه اَووښتل ﴿۳﴾ په داسې كار كښې خرچ كول چه هغه د شرعِ مُطَهَّره يا مُروَّت [يعني د لِحاظ] خِلاف وي، ورومبې (يعني خِلافِ شريعت خرچ كول ) حرام دې او دويم (يعني خِلافِ مُروَّت خرچ كول) مكروهِ تنزِيهي. ﴿٤﴾ د طاعتِ اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ په غير كښې خرچ كول ﴿۵﴾ د شرعي حاجت نه زيات اِستعمالول ﴿٦﴾ په غيرِ طاعَت كښې يا د حاجت نه بغير خرچ كول ﴿۷﴾ په وركولو كښې د حق د حد نه كمې يا زياتې كول ﴿۸﴾ په ذليل غرض كښې زيات مال خرچ كول ﴿۹﴾ د حرامو نه څه [خوړل] يا حلال د اِعتِدال نه زيات خوړل ﴿۱۰﴾ په لائقه بنه خبره كښې د لائق مِقدار نه زيات لګول ﴿۱۱﴾ بې فائده خرچ كول.

## د اِصراف واضح تر تعريف، په غيرِ حق كښې مال خرچ كول

اعلٰی حضرت اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہِ د دې تعريفونو ذِكر كولو او د دې د تَحقِيق او تفصيل بيانولو نه پس فرمائي: زمونږ د كَلام ناظِر (يعني كتونكي) خيال كولې شي چه په دې ټولو

تعريفونو کښې د ټولو نه جامِع و مانِع و واضح وړومبې تعريف دې او ولې به نه وي چه دا د هغه عبدُالله تعريف دې چا ته به چه رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِلم کِيډۍ [يعني پنډه] وئيلو او د خُلَفائے اَربَعه عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان نه پس د ټول جهان نه په عِلم کښې زيات دې او د اَبُو حنيفه په شان اِمامُ الاَئِمّه مُورِثِ عِلم دې رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنه وعَنه وعَنهُم اَجْمَعِين.

## په تَبذير او اِسراف کښې فرق

اعلٰی حضرت اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه چه د "تَبذِير" او "اِسراف" د فرق مُتَعَلِّق کوم کلام ذِکر کړې دې د هغې خُلاصه دا ده چه د تبذِير په باره کښې د عُلَماءِ کِرامو دوه قوله دي: (۱)...... د تَبذِير او اِسراف دواړو معنٰی "ناحقه صَرف کول" دي. هُم دا صحيح ده ځکه چه هُم دا قَول د حضرتِ عبدُالله بِن مسعُود او حضرتِ عبدُالله بِن عَبّاس او عامو صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُم دې. (۲)...... په تَبذِير او اِسراف کښې فرق دې، تبذِير خاص په ګناهونو کښې د مال بربادولو نوم دې. په دې صُورت کښې به اِسراف د تبذِير نه عام وي ځکه چه ناحقه خرچ کول په عَبَث کښې خرچ کولو ته هُم شامِل دې او عَبَث مُطلقاً ګُناه نه ده نو ولې چه اِسراف ناجائزه دې ځکه به دا خرچ کول مَعصِيت وي خو په څه کښې ئې چه خرچ کړو هغه پخپله مَعصِيت نه وو. او عِبارت "لَا تُعْطِ فِي الْمَعَاصِيْ" (د هغه په نافرمانئ کښې مه ورکوه) نه هُم دا ظاهره ده چه هغه کار پخپله هُم مَعصِيت [يعني نافرماني] وي. خُلاصه دا ده چه د تبذِير مقصود او حُکم دواړه مَعصِيت دي او اِسراف ته صرف په حُکم کښې مَعصِيت لازِم دې.

(فَتَاوٰی رَضَوِيّه مُخرَّجة، ج۱(ب) ص۹۳۷تا ۹۳۹ مُلَخَّصاً)

## د انسان او حيوان فرق

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په انسان او حيوان کښې چه کوم مَابِهِ الْاِمْتِيَاز [يعني فرق کوونکې څيز] دې هغه عقل او تَدبِير، دُور بِيني او دُور انديشي [يعني لرې پورې نظر ساتل، او لرې پورې سوچ



www.dawateislami.net

كول] دي، عام طور حيوان د ”صبا“ فِكر نه لري او عام طور د هغه كوم حَرَكت د څه حِكمت په وجه نه وي، برخِلاف د انسان، او مسلمان خو ”صرف د دُنيوي صبا“ نه بلكه د دې دُنيوي صبا نه پس راتلونكي ”اُخرَوِي صبا“ هُم فِكر كوي. يقيناً پوهه انسان هُم هغه دې بلكه حقيقَتاً انسان هُم هغه دې څوك چه د ”اُخرَوِي صبا“ يعني د آخرت هُم فِكر وكړي، د حِكمَتِ عَمَلئ نه كار واخلي او دا فاني ژوند غنيمت وګڼړي او د باقي آخرت د پاره څه انتِظام وكړي. آه! اوس خو اكثر خلق د خپل ژوند مقصد ښه ډير مال ګټل، ښه ډير خوراك كول او بيا ښه د غفلت په خوب اُوده كيدل ګڼړي. ؎

کیا کہوں احباب کیا کار نمایاں کر گئے　　میٹرک کیا نوکر ہوئے پنشن ملی پھر مر گئے

## د ژوند مقصد څه دې؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د ژوند مقصد صرف غټې غټې ډګرئ حاصلول، خوړل څښل او مزې كول نه دي. الله تعالیٰ آخر مونږ ته ژوند ولې راكړې دې؟ راځئ چه قُرآنِ پاك ته عرض وكړو چه اے د الله تعالیٰ رښتيني كتابه! هُم ته مونږ ته لار وښايه چه زمونړه د ژوند او مرګ مقصد څه دې؟ د قُرآنِ كريم نه جواب راكولې كيږي:

خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَیٰوةَ لِیَبْلُوَكُمْ اَیُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًاؕ (پ۲۹ المُلك:۲)

مَفهُوم ترجمۂ کَنزُالْاِیمان: مرګ او ژوند ئې پيدا كړل چه ستاسو ازميښت وشي (چه په دُنياوي ژوند كښې) په تاسو كښې د چا كار زيات ښه دې.

(يعني دا مرګ او ژوند ځكه پيدا كړې شو چه ازميښت وكړې شي چه) د دې دُنيا په ژوند كښې څوك زيات مُطِيع (يعني فرمانبردار) او مُخلِص دې. (خَزائِنُ الْعِرفان ص۱۰۴۰)



www.dawateislami.net

# ماشوم په کور کښې پیدا شو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د شیطان د وار نه بچ کیدو کوشش د پاره د اختر ښکلي ساعتونه د عاشقانِ رَسُول سره په **مَدَني قَافِله** کښې تیر کړئ. ستاسو د ترغیب د پاره یو مَدَنـي سپرلې عرض کووم: د جِهلَم (صوبه پنجاب، پاکستان) یو اسلامي ورور څه داسې بیان دې چه د واده نه تقریباً شپږ میاشتې پس په کور کښې ''اُمِّید'' پیدا شو. ډاکټر اُووئیل چه ستاسو کیس مُشکِل دې، د وِینې کافي کمي ده، کیدې شي چه د آپریشن ضرورت پیښ شي! ماپه هغه ساعت **د یوې میاشتې** د **مَدَني قَافِلې** د مُسافِر جوړیدو نِیَّت وکړو، او یو څو ورځې پس **عاشقانِ رَسُول** سره په سفر روان شوم. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د مَدَني قَافِلې په بَرَکت داسې کرم وشو چه نه هسپتال ته د تللو ضرورت پیښ شو او نه یو ډاکټر ته د ښودلو ضرورت پیښ شو او ماشوم په کور کښې پیدا شو.

گھر میں امید ہو، اس کی تمہید ہو جلد ہی چل پڑیں، قافلے میں چلو
زچہ کی خیر ہو بچہ بالخیر ہو اٹھئے ہمت کریں، قافلے میں چلو

(وَسائلِ بخشِش ص ۲۷۵)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د حمل د حفاظت ۲ روحاني علاجونه

﴿۱﴾ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه په یوه رکیبئ (یا کاغذ) باندې ۱۱ ځله ولیکئ او په زنانه ئې وخښئ. اِنْ شَآءَالله تعالٰی د **حَمل** حِفاظت به کیږي. په کومه زنانه کښې چه پئ نه وي یا کم وي اِنْ شَآءَالله تعالٰی د هغې د پاره هم دا عمل فائِده مند دې. که غواړئ نو یوه ورځ ئې پرې وخښئ یا ډیرې ورځې، هر قِسم اختیار دې.

﴿۲﴾ يَاحَيُّ يَاقَيُّومُ ۱۱۱ ځله وليکئ او د **حامِله** په خيټه ئې وتړئ او د ماشوم د پيدائِش د وخته پورې دِ تړلې وي (ضرورتاً د څه ساعته پورې خلاصولو کښې باك نشته) اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ **حَمل** به هم محفوظه وي او ماشوم به هم صحت مند پيدا کيږي.

## عِيد يا وَعِيد

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! په لائقِ عذاب کارونو کولو ”يَومِ عِيد“ [يعني د اختر ورځ] د ځان د پاره ”يَومِ وَعِيد“ مه جوړوئ. او ياد ساتئ ؎

لَيْسَ الْعِيْدُ لِمَنْ لَّبِسَ الْجَدِيْد    اِنَّمَا الْعِيْدُ لِمَنْ خَافَ الْوَعِيْد

(يعني اختر د هغه نه دې چا چه نوې جامې واغوستلې. اختر خو د هغه دې څوك چه د عذابِ اِلٰهى نه وَيَريدو)

## اوليائے کرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى خو به هُم اختر کولو

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! نن صبا لکه چه خلق صرف نوې نوې جامې اغوستل او ښه ښه خوراکونه کول مَعَاذَالله **اختر** ګڼړي. لږ فِکر خو وکړئ! آخر زمونږه بُزُرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى اَجْمَعِين خو به هُم **اختر** کولو، خو د هغوئې د اختر کولو انداز به هُم عجيبه وو، هغوئې هميشه د نفس د خوندونو نه ځان ډير لرې ساتلې دې او په هر حال کښې ئې د خپل نفس مُخَالَفت کړې دې. چنانچه

## د اختر عجيبه طعام

حضرتِ سَيِّدُنا ذُو النُّون مِصري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د لسو کالو راستې يو خوندور طعام هُم نه وو خوړلې، نفس به غوښتله او هغوئې به مسلسل د نَفس مُخَالَفَت کولو، يو ځل ورته د **اختر مُبارك** په مُقَدَّسه شپه زړه مشوره ورکړه چه که صبا د **اختر مُبارك** په ورځ څه خوندور طعام اُوخوړلې شي نو څه باك دې؟ په دې مشوره باندې هغوئې رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه هُم زړه په ازميښت کښې د اچولو په



www.dawateislami.net

غَرَض اُوفرمائيل: ([بنه] زه مخکښې په دوه رکعاته نفلو کښې پوره قُرآن مجيد ختم کړم، اے زما زړه که ته په دې خبره کښې زما سره ملګرتيا وکړې نو صبا به درته خوندور طعام درکړې شي.“ لِـهذا هغوئي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه دوه رکعاته وکړل او په هغې کښې ئې پوره قُرآنِ کريم ختم کړو، زړه ئې په دې کار کښې ملګرتيا وکړه. (يعني دواړه رکعاته ئې په شوق ادا کړل) هغوئي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د اختر په ورځ خوندور طعام را اُوغوښتو، نوړئ ئې راپورته کړه او خُلې ته کول ئې غوښتل چه بې قراره شو او بيرته ئې کيښودله او وئې نه خوړله. خلقو ترې د دې د وجهې تپوس وکړو نو وئې فرمائيل: څه وخت چه ما نوړئ خُلې ته رانزدې کړه نو نفس مې اُووئيل: اُوګوره! زه آخر خپل د لسو کالو په خواهش کښې کامياب شوم که نه! ما هُم هغه وخت اووئيل: چه که دا خبره ده نو زه به تا کاميابئ ته پرېږ نه دم او بالکل به خوندور طعام نه خورم. چنانچه هغوئي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د خوندور طعام خوړلو اِراده پرېښودله. په دې کښې يو کس د خوندور طعام پتنُوس راغستې حاضر شو او عرض ئې وکړو: دا طعام ما د شپې ځان د پاره تيار کړې وو، د شپې چه اُوده شوم نو قِسمت مې رابيدار شو، په خوب کښې راته د تاجدارِ رِسالت صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دِيدار کولو سعادت نصيب شو، زما ګران ګران او خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته اِرشاد اُوفرمائيلو: که ته صبا د قيامت په ورځ هُم ما ليدل غواړې نو دا طعام ذُوالنُّون (رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه) له يوسه او هغوئي ته وايه چه ”حضرتِ مُحَمَّد بِن عبدُالله بِن عبدُ المُطَّلِب (صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) فرمائي چه د لږ ساعت د پاره نفس سره صُلح وکړه او يو څو نوړئ د دې خوندور طعام نه اوخوره.“ حضرتِ سَيِّدُنا ذُو النُّون مِصري رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ډير زيات خوشحاله شو او وئې وئيل: ”زه فرمانبردار يم، زه فرمانبردار يم.“ او خوندور طعام خوړل ئې شروع کړو. (تذکرةُ الاَوْلِياء ج١ص١١٧) **د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

رب ہے معطی یہ ہیں قاسم      رزق اس کا ہے کھلاتے یہ ہیں
ٹھنڈا ٹھنڈا میٹھا میٹھا      پیتے ہم ہیں پلاتے یہ ہیں

(حدائقِ بخشش ص٤٨٢، ٤٨٣)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!      صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد



www.dawateislami.net

## رُوح هُم ښكلې كړئ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په دې كښې هيڅ شك نشته چه د اختر په ورځ غُسل كول، نوي يا وينځلې شوې ښې جامې اغوستل او عِطر لګول مُسْتَحَب دي، دا مُسْتَحَبَّات زمونږه د ښكاره بدن د صفائي او ښائست سره تَعَلُّق لري. خو پكار ده چه زمونږه د دې صفا سُتره او نوو جامو او خوشبو لګولي صفا بدن سره سره زمونږه رُوح هُم د هغه اللّٰهُ رَحْمٰن جَلَّ جَلَالُهٗ چه زمونږه د مور او پلار نه هُم په مونږه زيات مهربانه دې په مَحَبَّت او اِطاعَت، او د اُمَّت د غمخوار، د دوارو جهانو د سردار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اُلفت او سُنَّتو ښه ښائسته كړې شوې وي.

## په ګندګئ د سپينو زرو پانړه تاوهل

لږ سوچ خو وكړئ! چا چه روژه يوه هُم نه وي نيولې او د رَمَضَانُ الْمُبَارَك تړوله مياشت ئې د اللّٰه تعالٰى په نافرمانئ كښې تيره كړې وي، په ځائ د عبادت ئې هره شپه په فِلمونو كتلو، سندرو اوسازونو اوريدلو او فُضول ګرځيدو كښې تيره كړې وي، خپل بدن او رُوح ئې شپه او ورځ په ګناهونو كښې اخته ساتلې وي او نن د اختر په ورځ ئې كه د انګريزي فيشن والا بدرنګې جامې واغوستلې نو داسې وګنړئ لكه يوه ګندګي وه او په هغې د پاسه ئې د سپينو زرو پانړه راتاو كړه او د هغې نُمائش ئې وكړو.

## اختر د چا د پاره دې؟

د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مَحَبَّت نه ډكو عاشقانو! رښتيا خبره خو دا ده چه اختر د هغه بختورو مسلمانانو برخه ده چا چه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك مُحترمه مياشت په روژو، لـمونځونو او نورو عِبادتونو كښې تيره كړې وي نو دا اختر د هغوئې د پاره د اللّٰه تعالٰى له طرفه د مزدورئ وصولولو ورځ ده. مونږ ته خو يَريدل پكار دي چه آه! مونږه د محترمې مياشتې هدو حق ادا نه كړې شو.



www.dawateislami.net

## د سَيِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اختر

حضرتِ عَلَّامه مولانا عبدُ المُصطَفیٰ اعظمي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: چه د اختر په ورځ يو څو کسان د اَميرُالمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ آستاني مبارکې ته حاضر شو نو څه ګوري چه هغوئي رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ په ځان پسې دروازه بنده کړې وه او ډېر زيات ژاړي. خلق حيران شو او عرض ئې وکړو: يااَميرَالمُؤمِنِين رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ! نن خو اختر دې او دا د خوشحالۍ کولو ورځ ده، د خوشحالۍ په ځائ دا ژړا څنګه؟ هغوئي رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ په اوښکو وچولو وچولو کښې دا اوفرمائيل: "هٰذَا يَوْمُ الْعِيْدِ وَ هٰذَا يَوْمُ الْوَعِيْد" يعني دا د **عِيد** [يعني اختر] ورځ هُم ده او د **وَعِيد** [يعني د خبرداري] ورځ هُم ده. د چا روژې او لمونځونه چه قبول شوي وي بيشکه د هغه د پاره نن د اختر ورځ ده، خو چه د چا لمونځونه او روژې **رَد** کړې شو او د هغوئي **مخونه** پرې ويشتلې شو د هغه د پاره خو نن د **وَعِيد** ورځ ده. (بيا ئې د عاجزۍ په طور اُوفرمائيل:) او زه خو د دې ويرې نه ژاړم چه آه! "اَنَا لَا اَدرِیْ اَ مِنَ الْمَقْبُوْلِيْنَ اَمْ مِنَ الْمَطْرُوْدِيْنَ" يعني ما ته دا نه ده معلومه چه زه مقبول شوي يم او که رَد کړې شوي يم. (نُورانی تقريريں ص ١٨٤)

عيد کے دن عمر يه رورو کر — بولے نيکوں کی عيد ہوتی ہے

(وَسائلِ بخشِش ص ٧٠٧)

**د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## زمونږه خوش فهمي

اَللّٰهُ اَكْبَر! (عَزَّوَجَلَّ) مَحَبَّت والؤ! لږ سوچ وکړئ! هُغه فاروقِ اعظم رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ چا ته چه تاجدارِ رسالت، نبئ رحمت صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپل ظاهري ژوند کښې د جَنَّت زيرې اورولې وو. د هغوئي يَره او خَشِيَّت خو دِ دومره زيات وي او زمونږ په شان بيکاره او خبر لوڅو خلقو حال دا

دې چه د نيکئ د ”ن“ ټکي ته هُم نه شو رسيدې خو د خوش فهمئ [يعني ښه ګُمان] مو دا حال دې چه زمونږ په شان نيك او پاك خو شايد چه بل يو هُم نه دې پاتې! د دې عبرتناك حِكايت نه هغه خلقو ته خُصُوصاً درسِ عِبرت حاصلول پكار دي څوك چه په خپلو عبادتونو باندې فخر او خوشحالي كوي او د شرعي مَصلَحَت نه بغير د خپلو نيكو اعمالو مَثَلًا د خپلو لـمونځونو، روژو، حج او د جُماتونو د خِدمت، د خلقو د اِمداد او فلاحي، سماجي وغيره كارونو په هر ځائ كښې اِعلانونو كولو باندې نه سترې كيږي، بلكه د خپلو نيكو كارونو په اخبارونو كښې تصويرونه چاپ كولو باندې هُم اسره نه كوي. آه! د هغوئي ذِهن څنګه جوړ كړې شي! دوئي ته د اِخلاصِ نِيَّت سوچ څنګه وركړې شي! هغوئي ته څنګه يقين وركړې شي چه د خپلو نيكو په اعلان كولو كښې د رِياكارئ په آفت كښې د اخته كيدو سخته خطره ده. او خپل تصوير چاپ كول؟ توبه! توبه! د خپلو اعمالو د نُمائش كولو دومره شوق چه د تصوير په شان حرامه ذريعه هُم نه پريږدي. **الله** تعالىٰ دِ د رياكارئ د تباه كارئ او د ”زه زه“ كولو د مصيبت او د اَنانِيَّت [يعني د ځان ښه ګڼړلو] د آفت نه زمونږ ټولو مسلمانانو حفاظت اُوفرمائي.

اٰمین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د شهزاده اختر

اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ يو ځل د اختر په ورځ خپل شهزاده په زوړ قميص كښې وليدو نو په ژړا شو، څوئ ئې عرض وكړو: **خوږه باباجانه!** ولې ژاړئ؟ هغوئي اُوفرمائيل: زما ګرانه بچيه! زه انديښنه لرم چه د اختر په ورځ كله تا هلكان په دې زوړ قميص كښې اُووِيني نو چرې ستا زړه مات نه شي! څوئ ئې په جواب كښې عرض وكړو: زړه خو دِ د هغه مات شي څوك چه د رضائے اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ په كار كښې ناكامه شوې وي يا چا چه د مور يا پلار نافرماني كړې وي، زه اُمِّيد لرم چه ستاسو رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د رِضامندئ په خاطر به الله



www.dawateislami.net

تعالیٰ هُم زما نه راضي شي. دا ئې چه واوريدل نو حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ شهزاده خپلې غاړې ته راجوخت کړو او دُعا ئې ورته وکړه. (مُكَاشَفَةُ الْقُلُوب ص ۳۰۸ مُلَخَّصًا)

**د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاہِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د شهزاديانو اختر

د **اَميرُ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدُنا عُمر بِن عبدُ العزيز رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه خوا ته د اختر نه يوه ورځ مخکښې د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ **شهزاديانې** حاضرې شوې او وئې وئيل: "**باباجانه!** د اختر په ورځ به مونږه کومې جامې اغوندو؟" هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه ورته اُوفرمائيل: "هُم دا جامې کومې چه تاسو اغوستې دي، دا وينځئ او صبا ئې واغوندئ!" "ماشومو ضد وکړو او وئې وئيل، نه! **باباجانه!** مونږ له نوې جامې جوړې کړئ." هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اُوفرمائيل: "زما **بچو!** د اختر ورځ د **اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت** عَزَّوَجَلَّ د عبادت کولو او د هغه د شُکر ادا کولو ورځ ده، نوې جامې اغوستل ضروري خو نه دي!" "**باباجانه!** تاسو بالکل صحيح فرمائې خو زمونږه ملګرې جينکۍ به مونږ ته پيغورونه راکوي چه تاسو د **اَميرُ الْمُؤمِنِين** لونړه ئې او د اختر په ورځ مو هُم هغه زړې جامې اغوستې دي!" دا خبره ئې چه کوله نو د لونړو په سترګو کښې ئې اوښکې راغلې. د لونړو خبره ئې چه واوريدله نو د **اَميرُ الْمُؤمِنِين** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ زړه هُم نرې شو. خازِن (يعني وزير ماليات) ئې را اُوغوښتو او ورته وئې فرمائيل: "ما ته زما د يوې مياشتې پيشګې [يعني اِډوانس] تنخواه راوړه." خازِن عرض وکړو: "**مُحترمه!** آيا تاسو يقين لرئ چه تاسو به يوه مياشت ژوندي اوسئ؟" هغوئي اُوفرمائيل: **جَزَاكَ اللّٰه!** بيشکه تا صحيح او بهترينه خبره وکړه." خازِن لاړو. **اَميرُ الْمُؤمِنِين** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه لونړو ته اُوفرمائيل: ګرانو لونړو! د **اللّٰه و رَسُول** عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په رضا باندې خپل خواهشات قربان کړئ."

(مَعدِنِ اخلاق حصّه اوّل ص ۲۵۷ تا ۲۵۸ بتغيرِ قليل) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاہِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم



www.dawateislami.net

## په والِدِ مرحوم باندې کرم

د احتياطونو نه ډك مدني ذِهن جوړلو د پاره په **مَدَني قَافِلو** کښې د سفر سعادت حاصل کړئ، د **مَدَني قَافِلې** د بَرَکتونو به څه وائې! د **نِشتر بستئ** (بابُ الْمَدِينه كراچئ) يو اسلامي ورور خپل مرحُوم پلار په خوب کښې د انتِهائي کمزورئ په حالت کښې داسې وليدو چه بربنډ دې او د بل په زور روان دې. هغه په تشويش کښې پريوتلو او د اِيصال ثواب په نِيَّت ئې هره مياشت د درې ورځو په **مَدَني قَافِله** کښې د سفر نِيَّت وکړو او سفر ئې شروع هُم کړو. په دريمه مياشت چه د **مَدَني قَافِلې** نه بيرته راغلو نو په کور کښې اُوده شو، په خوب کښې ئې دا دِلکش منظر وليدو چه والِدِ مرحوم ئې شين لباس اغوستې ناست دې او نرې نرې پشمك پرې راوريږي. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ په **مَدَني قَافِله** کښې د سفر اَهَمِّيَّت پرې ښه روښانه شو او پوخ نِيَّت ئې وکړو چه اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ هره مياشت به د درې ورځو د پاره د عاشقانِ رَسُول سره سفر جاري ساتم.

قافلے میں ذرا مانگو آکر دعا پاؤ گے نعمتیں قافلے میں چلو
خوب ہوگا ثواب، اور ٹلے گا عذاب پاؤ گے بخششیں قافلے میں چلو
جو کہ مفقود ہو وہ بھی موجود ہو ان شاءَاللہ چلیں قافلے میں چلو

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٧٧، ٦٧٤، ٦٧٣)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه اختر

د الله تعالیٰ د مقبولو بندګانو يوه يوه ادا کښې زمونږ د پاره د عِبرت بيشميره درسونه وي. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ زمونږه د حُضُور سَيِّدُنا غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه شان بيحده اوچت دې، د دې باوجود هغوئې رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ زمونږ [د نصيحت] د پاره څه ارشاد فرمائې! واورئ او عِبرت حاصل کړئ.ـــ



www.dawateislami.net

خلق گوید کہ فرداروز عیداست　　خوشی درروح ہر مؤمن پدیداست
دراں روزے کہ باایماں بمیرم　　مرادملک خودآں روز عیداست

يعني "خلق وائي، صبا اختر دې! صبا اختر دې!" او ټول خوشحاله دي. خو زه چه کله د دې دُنيا نه ايمان سلامت يوسم، زما د پاره خو به هُم هغه د اختر ورځ وي."

سُبْحٰنَ اللهِ (عَزَّوَجَلَّ) سُبْحٰنَ اللهِ (عَزَّوَجَلَّ) خومره اوچته تقوىٰ ده! دومره لوئ شان چه د اولياءِ کِرامو رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی سردار دې او دومره عاجزي او انکِساري!! په دې کښې زمونږ د پاره هُم درسِ عِبرت دې او مونږه پوهه کوي چه خبردار! د ايمان په معامله کښې غفلت مه کوئ، هر وخت د ايمان د حِفاظت په فِکر کښې اوسئ، چرې داسې ونشي چه د غفلت او مَعصِيَت په سبب مو د ايمان دولت د لاسه لاړ شي.

رضا کا خاتمہ بالخیر ہوگا　　اگر رحمت تری شامل ہے یاغوث

(حَدائقِ بخشِش ص ۲٦۳)

## د يو وَلِي اختر

حضرتِ سَيِّدُنا شيخ نجيبُ الدِّين مُتَوَکِّل رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د حضرتِ سَيِّدُنا شيخ بابا فريدُ الدِّين گنج شکر رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ورور او خليفه دې، د هغوئې رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه لقب مُتَوَکِّل دې. هغوئې رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه اويا کاله په ښار کښې اوسيدلو او د څه ښکاره ذريعهٔ معاش نه لرلو باوجود ئې اَهل و عِيال په ډير زيات اِطمينان ژوند تيرولو. يوه ورځ د اختر په ورځ د هغوئې رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه کور ته ډير ميلمانه راجمع شو، په کور کښې ئې د خوراك څښاك څه سامان نه وو. هغوئې رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه بالا خانې [يعني پاسني چت] ته لاړلو او په يادِ اِلٰهِى عَزَّوَجَلَّ کښې مشغول شو او په زړه کښې ئې دا وئيل چه "نن د اختر ورځ ده او زما کور ته ميلمانه راغلي دي." ناڅاپه د کوټې په سر يو کس ښکاره شو او هغه د طعامونو نه ډك يو خوان ورکړو او وئې وئيل: اے **نجيبُ الدِّين**! ستاسو د **تَوَکُّل** خبر په مَلاءِ اَعلٰى (يعني فرښتو) کښې مشهور دې او حال مو دا دې چه په داسې خيال (يعني طعام غوښتلو) کښې مشغول ئې!



www.dawateislami.net

هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه اُوفرمائیل: ”حَق تعالیٰ ښه پوهیږي چه زه د خپل ذات د پاره نه، صرف د خپلو میلمنو په وجه دې طرف ته **مُتَوَجِّه** شوې ووم.“ حضرتِ سَیِّدُنا **نجیبُ الدِّین مُتَوَکِّل** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د صاحِبِ کرامت کیدو باوجود ډیر زیات مُنکَسِرُ المِزاج وو. د هغوئي د اِنکِسارئ [یعني عاجزئ کولو] دا حال وو چه یوه ورځ ورله یو فقیر د ډیر لرې نه ملاقات کولو د پاره راغې او د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نه ئې تپوس وکړو چه آیا حضرت نجیبُ الدِّین **مُتَوَکِّل** (یعني تَوَکُّل کوونکې) تاسو ئې؟ نو اِنکِساراً ئې اُوفرمائیل چه وروره! زه خو نجیبُ الدِّین **مُتَأکِّل** (یعني ډیر زیات خوراك کوونکې) یم. (اخبار الاخیار ص۶۰ مُلَخَّصاً) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِین بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِین** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د کرامت یو ه شُعبه

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د دې حِکایت نه دا معلومه شوه چه **الله** تعالیٰ کله غواړي د خپلو دوستانو د ضروریاتو د غیبو نه انتظام فرمائي: د ضرورت په وخت کښې طعام، اوبه وغیره د ژوند د ضروریاتو ناڅاپه حاضریدل د بزرګانو نه د کرامت په طور واقع کیږي. چنانچه په ”**شرحِ عَقَائِدِ نَسَفِیَّه**“ کښې چه د کرامت د قِسمونو کوم بیان دې په هغې کښې دا هُم ذِکر کړې شوي دي چه د ضرورت په وخت د طعام او اوبو حاضریدل هُم د کرامت یوه شُعبه ده. بُزُرګانِ دِین رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی ته **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی ډیر تَصَرُّفات [یعني اختیارات] او کرامات ورکړي دي. دوئي په بارګاهِ خُداوندي جَلَّ جَلَالُهٗ کښې داسې مقبول وي چه د دوئي د خُلې نه وتلې خبره او په زړه کښې پیدا شوي خواهشات **الله** تعالیٰ په خپل رحمت پوره کوي.

## د یو سخي اختر

سَیِّدُنا عبدُ الرَّحمٰن بِن **عَمرو** اَوزاعـي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه بیان کوي چه د وړوکـي اختر په شپه چا زما دروازه وډبوله، چه ورغلم نو زما ګاونډې ولاړ وو. ما ترې تپوس وکړو: وایه وروره! څنګه راغلې



www.dawateislami.net

ئې؟ هغه اُووئيل: صبا اختر دې خو د خرڅ د پاره راسره هيڅ هُم نشته، که تاسو څه راکړئ نو په عِزَّت به د اختر ورځ تيره کړو.'' ما خپلې ښځې ته اُووئيل چه زمونږه فلانکې ګاونډې راغلې دې، د هغه سره د اختر د پاره يوه پيسه هُم نشته، که ستا رائے وي نو کوم **پينځه ويشت دِرهَمه** چه مونږه د اختر د پاره ايښودي دي هغه به ده ته ورکړو مونږ ته به **الله** تعالیٰ نورې راکړي. نيکې ښځې اُووئيل ډيره ښه. چنانچه ما هغه ټول دِرهمونه خپل ګاونډې ته حواله کړل، هغه دُعاګانې وکړې او لاړو. لږ ساعت پس بيا چا دروازه ودبوله، ما چه څنګه دروازه بيرته کړله نو يو سړې رامخکښې شو او زما په ښپو کښې پريوتو او په ژړا ژړا ئې اُووئيل: زه ستاسو د والِد صاحب تښتيدلې غُلام يم، زه په خپل دې کار ډير پښيمانه شوم نو حاضر شوم، دا **پينځه ويشت دِيناره** زما ګټه ده، ستاسو په خِدمت کښې ئې وړاندې کووم قبولې ئې کړئ. تاسو زما مالِك ئې او زه ستاسو غُلام. ما هغه دِينارونه واخستل او غُلام مې آزاد کړو. بيا مې خپلې ښځې ته اُووئيل: د خُدائے تعالیٰ شان اوګوره! هغه مونږ ته د دِرهَمو په بدله کښې دِينارونه راعطا کړل (يعنې به دِرهَم د سپينو زرو او دينار د سرو زرو وو): **د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمِين بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## سلام په هغه چا چه د بې وسو مدد وکړو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو وليده! د **الله** تعالیٰ څنګه ښکلې شان دې چه هغه پينځه وِيشت دِرهَمه (يعني د سپينو زرو روپيۍ) ورکوونکي ته په لږ ساعت کښې پينځه وِيشت دِيناره (يعني د سرو زرو روپيۍ) ورکړې. او د بُزُرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللہُ تَعَالٰی اِيثار هُم څومره اعلیٰ وو چه هغوئي به خپل ټول سهولتونه د نورو مسلمانانو د پاره قربانول.



www.dawateislami.net

## د اوريدو قُوَّت ئې بحال شو

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! په خپل زړه کښې د عَظَمَتِ مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زياتولو او په زړه کښې د مَحَبَّتِ مُصطَفیٰ شمع روښانه کولو او د واړه اختر د خوشحالو حاصلولو د پاره که کيدې شي نو د اختر په شپه د دعوتِ اسلامي په مَدَنِي قَافِلو کښې د عاشقانِ رَسُول سره د سُنَّتو ډك سفر سعادت حاصل کړئ. د مَدَني قَافِلې بَرَکتونه خو اُوګورئ! د بابُ الْمَدِينه کراچئ د يو اسلامي ورور د بيان خُلاصه ده، په کوئټه کښې کيدونکي د تبليغِ قُرآن و سُنَّت د عالمګير غير سياسي تحريك دعوتِ اسلامي د درې ورځو سُنَّتو ډکې اِجتِماع کښې شريك يو کوڼ اسلامي ورور سمدستي د درې ورځو په مَدَني قَافِله کښې د عاشقانِ رَسُول سره د سفر سعادت حاصل کړو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د سفر په دوران کښې د هغه د اوريدو قُوَّت بحال شو او د عامو خلقو په شان اوريدل ئې شروع کړل.

کان بہرے ہیں گر رکھو رب پر نظر　　ہو گا لطفِ خدا قافلے میں چلو
دنیوی آفتیں اخروی شامتیں　　دور ہوں گی ذرا قافلے میں چلو

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## صَدَقَهٔ فِطر

اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰى په ديرشمه سيپاره سُوْرَةُ الْاَعْلٰى آيت نمبر ١٤ تا ١٥ کښې اِرشاد فرمائي:

قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى ﴿۱۴﴾ وَ ذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى ﴿۱۵﴾

مَفهُوم ترجمهٔ کَنْزُ الْاِیمان: بيشکه مُراد ته ورسيدو هغه چه پاك شو او د خپل رب نوم ئې واخستو او لمونځ ئې وکړو.

صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سيّد محمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه په "خزائِنُ



www.dawateislami.net

الْعِرفان“ کښې د دې آيت لاندې ليکي: د دې آيت په تفسير کښې وئيلې شوي دي چه ”تَزَكّٰى“ نه صَدَقَهٔ فِطر ورکول او د **ربّ** د نوم اخستو نه د عيدګاه په لاره کښې تکبيرونه وئيل او د لمانځه نه د اختر لمونځ مُراد دې. (خزائِنُ الْعِرفان ص۱۰۹۹)

## صَدَقَهٔ فِطر واجِب ده

حُضُور سيّدُ المُرسَلِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو کس ته حُکم وکړو چه لاړ شه او د مَکَّې مُکَرَّمې په کوڅو کښې اِعلان وکړه، ”صَدَقَهٔ فِطر واجِب ده.“
(تِرمِذِی، ج۲ ص۱۵۱ حديث۶۷۴)

## صَدَقَهٔ فِطر د لَغو خبرو کَفّاره ده

حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فرمائي: خوږ مَدَني آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صَدَقَهٔ فِطر مُقرَّر کړه چه د فُضولو او بيهوده خبرو نه د روژو طَهارَت (يعني صفائي) وشي. او د مسکينانو خوراك هُم وشي. (اَبو داؤد ج۲ ص۱۵۸ حديث۱۶۰۹)

## روژه په هوا کښې ولاړه اوسي

حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس بن مالِك رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ وائي سرکارِ نامدار د مدينې تاجدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: تر څو پورې چه صَدَقَهٔ فِطر ادا نه کړې شي د بنده روژه د زمکې او آسمان تر مينځه مُعَلَّق (يعني په هوا کښې ولاړه) اوسي. (اَلْفِردَوس بِمأثُور الْخطاب ج۲ ص۳۸۵ حديث۳۷۵۴)

## د فِطرې ۱۶ مَدَني ګلونه

﴿۱﴾ **صَدَقَهٔ فِطر** په هغه ټولو مسلمانانو سړو او ښځو واجِب ده کوم چه ”صاحِبِ نِصاب“ وي او د هغوئي نِصاب د حاجاتِ اصليه (يعني د ژوند د ضرورتونو مَثَلًا د اوسيدو کور او د خانه داريُ د سامان وغيره)“ نه فارِغ وي. (ماخوذاز عالمګيری ج۱، ص۱۹۱)



www.dawateislami.net

﴿٢﴾ چا سره چه ووه نيمې تولې سره زر يا دوه پنځوس نيمې تولې سپين زر يا د دوه پنځوس نيمو تولو د سپينو زرو هُمره رقم يا د دومره قِيمت مالِ تِجارت وي (او دا ټول د حاجتِ اَصليه نه فارِغ وي) يا د دومره قِيمت د حاجتِ اصليه نه علاوه سامان وي هغه ته صاحِبِ نصاب وئيلې کيږي.[1]

﴿٣﴾ **صَدَقَهٔ فِطر** واجب کيدلو د پاره، "عاقِل او بالِغ" کيدل شرط نه دي. بلکه که ماشوم يا مجنُون (يعني ليونې) هُم صاحِبِ نِصاب وي نو د هغوئي ولي (يعني سرپرست) دِ ئې ادا کړي. (رَدُّالْمُحْتَار ج٣ص٣٦٥) د **صَدَقَهٔ فِطر** د پاره د نِصاب مِقدار خو هُم هغه دې کوم چه د زکوٰة دې خنګه چه ذِکر کړې شو خو فرق دا دې چه د **صَدَقَهٔ فِطر** د پاره مالِ نامي (يعني په هغې کښې د زياتيدلو د صلاحِيَّت) کيدلو او د کال تيريدلو شرط نشته. هُم دغسې کوم څيزونه چه د ضرورت نه زيات دي (مَثَلًا د عُمُومي ضرورت نه زياتې جامې، ناکنډلي جوړې، د کور د ښائسته کولو څيزونه وغيرها) او د هغوئي قِيمت نِصاب ته رسي نو د هغه څيزونو په وجه **صَدَقَهٔ فِطر** واجِب دهٔ. (وقارُالفتاوىٰ ج٢ ص٣٨٦ مُلَخَّصاً)

﴿٤﴾ په مالِكِ نِصاب سړي باندې د خپل طرف نه، د خپلو وړو بچو له طرف نه او که څوك مجنون (يعني ليونې) اولاد ئې وي (اګر که هغه ليونې اولاد بالِغ هُم وي) نو د هغه له طرفه هُم **صَدَقَهٔ فِطر** واجب دهٔ، خو که هغه ماشوم يا مجنُون پخپله صاحِبِ نِصاب وي نو بيا دِ د هغه د مال نه فِطره ادا کړي. (عالمگيرى ج١، ص١٩٢ مُلَخَّصاً)

﴿٥﴾ په سړي صاحِبِ نِصاب باندې د خپلې ښځې يا مور و پلار يا وړوکو خويندو ورونړو او نورو خپلوانو فِطره واجِب نه دهٔ. (ايضاً ص١٩٢ مُلَخَّصاً)

﴿٦﴾ که پلار نه وي نو نيکه د پلار په ځائ دې. يعني د خپلو فقيرانو يتيمانو نمسو له طرفه په هغه **صَدَقَهٔ فِطر** ورکول واجِب دي. (دُرِّمُختار ج٣ ص٣٦٨)

﴿٧﴾ په مور باندې د خپلو وړو ماشومانو له طرفه **صَدَقَهٔ فِطر** ورکول واجِب نه دي. (رَدُّالْمُحْتَار ج٣ص٣٦٨)

---

[1] د صاحِبِ نِصاب، غني، فقير، حاجتِ اصليه وغيره اصطلاحاتو تفصيلي معلومات د فِقهِ حَنَفي مشهور کتاب "بهارِ شريعت" جِلد اَوَّل حِصّه ۵ کښې اوګورئ



www.dawateislami.net

﴿٨﴾ پلار باندې د خپل عاقِل بالِغ اولاد **فِطره** واجِب نه ده. (دُرِّمُختار مع رَدُّالْمُحْتَار ج٣، ص٣٧٠)

﴿٩﴾ كه د څه صحيح **مجبورئ** په وجه ئې روژې نه شوې نيولې يا **مَعَاذَاللّٰه** عَزَّوَجَلَّ د **مجبورئ** نه بغير ئې د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** روژې ونه نيولې په هغه باندې هُم د صاحِبِ نِصاب كيدو په صُورت كښې **صَدَقَهٔ فِطر** واجب ده. (رَدُّالْمُحْتَار ج٣ ص٣٦٧)

﴿١٠﴾ ښځه يا بالِغ اولاد چه د هغوئې نَفَقه وغيره (يعني د طعام، جامو وغيره خرچ) د كوم كس په ذِمّه وي، هغه كه د هغوئې د اِجازت نه بغير هُم د هغوئې **فِطره** ادا كړي نو ادا به شي. خو كه نَفَقه د هغه په ذِمّه نه وي مَثَلًا بالِغ څوئ واده وكړو او جُدا كور كښې اوسيدل ئې اختيار كړل او خپله گُزاره پخپله كوي نو اوس د خپلې نان نَفَقې (يعني د طعام، جامو وغيره) پخپله ذِمَّه دار شوې دې. لِـهذا كه د داسې اولاد له طرفه ئې بغير د اجازته **فِطره** وركړه نو نه ادا كيږي.

﴿١١﴾ ښځې كه د خاوند د حُكم نه بغير د خاوند **فِطره** وركړه نو نه ادا كيږي. (بهارشريعت ج١ ص٣٩٨ مُلَخَّصاً)

﴿١٢﴾ د **عِيدُ الْفِطْر** د صبا صادِق راختلو په وخت چه څوك **صاحِبِ نِصاب** وو په هغه باندې **صَدَقَهٔ فِطر** واجب ده، كه د صبا صادِق نه پس **صاحِبِ نِصاب** شو نو بيا پرې واجِب نه ده.(ماخوذازعالمگیری ج١، ص١٩٢)

﴿١٣﴾ د **صَدَقَهٔ فِطر** ادا كولو غوره وخت خو هُم دا دې چه د اختر په ورځ د صبا صادِق نه پس د اختر د لـمانځه ادا كولو نه مخكښې مخكښې ادا كړې شي، كه د اختر په شپه يا د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** په هره ورځ بلكه كه د **رَمَضان** شريف نه مخكښې هُم چا ادا كړه بيا هُم **فِطره** ادا شوه او داسې كول بالكل جائز دي. (ايضاً)

﴿١٤﴾ كه د اختر ورځ تيره شوه او **فِطره** ئې نه وه ادا كړې بيا هُم **فِطره** ساقِط نه شوه، بلكه په ټول عُمر كښې ئې چه كله هُم ادا كړې ادا ده. (ايضاً)



www.dawateislami.net

﴿۱۵﴾ د **صَدَقَهٔ فِطر** مصارِف هُم هغه دي كوم چه د زكوٰة دي يعني چا ته چه زكوٰة وركولې شي هغوئي ته **فِطره** هُم وركولې شئ او چا ته چه زكوٰة نه شي وركولې هغوئي ته **فِطره** هُم نه شئ وركولې. (ايضاًص۱۹٤ مُلَخَّصاً)

﴿۱٦﴾ ساداتِ كِرام [يعني سيّدانو] ته **صَدَقَهٔ فِطر** نه شئ وركولې ځكه چه هغوئي بني هاشم دي. بهارشريعت جِلد اَوَّل صفحه ۹۳۱ كښې دي، بني هاشِم ته زكوٰة (فِطره) نه شئ وركولې. نه ئې غير هغوئي ته وركولې شي او نه يو هاشِمي بل هاشِمي ته. بني هاشِم نه مُراد د حضرتِ علي و جعفر و عقِيل او حضرتِ عبّاس و حارِث بِن عبدُ المُطَّلِب اولادونه دي.

## د صَدَقَهٔ فِطر مِقدار

غنم يا د هغې وړه يا [د غنمو] ستوان نيمه صاع (يعني په دوه كِلو كښې ۸۰ گرامه كم) (يا د هغې قيمت)، كجورې يا مُنَقّٰى يا وربشې يا د هغې وړه يا ستوان يوه صاع (يعني په څلور كلو كښې ۱٦۰ گرامه كم) (يا د هغې قيمت) دا د يو **صَدَقَهٔ فِطر** مِقدار دې. (عالمگيرى ج۱ص۱۹۱.دُرِّمُختارج۳ص۳۷۲) په ''بهارِ شريعت'' كښې دي: د اعلٰى درجې تَحقيق او احتياط دا دې چه: د صاع وزن درې سوه او يو پنځوس ''۳۵۱'' روپيۓ دې او نيم صاع اته آنې د پاسه يو سل پينځه اويا روپيۓ. (بهارشريعت ج۱ص ۹۳۹)

د دې څلورو څيزنو نه علاوه كه په بل څيز فِطره ادا كول غواړې، مَثَلًا، وريژې، جُوار، باجره يا بله كومه غَلّه يا بل څه څيز وركول غواړې نو د قِيمت لِحاظ به ساتل وې يعني چه هغه څيز د نيم صاع غنمو يا د يوې صاع وربشو قِيمت لري، تر دې چه كه ډوډۍ وركړې نو په هغې كښې به هُم د قِيمت لِحاظ ساتلې كيږي اگر كه د غنمو يا وربشو وي. (ايضاً)

## په قبر كښې به ئې يو زر انواره داخليږي

منقول دي چه څوك د اختر په ورځ درې سوه ځله ''سُبْحٰنَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ'' ولولي او د وفات شوو مسلمانانو رُوحونو ته ئې اِيصالِ ثواب كړي نو د هر مسلمان قبر ته يو زر اَنوار داخليږي او چه



www.dawateislami.net

كله هغه لوستونكي پخپله مړ شي، اللّٰه تعالیٰ به د هغه قبر ته هُم يو زر اَنوار داخلوي. (مُکَاشَفَةُ الْقُلُوب ص۳۰۸)

## د اختر د لـمانځه نه مخكښې يو سُنَّت

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اوس د هغه خبرو بيان كيږي كومې چه په اخترو (يعني عِيدُالْفِطْر او غټ اختر دواړو) كښې سُنَّت دي. چنانچه د سيِّدُنا بُرَيده رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه تاجدارِ رِسالت، شَهَنشاهِ نُبُوَّت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د عِيدُالْفِطْر په ورځ څه خوړل بيا به ئي لـمانځه د پاره تشريف وړلو او د عيدالاضْحٰی په ورځ به ئي د هغې پورې څه نه خوړل تر څو به چه د لـمانځه نه نه وو فارِغ شوې. (ترمِذِی ج۲ص۷۰حديث۵۴۲) او په "بُخاري"كښې د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه د عِيدُالْفِطْر [يعني واړه اختر] په ورځ به ئي (د لـمانځه د پاره) تشريف نه وړلو تر څو پورې به ئي چه يو څو كجورې نه وې خوړلې او هغه به طاق وې. (بُخاری ج۱ص۳۲۸حديث۹۵۳) د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه نَبِيِّ رَحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به اختر له (يعني د اختر لـمانځه له) په يوه لاره تشريف وړلو او په بله لار به ئي بيرته تشريف راوړلو. (ترمِذِی ج۲ ص۶۹ حديث۵۴۱)

## د اختر د لـمانځه طريقه (حَنَفِی)

مخكښې داسې نِيَّت وكړئ: "زه نِيَّت كووم دوه ركعاته لمونځ د عِيدُالْفِطْر (يا د عِيدُالْاَضْحٰی)، سره د شپږو زياتو تكبيرونو، د پاره د اللّٰه تعالیٰ، په دې [حاضر] امام پسې" بيا غوږونو پورې لاسونه پورته كړئ او اَللّٰهُ اَكْبَر اووائې او لاسونه د نامه نه لاندې وتړئ او ثناء ولولئ. بيا [دويم ځل] غوږونو ته لاسونه پورته كړئ او اَللّٰهُ اَكْبَر اووائې او لاسونه زوړند كړئ. بيا [دريم ځل] غوږونو ته لاسونه پورته كړئ او اَللّٰهُ اَكْبَر اووائې او لاسونه زوړند كړئ. بيا [څلورم ځل] غوږونو پورې لاسونه پورته كړئ او اَللّٰهُ اَكْبَر ووائې او لاسونه وتړئ. يعني د وړومبي تكبير نه پس لاس وتړئ د هغې نه پس ئي په دويم او دريم تكبير زوړند كړئ او په څلورم تكبير



www.dawateislami.net

لاسونه وتړئ. دا داسې یاد ساتئ **چه کوم ځائ په قِیام کښې د تکبِیر نه پس څه لوستل دي هلته** **لاس تړل دي او چرته چه څه نه دي لوستل هلته لاس زوړندول دي.** بیا دِ اِمام تَعَوُّذ او تَسمِیه پټ اووائي اوالْحَمْدُ او سُورت دِ په جَهْر (یعني اوچت آواز کښې) اووائي، بیا دِ رُکُوع وکړي. په دویم رکعَت کښې دِ مخکښې اَلْحَمْدُ او سُورت په جهْر اووائي بیا درې ځله غوږونو ته لاس پورته کړئ او [هره پیره] اَللّٰهُ اَکْبَر ولولئ او لاسونه مه تړئ او په څلورم ځل لاسونه مه پورته کوئ او اَللّٰهُ اَکْبَر اووائي او رُکوع ته لاړ شئ او د قاعِدې مطابق لمُونځ مکمل کړئ. د هرو دوو تکبِیرونو په مینځ کښې د درې "سُبْحٰنَ الله" وئیلو په مِقدار خاموشه ودریدل دي. (بَهارِ شرِیعَت ج۱ص۷۸۱، دُرِّ مُختار ج۳ص۶۱ وغیره)

## که د اختر د جَمعې په نِیمه کښې شریك شو نو......؟

که په ورومبي رکعت کښې د اِمام د تکبِیرونو وئیلو نه پس مُقتدي شامِل شو نو هم هغه وخت دِ (د تکبِیرِ تَحریمه نه علاوه نور) **درې تکبیرونه** اووائي اګر که اِمام قِراءَت شروع کړې وي او صرف درې دِ اووائي اګر که اِمام د دریو نه زیات وئیلي وي او که د ده د تکبیرونو پوره کولو نه مخکښې اِمام په رُکوع کښې لاړو نو په ولاړه ولاړه دِ ئې نه وائي بلکه د اِمام سره دِ په رُکوع کښې لاړ شي او په رُکوع کښې دِ تکبیرونه اووائي او که [یعني چه دې راغې نو] اِمام په رُکوع کښې وو نو که غالِب ګُمان لري چه اِمام به په رُکوع کښې لاندې کړي نو په ولاړه ولاړه دِ تکبِیرونه اووائي بیا دِ رُکوع ته لاړ شي ګني [یعني که غالِب ګُمان ئې نه وي نو] اَللّٰهُ اَکْبَر دِ اووائي او رُکوع ته دِ لاړ شي او په رُکوع کښې دِ تکبیرونه اووائي بیا که ده په رُکوع کښې تکبیرونه نه وو پوره کړي چه اِمام سر پورته کړو نو باقي [تکبیرونه] ساقِط شو (یعني باقي تکبیرونه دِ نه وائي) او که د اِمام د رُکوع نه سر پورته کولو نه پس [په جَمعه کښې] شامِل شو نو تکبِیرونه دِ نه وائي بلکه چه بیا (د اِمام د سلام ګرځولو نه پس) خپل (هغه تلې) رَکعت کولو د پاره پاڅي نو هُغه وخت دِ ئې اووائي. او په رُکوع کښې چه د تکبیرونو خبره وشوه نو په هغې



www.dawateislami.net

کښيې دِ لاسونه نه پورته کوي او که په دويم رکعت کښې شامِل شو نو د اولني رکعت تکبيرونه دِ اوس نه وائي بلکه چه کله د خپل تلي رکعت د پاره ودريږي نو هغه وخت دِ ئې اووائي. د دويم رکعت تکبيرونه که د اِمام سره اومومي فَبِهَا (يعني بهتره ده) ګني په دې کښې هُم هغه تفصِيل دې کوم چه د وړومبي رکعت په باره کښې بيان شو.

(بَهارِ شريعَت ج١ ص ٧٨٢، دُرِّ مُختار ج٣ ص٦٤، عالمگِيري ج١ ص١٥١)

## که د اختر لمونځ ترې لاړو نو څه وکړي؟

**اِمام** د اختر لمُونځ وکړو او يو کس پاتې شو يعني هغه يا خو بالکل شامِل شوې نه وو يا شامل شوې خو وو خو د هغه لمُونځ فاسِد [يعني په څه وجه مات] شو، که بل ځائ ئې موندلې شي نو ودِ ئې کړي ګني (د جَمعې نه بغير) ئې نه شي کولې. آو، بهتره دا ده چه هغه کس دِ د څاښت څلور رکعاته لمونځ وکړي. (دُرِّ مُختار ج٣ ص٦٧)

## د اختر د خُطبې اَحکام

د لمانځه نه پس دِ اِمام دوه خطبې اووائي او د **جُمُعې** په خُطبه کښې چه کوم څيزونه سُنَّت دي هغه په دې کښې هُم سُنَّت دي او کوم چه په هغې کښې مکروه دي هغه په دې کښې هم مکروه دي. صرف په دوه خبرو کښې فرق دې يوه دا چه د **جُمُعې** د وړومبئ خُطبې نه مخکښې د خطيب ناسته سُنَّت وه او په دې کښې نه کښيناستل سُنَّت دي. بله دا چه په دې کښې د وړومبئ خُطبې نه مخکښې نهه ځله او د دويمي نه مخکښې ووه ځله او د مِنبر نه د کوزيدو نه مخکښې ١٤ ځله اَللّٰهُ اَکْبَر وئيل سُنَّت دي او په **جُمُعَه** کښې دا نشته.

(بَهارِ شرِيعَت ج١ ص ٧٨٣، دُرِّ مُختار ج٣ ص٦٧، عالمگِيري ج١ ص ١٥٠)



www.dawateislami.net

# د اختر ۲۰ آدابه

## په اختر کښې دا کارونه مُستَحِب دي:

۞ وِيښته کټ کول (خو زُلفي جوړوئ، انګريزي وِيښته نه) ۞ نُوکان کټ کول ۞ غُسل کول ۞ مِسواك كول (دا د هغې نه علاوه دې کوم چه په اودس کښې کوي) ۞ ښې جامې اغوستل، که نوې وي نو نوې ګنې وِينځلې شوي ۞ خوشبو لګول ۞ ګوتۍ په ګوته کول (چه کله هم ګوتۍ اچوئ نو د دې خبرې خيال ساتئ چه صرف د څلور نيمو ماشو (يعني څلور ګرامه او ۳۷٤ملي ګرامه) نه د کم وزن د سپينو زرو يوه ګوتۍ اچوئ. د يوې نه زياتې مه اچوئ او په هغه يوه ګوتۍ کښې هم چه غمې صرف يو وي، د يو نه زيات غمي چه نه وي، بغير د غمې نه هم مه اچوئ، د غمې د وزن هيڅ قيد نشته. د سپينو زرو څلې يا د سپينو زرو د بيان کړي وزن وغيره نه علاوه د هر يو قِسم وسپنې [يعني د سرو زرو ، تانبې، پيتلو وغيره] ګوتۍ يا څلې وغيره نارينه نه شي اچولې) ۞ د سحر لمُونځ د محلّې په جُمات کښې کول ۞ د عِيدُ الْفِطْر (يعني د وړوکي اختر) د لمانځه د پاره تللو نه مخکښې يو څو کجورې خوړل، درې، پينځه، ووه، يا زيات و کمې چه طاق وي. که کجورې نه وي نو بل څه خوږ څيز اوخورئ. که د لمانځه نه مخکښې ئې هيڅ هم ونه خوړل نو ګناه نه ده خو که د ماسخُتنه پورې ئې څه ونه خوړل نو عِتاب (يعني ملامتيا) به ورکولې شي. ۞ د اختر لمُونځ په عِيدګاه کښې ادا کول ۞ عِيدګاه ته پيدل تلل ۞ په سوَرلۍ باندې هم تللو کښې باك نشته خو چه څوك په پيدل تللو قدرت لري د هغه د پاره پيدل تلل غوَره دي او په بيرته راتلو کښې په سوَرلۍ باندې راتلو کښې باك نشته ۞ د اختر د لمانځه د پاره په يوه لاره تلل او په بله لار بيرته راتلل ۞ د اختر د لمانځه نه مخکښې صَدَقَۀ فِطر ادا کول ۞ خوشحالي ښکاره کول ۞ په کثرت سره صَدَقه کول ۞ عيدګاه [يا جُمات ته يعني د اختر لمانځه] له په اِطمِينان او وقار [يعني د عِزَّت په انداز کښې] او د نظر ښکته ساتلو سره تلل ۞ په خپل مينځ کښې مبارکي ورکول ۞ د اختر د لمانځه نه پس مُصافَحه (يعني يو بل له لاس ورکول) او مُعانَقه (يعني غاړه ورکول) څنګه چه عام طور په مسلمانانو کښې رواج دې دا بهتر دي ځکه چه په دې کښې خوشحالي ښکاره کول



www.dawateislami.net

دي. خو ښكلي اَمرد [يعني بې ږيرې ښكلي هلك] له غاړه ورکول مَحَلِّ فِتنه [يعني د فَساد انديښنه لرونکې کار] دي ۞ د عِيدُ الْفِطْر (يعني د وړوکي اختر) لـمانځه له د تللو په وخت کښې په لاره په قلاره تکبِير وائي او د عِيدُ الْاَضْحٰی (يعني د غټ اختر) لـمانځه له د تللو په وخت کښې په لاره په اوچت آواز کښې تکبِير وائي. تکبِير دا دې:

اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْد

**ترجَمه:** الله تعالیٰ د ټولو نه لوئ دې، الله تعالیٰ د ټولو نه لوئ دې، د الله تعالیٰ نه سِوا هيڅ څوک د عبادت لائق نشته او الله تعالیٰ د ټولو نه لوئ دې، الله تعالیٰ د ټولو نه لوئ دې، او صرف د الله تعالیٰ د پاره ټول ثناء صِفات دي.

(بَهارِ شرِيعَت ج١ ص ٧٧٩ نه ٧٨١، عالمگِيري ج١ ص ١٤٩، ١٥٠ وغيره)

## د غټ اختر يو مُستَحَب

عِيدُ الْاَضْحٰی (يعني غټ اختر) په ټولو اَحکامو کښې د عِيدُ الْفِطْر (يعني وړوکي اختر) په شان دې. صرف په ځيني خبرو کښې فرق دې، مَثَلًا په دې (يعني غټ اختر) کښې مُستَحَب دا دي چه [د اختر] د لـمانځه نه مخکښې هيڅ نه خوري که قُرباني کوي او که نه او که څه ئې اوخوړل نو کَراهَت هُم نشته. (عالمگِيري ج١ ص١٥٢ دارُالفِكر بيروت)

## ما به د اختر لـمونځ هُم نه کولو

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! هر کال په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې د اِعتِکاف سعادت او د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د مياشتې ډير ډير بَرَکتونه حاصلوئ بيا په اختر کښې د عاشقانِ رَسُول سره په مَدَني قَافِلو کښې د سُنَّتو ډك سفر اختياروئ. ستاسو د ترغيب او تَحرِيـ د پاره تاسو ته مَدَني سپرلې اورووم. چنانچه د بابُ الْمَدِينه کراچئ د مين کورنگي روډ خوا ته اوسيدونکي يو اِسلامي ورور (عُمر ٢٥ کاله) به په يو ګيراج کښې کار کولو. (اګرچه فِي نَفسِهٖ د ګيراج يعني د ګاډو د مُرَمَّت کار غلط نه دې، خو نن صبا د ګناهونو نه ډك حالات دي. د چا چه ورسره څه واسِطه پريوتې وي هغوئي ته به معلومه وي



www.dawateislami.net

چه اکثر د ګیراج ماحول خومره ګنده وي، په دې زمانه کښې د ګیراج کار کوونکو د پاره حلاله روزي حاصلول ډیر زیات مشکِل دي) د ګیراج د ګنده ماحول د سپیره والي په وجه هغه د پینځه وخته لـمونځ څه چه د جُمُعـې او د اخترو د لـمونځونو توفیق هُم نه لرلو، د نیمې شپې پورې به په تې وي باندې په مختلفو فِلمونو او ډرامو کتلو کښې مشغول اوسیدو بلکه هر قِسم غتې او ورې بدئ پکښې موجودي وې. د هغه د اصلاح اسباب داسې جوړ شو چه د مَکْتَبَةُ الْمَدِینه نه جاري شوي د سُنَّتو ډکو بیان ''د الله عَزَّوَجَلَّ خُفیه تدبِیر'' کیسټ ئې واوریدو او د هغې پرې ډیر زیات اثر وشو. د هغې نه پس ورته په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې د اِعتِکاف سعادت حاصل شو او د عاشقانِ رَسُول سره ورته د درې ورځو په مَدَني قَافِله کښې د سفر سعادت هُم حاصل شو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ هغه د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې شامل شو، د پینځه وخته لـمونځونو پابندي کوي، د الله تعالیٰ کروړونه کروړونه احسانونه دي چه هغه انسان چه د اختر د لـمانځه د پاره به هم جُمات ته نه تللو، د دې بیان ورکولو په وخت د تبلیغِ قُرآن و سُنَّت د عالـمګیر غیر سیاسي تحریك دعوتِ اسلامي د تنظیمي ترکیب مطابق د یو جُمات د ذیلي مُشاورت د نګران په حیثیت بیلمانځه خلق د لـمونځ ګُزاره جوړلو په کوشش کښې اوسي.

بھائی گر چاہتے ہو نمازیں پڑھوں، مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
نیکیوں میں تمنا ہے آگے بڑھوں مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٤٠)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

یا ربّ مُصطَفیٰ عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته د اختر خوشحالیانې د سُنَّت مطابق کولو توفیق راکړې. او مونږ ته د حَج مُبارك کولو او د مدینې مُنَوَّرې او د تاجدارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دیدار کولو مَدَنـي اختر بیا بیا رانصیب کړې. اٰمِین بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم



www.dawateislami.net

تری جب کہ دید ہو گی جبھی میری عید ہو گی
مرے خواب میں تُو آنا مدنی مدینے والے

(وَسائلِ بخشِش ص ٤٢٤)

## په ما ګنهګار هم کرم نازل کړې

د کورنګۍ بابُ الْمَدِینه کراچۍ یو اسلامي ورور (عُمر ۲۲ کاله) بیلمانځه، د فِلمونو او ډرامو شوقي او وران کارې ځلمې وو، د بدو دوستانو سره د فیشن په تِیارو کښې ورك وو، د بد صُحبت په وجه ئې د ژوند شپې او ورځې په ګناهونو کښې تیریدلې. د رَمَضَانُ الْمُبَارَك (۱٤۳٦ھ) میاشت بښکاره شوه، د الله تعالٰی رحمتونه وریدل شروع شو او په هغه باندې هُم د کرم څاڅکې وشو او هغه په کریمیه قادِرِیّه مسجِد کورنګۍ نمبر دوه نیم بابُ الْمَدِینه کراچۍ کښې کیدونکې اِجتِماعي اِعتِکاف کښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په آخرۍ عَشره کښې مُعتَکِف شو. د هغه خزان وهلې ژوند کښې د سپرلې د سحر مَدَني ګُلونه وسپړدل شو، هغه ته د توبه کولو توفیق نصیب شو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه لـمونځ ګُزاره جوړ شو، د ګیرې پریښودلو او عِمامې په سر کولو سعادت ئې حاصل کړو او د تبلیغِ قُرآن و سُنَّت د عالـمګیر غیر سیاسي تحریك دعوتِ اسلامي د سُنَّتو د تربِیَّت د یوې میاشتې په مَدَني قَافِله کښې د عاشقانِ رَسُول سره د سُنَّتو ډك سفر هُم ورنصیب شو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې لِیك د وخته پورې د یو جُمات د ذیلي حلقې د مَدَني قافِله ذِمَّه دار په حیثیت د دعوتِ اسلامي مَدَني کارونو کښې د حِصّه اخستلو سعادت حاصلوي.

مرضِ عصیاں سے چھٹکارا چاہو ا گر مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
آؤ آؤ ادھر آ بھی جاؤ ادھر مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٣٩)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

## په رِزق كښې د بَرَكت بيمثاله وظيفه

يو صحابي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ عرض وکړو: يارَسُولَ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! دُنيا ما ته شا كړي ده. ورته ئې اوفرمائيل: آيا هغه تَسْبِيْح تا ته ياده نه ده، كومه چه تَسْبِيْح ده د فرښتو او د مخلوق د كومې په بَرَكت چه روزي وركولې كيږي، چه كله صبا صادِق راوخيژي نو دا تَسْبِيْح يو سل ځله لوَله، "سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ الْعَظِيْمِ، اَسْتَغْفِرُاللّٰهَ" دُنيا به تا ته ذليله شوي راځي. هغه كس لاړو څه موده حصار شو بيا دوباره حاضر شو، عرض ئې وكړو: يَارَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! دُنيا ما ته په دومره كثرت راغله، زه حيران يم، چرته ئې كيږدم چرته ئې وساتم!

(الخصائصُ الکُبریٰ للسُّیُوطی ج۲ص۲۹۹ مُلَخَّصاً)

اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: د دې تَسْبِيْح وظيفه حَتَّی الاِمكان د صبا صادق راختلو سره پكار ده، كني د سحر نه مخكښې، كه جُمعه ودريږي نو په هغې كښې شريك شئ بيا وروسته شمير پوره كړئ او په كومه ورځ چه د لمانځه نه مخكښې هُم ونه شي نو خير د لمر ختلو نه مخكښې. (مَلفُوظاتِ اعلیٰ حضرت ص۱۲۸ مُلَخَّصاً)

## د "يَا غَفَّار" د شپږو حُروفو په نِسبت
## د عمامې مُتَعَلِّق ٦ فرامِينِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم

۞ د عِمامې سره دوه ركعاته لمونځ د عِمامې نه بغير اوياؤ ركعاتو نه غوره دې (اَلْفِرْدَوْس بِمَأْثُور الْخطَاب ج۲ص۲٦۵ حديث۳۲۳۳) ۞ په خوَلۍ [يعني په ټوپۍ] د پاسه عمامه زمونږه او د مُشرِكينو په مينځ كښې فرق دې په هر لړ باندې چه مسلمان به ئې د خپل سر نه تاوهې په هغې به په ورځ د



www.dawateislami.net

قیامت یو نُور ورکولې کیږي (اَلجامِعُ الصَّغِیر لِلسُّیُوطی ص۳۵۳ حدیث۵۷۲۵) ۞ بیشکه الله تعالیٰ او د هغه فرښتې دُرُود لیږي د جُـمُعـې په ورځ عِمامه والؤ باندې (اَلْفِردَوس بِمَأثُور الْخطاب ج۱ص۱۴۷ حدیث۵۲۹) ۞ د عمامې سره لـمونځ د لسو زرو نیکو برابر دي (ایضاً ج۲ص۴۰۶ حدیث۳۸۰۵، فتَاوٰی رَضَوِیّه مُخرَّجة، ج۶، ص۲۱۳) ۞ د عمامې سره یوه جُـمُعه د عمامې نه بغیر اویاؤ جُـمُعو برابره ده. (ابنِ عَساکِر ج۳۷ص۳۵۵) ۞ عمامې د عربو تاجونه دي نو عمامه تړئ ستاسو وقار به زیاتیږي او څوك چه عمامه وتړي د هغه د پاره په هر لړ باندې یوه نیکي ده. (کَنْزُ الْعُمَّال ج۱۵ص۱۳۳ حدیث۴۱۱۳۸)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد
تُوبُوا اِلَی الله! اَسْتَغْفِرُ الله
صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد



www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د نفلي روژو فضائل



## د دُرُود شريف فضيلت

**فرمانِ مُصطَفیٰ** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قيامت په ورځ به د **اللّٰه** تعالیٰ د عرش نه سِوا يو سوري نه وي، دري كسان به د عَرشِ اِلٰهی په سوري كښې وي. عرض وكړې شو: يارَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! هغه خلق به څوك وي؟ اِرشاد ئې اُوفرمائيلو: (۱) هغه كس څوك چه زما د اُمَّتي پريشاني لرې كړي (۲) زما سُنَّت ژوندي كوونكي (۳) په ما باندې كثرت سره دُرُود شريف لوستونكي.

(اَلْبُدُورُ السَّافِرَۃ ص۱۳۱ حدیث۳۶۶)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

## د نفلي روژو ديني او دُنياوي فائدې

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د فرض روژو نه علاوه د **نفلي روژو** عادت هُم جوړول پکار دي ځکه چه په دې کښې بيشميره ديني او دُنياوي فائدې دي او ثواب خو ئې دومره دې چه بس تپوس ئې مه کوه! د بنده زړه غواړي چه بس مسلسل روژې نيسم. په **دِيني فائدو** کښې ئې د اِيمان حفاظت، د جَهنَّم نه خلاصې او جَنَّت حاصليدل شامِل دي او د کومه حده پورې چه د دُنياوي فائدو تَعَلُّق دې نو د ورځې په خوراك څښاك کښې د لګيدو والا وخت او خرچې بچت، د خيټې اِصلاح او د ډيرو مرضونو نه د حفاظت ذريعه ده او د ټولو فائدو اصل دا دې چه د روژه دار نه **الله** تعالٰی راضي کيږي.

## روژه دارو د پاره د بخښنې زيرې

**الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی پاره ۲۲ سُوْرَةُ الْاَحْزَاب آيت نمبر ۳۵ کښې اِرشاد فرمائي:

وَ الصّٰٓىٕمِیْنَ وَ الصّٰٓىٕمٰتِ وَ الْحٰفِظِیْنَ فُرُوْجَهُمْ وَ الْحٰفِظٰتِ

وَ الذّٰكِرِیْنَ اللّٰهَ كَثِیْرًا وَّ الذّٰكِرٰتِ ۙ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّ اَجْرًا عَظِیْمًا ﴿۳۵﴾ (پ۲۲ الاحزاب: ۳۵)

مَفهُوم ترجمهٔ کَنزُالْاِيمان: او روژه دار او روژه دارې او د خپلې پاك لـمنځ حفاظت کوونکي نارينه او حفاظت کوونکې زنانه او **الله** ډير يادوونکي نارينه او يادوونکې زنانه دې واړو لره **الله** بخښنه او اجر تيار ساتلې دې.

وَ الصّٰٓىٕمِیْنَ وَ الصّٰٓىٕمٰتِ (ترجمه: او روژه دار او روژه دارې) په تفسير کښې حضرتِ عَلّامه ابو البرکات عبدُالله بِن احمد نَسَفي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ليکي: په دې کښې فرض او نفل دواړه قِسمه روژې داخلي



www.dawateislami.net

دي. منقُول دي: چا چه هره مياشت د اَيَّامِ بِيض (يعني د سپوږمۍ د ١٣، ١٤، ١٥ تاريخ) درې روژې ونيولې هغه په روژه نيولو والؤ كښې شميرلې كيږي. (تفسير مدارك ج٢ ص٣٤٥)

اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰى پاره ٢٩ سُوْرَةُ الْحَآقَّه آيت نمبر ٢٤ كښې اِرشاد فرمائي:

كُلُوْا وَ اشْرَبُوْا هَنِيْٓـًٔا بِمَآ اَسْلَفْتُمْ فِي الْاَيَّامِ الْخَالِيَةِ ﴿٢٤﴾

مَفهُوم ترجمۀ كَنْزُالْاِيمان: خورئ او څښئ په مزه خيته بدله د هغې چه تاسو په تيرو ورځو كښې مخكښې ليږلي وو.

حضرتِ شاه عبدُ العزيز مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د آيتِ كريمه د دې حِصّې: (په تيرو ورځو كښې) نه لاندې ليكي: يعني د دُنيا په ورځو كښې په تيرو ورځو كښې يا په هغه ورځو كښې كومې چه د خوراك څښاك نه بغير وې او هغه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د روژو ورځې دي او د نورو مَسنونو روژو ورځې لكه د اَيَّامِ بِيض (يعني د سپوږمۍ د ١٣، ١٤، ١٥ تاريخ ورځې)، د عَرَفې (يعني د ٩ ذُوالْحِجَّةُ الْحَرَام) ورځ، د عاشورې ورځ، د كُل ورځ، د زيارت ورځ او د شَبِ براءَت ورځ وغيره. (تَفسِير عزِيزى ج٢ ص١٠٣) حضرتِ سَيِّدُنا اِمام مُجاهِد رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: فِي الْاَيَّامِ الْخَالِيَةِ ﴿٢٤﴾ (په تيرو ورځو كښې) نه مُراد د روژو ورځې دي. اوس مطلب دا شو چه تاسو اوخورئ او وڅښئ د هغې په بدله كښې كوم چه تاسو د روژو په ورځو كښې د اللّٰه تعالٰى د رضا د پاره خپل ځانونه د خوراك څښاك نه حصار كړي وو. (لِـهذا په جَنَّت كښې خوراك څښاك به په دُنيا كښې د خوراك څښاك نه د حصاريدو بدله شي) (تَفسِير رُوحُ البَيان ج٧ ص١٤٣)



www.dawateislami.net

# د نفلي روژو په فضائلو ۱۳ فرامينِ مُصطَفٰی

## ﴿۱﴾ د جَنَّت عجيبه وَنه

چا چه يوه نفلي روژه ونيوله د هغه د پاره به په جَنَّت کښې يوه ونه ولګولې شي چه د هغې ميوه به د انار نه وړه او منړې نه غټه وي او هغه به د شَهدو [يعني ګبين] په شان خوږه او خوندوره وي، **الله** تعالیٰ به په ورځ د قيامت روژه دار بانديې د هغه ونې ميوه خوري.

(مُعجَم کَبِير ج۱۸ ص٣٦٦ حديث٩٣٥)

## ﴿۲﴾ د خلويښتو کالو په فاصله د دوزخ نه لرې والي

چا چه د ثواب د اُمِّيد لرلو سره **يوه نفلي روژه** ونيوله، **الله** تعالیٰ به هغه د دوزخ نه څلويښت کاله (يعني د څلويښتو کالو په فاصله) لرې کړي. (جمعُ الْجَوامِع ج۷ ص۱۹۰ حديث۲۲۲۵۱)

## ﴿۳﴾ د دوزخ نه د پنځوسو کالو مَـزَل پورې لرې والي

چا چه د رضائے اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ د پاره د يوې ورځې نفل روژه ونيوله نو **الله** تعالیٰ به د هغه او د دوزخ تر مينځه د يو تيز رفتاره سواره د پنځوسو کالو د مَزَل (يعني فاصلې) پورې لرې والې وکړي. (کَنْزُ الْعُمَّال ج۸ ص۲۵۵ حديث۲٤۱٤۹)

## ﴿٤﴾ د ټولې زمکې هُمره سرو زرو نه هُم زيات ثواب

که چا يوه ورځ نفل روژه ونيوله او د ټولې زمکې هُمره سره زر هغه ته ورکړې شي بيا به هُم د هغه ثواب پوره نه شي، د هغه ثواب خو به صرف د قيامت په ورځ ورکولې کيږي.

(اَبو يَعْلٰی ج٥ ص٣٥٣ حديث٦١٠٤)



www.dawateislami.net

## ﴿۵﴾ د جَهنَّم نه ډیر زیات لرې والې

چا چه د **الله** تعالیٰ په لار کښې د یوې ورځې فرض روژه ونیوله **الله** تعالیٰ به هغه د جَهنَّم نه دومره لرې کړي څومره چه د ووؤ زمکو او آسمانونو په مابَین (یعني مینځ) کښې فاصِله ده. او چا چه د یوې ورځې نفل روژه ونیوله **الله** تعالیٰ به هغه د جَهنَّم نه دومره لرې کړي څومره چه د زمکې او آسمان تر مینځه فاصله ده. (مَجْمَعُ الزَّوائِد ج۳ ص ٤٤٥ حديث ٥١٧٧)

## ﴿٦﴾ قارغه چه د وړوکوالي نه بوډا والي پورې اَلوَځي تر دې چه....

چا چه د یوې ورځې روژه د **الله** تعالیٰ د رِضا حاصلولو د پاره ونیوله **الله** تعالیٰ به هغه د جَهنَّم نه دومره لرې کړي څومره چه یو قارغه د خپل وړوکوالي نه اَلوَتل شروع کړي تر دې چه بوډا شي او مړ شي. (اَبو يَعْلٰی ج۱ ص۳۸۳ حديث۹۱۷)

## ﴿۷﴾ د روژې په شان یو عمل نشته

حضرتِ سَیِّدُنا ابو اُمامه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: ما عرض وکړو: "یارَسُولَ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما ته داسې عمل وښائې چه د هغې په سبب جَنَّت ته داخل شم." هغوئي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: "روژه په ځان باندې لازِمه کړه ځکه چه د دې په مِثل یو عمل نشته." راوي وائي: "د حضرتِ سَیِّدُنا ابو اُمامه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ په کور کښې د ورځې په وخت کښې د میلمه د راتلو نه علاوه کله لُوګي ونه لیدلې شو (یعني هغوئي به د ورځې طعام هډو خوړلو نه، روژې به ئې نیولې)."
(الاحسان بترتيب صحيح ابنِ حبّان ج٥ ص١٧٩ حديث٣٤١٦)

## ﴿۸﴾ روژه ونیسئ صحت یاب به شئ

صُوْمُوْا تَصِحُّوْا. یعني روژه ونیسئ صِحَت یاب به شئ. (مُعْجَمُ اَوْسَط ج٦ ص١٤٦ حديث٨٣١٢)



www.dawateislami.net

## ﴿۹﴾ په مَحشر کښې د روژه دارو مزې

د قیامت په ورځ چه به کله روژه دار د قبرونو نه را اُوځي نو هغوئي به د روژې په بُوئي پیژندلې کیږي، د هغوئي د پاره به دَسترخوان لګولې کیږي او هغوئي ته به وئیل شي: ”اوخورئ! پرون تاسو وږي وئ، وڅښئ پرون تاسو تږي وئ، آرام وکړئ پرون تاسو ستړي وئ.“ پس هغوئي به خوري څښي او آرام به کوي حالانکه خلق به د حساب په مَشَقَّت او تنده کښې اخته وي. (جَمْعُ الْجَوامِع ج۱ ص۳۳٤ حديث۲٤٦۲)

## ﴿۱۰﴾ .... نو هغه به جَنَّت ته داخلیږي

چا چه لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اُووئیلو او په حق ورسیدو نو هغه به جَنَّت ته داخلیږي. او چا چه یوه ورځ د الله تعالٰی د رِضا د پاره روژه ونیوله، هُم په هغې باندې د هغه خاتِمه وشوه نو هغه به جَنَّت ته داخلیږي. او چا چه د الله تعالٰی د رِضا د پاره صَدَقه وکړه، هُم په هغې باندې د هغه خاتِمه وشوه نو هغه به جَنَّت ته داخلیږي. (مُسْنَدِ اِمام اَحمَد، ج۹ ص۹۰ حديث۲۳۳۸٤)

## ﴿۱۱﴾ تر څو چه د روژه دار په مخکښې طعام خوړلې کیږي

حضرتِ سَیِّدَتُنا اُمِّ عُماره بِنتِ کَعْب رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا فرمائي: سردارِ دوجهان، خوږ نبي سُلطان صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما کره تشریف راوړو، ما ورته طعام وړاندې کړو نو اِرشاد ئې اُوفرمائیلو: ”ته ئې هُم اوخوره!“ ما عرض وکړو: ”زما روژه ده“ نو وئې فرمائیل: تر څو پورې چه د روژه دار په مخکښې طعام خوړلې کیږي فرښتې د هغه روژه دار د پاره مسلسل د بخښنې دُعا کوي.“ (ترمِذِی، ج۲ ص۲۰۵ حديث۷۸۵)



www.dawateislami.net

## ﴿۱۲﴾ هډوکي ئې تَسۡبِيۡح کوي

سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرتِ بلال رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ ته اِرشاد اُوفرمائيلو: ”اے بِلال! (رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ) راشه ناشته وکړو.“ (حضرتِ سَيِّدُنا) بلال رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عرض وکړو: ”زه روژه يم.“ نو رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: مونږه خپل رِزق خورو او د بِلال (رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ) رِزق په جَنَّت کښې زياتيږي.“ بيا ئې اُوفرمائيل: ”اے بلال! آيا ته خبر ئې چه د څومره ساعته پورې د روژه دار په مخکښې څه خوړلې کيږي تر هغې پورې د هغه هډوکي تَسۡبِيۡح کوي، هغه ته فرښتې دُعا کوي.“ (اِبنِ مَاجَه ج۲ ص۳٤۸ حديث۱۷٤۹)

## ﴿۱۳﴾ په روژه کښې د مړ کيدو فضيلت

”څوک چه د روژې په حالت کښې مړ شو، **الله** تعالیٰ به د قيامته پورې د هغه په حِساب کښې روژې وليکي.“ (اَلْفِرْدَوْس بِمَأْثُوْرِ الْخِطَاب ج۳ ص٥٠٤ حديث٥٥٥۷)

## د نيک کار په دوران کښې د مړ کيدلو سعادت

خوش نصيبه دې هغه مسلمان چا ته چه د روژې په حالت کښې مرګ راشي بلکه د هر يو نيک کار په دوران کښې مرګ راتلل ښه خبره ده. مَثَلًا په اوداسه کښې يا د لمانځه په دوران کښې مړ کيدل، د سفرِ مدينه په دوران کښې رُوح وَتل، د حج په دوران کښې په مَکَّهٔ مُکَرَّمه، مِنٰی، مُزدَلِفه يا عَرَفات شريف کښې وفات کيدل، د **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو د تربِيَّت په **مَدَنِي قَافِله** کښې د عاشقانِ رَسُول سره د سُنَّتو ډک سفر په دوران کښې د دُنيا نه رُخصتيدل، دا ټول عظيم سعادتونه دي کوم چه صرف خوش نصيبو ته حاصليږي. په دې باره کښې حضرتِ سَيِّدُنا خَيثَمه رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان نيک خواهشات بيانوي چه ”صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان به دا خبره خوښوله چه د يو ښه کار مَثَلًا حج، عُمره، غَزوه (جِهاد)، د **رَمَضان** د روژې وغيره په دوران کښې مرګ راشي.“ (حِلۡيَةُ الۡاَوۡلِيَاء ج٤ ص۱۲۳)



www.dawateislami.net

## د کالُو چاچا ایمان تازه کوونکې وفات

د ښه کار په دوران کښې د مرګ غیږې له د تللو سعادت صرف د مُقدَّر والؤ حِصّه ده. په دې باره کښې د تبليغِ قُرآن و سُنَّت د عالـمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د **اجتماعي اعتكاف** يو مَدَني سپرلي اوکورئ او ټول عُمر د **دعوتِ اسلامي** په مَدَني ماحول کښې د شامل اوسيدو عهد وکړئ. د مدينةُ الاَولياء اَحمد آباد شريف (ګُجرات اَلهِند) **کالُو چاچا** (عمر تقريباً ٦٠ کاله) د **رَمَضَانُ المُبارك** (سن ١٤٢٥ھ، 2004ء) په آخري عَشَره کښې شاهي مسجِد (شاه عالَم، احمد آباد شريف) کښې کيدو والا د تبليغ قُرآن و سُنَّت د عالَمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** په **اجتماعي اعتِكاف** کښې مُعتَكِف شو. دغسې خو هغوئي د مخکښې نه د **دعوتِ اسلامي** په مَدَني ماحول کښې شامِل وو خو د **عاشقانِ رسول** سره د **اعتِكاف** کولو ورومبې ځل ئې وو. په اعتکاف کښې د ډير څه زده کولو موقع په لاس ورغله او ورسره ورسره پکښې د **دعوتِ اسلامي** په ٧٢ مَدَني انعاماتو کښې **په ورومبي صَف کښې د لمُونځ کولو** د ترغيب والا دويم مَدَني انعام باندې د عمل ښه جذبه پيدا شوه. په ۲ **شَوَّالُ الْمُكَرَّم** يعني د واړه اختر په دويمه ورځ ئې د عاشقانِ رسول سره د درې ورځو په مَدَني قافِله کښې د سُنَّتو ډك سفر وکړو. د مَدَني قافِلې نه د بيرته راتلو نه پينځه يا شپږ ورځې پس يعني په ١١ **شَوَّالُ الْمُكَرَّم** ١٤٢٥ھ (2004ء) د څه کار په غرض بازار ته لاړو، اګر چه مصروفيت ئې هُم لرلو خو د ناوخته کيدو په صورت کښې ئې د ورومبي صف د تللو انديښنه وه، لِهٰذا ټول کارونه ئې پريښودل او جُمات ته روان شو او د اذان نه مخکښې جُمات ته ورسيدلو، چه اَودَس ئې وکړو او څنګه ولاړ شو نو ناڅاپه راپريوتلو، **کَلِمه شريفه** او **دُرُود شريف** لوستلو لوستلو کښې ئې د بدن نه رُوح اووتلو. اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّآ اِلَيۡهِ رٰجِعُوۡنَ. سُبۡحٰنَ الله! چا ته چه د مړ کيدو په وخت کښې د کلمې شريفې وئيلو سعادت نصيب شي اِنۡ شَآءَالله تعالیٰ د هغه په قبر او حشر کښې بيړئ پوريوتله. چنانچه نبيِّ رَحمت، شَفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلي دي: "د چا چه آخري کَلام لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله وي هغه به جَنَّت ته داخليږي." (اَبو داؤد ج۳



www.dawateislami.net

ص۲۵۵حدیث۳۱۱۶) د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول نور بَرَکت واورئ: چنانچه د وفات نه يو څو ورځې پس د هغوئي څوئ خوب وليدو چه مرحوم سپيني جامې اغوستي دي او د شنې عمامې [يعني پټکي] تاج ئې په سر دې او په مُسکا مُسکا فرمائي: څويه! **د دعوتِ اسلامي په مَدَني کارونو کښې لګيا اوسه ځکه چه د هُم دې مَدَني ماحول په بَرَکت په ما کرم شوې دې.**

موت فضلِ خدا سے ہو ایمان پر مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
رب کی رحمت سے جنت میں پاؤ گے گھر مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٤٠)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په سخته ګرمئ کښې د روژې فضيلت

حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُمَا فرمائي: چه مکّی مَدَنی سردار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو مُوسیٰ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ يو سمندري جِهاد ته وليږلو. په يوه تِياره شپه کښې چه کله د کشتئ پردې اوچتې کړې شوې نو هاتِفِ غيب غږ وکړو [يعني يو غيبي آواز راغې]: "اے کشتئ والؤ ودرېږئ! آيا زه تاسو ته ونه ښايم چه **اللّٰه** تعالٰی په خپله ذِمَّهٔ کرم باندې څه اخستي دي؟ حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو مُوسیٰ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ اُوفرمائيل: "که ته ښودلې شې نو ضرور وښايه." هغه اُووئيل: "**اللّٰه** تعالٰی په خپله ذِمَّهٔ کرم باندې اخستي دي چه څوک د سختې ګرمئ په ورځ خپل ځان د **اللّٰه** تعالٰی د پاره تږې وساتي **اللّٰه** تعالٰی به هغه د سختې تندې په ورځ (يعني د قيامت په ورځ) خړوب [يعني په اوبو موړ] کړي." راوي فرمائي: د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو مُوسیٰ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ عادت وو چه د سختې ګرمئ په ورځ به ئې روژه نيوله. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج۲ ص۵۱ حديث۱۸)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

## د قيامت په ورځ به روژه دار خوراکونه کوي

تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن رَباح انصاري رَحْمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي، ما د يو راهِب نه واوريدل: د قِيامت په ورځ به دَسترخوانونه خوروليِ کيږي، د ټولو نه مخکښې به روژه دار د هغې نه خوري." (اِبنِ عَساکِر ج۵ ص۵۳٤)

# د عاشورې د روژې فَضائل

## د "شهيدِکربَلا" د نهو حُرُوفو په نِسبَت

## په عاشُوره کښې واقع کيدونکي ۹ اَهَم واقِعات

﴿۱﴾ د عاشورې په ورځ (يعني په ۱۰ مُحَرَّمُ الْحَرَام) د حضرتِ سَيِّدُنا نُوح عَلَیْہِ السَّلَام کشتئ په کوهِ جُودي ودريدله ﴿۲﴾ په هُم دې ورځ د حضرتِ سَيِّدُنا آدم صَفِیُّ الله عَلَیْہِ السَّلَام د خطا توبه قبوله شوه ﴿۳﴾ په هُم دې ورځ د حضرتِ سَيِّدُنا يُونُس عَلَیْہِ السَّلَام د قوم توبه قبوله شوه ﴿٤﴾ په هُم دې ورځ حضرتِ سَيِّدُنا ابراهيم خليلُ الله عَلَیْہِ السَّلَام پيدا شو ﴿۵﴾ په هُم دې ورځ حضرتِ سَيِّدُنا عِيسىٰ رُوحُ الله عَلَیْہِ السَّلَام پيدا شو (اَلْفِردَوْس ج۱ ص۲۲۳ حديث۸۵٦) ﴿٦﴾ په هُم دې ورځ حضرتِ سَيِّدُنا مُوسیٰ کليمُ الله عَلَیْہِ السَّلَام ته او د هغوئي قوم ته نَجات حاصل شو او فرعون سره د هغه د قوم غرق شو (بُخاری ج۲ ص٤۳۸ حديث ۳۳۹۷، ۳۳۹۸) ﴿۷﴾ په هُم دې ورځ حضرتِ سَيِّدُنا يوسُف عَلَیْہِ السَّلَام ته د قيدخانې نه خلاصې ورکړې شو ﴿۸﴾ په هُم دې ورځ حضرتِ سَيِّدُنا يُونُس عَلَیْہِ السَّلَام د مهي د خيټې نه راويستلې شو (فيض القدير ج۵ ص۲۸۸ تحت الحديث۷۰۷۵) ﴿۹﴾ سَيِّدُنا اِمامِ حُسين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ سره د خپلو شهزادګانو او سره د ملګرو د درې ورځو د لوږې او تندې نه پس هُم د دې عاشورې په ورځ په دَشتِ کربَلا کښې په اِنتِهائي بې رَحمئ سره شهيد کړې شو.



www.dawateislami.net

## د "يا حُسَين" د شپږو حُرُوفو په نِسبِت د مُحَرَّمُ الْـحَـرَام او د عـاشُـورې د روژو ٦ فَـضـائل

﴿۱﴾ حُضُور نَبِيِّ كريم رَءُوفٌ رَّحِيم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د رَمَضان نه پس د مُحَرَّم روژه افضل [يعني غوره] ده او د فرضو نه پس افضل لـمونځ صَلٰوةُ الَّيل (يعني د شپې نفلونه) دي. (مُسلِم ص۵۹۱ حديث۱۱۶۳)

﴿۲﴾ خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: د مُحَرَّم د هرې ورځې روژه د يوې مياشتې د روژو برابره ده. (مُعجَم صغِير ج۲ ص۷۱)

**يومِ مُوسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام:** ﴿۳﴾ د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اِرشاد مبارك دې: رسولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چه كله مديني ته تشريف راوړو نو يهوديان ئې د عاشورې په ورځ روژه دار وليدل نو ارشاد ئې اوفرمائيلو: دا څه ورځ ده چه تاسو روژه نِيسئ؟ هغوئي عرض وكړو: دا د عَظَمت والا ورځ ده څكه چه په دې كښې مُوسٰى عَلَيْهِ السَّلَام او د هغوئي قوم ته الله تعالىٰ خلاصي وركړو او فرعون او د هغه قوم ئې ډوب كړو. لِهٰذا مُوسٰى عَلَيْهِ السَّلَام د شُكراني په طور د دې ورځې روژه ونيوله نو مونږه هُم روژه نِيسو. ارشاد ئې اوفرمائيلو: د مُوسٰى عَلَيْهِ السَّلَام په مُوافَقَت كولو كښې ستاسو په نِسبت مونږه زيات حقدار او زيات نزدې يو. نو سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پخپله هُم روژه ونيوله او د دې حُكم ئې هُم اوفرمائيلو.

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې حديثِ پاك نه معلومه شوه چه په كومه ورځ الله تعالىٰ څه خاص نِعمت عطا كړې د هغې يادګار قائم ساتل صحيح او مَحبوب دي چه دغسې به د هغه عظيم نعمت ياد تازه كيږي او د هغه د شُكر كولو سبب به هُم وي پخپله په قُرآنِ مجيد كښې اِرشاد فرمائيلې شوې وي:



www.dawateislami.net

وَ ذَكِّرۡهُمۡ بِاَيّٰمِ اللّٰهِ ؕ

مَفهُوم ترجمۂ کَنْزُالْاِيمان : او هغوئي ته د الله تعالیٰ ورځې وريادي کړه.(پ۱۳، ابراهيم: ۵)

صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سيِّد محمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه د دې آيت نه لاندې ليکي چه ”بِاَيّٰمِ اللّٰهِ ؕ“ نه هغه ورځې مُراد دي په کومو کښې چه الله تعالیٰ په خپلو بندګانو باندې انعامونه کړي دي لکه د بنی اِسرآئيل د پاره د مَنّ و سَلْوٰی د نازلولو ورځ، د حضرتِ سَيِّدُنا مُوسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د پاره په درياب کښې د لارې جوړولو ورځ. په دې ورځو کښې د ټولو نه د غټې نعمت ورځې د حُضُور نبيِّ کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وِلادت [يعني پيدائش] او د مِعراج ورځې دي، د دې ياد قائمول هُم د دې آيت په حُکم کښې داخل دي. (خَزائِنُ الْعِرفان ص۴۷۹ مُلَخَّصاً)

## عيد مِيلادُ النَّبِي او دعوتِ اسلامي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د مکِّـی مَدَنـی سُلطان صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **يومِ وِلادَت** نه زياته به بله کومه ورځ ”يومِ اِنعام“ وي؟ بيشکه ټول نعمتونه هُم د هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر دي او د هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يومِ وِلادَت خو د اخترو هُم اختر دې. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د **تبليغ قُرآن و سُنَّت** عالـمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** له طرفه په دُنيا کښې په بيشميره مُقاماتو کښې هر کال **عِيدِ مِيلادُالنَّبِي** صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شانداره طريقه لـمانځلې کيږي. د رَبِيعُ الْاَوَّل شريف په دولسمه شپه عظيم الشّان **اِجتِماعِ مِيلاد** مُنعقد کيږي او بِالخُصُوص زه نيك ګُمان لرم چه په هغه شپه د دُنيا د ټولو نه غټه ”اِجتِماعِ مِيلاد“ په **بابُ الْمَدِينه کراچۍ** کښې مُنعقد کيږي او په مَدَنـي چينل براه راست (Live) ټيلي کاسټ کيږي. او د [اخترونو د] اختر [عِيدِ مِيلادُالنَّبِي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] په ورځ د مرحبا يا مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نعرو سره بيشميره جُلُوسِ مِيلاد ويستلې کيږي چه په هغې کښې په لاکونو عاشقانِ رَسُول شريك کيږي.



www.dawateislami.net

عید میلادالنبی تو عید کی بھی عید ہے　　　بالیقیں ہے عید عیداں عید میلادالنبی

(وَسائلِ بخشِش ص ٣٨٠)

## د عاشُورې روژه

﴿٤﴾ حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله ابنِ عبّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنهُمَا فرمائي: ”ما د دواړو جهانو سردار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د یوې ورځې روژه د بلې ورځې په مقابله کښې په فضیلت ورکولو او جُستُجُو کولو نه دې لیدلې مګر دا چه د **عاشورې** ورځ او دا چه د **رَمَضان** میاشت.“ (بُخاری ج١ ص٦٥٧ حدیث ٢٠٠٦)

## د یَهُودیانو مخالفت کوئ

﴿٥﴾ **نَبِیِّ رَحمت، شَفِیْعِ اُمَّت، شَهَنْشَاهِ نُبُوَّت، تاجدارِ رِسالت** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: د عاشورې د ورځې روژه نیسئ او په دې کښې د یهُودیانو مخالَفت کوئ، د دې نه مخکښې یا وروسته هُم د یوې ورځې روژه نیسئ. (مُسْنَدِ اِمام اَحمَد، ج١ ص٥١٨ حدیث ٢١٥٤) د **عاشُورې** روژه چه کله هُم نِیسئ نو ورسره د نَهَم یا یوولسم **مُحَرَّمُ الْحَرَام** روژه نیول هُم بهتر دي.

﴿٦﴾ د **حضرتِ** سَیِّدُنا اَبُو قَتاده رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنهُ نه رِوایت دې چه رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ما ته په **الله** تعالٰی باندې ګُمان دې چه **د عاشُورې روژه** د یو کال مخکښني ګناهونه ورانوي.

(صحیح مُسلِم ص٥٩٠ حدیث ١١٦٢)

## ټول کال په کور کښې بَرَکت

د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارې **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** چاپ شوي د ١٦٦ صفحو کتاب، ”اِسلامي زندګی“ صفحه ١٣١ کښې مشهور **مُفَسِّر حَکِیمُ الْاُمَّت** حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیه فرمائي: خوك چه د **مُحَرَّمُ الْحَرَام** د نهمې او لسمې ورځې روژې ونیسي نو ډیر ثواب به مومي. د بال بچو د پاره دِ په لسم **مُحَرَّم** ښه ښه خوراکونه پاخه کړي نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی ټول کال به ئې په



www.dawateislami.net

کور کښې بَرَکتونه وي. بهتره ده چه کِچړا[1] پخه کړي او د شهيدِ کربلا حضرتِ سَيِّدُنا اِمام حُسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ د اِيصالِ ثواب د پاره دِ پرې فاتِحه ولولي ډېر مُجَرَّب (يعني فائده مند، ازمائيلې شوې) دې. (اسلامی زندگی ص۱۳۱)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د رَجَبُ الْمُرَجَّب روژې

پاره۱۰ سُورَةُالتَّوبَه آيت ۳٦ کښې ارشاد کيږي:

اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ مِنْهَاۤ اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ؕ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ۙ۬ فَلَا تَظْلِمُوْا فِيْهِنَّ اَنْفُسَكُمْ وَ قَاتِلُوا الْمُشْرِكِيْنَ كَآفَّةً كَمَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ كَآفَّةً ؕ وَ اعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۶﴾

مَفهُوم ترجمۂ کَنۡزُالۡاِیمان: بيشکه د مياشتو شمير د الله په نِزد دولس مياشتې دي د الله په کتاب کښې، د کله راستې چه هغه زمکه او آسمانونه جوړ کړي دي. په هغې کښې څلور حُرمت لرونکې دي، دا نيغ دِين دې نو په دې مياشتو کښې په خپلو ځانونو ظُلم مه کوئ او مُشرِکانو سره تل جنګيږئ څنګه چه هغوئ ستاسو سره تل جنګيږي او پوهه شئ چه الله د پرهيزګارانو سره مَل دې.

## د حُرمت لرونکو څلورو مياشتو نومونه

د بيان شوي آيتِ مُبارکه نه لاندې صَدرُ الافاضِل حضرت عَلّامه مَولانا سَيِّد مُحَمَّد نَعِيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ په "خَزائِنُ العِرفان" کښې فرمائي: (څلور حُرمت لرونکو مياشتو نه مُراد دي) درې پرله پسې ذُوالقَعده، ذُوالحِجَّه، مُحَرَّم او يوه جُدا رَجَب. عربو به دَ جاهِلِيَّت په زمانه

[1] [چه غوښه او د چنې دال داسې ګډ وَډ وراسته پاخه کړې شي چه بالکل ليتې غوندې ترې جوړه شي، دې ته عوام "حليم" وائي خو حَليم د الله جَلَّ جَلَالُہٗ صفاتي نوم دې ځکه اميرِ اَهلِسُنَّت فرمائي چه د الله جَلَّ جَلَالُہٗ د نامه د ادب په وجه دې ته "حليم" نه بلکه "کِچړا" وئيل پکار دي. او اصل نوم ئې "لَحِيم" دې يعني د لَحم يعني غوښې نه وتلې لفظ دې]



www.dawateislami.net

کښې هُم په دې کښې جنګ کول حرام ګڼړل. په اِسلام کښې د دې میاشتو حُرمَت او عَظَمت نور هم زيات شو.(خَزائِنُ العِرفان ص ۳۰۹)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** په دې آيت مُبارکه کښې د قَمَري (يعني د هِجري سِن د دولسو مياشتو) ذِکر دې د کومو حِساب چه د سپوږمۍ نه کيږي، د شريعت د ډيرو اَحکامو بُنياد هم په قَمَري مياشتو قائم دې، مَثَلًا دَ رَمَضَانُ المُبارَك روژې، زکوٰة، د حج اَحکام وغيره او اسلامي کليزې خوشحالۍ مثَلًا عِيدِ مِيلادُ النَّبی صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم، وروکې اَختر، غټ اَختر، شبِ مِعراج، شبِ براءَت، يوولسمه شريف، د بُزُرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی عُرسونه وغيره هم د آسماني مياشتو په حِساب سره کيږي. افسوس! نن صبا څنګه چه مسلمان د بيشميره سُنّتونو نه لرې وتې دې دَغسې د اسلامي تاريخونو نه هم ورځ په ورځ نا آَشنا کيږي، غالِبًا د يو لاك مسلمانانو په اِجتِماع کښې که دا اعلان وکړې شي چه "وښائې نن د کومې هِجري سِن د کومې مياشتې کوم تاريخ دې؟ نو شايد په مُشکله به سل مسلمانان داسې وي چه هغه به صحيح جواب ورکړې شي! ياد ساتئ! چه په ډيرو مُعامَلاتو کښې مَثَلًا د زکوٰة په فرض کيدو وغيره کښې د قَمَري مياشتو لِحاظ ساتل فرض دي.

## د رَجَب دَ اِحترام د بَرَکت حِکايت

د **حضرت** سَيِّدُنا عِيسٰی رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام د وخت واقعه ده چه يو سړې د ډيرې مودې نه په يوه ښځه عاشِق وو. يو ځل هغه په خپله محبوبه باندې قابو اوموندله، د خلقو ګڼړه ئې چه وليدله نو اندازه ئې ولګوله چه هغوئې مياشت ګوري. هغه د هغه ښځې نه تپوس وکړو چه خلق د کومې مياشتې سپوږمۍ ګوري؟ هغې جواب ورکړو: "**د رَجَب.**" هغه حالانکه چه کافِر وو خو چه د رَجَب شريف نوم ئې واوريدو نو د ادب په وجه فوراً جُدا شو او د "ګنده کار" نه منع شو. حضرت سَيِّدُنا عِيسٰی رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام ته حکم وشو: زمونږه فلانکې بنده سره مُلاقات وکړه. هغوئې عَلَيْهِ السَّلَام تشريف يوړلو او د الله تعالٰی حکم او د خپل تشريف راوړلو وجه



www.dawateislami.net

ئې ورته بيان کړه. دا ئې چه څنګه واوريدل نو د هغه زړه د اسلام په رڼړا روښانه شو او اِسلام ئې قبول کړو. (اَنِيسُ الوَاعِظِين ص ١٧٧)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو دَ رَجَب سپرلي وليدل! د رَجَبُ الْمُرَجَّب د تعظيم کولو په وجه چه يو کافِر ته د اِسلام دولت نصيب کيدې شي نو يو مسلمان چه د رَجَبُ الْمُرَجَّب اِحترام وکړي نو معلومه نه ده چه هغه ته به څه څه انعامونه نصيب کيږي! په قُرآنِ پاك کښې په حُرمَت (يعني عِزَّت) والؤ مياشتو کښې په ځان باندې د ظُلم کولو نه مَنع راغلي ده. چنانچه په "نُورُالعِرفَان" کښې:[د دې آيت] فَلَا تَظْلِمُوْا فِيْهِنَّ اَنْفُسَكُمْ (مَفهُوم ترجمهٔ كَنْزُالْاِيمان: نو په دې مياشتو کښې په خپلو ځانونو ظُلم مه کوئ) نه لاندې دي: يعني په خُصُوصِيَّت سره په دې څلورو مياشتو کښې ګناه مه کوئ." (نُورُالعِرفَان ص٣٠٦)

## دَ الله (تعالٰی) مياشت

فرمانِ مُصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: رَجَبٌ شَهْرُ اللهِ تَعَالٰى وَشَعْبَانُ شَهْرِيْ وَ رَمَضَانُ شَهْرُ اُمَّتِيْ يعني رَجَب د الله تعالٰی مياشت او شَعبان زما مياشت او رَمَضان زما دَ اُمَّت مياشت ده.
(اَلْفِردَوس بمأثور الْخِطاب ج ٢ ص ٢٧٥ حديث ٣٢٧٦)

## په رَجَب کښې د پريشانئ لرې کولو فضيلت

د حضرت سَيِّدُنا عَبدُالله اِبنِ زُبير رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دي: "څوك چه دَ رَجَب په مياشت کښې د يو مسلمان پريشاني لرې کړي نو الله تعالٰی به هغه ته په جَنَّت کښې يو داسې مَحَل ورکوي چه هغه به د نظر د حده پورې فراخه وي. تاسو دَ رَجَب اِکرام (او اِحترام) وکړئ، الله تعالٰی به په زرو ګرامَاتو ستاسو اِکرام کوي." (غُنيةُ الطّالِبين ج١ ص٣٢٤، معجمُ السّفر لِلسّلفی ص ٤١٩ رقم ١٤٢١)



www.dawateislami.net

## د دوو کالو د عِبادت ثواب

د **حضرتِ** سَیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوایت دي، د سرکارِ نامدار، مَدَنـي تاجدار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مُشکو نه زيات خوږ فرمان دي: ”چا چه د حُرمت والا مياشت کښې درې ورځې د زيارت، جُمعه او خيالي روژې ونيولې، د هغه د پاره به د دوو کالو د عبادت ثواب ليکلې کيږي.“ (مُعجَم اوسَط ج۱ ص۴۸۵ حديث۱۷۸۹)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! دلته د ”حُرمَت والؤ“ مياشتو نه هم دا څلور مياشتې يعني ذُوالقَعدہ، ذُوالحِجّه، مُحَرَّمُ الحَرام او رَجَبُ المُرَجَب مُراد دي، په دې څلورو واړو مياشتو کښې چه په کومه مياشت کښې هم د بيان کړې شوو درې ورځو روژې ونيسئ نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د دوو کالو د عِبادت ثواب به حاصل کړئ.

تیرے کرم سے اے کریم! مجھے کون سی شے ملی نہیں
جھولی ہی میری تنگ ہے، تیرے یہاں کمی نہیں

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د رَجَب مُختلِف نومونه او معني

”**رَجَب**“په اصل کښې د ”**تَرجِيب**“ نه **مُشتَق** (يعني وتلې) دې، د دې مَعنٰی ده: تَعظِيم کول.“ دې ته اَلْاَصَبُّ (يعني تيز بَهيدل) هم وائي ځکه چه په دې مُبارکه مياشت کښې په توبه کوونکو باندې د رحمتونو رابهيدل تيز شي او په عِبادت کوونکو د قبُولِيَّت د انوارو برکتونه کيږي. دې ته اَلْاَصَمّ (يعني کنړه) هم وائی ځکه چه په دې کښې د جنګونو آواز بالکل نه اوريدلې کيږي. (مُکاشَفةُ القُلوب ص۳۰۱)

## د رَجَب د درې حُروفو [ د برکتونو] به څه وائي!

سُبْحٰنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ! خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د رَجَبُ الْمُرَجَّب د سپرلو به څه وائي! په ”**مُکاشَفَةُ الْقُلُوب**“ کښې دي، بُزُرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی فرمائي چه په ”**رَجَب**“ کښې درې حُروف



www.dawateislami.net

دي: ر، ج، ب ، ”ر“ نه مُراد رَحمَتِ اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ ”ج“ نه مُراد دَ بنده **جُرم** ”ب“ نه مُراد **بِرّ** يعني اِحسان او ښيګړه. لکه الله تعالیٰ چه فرمائي: زما دَ بنده جُرم [يعني ګناهونه] زما دَ رحمت او اِحسان تر مينځه کړئ. (مُکاشَفةُ القُلوب ص۳۰۱)

عصیاں سے کبھی ہم نے کنارا نہ کیا    پَر تُو نے دلِ آزُردَہ ہمارا نہ کیا
ہم نے تو جہنَّم کی بہت کی تجویز    لیکن ترِی رحمت نے گوارا نہ کیا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د عِبادت دَ ُم کَرَلو مياشت

**حضرت** سَيِّدُنا عَلّامه صَفُّوري رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيه فرمائي: **رَجَبُ الْمُرَجَب** د تُخم کَرَلو، **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** د اُوبه خوَر (يعني د اوبو ورکولو) او **رَمَضانُ الْمُبارَك** د فَصل پريك کولو مياشت ده، لِهٰذا څوك چه په **رَجَبُ الْمُرَجَب** کښې د عِبادت تُخم وه نه کَري او په **شَعْبانُ الْمُعَظَّم** کښې هغې ته په اوښکو باندې اوبه خوَر ورنـکړي نو هغه به په **رَمَضانُ الْمُبارَك** کښې د رَحمت فصل څنګه وريبلې شي؟ نور فرمائي: **رَجَبُ الْمُرَجَب** بدن، **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** زړه او **رَمَضانُ الْمُبارَك** رُوح پاك کوي.

(نُزْهَةُ الْمَجالِس ج۱ ص۲۰۹)

## څه ئې چه ټول عُمر کښې نه وو زده کړي،
## هغه ئې لسو ورځو کښې زده کړل

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په **رَجَبُ الْمُرَجَّب** کښې د نفلي روژو او د نورو عِبادتونو ذهن جوړلو د پاره د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول سره خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ، دَ سُنَّتو د تربيت د مَدَني قافلو مُسافِر جوړ شئ، او په اجتماعي اِعتِکاف کښې حِصّه واخلئ، اِنْ شَآءَالله تعالیٰ ستاسو دواړه جهانه به ښائسته شي. د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلي تاسو ته اوروم. د سعيد آباد، بلدِيه



www.dawateislami.net

ټاؤن، بابُ الْمَدینه کراچۍ یو اسلامي ورور په هغه ورځو کښې د میټرِك طالِبِ عِلم وو، د هغه مالِكِ مکان دعوتِ اسلامي والا وو د هغه د اِنفرادي کوشش په ذریعه [زما ورور] د هغه سره په غوثیه مسجد، نیو سعید آباد، مَیمن کالونۍ کښې د **دعوتِ اسلامي** په انتظام کښې کیدونکي د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د آخري عَشَرې په ''اِعتِکاف'' کښې کښیناستلو. **مختصر دا چه هغه په لسو ورځو کښې هغه څه زده کړل چه په ټیر ټول عُمر کښې ئې نه وو زده کړي.** هُم د اِعتِکاف په دوران کښې ئې د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول مضبوط ونیولو، د هُم هغه ځاۍ نه ئې مُستقِله عِمامه په سر کول شروع کړل، د اختر په دویمه ورځ ئې د عاشقانِ رَسُول سره په **مَدَني قَافِله** کښې د سُنَّتو ډك سفر اختیار کړو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ هغوئي په مَدَني ماحول کښې رنګ کیدلو رنګ کیدلو تر دې چه هغوئي ته تنظیمي طور د ''مَدَني انعاماتو'' ذِمَّه داري هُم ورکړې شوه.

رحمتیں لوٹنے کے لئے آؤ تم مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
سنتیں سیکھنے کے لئے آؤ تم مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٤٠)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## پینځه بَرَکتي شپې

د حضرتِ سَیِّدُنا ابو اُمامه رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوایت دې چه د نَبِیِّ کریم رَءُوْفٌ رَّحِیم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عظیم دې: پینځه شپې داسې دي چه په هغې کښې دُعا نه رد کیږي ﴿۱﴾ د رَجَب ورومبۍ شپه ﴿۲﴾ د شَعبان پینځلّسمه شپه (یعني شَبِ براءَت) ﴿۳﴾ د جُمُعې شپه ﴿٤﴾ د عِیدُ الْفِطْر (یعني واړه اختر) شپه ﴿٥﴾ د عِیدُ الْاَضْحٰی (یعني غټ اختر) شپه.'' (ابنِ عَساکِر ج۱۰ص٤٠٨)

## جَنَّت ته بوتلونکي پینځه شپې

حضرتِ سَیِّدُنا خالِد بِن مَعدان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: په کال کښې پینځه شپې داسې دي څوك



www.dawateislami.net

چه د دې د تصديق کولو سره د ثواب په نِيَّت دا په عِبادت کښې تيرې کړي، **الله** تعالیٰ به هغه جَنَّت ته داخلوي ﴿۱﴾ د رجب ورومبئ شپه چه په دې شپه کښې عِبادت وکړي او د دې په ورځ روژه ونيسي ﴿۲﴾ د شَعبان پينځلَّسمه شپه (يعني شَبِ بَراءَت) چه په دې شپه کښې عِبادت وکړي او د ورځې روژه ونيسي ﴿۳،۴﴾ د اخترو شپې (يعني د واړه اختر په شپه او د غټ اختر په شپه) چه په دې شپو کښې عبادت وکړي او د ورځې روژه نه نيسي او ﴿۵﴾ د عاشورې شپه (يعني د مُحَرَّمُ الْحَرَام لسمه شپه) چه په دې شپه کښې عِبادت وکړي او د ورځې روژه ونيسي. (فَضائِلِ شَهرِ رَجَب للخَلّال ص۱۰، غنية الطّالِبِين ج۱ ص ۳۲۷)

## ورومبئ روژه د درې کالو د ګناهونو کَفّاره

**فرمانِ مُصطَفیٰ** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "د رَجَب د ورومبئ ورځې روژه د درې کالو کَفّاره ده، او د دويمې ورځې روژه د دوو کالو او د دريمې ورځې د يو کال کَفّاره ده، بيا د هرې ورځې روژه د يوې مياشتې کَفّاره ده." (اَلْجَامِعُ الصَّغِير ص۳۱۱، حديث۵۰۵۱ فَضائِلِ شَهرِ رَجَب للخَلّال ص۷) دلته "د ګناه د کَفّارې" نه مُراد دا دې چه دا روژې، د ګُناهِ صغيره د بخښې ذريعه جوړيږي.

## جَنَّتي مَحَل

تابِعِي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا ابو قِلابه رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د رَجَب د روژه دارو د پاره په جَنَّت کښې يو محل دې." (شُعَبُ الْاِيْمان ج۳ ص۳۶۸ حديث۳۸۰۲)

## دَ يو جَنَّتي نهر نوم رَجَب دې

د حضرت سَيِّدُنا اَنَس بن مالِك رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې چه رسُولُ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلې دې: په جَنَّت کښې يو نهر دې چه هغې ته "**رَجَب**" وئيلې کيږي، هغه د شودو [پئيو] نه زيات سپين او د شَهدو نه زيات خوږ دې، نو څوك چه د رَجَب يوه روژه ونيسي **الله** تعالیٰ به د هغه نهر نه په هغه باندې څښي." (شُعَبُ الْاِيمان ج ۳ ص ۳۶۷ حديث۳۸۰۰)



www.dawateislami.net

# د يوې روژې فضيلت

**حضرت** علّامه شيخ عَبدُالحق مُحَدِّث دِهلوي رَحمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیہ نقل کوي چه د سُلطانِ انبياء صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: دَ رَجَب مياشت په حُرمت لرونکو مياشتو کښې [يوه مياشت] ده او د شپږم آسمان په دروازه باندې د دې مياشتې ورځې ليکلې شوي دي. که څوك په رَجَب کښې يوه روژه ونيسي او هغه په پرهيزګارئ سره پوره کړي نو هغه دروازه او هغه (د روژې والا) ورځ به د هغه بنده د پاره د **الله** تعالیٰ نه بخښنه غواړي او عرض به کوي: ''يا **الله** عَزَّوَجَلَّ! دا بنده اُوبخښې.'' او که هغه کس د پرهيزګارئ نه بغير روژه تيره کړي نو بيا هغه دروازه او ورځ د هغه د بخښنې درخواست نه کوي او هغه کس ته وائي:'' اے بنده ستا نفس تا سره تېکي وکړه.''
(مَاثَبَتَ بِالسُّنة ص٢٣٤.فَضائِلُ شَهرِ رَجب لِلْخَلّال ص٥٦)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** معلومه شوه چه د روژې مقصد صرف وږې او تږې اوسيدل نه دي، ټول اندامونه د ګناهونو نه بچ کول هم ضروري دي، او که د روژه نيولو باوجود هم د ګناهونو سلسله جاري وي نو بيا د غټې محرومئ خبره ده.

# د نوح عَلَيْهِ السَّلَام په کشتئ کښې د رَجَب د روژې سپرلي

د **حضرت** سَيِّدُنا اَنَس رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْه نه رِوايت دې چه **رَسُولُ الله** صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چه **د رَجَب يوه روژه** ونيوله نو هغه به د يو کال روژې نيولو والؤ په شان وي، چا چه **ووه روژې** ونيولې په هغه به د **دوزخ** ووه واړه دروازې بندي کړې شي، چا چه **آته روژې** ونيولې د هغه د پاره به د **جَنَّت** آته واړه دروازې خلاصې [يعني برسيره] کړې شي، چا چه **لس روژې** ونيولې هغه چه د **الله** تعالیٰ نه څه غواړي **الله** تعالیٰ به ئې هغه ته ورکوي او څوك چه **پينځلّس روژې** ونيسي نو د آسمان نه يو مُنادي نِدا (يعني اعلان کوونکې اِعلان) کوي چه ستا تير شوي ګناهونه اُوبخښلې شو پس ته د نوي سر نه عمل شروع کړه څکه چه ستا بدئ په نيکو کښې بدلې کړې شوې. او څوك چه زيات وکړي نو **الله** تعالیٰ به هغه ته زيات ورکړي او په رَجَب کښې چه نُوح (عَلَيْهِ الصَّلٰوة



www.dawateislami.net

وَالسَّلَام په کشتۍ کښې سور شو نو ټخپله ئې هم روژه ونيوله او ملګرو ته ئې هم د روژې نيولو حکم وکړو. د هغوئي کشتۍ د لسم مُحَرَّمه پورې شپږ مياشتې په سفر وه. (شُعَبُ الْاِيمان ج ۳ ص ۳۶۸ حديث ۳۸۰۱)

## د سَلو کالو د روژو ثواب

د رَجَبُ الْمُرَجَّب د ووه وِيشتَمې د عَظَمتونو به څه وائې! په هُم دې تاريخ زمونږه ګران ګران، خوږ خوږ آقا مَکِّي مَدَنی مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د مِعراج شريف عَظِيمُ الشَّانه مُعجِزه ورکړې شوه. (شَرحُ الزَّرقانی عَلَی المَواهِبِ اللَّدُنِّية ج۸ ص۱۸) د ووه ويشتم رَجَب شريف د روژې غټ فضيلت دې څنګه چه د حضرت سَيِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې چه د الله تعالیٰ د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دې: "په رَجَب کښې يوه شپه او ورځ ده څوك چه په هغه ورځ روژه ونيسي او د شپې قيام (يعني عِبادت) وکړي نو لکه هغه چه د سلو کالو روژې ونيولې، د سلو کالو شب بيداري [شَو کِيره] ئې وکړه او دا دَ رَجَب ووه وِيشتم تاريخ دې."
(شُعَبُ الْاِيْمَان ج۳ ص۳۷٤ حديث ۳۸۱۱)

## د ووه وِيشتَمې شپې د دولسو نفلونو فضيلت

د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې چه رَسُولُ الله صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: په رَجَب کښې يوه شپه ده چه په هغې کښې د نيك عمل کوونکي د پاره د سلو کالو د نيکو ثواب دې او هغه د رَجَب ووه وِيشتمه شپه ده. څوك چه په دې کښې دولس رکعاته داسې ادا کړي چه په هر رکعت کښې سُوْرَةُ الْفَاتِحه او کوم يو سورت او په هرو دوو رکعاتو اَلتَّحِيّات ولولي او په دولس پوره کولو سلام وګرځوي، د هغې نه پس ۱۰۰ ځله دا ولولي: سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ ط ۱۰۰ ځله اِستِغفار، ۱۰۰ ځله دُرود شريف ولولي او د خپلې دُنيا او آخِرت نه چه د څه خيز د پاره غواړي دُعا دِ وکړي او سحر دِ روژه ونيسي نو الله تعالیٰ به د هغه ټولې دُعاګانې قبولې کړي سِوا د هغه دُعا نه کومه چه د ګُناه د پاره وي. (شُعَبُ الاِيمان ج ۳ ص ۳۷٤ حديث ۳۸۱۲)



www.dawateislami.net

## د شپیتَؤ میاشتو ثواب

**حضرت** سَیِّدُنا ابو **هُرَیره** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ فرمائي:"خوك چه د رَجَب د ووه ویشتمي ورځي روژه ونیسي، الله تعالیٰ به د هغه د پاره د **شپیتَؤ میاشتو** د روژو ثواب لیکي." (فَضائِلُ شَهرِ رَجَب ص١٠)

## لکه د سلو کالو روژې ئي چه ونیولي

د **حضرت** سَیِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه رِوایت دي چه د **الله** تعالیٰ د خوږ **محبوب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: "په **رَجَب** کښې یوه شپه او ورځ ده خوك چه په هغه ورځ روژه ونیسي او د شپې قیام (یعني عِبادت) وکړي نو لکه هغه چه د سلو کالو روژې ونیولې او دا دَ **رَجَب** ووه وِیشتم تاریخ دې." (شُعَبُ الْاِیْمَان ج٣ص٣٧٤حدیث٣٨١١)

## دعوتِ اسلامي او جَشنِ مِعراجُ النَّبی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَسَلَّم

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** **رَجَبُ الْمُرَجَّب** ته یو خُصُوصِیَّت دا هُم حاصل دې چه د دې په ووه وِیشتمه شپه زمونږه خوږ خوږ مکِّـی مَدَنـی آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی له طرفه د مِعراج مُعجِزه ورکړې شوه. خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ووه ویشتمه شپه د مسجدُ الحرام نه واخله مَسجِدِ اَقصٰی (یعني بیتُ المُقَدَّس) پورې او بیا ئې د هغه ځائ نه [آسمانونو ته تشریف یوړلو او] د آسمانونو سیل ئې وکړو. د جَنَّت او دوزخ عَجائبات ئې ولیدل. عرش ته ئې د خپلو قدمونو ښکلولو شَرف ورکړو او رسا د بیدارئ په حالت کښې ئې په غړیدلو سترګو د خپل **رَبُّ الْعِزَّت** جَلَّ جَلَالُہٗ دِیدار وکړو. دا ټول سفر ئې په یو درنګ کښې وکړو او بیرته ئې تشریف راوړو. د **رَجَبُ الْمُرَجَّب** ووه وِیشتمه شپه بیحده عَظَمت لرونکې ده. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ د **تبلیغِ قُرآن و سُنَّت** د عالـمګیر غیر سیاسي تحریك **دعوتِ اسلامي** له طرفه هر کال په ووه ویشتمه شپه دجَشنِ مِعراجُ النَّبی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په سلسله کښې د دُنیا په بېشمیره مُقاماتو کښې اِجتِماعِ ذِکر و نعت مُنعقِد کیږي. زما د حُسنِ ظَن [یعني نیك ګمان] مطابق په دُنیا کښې د جَشنِ



www.dawateislami.net

مِعراج د ټولو اِجتِماعاتو نه غټه اِجتِماع د ډيرو ګلونو راستې اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په بابُ الْمَدِينه کراچۍ کښې کيږي او تقريباً ټوله شپه جاري وي او په مَدَنـي چينل باندې براهِ راست ښودلې کيږي.

خدا کی قدرت کہ چاند حق کے کروڑوں منزل میں جلوہ کر کے
ابھی نہ تاروں کی چھاؤں بدلی کہ نور کے تڑکے آلئے تھے

(حَدائقِ بخشش ص۲۳۷)

## کفن بیرته راغې

د بَصرې يوې نيکې ښځې د وَفات په وَخت کښې خپل ځوئ ته وَصِيَّت وکړو چه: زما کفن د هغه جامو نه جوړ کړه په کومو جامو کښې به چه ما په **رَجَبُ الْمُرَجَّب** کښې عِبادت کولو.'' خو د وفات نه پس ورله ځوئ د بَلې ټوټې نه کفن جوړ کړو او خخه ئې کړه. چه کله هغه د اَديرې [يعني مُقبرې] نه بيرته کور ته راغې نو حيران پاتې شو، څه ګوري چه کوم کفن ورته هغه اغوستې وو هغه په کور کښې پروت دې! چه کله ئې د مور **د وصِيَّت والا جامو** پسې لټون وکړو نو هغه د خپل ځائ نه غائِبې وې! په دې کښې د يو غيبي آواز انګازه وشوه: ''خپل کفن بيرته واخله (د کومو جامو چه هغې وصِيَّت کړې وو) مونږه هم د هغې نه د هغې کفن جوړ کړو (ځکه چه) **څوك د رَجَب روژې** نيسي مونږه هغه په قبر کښې نه خفه کوو.'' (نُزهَةُ المَجالِس ج١ص٢٠٨)

د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ډيرې مينې ډير زيات ضدي کړې وو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د **رَجَبُ الْمُرَجَّب** د روژو مَدَنـي سوچ جوړولو، د ګناهونو عادت ختمولو او د عبادت خوند اخستلو د پاره د تبليغ **قُرآن و سُنَّت** د عالـمګير غير سياسي تحريك



www.dawateislami.net

**دعوتِ اسلامي** په **مَدَني قَافِلو** کښې د عاشقانِ رَسُول سره د سُنَّتو ډك سفر خپل معمول جوړ کړئ. د ترغيب د پاره تاسو ته د **مَدَني قَافِلې** يو مَدَنـي سپرلې اورووم، د شاهدره (مرکزُ الاولياء لاهور) يو اسلامي ورور د مور و پلار يو ځوئ وو ډيرې زياتې مينې هغه ډير زيات ضدي او د مور و پلار سخت نافرمانه جوړ کړې وو. د نيمې شپې پورې به بې فائدې ګرځيدو او بيا به سحر د ناوخته پورې اُوده وو. مور او پلار به چه پوهه کولو نو هغوئي به ئې رټل، د هغې په وجه به هغوئي غريبانان کله په ژړا هُم شو. د هغه خوش قسمتي وه چه د **دعوتِ اسلامي** والا يو عاشقِ رسول سره ئې ملاقات وشو، هغوئي پرې په مينه مَحَبَّت اِنفرادي کوشش وکړو او په **مَدَني قَافِله** کښې سفر کولو ته ئې تيار کړو. اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ هغه اسلامي ورور د عاشقانِ رَسُول د درې ورځو د **مَدَني قَافِلې** مسافر جوړ شو. معلومه نه ده هغه عاشقانِ رَسُول پرې په درې ورځو کښې داسې څه [د مَحَبَّت جام] وڅښلو چه د هغه **د کانړي په شان زړه** هُم د موم په شان نرم شو، د **مَدَني قَافِلې** په بَرَکت لـمونځ ګُزاره جوړ شو. کور ته چه راغي نو سلام ئې وکړو د والِد صاحِب لاسونه او د والده صاحبې ښپې ئې ښکُل کړې. د کور کسان ئې حيران وو! چه دا څنګه ښه شو چه د پرون ورځې پورې خو د چا خبرې اوريدو ته تيار نه وو او نن دومره با ادبه شوې دې! اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ په **مَدَني قَافِله** کښې د عاشقانِ رَسُول صُحبت هغه بالکل بدل کړو او هغه ته تنظيمي طور مسلمانان د سحر لـمانځه ته راپاځولو د پاره د صدائے مدينه ذِمَّه داري ورکړې شوه. (د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې مسلمانان د سحر لـمانځه ته راپاځولو ته صدائے مدينه وائي)

بے شک اعمالِ بد اور افعالِ بد　　کی چھٹیں عادتیں قافلے میں چلو
کر سفر آئیں گے سدھر جائیں گے اب نہ سستی کریں قافلے میں چلو

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٧٢)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

## د صُحبت مُتَعَلِّق درې رِوايات

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! تاسو وليده چه د عاشقانِ رَسُول صُحبت څنګه يو بيلمانځه ځلمي نورو خلقو ته د لمانځه دعوت ورکوونکي جوړ کړو! په دې کښې هيڅ شك نشته چه صُحبت ضرور رنګ راوړي، ښه صُحبت انسان ښه او بد صُحبت ئې بد جوړوي. لِهذا د صُحبت مُتَعَلِّق درې اَحادِيثِ مُبارکه ولولئ: ﴿۱﴾ ښه ملګرې هغه دې چه کله ته الله تعالیٰ ياد کړې نو هغه ستا مدد وکړي او چه کله ئې هير کړې نو درياد ئې کړي (موسوعه ابن ابی الدنیا ج۸ ص۱۶۱ حدیث۴۲ مُلَخَّصاً) ﴿۲﴾ ښه ملګرې هغه دې چه د هغه په ليدلو تا ته الله تعالیٰ درياد شي او د هغه عمل تا ته آخرت درياد کړي. (اَلجامِعُ الصَّغِیر ص۲۴۷ حدیث ۴۰۶۳) ﴿۳﴾ اَمِيرُالمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائيلي دي: په داسې څيز کښې مه اخته کيږه کوم چه ستا د پاره فائده مند نه وي او د دُښمن نه جُدا اوسه او د دوست نه مُحتاط اوسه خو دا چه هغه اَمِين (يعني امانتدار) وي ځکه چه د اَمِين برابر هيڅ څوك نه دي او اَمِين هُم هغه دې کوم چه د الله تعالیٰ نه يَريږي. او د فاجِر (يعني د الله و رسول د نافرمانه) سره مه اوسيږه ځکه چه هغه به تا ته فُجُور (يعني نافرماني) زده کوي او د هغه په مخکښې د راز خبره مه کوه او په خپل کار کښې د هغوئې نه مشوره اخله څوك چه د الله تعالیٰ نه يَريږي. (شُعَبُ الْاِيمان ج۴ ص۲۵۷ حدیث۴۹۹۵)

## د بد صُحبت مُمَانعت

د بيلمانځو، کنزلو کوونکو، د فلمونو ډرامو کتونکو، سندرې او سازونو اوريدونکو، دروغ ، غِيبت چُغلي او وعده خِلافي کوونکو، غلو، رِشوت خورو، شرابيانو، فاسِقانو، فاجِرانو او د بد مذهبو او کافِرو په صُحبت کښې د ناستې نه ځان ساتل پکار دي. په فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه جِلد ۲۲ صفحه ۲۳۷ کښې دي: د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نه تپوس وکړې شو: د زاني او دَيُّوث (يعني څوك چه د قدرت لرلو باوجود د خپلې ښځې يا د بلې يوې مَحرمې د بې حيائې کارونه کول برقراره پريږدي د هغه) نه د کوم حده پورې اِحتِراز (يعني ډډه) کول پکار دي؟ جواباً ئې اِرشاد



www.dawateislami.net

اُوفرمائيلو: ”زاني او دَيُّوث فاسِقان دي، هغوئي سره د ناستې ولاړې نه اِحتِراز (يعني بچ کيدل) پکار دي.“ د دې جواب ورکولو نه پس ئې د پاره ۷ سُوْرَۃُ الْاَنعام آيت نمبر ٦٨ وليکلو چه په هغې کښې الله تعالیٰ اِرشاد فرمائي:

وَاِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٦٨﴾

مَفهُوم ترجمۂ کَنْزُالْاِیمان: او چه کله درنه شيطان هير کړي نو درياديدلو نه پس ظالِمانو سره مه کښينئ.

مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الأُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې آيتِ مباركه نه لاندې ليکي: د دې نه معلومه شوه چه د بد صُحبت نه بچ کيدل نهايت ضروري دي. بد يار د بد مار نه بد دې ځکه چه بد مار وژل کوي او بد يار ايمان بربادوي. (نُور العِرفان ص ٢١٥)

عبادت میں، ریاضت میں، تلاوت میں لگا دے دل
رجب کا واسطہ دیتا ہوں فرما دے کرم مولیٰ

(وَسائلِ بخشِش ص ٩٨)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د شَعْبَانُ الْمُعَظَّم روژې

## د آقا مياشت

د رَسُولِ اَکرَم، نُورِمُجَسَّم، شافِعِ اُمَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شَعْبَانُ الْمُعَظَّم په باره کښې فرمانِ مُکرّم دې: شَعْبَانُ شَهْرِىْ وَرَمَضَانُ شَهْرُ الله يعني شعبان زما مياشت ده او رَمَضَان د الله مياشت ده.

(الجامع الصغير ص ٣٠١ حديث ٤٨٨٩)

## د شَعبان د پينځؤ حروفو سپرلي

سُبْحٰنَ الله عَزَّوَجَلَّ د شَعْبَانُ الْمُعَظَّم د مياشتې د عظمتونو نه قربان! د دې د فضيلت د پاره هُم دومره کافي ده چه زمونږ خوږ خوږ آقا، مَکّي مَدَني مُصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې ته ”خپله



www.dawateislami.net

میاشت“ وئیلي ده. سَیِّدُنا غوثِ اعظَم، شیخ عَبدُالقادِر جِیلاني حَنبَلي رَحمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیہ د لفظِ ”شَعْبَان“ د پینځه حروفو ”ش، ع، ب، ا، ن“ مُتَعَلِّق نقل کوي: د **ش** نه مراد ”شرف“ یعني بُزُرګي، د ع نه مراد ”عُلُوّ“ یعني اوچت والې، د **ب** نه مراد ”بِر“ یعني احسان [یعني نیکي]، **الف** نه مراد ”اُلفَت“ [یعني محبت]، او د **ن** نه مراد ”نُور“ دې، نو دا ټول څیزونه الله تعالیٰ خپلو بندګانو ته په دې میاشت کښې ورکوي، نور فرمائي: دا هغه میاشت ده چه په دې کښې د نیکو دروازې خلاصې [یعني بیرته] کړې شي، برکتونونه راوَرِیږي، خَطاګاني مُعاف کیږي، او د ګناهونو کفاره ادا کیږي، او **خَیْرُ الْبَرِیَّہ، سَیِّدُ الْوَرٰی**، جَنابِ **مُحَمَّد مُصْطَفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې دُرُود شریف په کثرت سره وَئیلې کیږي. او دا په نَبِـیِّ **مُختار** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې د دُرُود شریف وَئیلو میاشت ده. (غنیۃ الطالبین ج۱ ص ۳٤۱، ۳٤۲)

## د صحابه کِرامو عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان جَذبَه

**حضرت** سیِّدُنا اَنس بِن مالِك رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہ فرمائي: د شَعبَان د میاشتې ښکاره کیدو سره به صحابه کِرام عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان تِلاوتِ قرآنِ مجید طرف ته ډیر مُتوَجِّه شولو، د خپلو مالونو زکوٰة به ئې ویستلو، چه غریبانان او مِسکینان مسلمانان د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د روژو تیارې وکړې شي، بادشاهانو به قیدیان را اوغوښتل، په چا به چه حد قائم کیدو، سزا به ئې ورکړه. او نور چه د چا د پاره به مناسب وه هغه به ئې آزاد کړل. سوداګرو به خپل قرضونه ادا کړل او د نورو نه به ئې خپلې قرضې وصول کړې. (دغسې به ئې د رَمَضانُ المُبارَك د راتلو نه مخکښې خپل ځانونه وَزګار کړل) او د رَمَضان شریف د میاشت د ښکاره کیدو سره به ئې غسل وکړو. او (بعضې حَضَرات به [د پوره میاشتې د پاره] په اِعتِکاف کښې کښیناستل.“ (ایضاً ص۳٤۱)

## د موجوده مسلمانانو جذبه

**سُبْحٰنَ الله** عَزَّوَجَلَّ! ښخوانو مسلمانانو به د عِبادت سره څومره شوق لرلو، خو افسوس! د نن صبا مسلمانان د مال ګټلو زیات شوق لري. ښخوانو مَدني سوچ لرونکو مسلمانانو به په مُبارکو



www.dawateislami.net

ورځو کښې د رَبُّ الْاَنَام جَلَّ جَلَالُہٗ ډیر زیات عِبادت کولو او د هغه د قُرب [نزدې والي] حاصلولو کوششونه به ئې کول، او د نن صبا مسلمانان په مُبارَکو ورځو کښې خاص طور د روژې په میاشت کښې د دُنیا د ذلیل دولت ګټلو د پاره د نوو نوو ترکیبونو جوړولو سوچونه کوي. الله تعالیٰ په خپلو بندګانو باندې مِهربانه کیږي او د نیکو اَجر و ثواب ښه ډیر زیاتوي، خو د دُنیا د دولت سره محبت کوونکي خلق په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې د څیزونو نرخونه زیاتوي او د غریبانانو مسلمانانو په پریشانئ کښې اِضافه کوي. افسوس! افسوس! د مسلمانانو سره د خیرخواهئ [یعني ښیګړې] جذبه په ختمیدو ښکاري!ـه

اے خاصۂ خاصانِ رُسل وقتِ دُعا ہے
اُمّت پہ تری آ کے عَجَب وَقْت پڑا ہے
جو دین بڑی شان سے نکلا تھا وطن سے
پردیس میں وہ آج غریبُ الغُربا ہے

فَریاد ہے اے کِشتیِٔ اُمّت کے نگہبان
بیڑا یہ تباہی کے قریب آن لگا ہے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د رَمَضان د تعظیم د پاره د شَعبان روژې

د خوږ نبي مکّـی مَدَنـی سُلطان صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مبارك دې: د رَمَضان نه پس د ټولو نه افضل [یعني غوره] د شَعبان روژې دي، د تعظیمِ رَمَضان د پاره.'' (شُعَبُ الْاِیْمان ج۳ص۳۷۷حدیث۳۸۱۹)

## آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم به د شَعبان زیاتې روژې نیولې

بُخاري شریف کښې دي: حضرت سیِّدَتُنا عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا فرمائي چه رَسُولُ الله صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د شَعبان نه زیاتې په بله یوه میاشت کښې روژې نه نیولې بلکه د ټول شَعبان روژې به ئې نیولې او فرمائیل به ئې: د خپل اِستِطاعَت [یعني وس] مطابِق عمل کوئ، ځکه چه الله تعالیٰ تر هغې پورې خپل فضل نه ودروي تر څو چه تاسو تنګ [یعني بور] نه شئ.

(صحیح بخاری ج ۱ ص ٦٤٨ حدیث ۱۹۷۰)



www.dawateislami.net

## د حديثِ پاك شرح

شارِحِ بُخاري **حضرت** عَلّامه مُفتي **محمد** شريف الحق امجدي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د دې حديث پاك لاندې ليكي: مراد دا دې چه د **شَعبَان** په اكثرو ورځو كښې به ئې روژې نيولې. دا ئې **تغليباً** (يعني د غلبې او زيات والي په لحاظ) د كُل (يعني د ټولې مياشتې د روژو) سره تعبير كړله. څنګه چه وائي: "فلانكي ټوله شپه عبادت وكړو" حالانكه هغه به په هغه شپه كښې ډوډۍ هم خوړلې وي او د ضرورتونو نه به هم فارغ شوې وي، دلته ئې **تغليباً** اكثر ته كُل وئيلې دي: نور فرمائي: د دې حديث نه معلومه شوه چه په **شَعبان** كښې څوك طاقت لري نو د زياتو نه زياتې روژې دِ ونيسي. البته چه څوك كمزورې وي هغه دِ ئې نه نيسي ځكه چه د دې په وجه به د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** په روژو اثر پريوځي، هم دا مقصد او مراد دې د هغه حديثونو. (مَثَلًا ترمِذِی حديث۷۳۸ وغيره) په كومو كښې چه فرمائيلې شوې دي چه "د شَعبان د نيمې نه وروسته روژې مه نيسئ."

[ترمذي حديث ۷۳۸] (نزهة القاري ج ۳ ص ۳۷۷، ۳۸۰)

## د مړكيدونكو د فهرست جوړولو مياشت

**حضرت** سيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا فرمائي: تاجدارِ رسالَت صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د پوره **شَعبَان** روژې نيولې. هغوئي فرمائي، ما عرض وكړو: يارَسولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آيا په ټولو مياشتو كښې ستاسو په نِزد د ټولو نه غوره د **شَعبَان** روژې نيول دي؟ نو د **الله** تعالیٰ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اُوفرمائيلو: [په دې مياشت كښې] **الله** تعالیٰ په دې كال كښې مړ كيدونكي هر يو ساه لرونكې [يعني د هر ساه لرونكي د مرګ وخت] ليكي او زما دا خوښه ده چه زما د رُخصت وخت راشي او زما روژه وي. (اَبو يَعْلٰی ج ٤ ص ۲۷۷ حديث ٤٨٩)

## د نفلي روژو خوښه كړې شوې مياشت

د **حضرت** سيِّدُنا عَبدُ الله بِن اَبِی قَيس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روايت دې، هغوئ د اُمُّ المُؤمِنِين حضرت سيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا نه فرمان اوريدلې دې: [هغه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا فرمائي] زما د سرتاج،



www.dawateislami.net

صاحِبِ معراج صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښه کړې شوې مياشت **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** وه، چه په دې کښې به ئې روژې نيولې بيا به ئې دا د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** سره يو ځائ کړلې.
(ابو داود ج ۲ ص ٤٧٦ رقم الحديث)

## خلق د دې نه غافِله دي

**حضرت** سيِّدُنا اُسامه بِن زيد رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي: ما عرض وکړو: يارَسُولَ‌الله صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه وينم چه څنګه تاسو په **شَعبَان** کښې روژې نيسئ داسې ئې په يوه مياشت کښې هم نه نيسئ؟ وئې فرمائيل:د رَجَب او رَمَضان په مينځ کښې دا مياشت ده، خلق د دې نه غافله دي. په دې کښې د خلقو اعمال د **اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِين** جَلَّ جَلَالُهٗ طرف ته اوچتولې کيږي او زما دا خوښه ده چه زما عمل په داسې حال کښې اوچت کړې شي چه زما روژه وي. (نسائی ص ۳۸۷ حديث ۲۳٥٤)

## د طاقت مُطابق عمل کوئ

**اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا رِوايت فرمائي: رَسُولُ‌الله صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د **شَعْبَان** نه زياتې په يوه مياشت کښې روژې نه نيولې چه د پوره **شَعْبَان** روژې به ئې نيولې او فرمائيل به ئې: ”د خپل استطاعت [يعني وَس] مطابِق عمل کوئ، ځکه چه **الله** تعالٰی تر هغې پورې خپل فضل نه ودروي تر څو چه تاسو تنګ [يعني بور] نه شئ. بيشکه د هغه په نِزد د ټولو نه زيات خوښ (نفل) لمونځ هغه دې په کوم چه هميشګي اختيار کړې شي اګرچه کم وي.“ نو چه کله به هغوئي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کوم يو (نفل) لمونځ کولو نو په هغې به ئې هميشګي اختياروله. (بُخاری ج۱ص٦٤٨ حديث ۱۹۷۰)

## په دعوتِ اسلامي کښې د روژو سپرلي

په **مُکَاشَفَةُ الْقُلُوب** کښې دي: په ذِکر کړې شوې حديثِ پاك کښې د پوره **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** د روژو نه مُراد د اکثر **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** روژې دي. (مُکَاشَفَةُ الْقُلُوب ص۳۰۳)



www.dawateislami.net

که څوك د پوره **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** روژې نیول غواړي نو دا منع هُم نه دي. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د **تبليغِ قُرآن و سُنَّت** د عالمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** ډير اِسلامي ورونړه او اسلامي خويندې په **رَجَبُ الْمُرَجَّب** او **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** دواړو مياشتو کښې د روژو نيولو ترکيب کوي او د مسلسل روژو نيولو سره دا حَضَرات د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** سره يو ځائ شي.

## د پتنګ بازئ شوقي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو هُم په روژو او سُنَّتو د استقامت موندلو د پاره د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ. د ترغيب د پاره يو خوشبودار مَدَنـي سپرلي تاسو ته اوروم. د **بابُ الْمَدِينه** کراچئ د يو اسلامي ورور تير ژوند په ګناهونو کښې تير شوې وو، هغه د پتنګ بازئ شوقي وو د دې نه علاوه وِډيو ګيمونه کول او بِيلَوري لوبول د هغه په مشغلو کښې شامل وو. د هر يو په معامله کښې دخل کول او فُضُول د خلقو سره جګړې کول، په خبره خبره وهل ټکول کول وغيره د هغه په معمولاتو کښې شامل وو. خوش قسمتئ سره د يو اسلامي رورو په **اِنفرادي کوشش** د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** په آخرئ عشره کښې د علاقې په جُمات کښې **مُعتَکِف** شو. ډير ښه ښه خوبونه ئې وليدل او ډير سکون ورته حاصل شو. هغه پرله پسې دوه کاله نور د **اِعتِکاف** سعادت حاصل کړو. يوه ورځ پرې مُـؤَذِّن صاحب اِنفرادي کوشش وکړو او ځان سره ئې د **تبليغِ قُرآن و سُنَّت** د عالمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه ته هفته واره **اِجتِماع** ته راوستلو. يو مُبَلِّغ بيان کولو، سپين لباس اغوستې او نسواري څادر په سر کړې، په مخ يو مُوتې ګيره او په سر باندې د عمامې شريفې تاج والا داسې نوراني مخ هغه په ژوند کښې وړومبې ځل وليدو. د مُبَلِّغ د مخ په کشش او نورانيَّت هغه زړه وبيلو او هغه د **دعوتِ اسلامي** په مَدَني ماحول کښې شامل شو او اوس د دوو کالو نه په عالمي مَدَنـي مرکز فيضانِ مدينه (بابُ الْمَدِينه) کښې اِعتِکاف کوي. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ يو موتې ګيره ئې هُم پريښودله.



www.dawateislami.net

## رَمَضان نه پس کومه مياشت غوره ده؟

حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: د خوږ مدني آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې عرض وکړې شو چه د **رَمَضان** نه پس کومه روژه غوره ده؟ هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: ”د تعظيمِ **رَمَضان** د پاره د **شَعْبَان**.“ بيا عرض وکړې شو کومه صَدَقه غوره ده؟ وئې فرمائيل: د **رَمَضان** په مياشت کښې صَدَقه کول. (تِرمِذی،ج۲ ص۱۴۵ حديث۶۶۳)

## په پينځلّسمه شپه تجلّي

**اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا نه رِوايت دې: تاجدارِ رِسالت، شَهَنشاهِ نُبُوَّت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ”**الله** تعالیٰ د **شَعْبَان** په پينځلّسمه شپه تَجَلِّي فرمائي. اِستِغفار (يعني توبه) کوونکي بخښي او په طالِبِ رَحمت رَحم فرمائي او عداوت والا [يعني دُښمني کوونکي] چه په څه حال دي په هُم هغې ئې پرېږدي. (شُعَبُ الْاِيمان ج۳ ص۳۸۲ حديث۳۸۳۵)

## د عَداوت کوونکي بد قسمتي

د حضرتِ سَيِّدُنا مُعاذ بِن جَبَل رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې، سلطانِ مدينهٔ مُنَوَّره، شَهَنشاهِ مَكَّهٔ مُكَرَّمه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: ”د **شَعْبَان** په پينځلّسمه شپه کښې **الله** تعالیٰ د ټول مخلوق په طرف تَجَلِّي فرمائي او ټول اُوبخښي خو کافِر او عَداوَت والا (نه بخښي).“

(الاحسان بترتيب صحيح ابنِ حَبّان ج۷ص۴۷۰ حديث۵۶۳۶)

## په دلو دلو ګنهګارو مغفرت کيږي خو....

حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا نه رِوايت دې، حُضُور انور، شافِعِ روز مَحشر صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: ما ته جبرئيل (عَلَیْہِ السَّلَام) راغلو او وئې وئيل: دا د شَعبَان پينځلّسمه شپه ده، په دې کښې **الله** تعالیٰ د دوزخ نه دومره [خلق] آزادوي څومره چه د بَنِي کلب د چيلو [يعني بزو] ويښته دي، خو **کافِر** او **عداوت والا** [يعني دُښمني کوونکي] **خپلوي ختموونکي، جامې** [کپړه]



www.dawateislami.net

راښکلو والا، د مور او پلار نافرماني کوونکي او د شرابو عادت لرونکي طرف ته د رَحمت نظر نه کوي. (شعب الايمان ج ٣ ص ٣٨٤ حديث ٣٨٣٧) (په حديثِ پاك کښې چه د "جامو راښکونکي" کوم بيان دې، د دې نه مراد هغه خلق دي چه د تَکَبُّر په وجه د ګيټو [پړکو] نه لاندې خپل لنګ يا د پرتوګ پينځې لاندې ساتي) د کروړونو حَنبَليانو عظيم مشر حضرت سيِّدُنا امام احمد بن حَنبَل رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه چه د حضرت سيِّدُنا عبدُ الله بن عَمرو رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُمَا نه کوم روايت نقل کړې دې، په هغې کښې د قاتِل ذِکر هم دې. (مسند امام احمد ج ٢ ص ٥٨٩ حديث ٦٦٥٣)

حضرت سَيِّدُنا کثير بن مُرَّه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡه نه روايت دې چه تاجدارِ رِسالت، نبيِّ رَحمت صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: الله تعالیٰ د شَعۡبَان په پينځلسمه شپه کښې د زمکې د ټولو خلقو بخښنه کوي سِوا د مُشرك او عَداوت [يعني دُښمني] کوونکي نه. (شعب الايمان ج ٣ ص ٣٨١ حديث ٣٨٣٠)

## حضرت سَيِّدُنا داؤد عَلَيۡهِ السَّلَام او شَبِ بَراءَت

حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الۡمُرۡتَضٰی کَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجۡهَهُ الۡکَرِيۡم به د شَعۡبَانُ الۡمُعَظَّم په پينځلسمه شپه يعني شبِ بَراءَت کښې اکثر بهر ته تشريف راوړلو. يو ځل ئې هم دغه شان په شبِ بَراءَت کښې بهر ته تشريف راوړو او د آسمان په لوري ئې نظر اوچت کړو او وئې فرمائيل: يو ځل د الله تعالیٰ نبي حضرت سيِّدُنا داؤد (عَلَيۡهِ السَّلَام) د شَعۡبَان په پينځلسمه شپه د آسمان په لوري نظر اوچت کړو او وئې فرمائيل: دا هغه وخت دې چه په دې وخت کښې کوم يو کس څه دُعا د الله تعالیٰ نه اوغوښتله الله تعالیٰ د هغه دُعا قبوله کړه، او چا چه بخښنه اوغوښتله الله تعالیٰ د هغه بخښنه وکړه، په شرط د دې چه دُعا کوونکي عُشَّار (يعني ظُلماً ټيکس اخستونکې)، جادوګر، کاهِن او باجا غږوونکي نه وي، بيا حضرت سيِّدُنا داؤد (عَلَيۡهِ السَّلَام) دا دُعا وکړه:

اَللّٰهُمَّ رَبَّ دَاوٗدَ اغۡفِرۡ لِمَنۡ دَعَاكَ فِيۡ هٰذِهِ اللَّيۡلَةِ اَوِاسۡتَغۡفَرَكَ فِيۡهَا.

يعني اے الله عَزَّوَجَلَّ! اے د داؤد پروردګاره! څوك چه په دې شپه ستا نه دُعا اوغواړي يا بخښنه اوغواړي ته هغه او بخښې. (لَطَائِفُ الۡمَعَارِف ج ١ ص ١٣٧ مختصراً)



www.dawateislami.net

ہر خطا تُو در گزر کر بیکس و مجبور کی
یاالٰہی! مغفِرت کر بیکس و مجبور کی (وسائل بخشش ص ۹٦)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## محرومه خلق

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! شبِ بَراءَت ډيره اهمه شپه ده، په هيڅ صورت کښې هم دا په غفلت کښې مه تيروئ، په دې شپه باندې ډير رحمتونه راوريږي. په دې مُبارَکه شپه کښې الله تعالیٰ د "بني کلب" د چيلو [يعني بزو] د ويښتو نه هم زيات خلق د دوزخ نه آزادوي. په کتابونو کښې ليکلې شوي دي: "قَبِيله بني کلب" به د عربو په قبيلو کښې د ټولو نه زياتې چيلئ ساتلې. آه! څه بدنصيبه داسې هم دي چې په هغوئي باندې په دې شبِ بَراءَت يعني د خلاصې موندلو په دې شپه کښې هم د نه بخښنې وَعيد [يعني سخت حکم] راغلې دې. **حضرت** سيِّدُنا امام **بَيهَقي** شافعي رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه په "**فَضَائِلُ الاَوقات**" کښې نقل کوي: د **رَسُولِ اکرَم**، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عبرت نه ډك فرمان دې: د شپږو کسانو به په دې شپه بخښنه نه کيږي: ﴿۱﴾ د شرابو عادت لرونکې ﴿۲﴾ د مور او پلار نافرمانه ﴿۳﴾ د زِنا عادت لرونکې ﴿٤﴾ تَعَلُّق پريښودونکې ﴿٥﴾ تصويرونه جوړوونکې﴿٦﴾ **چُغلي** کوونکې. (فضائل الاوقات ج۱ ص۱۳۰ حديث ۲۷)

هم دغسې د کاهِن [يعني نجومي، فالونه ويستونکې]، جادوګر، تَکَبُّر سره خپل تهبند [يعني لنګ يا د پرتوګ پينځې د ګيټو [پړکو] نه لاندې ساتونکې او د کوم يو مسلمان سره بې د شَرعي اجازته بُغض او کينه ساتونکې د پاره هُم په دې شپه د بخښنې د سعادت نه د محرومه کيدو وَعيد دې، چنانچه ټولو مسلمانانو ته پکار دي چې په ذِکر کړې شوو ګناهونو کښې که مَعَاذَ الله په يوه ګناه کښې هم اَخته وي نو خاص طور د هغې ګناه نه او عام طور د هرې ګناه نه دِ د شبِ بَراءَت د راتلو نه مخکښې بلکه نن او اوس په رښتيني توبه اوباسي، او که د بندګانو حق ئې



www.dawateislami.net

وهلې وي نو د توبې سره سره دِ د هغوئ نه د مُعافئ غوښتلو او تلافئ [يعني د حق ادا] کولو ترکيب هُم جوړ کړي.

## د اِمامِ اهلِسُنَّت پيغام ټولو مسلمانانو ته

**اعلٰی حضرت، امامِ اهلِسُنّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلَّت، حضرتِ عَلّامه مولانا اَلحَاج اَلحافِظ، اَلقارِی اَلشَّاه اِمام اَحمَد رَضا خان** رَحۡمَۃُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه خپل يو عقيدت مند ته د شبِ بَراءَت د راتلو نه مخکښې د توبه او مُعافئ تَلافئ کولو په حقله يو مکتوب استولې وو هغه د فائِده مند کيدو په وجه ستاسو په خدمت کښې حاضر دې. چنانچه په ''**کُلِّيَات مَکاتِيبِ رَضا**'' صفحه ۳۵٦ تا ۳۵۷ کښې دي: شبِ بَراءَت نزدې دے، په دې شپه د ټولو بندګانو عَمَلونه د **الله** تعالٰی په بارګاه کښې پيش کيږي. مولا عَزَّوَجَلَّ په بَرَکت د حُضُورِ پرنُور، شافِعِ يَومُ النُّشور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مُسلمانانو ګناهونه مُعاف کوي خو يو څو [د بخښنې نه محرومه وي]، په هغې کښې هغه دوه مسلمانان هم دي چه په دُنياوي وجه د يو بل نه خفه وي، فرمائي: ''دوئي پريږدئ، ترڅو ئې چه په خپل مينځ کښې صلح نه وي کړي.'' لِهٰذا اَهلِسُنَّت ته پکار ده چه خومره کيدې شي د ١٤ **شَعۡبَانُ الۡمُعَظَّم** د لـمر پريوتو نه مخکښې دِ په خپل مينځ کښې د يو بل سره صفائي وکړي. د يو بل حقونه دِ ادا کړي يا دِ ئې پرې مُعاف کړي چه **بِإِذنِهٖ** تعالٰی اعمال نامې د حُقوقُ العِباد نه خالي د **الله** تعالٰی په بارګاه کښې پيش شي. د **الله** تعالٰی د حَقونو د پاره رِښتيني توبه پوره ده. (حديث پاك کښې دي) **اَلتَّآئِبُ مِنَ الذَّنۡبِ کَمَنۡ لَّا ذَنۡبَ لَهٗ** (يعني د ګناه نه توبه کوونکې داسې دې لکه هغه چه هډو ګناه کړې نه وي (ابن ماجه حديث ٤٢٥٠)) په داسې حالت کښې **بِإِذنِهٖ** تعالٰی ضرور د بخښنې پوره اُمِّيد شته دې، بشرطِ صِحتِ عقيده. (يعني عقيده صحيح کيدل شرط دې). **وَهُوَالۡغَفُوۡرُ الرَّحِيۡمُ** (او هغه ګناه بخښونکې رَحم کوونکې دې) د خپلو ورونړو سره د صُلح کولو او د حقونو معاف کولو دا ټوله طريقه د **الله** تعالٰی په فضل سره د ډيرو کلونو نه جاري ده، اُمِّيد دې چه تاسو ئې هم د خپلې علاقې په مسلمانانو کښې جاري کړئ او د: مَنۡ سَنَّ فِی الۡاِسۡلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً فَلَهٗ اَجۡرُهَا وَاَجۡرُ مَنۡ عَمِلَ بِهَا اِلٰی يَوۡمِ الۡقِيٰمَةِ لَا



www.dawateislami.net

يَنۡقُصُ مِنۡ اُجُوۡرِهِمۡ شَیۡءٌ (يعني ځوك چه په اسلام كښې ښه لاره اوباسي، د هغه د پاره د هغې ثواب دې او د قيامته پورې چه څوك په هغې عمل كوي د هغه ټولو ثواب هميشه د ده په اعمال نامه كښې ليكلې شي او د هغوئ [يعني عمل كوونكو] په ثواب كښې به څه كمې نه راځي) په شان شئ او د دې فقير د پاره د معافئ او د دوارو جهانو د خير دُعا اوغواړئ. فقير ستاسو د پاره دُعا كوي،او كوي به ئې. ټول مسلمانان دِ پوهه كړې شي چه هلته (يعني د الله تعالیٰ په بارګاه كښې) نه خالي ژبه كتلې شي او نه نِفاق خوښ دې، صُلح او معافي چه په رِښتيني زړه سره وي. وَالسَّلام. ـفَقير اَحمد رضا قادِرى عُفِيَ عَنۡهُ از: بريلي

## د شبِ براءَت تعظيم

د شام تابِعينو رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی به د شبِ بَراءَت ډير تعظيم كولو او په دې كښې به ئې ډير ډير عِبادت كولو. هُم د هغوئ نه نورو مسلمانانو د دې مبارَكې شپې تعظيم زده كړو. د شام بعضو عُلَماءُ رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی فرمائيلي دي: په شَبِ بَراءَت كښې په جُمات كښې اِجتِماعي اِعتِكاف كول مُسۡتَحَب دي، حضرت سَيِّدُنا خالِد و حضرت سَيِّدُنا لُقمان رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡهِمَا او نورو تابِعينو رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی به د دې شپې (د تعظيم د پاره) بهترينې جامې اغوستلې، رانجه او خوشبو به ئې لګوله او په جُمات كښې به ئې (نفل) لـمونځونه ادا كول. (لَطائِفُ الۡمَعارِف ص٢٦٣)

## د خيرونو والا څلور شپې

اُمُّ الۡمُؤۡمِنِين حضرت سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهَا فرمائي: ما د نَبِيِّ كريم رَءُوۡفٌ رَّحِيم صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه فرمان اوريدلي دې: الله تعالیٰ (خاص طور) په څلورو شپو كښې د خيرونو دروازې خلاصوي [يعني بيرته كوي] ﴿١﴾ د لوئ اَختر شپه ﴿٢﴾ د واړه اختر شپه ﴿٣﴾ د شَعۡبَان پينځلسمه شپه چه په دې شپه كښې د مړكيدونكو نومونه او د خلقو رِزق او (په دې كال كښې) د حج كوونكو نومونه ليكلې كيږي ﴿٤﴾ د عَرَفې (يعني د ٨ او ٩ ذُوالۡحجّه مينځنئ) شپه (د سحر) د اذانه پورې. (تفسير دُرِّ منثور ج ٧ ص ٤٠٢)



www.dawateislami.net

## د ناوَك نُوم د مړو په فِهرِست [يعني لِسټ] كښې

د خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دې:"(د خلقو) ژوند د يوشَعْبَان نه بل شَعْبَان كښې مُنقَطِع وي تر دې چه يو سړې نكاح كوي او د هغه اولاد كيږي حالانكه د هغه نوم په مړو كښې ليكلې شوې وي." (کَنْزُ الْعُمَّال ج۲ ص۲۹۲ حديث ۴۲۷۷۳)

توخوشی کے پھول لے گا کب تلک!  تو یہاں زندہ رہے گا کب تلک!

(وَسائلِ بخشِش ص ۷۰۹)

## كور جوړوونكي د مړو په فِهرِست [يعني لِسټ] كښې

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام اَبِى الدُّنيا رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د حضرتِ سَيِّدُنا عطا بِن يَسار رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نه رِوايت كوي چه كله د نيم **شَعْبَان** شپه (يعني شَبِ براءَت) راشي نو **مَلَكُ الْمَوت** عَلَيْهِ السَّلَام ته يوه **صَحِيفه** (يعني رِساله) وركړې شي او ورته اُووئيل شي: دا **صَحِيفه** ونيسه، يو بنده به په بستره باندې ملاست وي او د ښځو سره به نِكاح كوي او كور به جوړوي حالانكه د هغه نوم به په مړو كښې ليكلې شوې وي. (تَفسيرِ دُرِّ مَنْثُور ج۷ ص۴۰۲)

## د ټول كال د معامَلاتو تقسيم

حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا فرمائي: "يو انسان د خلقو په مينځ كښې روان وي حالانكه هغه په مړو كښې اوچت كړې شوې [يعني ليكلې شوې] وي." بيا هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا د پينځه ويشتمي سيپارې د سُوْرَۃُ الدُّخان آيت نمبر ۳ او ۴ تلاوت وكړو:

اِنَّاۤ اَنْزَلْنٰهُ فِیْ لَیْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ اِنَّا كُنَّا مُنْذِرِیْنَ ۝۳ فِیْهَا یُفْرَقُ كُلُّ اَمْرٍ حَكِیْمٍ ۝۴

مَفهُوم ترجمۂ کَنْزُالْاِيمان: بيشكه هغه مونږه د بَرَكت په شپه كښې نازِل كړو، بيشكه مونږه ويره اورروونكي يو. په دې كښې تقسيم كړې شي هر حِكمت والا كار.

بيا ئې اُوفرمائيل: په دې شپه كښې د يو كال نه بل كاله پورې د دُنيا د معامَلاتو تقسيم كيږي.

(تفسيرِ طَبَرى ج۱۱ ص۲۲۳)



www.dawateislami.net

مشهور **مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه د دې ذِکر کړې شوو آيتونو نه لاندې فرمائي: ”د دې شپې نه مُراد يا شَبِ قدر دې [يعني د رَمَضان] ووه وِيشتمه شپه يا شَبِ بَراءَت [يعني] پينځلَّسم **شَعْبَان**، په دې شپه کښې پوره قُرآن د لَوحَ **مَحفُوظ** نه آسمانِ دُنيا طرف ته راکوز کړې شو بيا د هغه ځائ نه د درې ويشتو [۲۳] کالو په موده کښې لږ لږ په حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې نازل شو. د دې آيت نه معلومه شوه چه په کومه شپه کښې قُرآن نازِل شو هغه مُبارکه ده، نو په کومه شپه چه صاحِبِ قُرآن صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته تشريف راوړو هغه هُم مُبارکه ده. په دې شپه کښې د ټول کال رزق، مرګ، ژوند، عِزَّت و ذِلَّت غرض دا چه ټول اِنتِظامي اُمُور د لَوحِ **مَحفُوظ** نه د فرښتو په صَحِيفو نقل کړې شي او هره صَحِيفه (يعني رِساله) د هغه **مُحکمې** فرښتو ته ورکړې شي څنګه چه **مَلَكُ الْمَوت** عَلَيْهِ السَّلَام ته د ټول مړِ کيدونکو فِهرِست وغيره.“[ ورکړې شي] (نُور العِرفان ص ۷۹۰)

# نازکې فيصلې

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** پينځلسمه شپه څومره نازکه ده! معلومه نه ده چه د چا په قِسمَت کښې به څه ليکلې کيږي؟ بعضې وخت بنده په غفلت کښې پروت وي او د هغه په باره کښې ډير ډير څه شوي وي، په ”**غُنيَةُ الطَّالِبِين**“ کښې دي: ډير کفنونه وينځلې شوي تياروي خو کفن اغوستونکي په بازارونو کښې ګرځي. ډير خلق داسې وي چه د هغوئ قبرونه کنستې شوي تيار وي خو په هغې کښې خخيدونکي په خوشحالو کښې مست وي، بعضې خلق **خاندي** خو د هغوئ د مرګ وخت نزدې شوې وي. د ځينې کورونو تعمير پوره شوې وي خو ورسره د کور د مالِك ژوند هم پوره شوې وي. (غنية الطالبين ج١ ص ٣٤٨)

آگاہ اپنی موت سے کوئی بشر نہیں ‏ ‏ ‏ سامان سو برس کا ہے پل کی خبر نہیں

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ‏ ‏ ‏ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

## د فائدې خبره

په **شَبِ بَراءَت** کښې اعمال نامې بدليږي لِهذا که کيدې شي نو د ۱۴ **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** روژه هم ونيسئ چه د اعمال نامې په آخيرئ ورځ مو هُم روژه وي. چه په ۱۴ **شَعْبَان** د مازديګر لمونځ په جُمات کښې د جَمعې سره ادا کړې شي او هم هلته نفلي اِعتکاف وکړې شي او د ماښام د لمانځه د انتِظار په نِيَّت په جُمات کښې حصار شي چه د اعمال نامو بدليدو په اخيري وخت کښې په جمات کښې د حاضرئ، د اِعتِکاف او د لمانځه د انتظار وغيره ثواب وليکلې شي. بلکه کاش! چه ټوله شپه په عبادت کښې تيره کړې شي.

## د ماښام شپږ نفلونه

د اوليائے کِرامو رَحِمَهُمُ اللهُ تعالٰی د معمولاتو نه دي چه [د شَعبان په پينځلَّسمه شپه] د ماښام د فرضو او سُنَّتو وغيره ادا کولو نه پس شپږ رکعاته خُصوصي نفلونه په دوه دوه رکعاته کولو ادا کړې شي. وړومبي دوو رکعاتو نه مخکښې دا نِيَّت وکړئ: "يا الله عَزَّوَجَلَّ! د دې دوو رکعاتو په بَرَکت ما ته ډير عُمر سره د خيره راکړې"، **د دويم** دوو رکعاتو نه مخکښې دا نِيَّت وکړئ: "يا الله عَزَّوَجَلَّ! د دې دوو رکعاتو په بَرَکت د مصيبتونو نه زما حفاظت وکړې." **د دريم** دوو رکعاتو نه مخکښې دا نِيَّت وکړئ: "يا الله عَزَّوَجَلَّ! د دې دوو رکعاتو په بَرَکت ما د خپل ځان نه سِوا د بل چا مُحتاجه مه کړې." په دې شپږو رکعاتو کښې د سُوْرَةُ الْفَاتِحَه نه پس چه کوم سورتونه غواړئ لوستلې شئ، غوره دا ده چه په هر رکعت کښې د سُوْرَةُ الْفَاتِحَه نه پس درې درې ځله سُوْرَةُ الْاِخْلَاص ولولئ. د هرو دوو رکعاتو نه پس ۲۱ ځله قُلْ هُوَ اللهُ اَحَد (پوره سورت) يا يو ځل سُوْرَهٔ يٰسٓ شريف ولولئ، که کيدې شي نو دواړه ولولئ. داسې هم کيدې شي چه يو اسلامي ورور دِ په اوچت آواز سُوْرَهٔ يٰسٓ شريف لولي او نور دِ ئې په خاموشئ سره ښه په غور اوري. په دې کښې دا خيال کوئ چه بل څوك په دې وخت کښې په ژبه يٰسٓ شريف بلکه هيڅ هم نه وائي او دا مسئله ښه ياده ساتئ چه کله په اوچت اواز قرآنِ مجيد لوستلې کيږي، کوم خلق چه د اوريدو د پاره

موجود وي په هغوئي باندې دا فرضِ عين دي چه خاموشه اوسي او په غور سره ئې اوري. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د شپې د شروع کيدو نه مخکښې به د ثواب انبار جوړ شي. هر ځل د يٰسٓ شريف نه وروسته "دُعائے نصفِ شعبان" هم لولئ:

## دُعائے نصفِ شعبَانُ المُعَظَّم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَللّٰهُمَّ يَا ذَاالْمَنِّ وَلَا يُمَنُّ عَلَيْهِ ؕ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ ؕ يَا ذَا الطَّوْلِ وَالْاِنْعَامِ ؕ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ ظَهْرُ اللَّاجِيْنَ ؕ وَجَارُ الْمُسْتَجِيْرِيْنَ ؕ وَاَمَانُ الْخَآئِفِيْنَ ؕ اَللّٰهُمَّ اِنْ كُنْتَ كَتَبْتَنِىْ عِنْدَكَ فِىْٓ اُمِّ الْكِتٰبِ شَقِيًّا اَوْمَحْرُوْمًا اَوْمَطْرُوْدًا اَوْمُقَتَّرًا عَلَىَّ فِى الرِّزْقِ فَامْحُ اللّٰهُمَّ بِفَضْلِكَ شَقَاوَتِىْ وَحِرْمَانِىْ وَطَرْدِىْ وَاقْتِتَارَ رِزْقِىْ ؕ وَاَثْبِتْنِىْ عِنْدَكَ فِىْٓ اُمِّ الْكِتٰبِ سَعِيْدًا مَّرْزُوْقًا مُّوَفَّقًا لِّلْخَيْرَاتِ ؕ فَاِنَّكَ قُلْتَ وَقَوْلُكَ الْحَقُّ فِىْ كِتَابِكَ الْمُنَزَّلِ ؕ عَلٰى لِسَانِ نَبِيِّكَ الْمُرْسَلِ ؕ ﴿يَمْحُوا اللهُ مَا يَشَآءُ وَيُثْبِتُ ۚۖ وَعِنْدَهٗٓ اُمُّ الْكِتٰبِ﴾ اِلٰهِىْ بِالتَّجَلِّى الْاَعْظَمِ ؕ فِىْ لَيْلَةِ النِّصْفِ مِنْ شَهْرِ شَعْبَانَ الْمُكَرَّمِ ؕ اَلَّتِىْ يُفْرَقُ فِيْهَا كُلُّ اَمْرٍ حَكِيْمٍ وَّيُبْرَمُ ؕ اَنْ تَكْشِفَ عَنَّا مِنَ الْبَلَآءِ وَالْبَلْوَآءِ مَا نَعْلَمُ وَمَا لَا نَعْلَمُ ؕ وَاَنْتَ بِهٖ اَعْلَمُ ؕ اِنَّكَ اَنْتَ الْاَعَزُّ الْاَكْرَمُ ؕ وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ ؕ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝



www.dawateislami.net

اے الله عَزَّوَجَلَّ! اے احسان کولو والا چه په چا [یعني په تا] احسان نه کیږي! اے لوئ شان او شوکت والا! اے فضل او اِنعام والا! ستا نه سِوا بل د عِبادت لائق نشته. ته د پریشان حالو مدد کوونکې ئې، پناه غوښتونکو ته پناه او یریدونکو ته اَمن ورکونکې ئې. اے الله عَزَّوَجَلَّ! که تا په خپل **اُمُّ الْکِتاب** (یعني لَوحِ محفوظ) کښې زه بدبخته، محرومه، شړلې شوې او په رِزق کښې تنګي راکړې شوې لیکلې یم، نو اے الله عَزَّوَجَلَّ! په خپل فضل زما بدبختي، محرومي، ذِلَّت او په رِزق کښې تنګي لرې کړې او په خپل **اُمُّ الْکِتاب** کښې ما خوش بخته، (فراخه) رِزق ورکړې شوې او د نیکو توفیق ورکړې شوې ولیکې، چه تا په خپل نازِل کړې شوي کِتاب کښې ستا د رالیږلې شوي نبي صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ژبه مبارکه باندې فرمائیلي دي او ستا (دا) فرمائیل حق دي: "مَفْهُوم ترجمهٔ کَنْزُالْاِیمان: الله چه څه غواړي ورانوي ئې او ثابت کوي ئې، او اصل لیك د هغه سره دې." (پ۱۳، الرعد: ۳۹) اے خدایا عَزَّوَجَلَّ! د تَجَلِّيِ اَعظَم [د لوئي انوارو] په وسیله، کومه چه د **شَعبَانُ الْمُعَظَّم** په نِیمه [یعني پینځلسمه شپه] کښې ده چه په هغې کښې تقسیمیږي هر د حکمت کار او فیصله ئې کیږي. (یا الله) زمونږ نه آفتونه لرې کړې چه کوم مونږ پیژنو او کوم نه پیژنو حالانکه تا ته دا د هر چا نه زیات معلوم دي. بیشکه ته د ټولو نه زیات عزیز او عِزَّت والا ئې. الله تعالیٰ دِ زمونږ په سردار**محمّد** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې او د حُضُور صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اولاد او اصحابو عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان باندې دُرُودو سلام ولیږي. ټول صفتونه د ټولو جهانونو ساتونکي الله جَلَّ جَلَالُهٗ لره دي.

## د سګِ مدینه عُفِیَ عَنْهُ مدني عرضونه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! د سګِ مدینه عُفِیَ عَنْهُ د ډیرو کلونو نه په **شبِ بَراءَت** کښې د بیان شوي طریقې مطابق د شپږو نفلونو وغیره معمول دې. د ماښام نه پس کیدونکې دا عِبادت **نفلي** دې، فرض او واجب نه دې او د ماښام د لـمانځه نه پس د نفلونو او تِلاوَت کولو په شریعت کښې چرته مَنع هم نه ده راغلې. **حضرت** عَلّامه اِبنِ رجب حَنبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه لیکي: د شام په جَلِیلُ القدر تابِعِینو کښې به مَثلاً **حضرت** سیِّدُنا خالِد بن مَعدان، **حضرت** سیِّدُنا مَکحول، **حضرت** سیِّدُنا لقمان بن عامِر رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی وغیره به د شبِ بَراءَت ډیر تعظیم کولو. او په دې کښې به ئې ښه ډیر عِبادت کولو، هُم د هغوئي نه نورو مسلمانانو د دې مُبارَکې شپې تعظیم زده کړو. (لَطَائِفُ الْمَعَارِف ج۱



www.dawateislami.net

ص۱٤٥ د فِقه حَنَفي مُعتبر كتاب ''دُرِّ مُختار'' كښې دي: په شبِ بَراءَت كښې (د عبادت كولو د پاره) شپه رونړول [شوګيره كول] مُستَحَب دي. (ټوله شپه رونړولو ته شب بيداري نه وائي) په اكثر [زياته] حصّه كښې وِيښ پاتې كيدل شب بيداري ده. (دُرِّمُختار ج۲ ص٥٦٨، بهارِ شريعت ج۱ ص٦٧٩)

**مدني عرض!** كه كيدې شي نو ټول اسلامي ورونړه دِ په خپلو خپلو جُماتونو كښې د ماښام د لمانځه نه پس د شپږو نفلونو وغيره اهتمام وكړي او ډير ثوابونه دِ حاصل كړي. اسلامي خويندې دِ په خپلو كورونو كښې دا عمل وكړي.

## ټول كال د جادو نه حِفاظَت

د دعوتِ اِسلامي د اشاعتي اِدارې **مَكْتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي د ۱۷۰ صفحو كتاب ''اِسلامی زندګی'' صفحه ۱۳٤ كښې دي: كه په دې شپه (يعني شبِ بَراءَت كښې) د بيرې (د وَنې) ووه پانړو له په اوبو كښې جوش وركړې شي (چه كله اوبه د لامبلو قابلې شي نو) غسل پرې وكړئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ ټول كال به د جادو د اثر نه په حفاظت كښې اوسئ.

## شبِ بَراءَت او د قبرونو زيارت

اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرت سيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا فرمائي: ما يوه شپه **سرورِ كائنات**، شاهِ موجودات صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ونه ليدلو، نو په **بقيعِ پاك** كښې مې اوموندلو، آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته اوفرمائيل: آيا تا ته د دې خبرې ويره وه چه الله تعالیٰ او د هغه رسول (صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) به ستا حق تلفي كوي؟ ما عرض وكړو: يا رَسُولَ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما دا خيال كړې وو چه شايد تاسو به په اَزواجِ مُطَهَّراتو [يعني خپلو بيبيانو] كښې د كومې يوې خوا ته تشريف وړې وي. نو وئي فرمائيل: بيشكه الله تعالیٰ د **شَعبَانُ الْمُعَظَّم** په پينځلسمه شپه دُنياوي آسمان باندې تَجَلِّي فرمائي، پس د قبيلۀ بَنِي كلب د بزو [يعني چيلو] د ويښتو نه هم زيات ګنهګاران بخښي.''

(ترمِذی ج۲ ص۱۸۳ حديث ۷۳۹)



www.dawateislami.net

## په قَبْر د پاسه شمعې بلول

**شَبِ بَراءَت** کښې د اسلامي وروڼرو قبرستان [يعني اَدِيرې] ته تلل سُنَّت دي (اسلامي خويندو د پاره شرعاً منع دي) په قبرونو د پاسه شمعې نه شي بلولې خو که تِلاوت وغيره کول وي نو ضرورتاً د رنړا حاصلولو د پاره د **قَبْر** نه ډېرې ته شمعې بلولې شئ، هُم دغسې حاضرو خلقو ته د خوشبو رسولو په نِيَّت د قبر نه ډېرې ته اګربتئ بلولو کښې باك نشته. په **مزاراتِ اَولِياء** رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی باندې څادر اچول او د هغې خوا ته ډيوه بلوَل جائز دي چه دغسې خلق مُتَوَجِّه کيږي او د هغوئې په زړونو کښې [د اولياء رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی] عَظَمت پيدا کيږي او د بَرَکتونو حاصلولو د پاره حاضريږي. که د اولياء کرامو رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْهِم او عوامو قبرونه يو شان پريښودلې شي نو ډيرې ديني فائدې به ختمې شي.

## شنه پرچه

**اَميرُ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدُنا عُمر بِن عبدُ العزيز رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ يو ځل د **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** په پينځلسمه شپه يعني شَبِ بَراءَت کښې په عبادت کښې مصروف وو. سر ئې چه پورته کړو نو يوه شنه پرچه ئې وليدله چه د هغې نُور تر آسمانه پورې خور شوې وو، په هغې ليکلې شوي وو: "هٰذِهٖ بَرَاءَةٌ مِّنَ النَّارِ مِنَ الْمَلِكِ الْعَزِيْزِ لِعَبْدِهٖ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيْز" يعني د خُدائے مالِك و غالِب له طرفه دا "د جَهنَّم نه د آزادئ پيغام دي" کوم چه د هغه بنده عُمر بِن عبدُ العزيز ته ورکړې شوې دې.

(تَفْسِير رُوحُ البَيان ج۸ ص۴۰۲)

سُبْحٰنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ! **خوږو خوږو اسلامي وروڼرو!** په دې حکايت کښې چه څنګه د **اَمِيرُ الْمُؤمِنِين**، حضرت سَيِّدُنا عُمَر بِن عَبدُ العزيز رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه عَظَمت او فضيلت ښکاره شوې دې دغسې پکښې د **شَبِ بَراءَت** اوچت والې او فضيلت هم ښکاره شوې دې، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ دا



www.dawateislami.net

مُبارَكه شپه د جَهَنَّم د لـمبې وهونكي اور نه د خلاصي حاصلولو شپه ده، په دې وجه دې ته "شبِ بَراءَت" [يعني د خلاصي شپه] وائي.

## د آتش بازئ ايجاد كوونكې څوك دې؟

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ "شبِ بَراءَت" د دوزخ د اور نه د خلاصي موندلو شپه ده. خو په كروړونو افسوس! د مسلمانانو يو شمير د اور نه د خلاصي حاصلولو په ځاۍ بخپله پيسې خرچ كوي او د اور يعني د آتش بازئ [يعني د اور الوځولو او پټاخو] سامان پرې اخلي او ښې ډيرې پټاخې چوِي او د دې مُقَدَّسې شپې د تَقَدُّس [يعني د احترام] خلاف كار كوي. **مشهور مُفَسِّرِ حَكِيمُ الأُمَّت** حضرت مُفتى احمد يار خان رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په خپل مختصر كتاب "اسلامى زندگى" كښې فرمائي: "دا شپه په ګناه كښې تِيرول ډيره لويه محرومي ده. د آتش بازئ مُتعَلِّق مشهور دا دي چه دا نمرود بادشاه ايجاد كړې وه، هغه چه كله حضرت سيِّدُنا اِبراهيم خليل الله عَلَيْهِ السَّلَام په اور كښې واچولو او اور ګلِ ګلزار شو. نو د هغه [يعني د نمرود] كسانو د اور پنډوسونه [بالونه] جوړكړل او هغې ته ئې اور ولګولو او د حضرت سيِّدُنا اِبراهيم خليل الله عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام طرف ته ئې غوزار كړل. (اسلامى زندگى ص۷۷)

## په شبِ بَراءَت كښې د آتش بازئ رواج حرام دې

**افسوس!** په شبِ بَراءَت كښې د "آتش بازي" ناپاكه رَسم اوس په مسلمانانو كښې مسلسل زياتيږي. په "اسلامى زندگى" كښې دي: د مسلمانانو په لكونو روپۍ هر كال په دې رَسم بربادېږي او هر كال دا خبرونه راځي چه په فلانكې ځاۍ كښې دومره كورونه د آتش بازئ په وجه وسوزيدل او دومره كسان وسوزيدل او دومره مړه شو. په دې كښې د خپل ځان خطره، د مال بربادي او د كورونو سوزيدو انديښنه ده، او خپل مال ته د خپله لاسه اور لګول او بيا د خدائے پاك د نافرمانئ مصيبت په سر اخستل دي. د خدائے تعالٰی د پاره د دې بيهوده او **حرام كار** نه ځان ساتئ. خپل بچي او خپلوان د دې نه منع كړئ، كوم ځاۍ كښې چه لوېران



www.dawateislami.net

ماشومان [یا غټ کسان] داسې لوبې کوي هلته د تماشې کتلو د پاره هم مه ورځئ. (ایضاً ص۷۸) (د شبِ بَراءَت رواج جوړ شوي) آتش بازي کول بې شکه اسراف او فضول خرچي ده، لِهٰذا د دې **ناجائزه** او **حرام** کيدل او دغه رنګ د آتش بازۍ سامان جوړول، خرڅول، اخستل ټول شرعاً منع دي. (فتاوی اَجملیه ج٤ ص٥٢) زما آقا اعلیٰ حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، مولانا شاه اِمام اَحمَد رَضا خان رَحمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیه فرمائي: آتش بازي چه څنګه په وَدونو او شبِ بَراءَت کښې رائج ده **بیشکه حرامه** او پوره جُرم دې، ځکه چه دا مال ضائع کول دي. (فتاوٰی رضویه ج ۲۳ ص ۲۷۹)

## د آتش بازۍ جائز صورتونه

په **شَبِ بَرَاءَت** کښې چه کومه آتش بازي کیږي د هغې مقصد لوبې او ټوقې وي، لِهٰذا دا ګناه، حرام او دوزخ ته بوتلونکې کار دې. خو د دې بعضې جائز صورتونه هم شته دې لکه څنګه چه د اعلیٰ حضرت رَحمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیه په خدمت کښې سوال وکړې شو: څه فرمائي عُلمائے دين په دې مسئله کښې چه آتش بازي جوړول او اَلوَځول حرام دي که نه؟ **الجواب**: منع اوګناه ده خو کوم صورت چه خاص د لَهو و لَعِب وتَبذِير و اِسراف نه خالي وي (يعني په هغه مخصوصو صورتونو کښې جائز دي کوم چه د لوبو او فضول خرچۍ نه خالي وي) لکه د اِعلانِ هِلال (يعني د مياشتي ليدلو د اِعلان د پاره)، یا په ځنګل کښې یا د حاجت په وخت کښې په ښار کښې د ضرري (يعني نقصان ورکوونکو) ځناورو د شړلو د پاره یا د پټو نه یا د میوو د وَنو نه د ځناورو د شړلو (او مرغو) الوَځولو د پاره پټاخې چول، وغيره. (فتاوٰی رضویه ج ۲۳ ص۲۹۰)

تجھ کو شعبانِ مُعظّم کا خدایا واسِطہ
بخش دے ربِّ محمّد تو مری ہر اک خطا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد



www.dawateislami.net

# خوږ نبي ﷺ د شنې عمامې تاج په سر کړې وو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** کښې د عبادت کولو، روژو نیولو او رواج شوي آتش بازۍ وغیره ګناهونو نه بچ کیدلو فِکر جوړلو د پاره د **دعوتِ اسلامي** په **مَدَني قَافِلو** کښې د عاشقانِ رَسُول سره ډیر ډیر د سُنَّتو ډك سفرونه وکړئ او په **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** کښې د دعوتِ اسلامي د اِجتِماعي اِعتِکاف بَرَکتونه حاصل کړئ. ستاسو د جذبې زیاتولو د پاره تاسو ته یو خوشبودار مَدَني سپرلې اوروووم د **واه کینټ** (پنجاب، پاکستان) کالج یو اسلامي ورور د عامو سټوډنټس په شان د فیشن شوقي وو، د کرکټ میچ د کتلو او کولو ئې د لیونتوب د حده پورې شوق لرلو او د نیمې شپې پورې د فضول ګرځیدلو معمول ئې وو. د لـمانځه او جُمات سره ئې صرف د اخترو د لـمونځونو د حده پورې تعلق وو. په **رَمَضَانُ الْمُبَارَك**(۱٤۲۲ھ، ۲۰۰۱ء) کښې د مور و پلار په ډیره زارۍ مِنَت د لـمانځه د پاره جُمات ته لاړو. د مازدیګر د لـمانځه نه پس یو د سپینو جامو او شنې عِمامې [یعني شین پټکي] او **ګیرې مبارکې والا اسلامي ورور** ځان ته خلق نزدې کړل او د **فیضانِ سُنَّت درس** ئې ورکړو، هغه لرې ناست وو او درس ئې اورویدلو او د درس نه پس فوراً د جُمات نه اُووتلو، دوه درې ورځو پورې ئې هُم دا ترکیب جاري وو. یوه ورځ هغه د ملاقات د پاره حصار شو، **یو اسلامي ورور** ورسره په ګرم جوشۍ سره ملاقات وکړو او د نوم او دَرَك تپوس ئې ترې وکړو او د **تبلیغِ قُرآن و سُنَّت** د عالـمګیر غیر سیاسي تحریك **دعوتِ اسلامي** په مَدَني ماحول کښې کیدو والا **اجتِماعي اِعتِکاف** کښې د کښیناستلو ترغیب ئې ورکړو او د اعتکاف فضائل ئې ورته بیان کړل. اول خو هغه ذهني طور تیار نه شو خو هغه اسلامي ورور مَا شَآءَاللّٰه ډیر جذبې والا وو، هغه مایوسه نه شو او د هغه کور ته ورغلو او ډیره زیاته زارې او مِنَت ئې ورته وکړل. د هغه د مسلسل **اِنفرادي کوشش** په نتیجه کښې ئې د اعتکاف نه یوه ورځ مخکښې نوم ور ولیکو او د رَمَضَانُ الْمُبَارَك۱٤۲۲ھ په آخرئ عشره کښې په **جامِع مسجد نعیمیه** (لاله رُخ، واه کینټ) کښې د عاشقانِ رسول سره مُعتَکِف شو. د **اجتماعي اعتکاف** د فِکرِ آخرت نه



www.dawateislami.net

ډك ماحول او د عاشقانِ رسول صُحبت د هغه د زړه كيفيت بالكل بدل كړو. هلته كيدو والا د **تَهَجُّد**، اِشراق او څاښت او اَوَّابِينو د نفلو لمونځونو پابندئ هغه په تير ژوند كښې فرض لمونځونه نه كولو باندې سخت شرمِنده كړو، د سترګو نه ئې اوښكې رواني شوې او په زړه كښې ئې د لمونځونو د پابندئ نِيَّت وكړو. په **پينځه وِيشتمه شپه** ئې په دُعا كښې ئې زړه دومره نرې شو چه په زوره زوره ئې وژړل. په هُم دې دوران كښې ئې سترګې ولګيدې او خوب ئې وليدو، څه ګورې چه يو ډير زيات عِزَّتمند او ښكلې مخ والا او د اوچتې هستئ خاوند موجود دې او د هغوئې نه ګير چاپيره ګڼړه ده. د چا نه ئې تپوس وكړو نو هغه ورته اووئيل چه دا خو د **د دواړو جهانو سردار** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې. هغه وليدل چه **سركارِ مدينه** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **شنې شنې عِمامې شريفې تاج په سر كړې دې**، د څه ساعته پورې ئې د هغوئې صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ديدار شرف حاصل كړو، چه رابيدار شو نو **صلوٰة و سلام** جارې وو، حالت ئې ډير عجيبه وو، بدن ئې په لړزان وو او ژړل ئې، سلګئ ئې وهلې او اوښكې ئې نه ودريدلې. د صلوٰة و سلام نه پس د **مجلس برائے اعتكاف** د نِګران مخې ته د عمامې د تاج ترلو د پاره قطار لګيدلې وو او د اعلٰى حضرت **اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې نعتيه شعر تِكرار جارې وو.ـــه

تاج والے دیکھ کر تیرا عمامہ نور کا
سر جھکاتے ہیں الٰہی بول بالا نور کا

**هغه** خپل خوا ته موجود اسلامي ورونړو ته په مُشكِله صرف دومره اووئيل چه: "**زه هُم عِمامه ترل غواړم.**" بس لږ ساعت پس په ژړا ژړا كښې هغه هُم د **عِمامې تاج په سر كړو.** اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! په اعتكاف كښې ئې د **يوې مياشتې په مَدَني قَافِله** كښې د سفر نِيَّت هُم وكړو او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ بيا ئې په **مَدَني قَافِله** كښې سفر هُم وكړو، د سفر په دوران كښې ئې نور د ډير څه يادولو سره سره د درس او بيان طريقه هُم يادول شروع كړل. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د لمونځونو د



www.dawateislami.net

پابندئ سره سره ئې د **دعوتِ اسلامي** په **مَدَني كارونو** كښې حِصَّه اخستل هُم شروع كړل. او هغه ته د ذيلي مُشاورت د نګران په طور د مَدَني كارونو عاملو د پاره د كوشش كولو سعادت هُم حاصل شو.

گر تمنا ہے آقا کے دیدار کی، مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف
ہو گی میٹھی نظر تم پہ سرکار کی، مدنی ماحول میں کر لو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٤٠)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د "عِيد" د درې حُروفو په نِسبت د شَش عِيد د روژو په فضائلو مشتمل درې فرامين مُصطَفٰى ﷺ

## د اوس اوس پيدا شوي ماشوم په شان د ګناهونو نه پاك

﴿۱﴾ "چا چه د رَمَضان روژې ونِيولې بيا ئې شپږ ورځې په شَوَّال كښې ونِيولې نو د ګناهونو نه داسې اووتلو لكه هُم نن چه د مور د ګېډې نه پيدا شوې وي." (مَجْمَعُ الزَّوائِد ج٣ ص ٤٢٥ حديث ٥١٠٢)

## لكه د ټول عُمر روژه ئې چه ونيوله

﴿۲﴾ "چا چه د **رَمَضان** روژې ونيولې بيا ئې د هغې نه پس **شپږ ورځې** په **شَوَّال** كښې ونِيولې. نو داسې دې لكه د دَهر (يعني د ټول عُمر) روژه ئې چه ونيوله." (مُسلِم ص٥٩٢ حديث١١٦٤)

## د ټول كال روژې ئې ونيولې

﴿۳﴾ چا چه د واړه اختر نه پس (په شَوَّال كښې) شپږ روژې ونِيولې نو هغه د پوره كال روژې ونِيولې ځكه چه څوك يوه نيكي راوړي هغه ته به لس وركولې كيږي. نو د **رَمَضان** د مياشتې روژه



www.dawateislami.net

[يعني د پوره مياشتې روژې] د لسو مياشتو برابري دي او د دې شپږو ورځو په بدله كښې دوه مياشتې نو د پوره كال روژې شوې. (السُنَنُ الكُبرىٰ للنّسَائی ج۲ ص۱٦۲، ۱٦۳ حديث ۲۸٦۰، ۲۸٦۱)

## د شَش عيد روژې كله نيول پكار دي؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه حضرت مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحمَةُاللهِ تَعالٰی عَلَيه د "بهارِ شريعت" په حاشيه كښې فرمائي: "بهتره دا ده چه دا روژې مُتَفَرِّق (يعني جُدا جُدا) ونيولې شي او كه د اختر نه پس ئې مسلسل شپږ ورځې ونيولې نو بيا هُم باك نشته." (دُرِّ مُختار ج۳ ص٤٨٥، بهارِشريعت ج۱ ص۱۰۱۰)

خليلِ مِلّت حضرتِ عَلّامه مولانا مفتي محمد خليل خان قادِري بركاتي رَحمَةُاللهِ تَعالٰی عَلَيه فرمائي: دا روژې كه د **اختر** نه پس مسلسل ونيولې شي نو هُم باك نشته او بهتره دا ده چه مُتَفَرِّق (يعني جُدا جُدا) ونيولې شي يعني (لكه) په هره هفته كښې دوه روژې او كه د عِيدُالْفِطْر په دويمه ورځ يوه روژه ونيسي او كه په پوره مياشت كښې ئې ونيسي نو نوره هُم مناسب ښكاري. (سُنّی بهشتی زيور ص۳٤۷) غرض دا چه د واړه اختر د ورځې نه علاوه چه په ټوله مياشت كښې كله غواړي د شش عيد روژې نيولې شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ذُوالْحِجَّةُ الْحَرَام د وړومبو لسو ورځو فضائل

فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه جِلد ۱۰ صفحه ٦٤۹ كښې دي: صَوم يعني روژه وغيره اَعمالِ صالِحه (يعني نيكو اعمالو) د پاره د رَمَضَانُ الْمُبَارَك نه پس د ټولو ورځو نه افضل [يعني غوره] د ذِی الْحِجَّه عَشره ده.



www.dawateislami.net

## د ”اللّٰه“ د شلورو حُروفو په نِسبت د عشرۀ ذُوالْحِجَّةُالْحَرَام د فضائلو مُتَعَلِّق شلور فرامِينِ مُصطَفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

﴿۱﴾ ”د دې لسو ورځو نه زيات د کومې [بلې] ورځې نيك عمل اللّٰه تعالٰى ته محبوب نه دې.“ صحابۀ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان عرض وکړو: ”يارَسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! او نه د الله تعالٰى په لار کښې جِهاد؟ وئې فرمائيل: او نه د الله تعالٰى په لار کښې جِهاد، خو هغه چې خپل ځان او مال واخلي او اُوځي بيا په هغې کښې هيڅ بيرته رانوړي.“ (يعني صرف هغه مُجاهِد به افضل [يعني غوره] وي کوم چه ځان او مال قُربانولو کښې کامياب شو) (بُخاری ج۱ ص۳۳۳ حديث۹٦۹)

﴿۲﴾ ”اللّٰه تعالٰى ته د ذِی الْحِجّه د عَشرې نه زيات په يوه ورځ کښې خپل عِبادت کول [زيات] خوښ نه دي، د دې د هرې ورځې روژه د يو کال د روژو او د هرې شپې قيام د شَبِ قَدر برابر دې.“ (تِرمِذِی ج۲ ص۱۹۲ حديث۷۵۸)

﴿۳﴾ ما ته په اللّٰه تعالٰى باندې ګُمان دې چه د عَرَفې (يعني ۹ ذُوالْحِجَّةُالْحَرَام) روژه د يو کال مخکښې او يو کال وروسته ګُناهونه ورانوي.“ (مُسلِم ص۵۹۰ حديث۱۱٦۲)

﴿٤﴾ د عَرَفې (يعني د ۹ ذُوالْحِجَّةُالْحَرَام) روژه د زرو روژو برابره ده. (شُعَبُ الْاِيمان ج۳ ص۳۵۷ حديث۳۷٦٤) (خو په عَرَفات کښې د حاجي د پاره د عَرَفې روژه مکروه ده،) حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنۡهُ فرمائي: سردارِ انبياء صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عَرَفې (يعني د ۹ ذُوالْحِجَّةُالْحَرَام) په ورځ په عَرَفات کښې د روژه نيولو نه منع فرمائيلي دي. (اِبن خُزَيۡمَة ج۳ ص۲۹۲ حديث۲۱۰۱)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

# د اَيّامِ بِيض روژې

هر اسلامي ورور او هرې اسلامي خور ته ښكار دي چه په هره مَدَني مياشت (يعني د هِجري سن په هره مياشت) كښې كم از كم درې روژې نِيسي. د دې بيشميره دُنياوي او اُخروي فائدې او فضائل دي. بهتره دا ده چه دا روژې په "اَيَّامِ بِيض" كښې يعني د مياشتې په ١٣، ١٤ او ١٥ تاريخ ونيولې شي.

## د اَيَّامِ بِيض د روژو متعلِّق ٣ رِوايات

﴿١﴾ د **اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدَتُنا حَفصه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہَا نه رِوايت دې چه، د **الله** تعالىٰ خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به څلور څيزونه نه پريښودل، د **عاشُورې** روژه او د **عَشَرهٔ ذُو الحِجَّه** روژې او په هره مياشت كښې **د درې ورځو روژې** او د **سحر** (د فرضو) نه مخكښې دوه **ركعاته** (يعني دوه سُنَّت) (نَسائی ج٤ ص٣٩٥ حديث٢٤١٣) د حديث شريف د دې حِصّې " د **عَشَرهٔ ذُو الحِجَّه** د روژې" نه مُراد د **ذُو الحِجَّه** د وړومبو نهو ورځو روژې دي ځكه چه په لسمه **ذُو الحِجَّه** روژه نيول حرام دي.

(ماخوذ از مِراٰۃُ المناجیح ج٣ ص١٩٥)

﴿٢﴾ د **حضرتِ** سَيِّدُنا اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه رِوايت دې چه د طبيبانو طبيب، د **الله** جَلَّ جَلَالُہٗ خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په **اَيَّامِ بِيض** كښې بغير د روژې نه نه وو، نه په سفر كښې او نه په حَضَر (يعني قيام) كښې. (سُنَنُ النَّسائی ج٤ ص ١٩٨)

﴿٣﴾ د **اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہَا نه رِوايت دې چه، "زما سر تاج، صاحِبِ مِعراج صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به يوه مياشت كښې د **خيالي، اتوار** او **كل** او بله مياشت به ئې د **نهې، چارشنبې** او **زيارت** روژه نيوله. (تِرمِذی ج٢ ص١٨٦ حديث٧٤٦)



www.dawateislami.net

# د اَيَّامِ بِيض د روژو په باره کښې

## پينځه فرامين مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

﴿۱﴾ څنګه چه په تاسو کښې د چا سره په جنګ کښې د بچ کيدو د پاره ډال وي هُم دا رنګ روژه د جهنَّم نه ستاسو ډال دې او **هره مياشت درې روژې** نِيول بهترينې روژې دي.“ (اِبن خُزَيْمَة ج۳ ص۳۰۱ حديث ۲۱۲۵) ﴿۲﴾ په هره مياشت کښې د درې ورځو روژې داسې دي لکه د دَهر (يعني د هميشه) روژې. (صَحِيْحُ الْبُخارى ج۱ ص٦٤٩ حديث ۱۹۷۵) ﴿۳﴾ د **رَمَضان** روژې او په هره مياشت کښې د درې ورځو روژې **د سِينې خرابي** (يعني نِفاق) لرې کوي. (مُسْنَدِاِمام اَحمَد، ج۹ ص۳٦ حديث۲۳۱۳۲) ﴿٤﴾ **د چا نه** چه کيدې شي په هره مياشت کښې دِ **درې روژې** نِيسي ځکه چه هره روژه لس ګناهونه ورانوي [يعني معاف کوي] او د ګناه نه داسې پاك کول کوي څنګه چه اوبه کپړه [پاکوي]. (الْمُعْجَمُ الْكَبِيْر ج۲۵ ص۳۵ حديث٦۰) ﴿۵﴾ چه کله په مياشت کښې درې روژې نيسئ نو په ۱۳، ۱٤، ۱۵ ئې نيسئ. (نَسَائى ص ۳۹٦ حديث۲٤۱۷)

## د مرګ دُعاګانې به ئې غوښتلې

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د اَيَّامِ بِيض د روژو او د نيکو او سُنَّتو فِکر جوړولو د پاره د تبليغِ قُرآن و سُنَّت عالــمګير غير سياسي تحريك دعوتِ اسلامي **مَدَني ماحول** سره تَعَلُّق مضبوط کړئ، صرف د لرې لرې نه کتلو باندې کار نه کيږي، د سُنَّتو د تربِيَّت په مَدَني قَافِلو کښې د **عاشِقانِ رَسُول** سره د سُنَّتو ډك سفر وکړئ، د رَمَضَانُ الْمُبَارَك **اِجتِماعي اِعتِکاف** هُم وکړئ، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ زړه ته به مو هغه سکون نصيب شي چه حيران به پاتې شئ. **د دعوتِ اسلامي مَدَني** ماحول ته چه راشي نو څنګه څنګه وران کاري خلق په سمه لار روان شي د دې يو خرك اوګورئ، چنانچه د تَحصيل ټهل (بابُ الاِسلام سندھ) يو ځلمې ډير زيات فسادي او شرارتي وو جنګ جګړه به ئې ډيره زياته خوښوله، د هغه د شر او فساد نه ټوله مَحلّه تنګه وه او د کور



www.dawateislami.net

كسان خو ترې دومره بيزاره وو چه د هغه د مرګ دُعاګانې به ئې غوښتلې. خوش قسمتئ سره څه اسلامي ورونړو په هغه اِنفرادي كوشش وكړو او د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د اِجتِماعي اِعتِكاف دعوت ئې وركړو، هغه د هغوئي د لحاظ ساتلو په وجه "ښـه" وكړه او په رَمَضَانُ الْمُبَارَك كښې په ميمن مسجد عطّار آباد كښې د **عاشِقانِ رَسُول** سره **مُعتَكِف** شو. د اِعتِكاف په دوران كښې هغه د اوداسه، غُسل او لـمانځه طريقه او د حُقُوقُ الله او حُقُوقُ العباد او احترامِ مسلِم [څه نه څه] احكام زده كړل، د سُنَّتو ډكو [د آخرت] غم وركوونكو بيانونو او ژړوونكو دُعاګانو هغه ولړزولو! هغه [په خپلو تيرو ګناهونو] ډير پښيمانه وو او د ګُناهونو نه ئې **توبه** وكړه، په زړه كښې ئې د نيكو كولو خواهش پيدا شو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ هغه د عِشقِ مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نننه يعني ګِيره مُباركه پريښودله، د شنې عِمامې تاج ئې په سر كړو او د جنګ جګړو په ځائ د نيكئ د دعوت وركولو شيدائي جوړ شو.

آؤ آکر گناہوں سے توبہ کرو | مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
رحمتِ حق سے دامن تم آکر بھرو | مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٤٠)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د "مصطفٰی" د پينځه حُروفو په نِسبت د ګُل او د زيارت د روژو متعلِّق پينځه رِوايات

﴿١﴾ د **حضرتِ** سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دې چه، رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: په ګُل او زيارت اَعمال پيش كيږي نو زه خوښووم چه زما عمل هغه وخت پيش شي چه زه روژه دار يم. (تِرمِذِی ج٢ ص١٨٧ حديث٧٤٧) [يعني] چه د روژې په بَرَكت د رَحمتِ اِلٰهي درياب په جوش كښې راشي. (مِراٰۃ ج٣ ص١٨٨)



www.dawateislami.net

﴿۲﴾ د **اللہ** تعالٰی محبوب، دانائے غُیُوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د گُل مبارك او د زيارت په ورځ روژه نيوله. د دې په باره كښې عرض وكړې شو نو وئې فرمائيل: په دې دواړو ورځو كښې **اللہ** تعالٰی د هر مسلمان بخښنه فرمائي خو هغه دوه كسان چا چه خپل مينځ كښې جُدائي كړې ده د هغوئي په نِسبت فرښتو ته فرمائي: دوئي پريږده تر دې چه صُلح وكړي. (ابنِ ماجه ج۲ ص۳۴۴ حديث۱۷۴۰)

**مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې حديثِ پاك نه لاندې په **مِرأة** جِلد۳ صفحه ۱۹۶ كښې فرمائي: **سُبْحٰنَ اللّٰہِ** عَزَّوَجَلَّ! دا دواړه ورځې ډيرې بَرَكت او عَظَمت والا دي ولې به نه وي ځكه چه دا د عَظَمت لرونكو سره نِسبت لري، "زيات خو د جُمُعې گاونډي دي او د حضرتِ آمِنه خاتون [رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا] د حامِله كيدو ورځ ده، او "**گُل**" د حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پيدائش ورځ هُم ده او د قُرآن د نازليدو [ورځ] هُم.

﴿۳﴾ **اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ** سَيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا رِوايت فرمائي: خوږ نبي سُلطان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د گُل او د زيارت د روژې خاص خيال ساتلو. (تِرمِذی ج۲ ص۱۸۶ حديث۷۴۵)

﴿۴﴾ **حضرتِ** سَيِّدُنا اَبُو قَتاده رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي، د سركارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه د **گُل مبارك** د ورځې د روژې د سبب تپوس وكړې شو نو وئې فرمائيل: په هُم دې كښې زما وِلادت [يعني پيدائش] وشو، په هُم دې كښې په ما وحي نازِله شوه. (مُسلِم ص۵۹۱ حديث۱۹۸، ۱۱۶۲)

﴿۵﴾ د **حضرتِ** سَيِّدُنا اُسامه بِن زَيد رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا د غُلام رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې، فرمائي چه **حضرتِ** سَيِّدُنا اُسامه بِن زَيد رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا به په سفر كښې هُم د **گُل** او **زيارت** روژه نه پريښودله. ما هغوئي ته عرض وكړو: څه وجه ده چه تاسو رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په دې زيات عُمر كښې هُم د **گُل** او **زيارت** روژه نيسئ؟ نو ارشاد ئې اوفرمائيلو: رَسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د گُل او زيارت روژه نيوله. ما عرض وكړو: يارَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! څه وجه ده چه تاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **گُل** او



www.dawateislami.net

**زیارت** روژه نِیسیٔ؟ نو ارشاد ئي اوفرمائیلو: د خلقو اعمال په **ګل** او **زیارت** پیش کیږي. (شُعَبُ الْاِیْمان ج ۳ ص ۳۹۲ حدیث ۳۸۵۹)

## د "جَنَّت" د درې حُروفو په نِسبَت

## د چارشنبې او د زیارت د روژو ۳ فضائل

(۱) د **حضرتِ** سَیِّدُنا عبدُاللّٰه بِن عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوایت دې چه، د **اللّٰه** تعالٰی د خوږ حبیب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: څوك چه د چارشنبې او زیارت روژې ونیسي د هغه د پاره د جهنَّم نه آزادي ولیکلې شي. (اَبو یَعْلٰی ج ۵ ص ۱۱۵ حدیث ۵۶۱۰)

(۲) **حضرتِ** سَیِّدُنا مُسلِم بِن **عُبَیدُ اللّٰه** قَرَشي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ د خپل والد **محترم** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوایت کوي چه هغوئي د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې یا خو پخپله عرض وکړو یا بل چا تپوس وکړو چه، یَارَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زه **همیشه روژه** ونیسم؟ خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خاموشه پاتې شو. بیا ئي دویم ځل عرض وکړو، بیا ئي خاموشي اختیار کړه. په دریم ځل تپوس کولو ئي اِستِفسار [یعني پوښتنه] وکړه چه، د روژې متعلق چا تپوس وکړو؟ عرض ئي وکړو چه، ما یانَبِیَّ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! نو په جواب کښې ئي ارشاد اوفرمائیلو، بیشکه په تا باندې ستا د کور والؤ حق دې، ته د **رَمَضان** او د هغې سره د مُتَصِلې [یعني لګیدلې] میاشت (شَوَّال) او د هرې **چارشنبې** او **زیارت** روژې نِیسه که ته داسې وکړې نو [داسې ده] **لکه تا چه د همیشه روژې** ونیولې. (شُعَبُ الْاِیْمان ج ۳ ص ۳۹۵ حدیث ۳۸۶۸)

﴿۳﴾ **فرمانِ مُصطَفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "چا چه د رَمَضان، **شَوَّال، چارشنبې** او **زیارت** روژه ونیوله نو هغه به جَنَّت ته داخلیږي." (اَلسُّنَنُ الْکُبْرٰی لِلنّسَائی ج ۲ ص ۱۴۷ حدیث ۲۷۷۸)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

## د ”کرم“ د درېو حُروفو په نِسبت د چارشنبې، زيارت او جُمُعې د روژو په فضائلو مُشتَمِل ۳ فرامين مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

﴿۱﴾ چا چه د **چارشنبې، زيارت** او **جُمُعې** روژه ونيوله الله تعالیٰ به د هغه د پاره په جَنَّت کښې يو کور جوړوي چه د هغې بهرنئ حِصَّه به د دننه نه ښکاري او د دننه د بهر نه. (مُعْجَمُ اَوْسَط ج۱ ص۸۷ حديث۲۵۳)

﴿۲﴾ چا چه د **چارشنبې، زيارت** او **جُمُعې** روژه ونيوله **الله** تعالیٰ به د هغه د پاره په جَنَّت کښې د غمو او ياقُوتو او زَبَرجَدو **مَحَل** جوړوي او د هغه د پاره به د دوزخ نه براءَت (يعني آزادي) وليکلې شي. (شُعَبُ الْاِيْمان ج۳ ص۳۹۷ حديث۳۸۷۳)

﴿۳﴾ چا چه د **چارشنبې، زيارت** او **جُمُعې** روژه ونيوله بيا په **جُمُعه** کښې لږ يا زيات تَصَدُّق (يعني خيرات) وکړي نو کوم ګناهونه ئې چه کړي دي وبه بخښلې شي او داسې به شي څنګه چه هغه ورځ [وو] چه د خپلې مور د خيټې نه پيدا شوې وو. (ايضاً حديث۳۸۷۲)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ”جُمُعه“ د څلورو حُروفو په نِسبَت د جُمُعې د روژې متعلق ٤ فرامينِ مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

﴿۱﴾ ”چا چه د **جُمُعې** روژه ونيوله نو **الله** تعالیٰ به هغه ته د آخرت د لسو ورځو هُمره اَجر ورکوي او هغه ورځې (په خپل مِقدار کښې) د دُنيا د ورځو په شان نه دي.“ (شُعَبُ الْاِيْمان ج۳ ص۳۹۳ حديث۳۸٦۲)

**فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه** جِلد ۱۰ صفحه ٦۵۳ کښې دي: د **جُمُعې** روژه يعني چه د دې سره د زيارت يا خيالي روژه هُم شامله وي [نو] رِوايت شوې دې چه **د لسو زرو کالو د روژو برابره ده.**



www.dawateislami.net

﴿۲﴾ چا چه **جُمُعه** ادا كړه [يعني د **جُمُعې** لمُونځ ئې ادا كړو] او د دې ورځې **روژه** ئې ونيوله او د مريض پوښتنه ئې وكړه او د جنازې سره لاړو او په نِكاح كښې حاضر شو نو د هغه د پاره جَنَّت واجِب شو." (مُعْجَمُ كَبِيْر ج۸ ص۹۷ حديث۷۴۸۴)

﴿۳﴾ چا چه د روژې په حالت كښې د **جُمُعې** د ورځې سحر كړو او د مريض پوښتنه ئې وكړه او د جنازې سره لاړو او **صَدَقه** ئې وكړه نو هغه د ځان د پاره **جَنَّت** واجِب كړو." (شُعَبُ الْإِيمان ج۳ ص۳۹۳ حديث۳۸۶۴)

﴿۴﴾ چا چه د **جُمُعې** په ورځ روژه ونيوله او د مريض پوښتنه ئې وكړه او په مِسكِين ئې طعام اُوخوړلو او د جنازې سره لاړو نو هغه ته به **د څلوېښتو كالو** ګناهونه نه لاحِق كيږي. (ايضاً ص۳۹۴ حديث۳۸۶۵) د حديثِ پاك د دې حِصّې " هغه ته به د څلوېښتو كالو ګناهونه نه لاحِق كيږي" نه مُراد يا خو به هغه ته صرف د نيكو توفيق وركولې كيږي يا كه ګناه ترې وشوه نو د داسې توبې توفيق به وركولې كيږي چه د هغه ګناهونه به وران [يعني مُعاف] كړي. حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن مسعود رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: سردارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ډيره كمه د **جُمُعې** روژه پريښودله. (ايضاً)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! څنګه چه د عاشورې نه مخكښې يا وروسته يوه روژه نيول وې هُم داسې د **جُمُعې** سره هُم كول دي ځكه چه خُصُوصِيَّت سره يواځې د **جُمُعې** روژه (د دې مسئله مخكښې راروانه ده) يا صرف د خيالي روژه نيول مكروهِ تَنزِيهي (يعني ناخوښه) دي. خو كه په څه **مخصوص** تاريخ **جُمُعه** يا خيالي راشي نو [په داسې صورت كښې بيا] يواځې د **جُمُعې** يا خيالي روژه نيولو كښې كَراهَت نشته مَثَلًا ۱۵ **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم**، ۲۷ **رَجَبُ الْمُرَجَّب** وغيره.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

# د "فضل" د درې حُروفو په نِسبَت يواځې د جُمُعې د روژې د نيولو په مُمَانعت باندې ۳ فَرامِينِ مُصطَفیٰ ﷺ

﴿۱﴾ شَبِ **جُمُعه** په نورو شپو کښې د شَب بيدارئ [يعني قِيام] د پاره مه خاص کوئ او نه د **جُمُعې** ورځ په نورو ورځو کښې د روژې سره خاص کوئ مګر دا چه تاسو په داسې روژه کښې ئې چه هغه ستاسو د پاره نِيول دي. (صحيح مُسلِم ص۵۷۶ حديث۱۱۴۴)

**مشهور** مُفَسِّر حَکِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحمَةُاللهِ تَعالٰی عَلَيه په مِراٰة جِلد ۳ صفحه ۱۸۷ کښې "شَبِ جُمُعه په نورو شپو کښې د شَب بيدارئ [يعني قِيام] د پاره مه خاص کوئ." نه لاندې فرمائي: يعني د **جُمُعې** په شپه عبادت کول منع نه دي، بلکه په نورو شپو کښې بالکل عِبادت نه کول مناسب نه دي چه دا د غَفلت دليل دې، ولې چه د **جُمُعې** شپه زياته عَظَمت لرونکې ده، انديښنه وه چه خلق به دا د نفلي عبادتونو د پاره خاصه کړي ځکه د هُم دې شپې نوم واخستې شو.

﴿۲﴾ په تاسو کښې دِ څوک هيڅ کله د **جُمُعې** روژه نه نيسي مګر دا چه د دې نه **مخکښې** يا وروسته [ورسره] يوه ورځ شريکه کړي. (بُخاری ج۱ ص۶۵۳ حديث ۱۹۸۵)

﴿۳﴾ د **جُمُعې** ورځ ستاسو د پاره اختر دې، په دې ورځ روژه مه نِيسئ مګر دا چه د دې نه **مخکښې** يا وروسته هُم روژه ونِيسئ. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج۲ ص۸۱ حديث۱۱)

د احاديثِ مُبارکه نه معلومه شوه چه يواځې د **جُمُعې** روژه نيول نه دي پکار خو دا مُمَانعت صرف په دې صورت کښې دې چه کله په خُصوصيت سره صرف د **جُمُعې** روژه ونيولې شي که خُصُوصِيَّت نه وو مَثَلًا د **جُمُعې** په ورځ ئې رخصت وو [يعني چوټي ئې وه] د هغې نه د فائده اخستو په وجه ئې روژه ونيوله نو کراهَت نشته.



www.dawateislami.net

مشهور **مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په مِراٰة جِلد ۳ صفحه ۱۸۷ کښې فرمائي: مَثَلًا د چا په هر یوولسم یا دولسم تاریخ د روژه نیولو عادت وي او اِتِّفاقي طور په هغه ورځ جُـمُعه راشي نو بیا دِ ئې ونیسي نو بیا خِلافِ اَولٰی هُم نه ده.

## د جُـمُعـې د ورځې د روژې مُتَعَلِّق یوه فَتویٰ

په دې باره کښې د **فَتَاوٰی رَضَوِیَّه** (مُخرَّجه) جِلد ۱۰ ،صفحه ۵۵۹ نه معلوماتي سوال جواب اوګورئ. **سُوال**: څه فرمائي عُلَمائے دِین په دې مسئله کښې چه د **جُمُعې** نفلي روژه نیول څنګه دي؟ یو کس د **جُمُعې** روژه ونیوله، بل هغه ته اُووئیل: **جُمُعه عِیدُالْمُؤمِنِین** [یعني د مُؤمِنانو د اختر ورځ] ده، په دې ورځ روژه نیول مکروه دي او په ډیر ضد [یعني بیا بیا وئیلو] ئې پرې د غرمې نه پس روژه ماته کړه او په کتاب "**سِرُّ القُلُوب**" کښې ئې ورته اُوښودل چه مکروه کیدل ئې لیکلي دي. په داسې صورت کښې روژه ماتوونکي باندې کَفّاره شته که نه؟ او ماتوونکي باندې څه اِلزام شته که نه؟ **الـجواب**: د **جُمُعې** روژه خاص په دې نِیَّت (نیول) چه نن جُـمُعه ده د دې روژه بِالتَّخصِیص (یعني خصوصِیَّت سره نیول) پکار دي، [نو په دې نِیَّت نیول] مکروه دي، مګر هغه کَراهَت نه چه ماتول ئې لازم شو، او که خاص د تخصِیص په نِیَّت نه وه نو اَصلًا کراهَت هُم نشته، هغه بل کس ته که د نِیَّتِ مکروه اِطلاع نه وه نو بیا خو اعتراض کول د سره حَماقَت [یعني بې وقوفي] شوه او روژه پرې ماتول په شَرع باندې سخت جُرأت [شو] او که اِطلاع ئې لرله نو هُم صرف مسئله ښودل کافي وو دا نه چه روژه پرې ماتول او هغه هُم د غرمې نه پس، چه د هغې اختیار په نفل روژه کښې سِوا د مور او پلار نه بل چا ته نشته، ماتولو والا او چا چه پرې ماته کړه دواړه ګنهګار شو، په ماتوونکي باندې قضا لازِم ده کَفّاره پرې اَصلًا (یعني بالکل) نشته. وَاللہُ تعالٰی اَعْلَم.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد



www.dawateislami.net

## د خيالي او اتوار روژې

د **حضرتِ** سَيِّدَتُنا اُمِّ سَلَمه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا نه رِوايت دې چه رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د **خيالي** او **اتوار** روژه نِيوله، او فرمائيل به ئې: ”دا دواړه (خيالي او اتوار) د مُشرکِينو د اختر ورځې دي او زه غواړم چه د هغوئي مخالَفَت وکړم“. (اِبنِ خُزَيمه ج٣ ص٣١٨ حديث٢١٦٧)

**صرف** د خيالي روژه نيول منع دي. **حضرتِ** سَيِّدُنا **عبدُالله** بَن بُسر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د خپلې خور رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا نه رِوايت کوي چه رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلې دې: ”د خيالي د ورځې روژه د فرض روژو نه علاوه مه نيسئ.“ حضرتِ سَيِّدُنا اِمام اَبُو عِيسٰی **تِرمِذِی** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي چه دا حديث حَسَن دې او دلته د مُمَانعت نه مُراد د يو کس د خيالي [د ورځې] روژه خاص کول دي ځکه چه يهوديان د دې ورځې تعظِيم کوي. (سُنَنُ التِّرمِذِی، ج٢ ص١٨٦ حديث٧٤٤)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ”اے شهنشاهِ مَدِينه“ د ديارلسو حُروفو په نِسبت د نفلي روژو ١٣ مَدَني ګلونه

❁ مور و پلار که خپل ځوئ د **نفلي روژې** نه د دې د پاره منع کړي چه د بيمارئ انديښنه ئې وي نو د مور و پلار اِطاعت دِ وکړي. (رَدُّالمُحتار ج٣ ص٤٧٨)

❁ د **خاوند** د اِجازت نه بغير ښځه **نفلي روژه** نه شي نِيولې. (ايضاً ص٤٧٧)

❁ **نفلي روژه** قصداً [يعني اِرادتاً] شروع کولو سره پوره کول واجِب شي. که ماته ئې کړه نو قضا به ئې واجِب شي. (ايضاًص٤٧٣)



www.dawateislami.net

❁ **نفلي روژه** ئي قصداً ماته نه کړه بلکه بې اختياره ماته شوه مَثَلًا د ښځې د روژې په دوران کښې حَيض راغې نو روژه ماته شوه خو قضا ئې واجِب ده. (ايضاًص۳۷٤)

❁ **نفل روژه** بې عُذره ماتول ناجائِزه دي. د **ميلمه** سره که کوربه [طعام] نه خوري نو هغه يعني **ميلمه** به دا بده ګڼړي. يا ميلمه [که يواځې] طعام نه خوري نو **کوربه** ته به تکليف رسي نو د **نفلي روژې** ماتولو د پاره دا عُذر دې، په شرط د دې چه دا يقين لري چه د دې قضا به ونيسي او دا هُم شرط دې چه د ضَحوۀکُبرٰی نه ئې مخکښې ماته کړي وروسته نه. (دُرِّمُختار،رَدُّالمُحتارج۳ ص٤٧٥)

❁ د مور و پلار د خفه کيدو په سبب د مازديګر نه مخکښې مخکښې **نفلي روژه** ماتولې شي، د مازديګر نه پس نه. (ايضاًص٤٧٧)

❁ که يو اسلامي ورور ورله دعوت وکړو نو د ضَحوۀکُبرٰی نه مخکښې **نفلي روژه** ماتولې شي خو قضا [يعني بيا نيول] ئې واجب دي. (دُرِّمُختار،ج۳ص٤٧٣،٤٧٧)

❁ که داسې نِيَّت ئې وکړو چه "که چرې دعوت وشو نو روژه مې نه ده او که ونشو نو روژه مې ده." دا نِيَّت صحيح نه دې، بهرحال روژه دار نه دې. (عالمګيری ج۱، ص۱۹۵)

❁ که مُلازم يا مزدُور **نفلي روژه** ونيسي نو کار به پوره نه شي کولې نو د "مُستاجِر" (يعني د چا سره چه په اُجرت کار کوي د هغه) اجازت ضروري دې. که کار پوره کولې شي نو د اِجازت ضرورت نشته.[1] (دُرِّمُختار،ج۳ص٤٧٨)

❁ طالِبِ عِلمِ دِين که نفلي روژه نيسي نو کمزوري محسوسيږي، خوب ورله ورځي او د سستۍ په سبب عِلمِ دين حاصلولو کښې رُکاوټ جوړيږي نو غوره دا ده چه نفلي روژه نه نيسي.

[1] د مُلازمت متعلق بهترين معلومات حاصلولو د پاره د مَکتَبَةُالمَدِينه رساله "په حلاله طريقه د ګټلو ٥٠ مَدَني ګُلونه" ضرور ولولئ.



www.dawateislami.net

❁ **حضرتِ سَیِّدُنا داؤد** عَلَیْہِ السَّلَام به یوه ورځ روژه نیوله او یوه ورځ به ئې نه نیوله. داسې روژې نیولو ته ''صَومِ داؤدی'' وائي او زمونږ د پاره دا غوره دي ځنګه چه رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلي دي: افضل [یعني غوره] روژه زما د وررور داؤد (عَلَیْہِ السَّلَام) روژه ده ځکه چه هغوئې به یوه ورځ روژه نیوله او یوه ورځ به ئې نه نیوله او د دُښمن د مقابلې نه به نه تښتیدلو.''

(تِرمِذی، ج۲ ص۱۹۷ حدیث۷۷)

❁ **حضرتِ سَیِّدُنا سُلَیمان** عَلَیْہِ السَّلَام به درې ورځې د میاشتې په شروع کښې، درې ورځې مینځ کښې او درې ورځې په آخره کښې روژې نیولې او دغسې به د میاشتې په شروع، مینځ او آخره کښې روژه دار اوسیدلو. (اِبنِ عَساکِر ج۲٤ ص٤۸)

❁ **صَومِ دَهر** (یعني همیشه روژې نیول سِوا د دې پینځه ورځو نه یعني د شوّال یکم او د ذِی الْحِجَّة د لسم نه دیارلسم پورې، چه په دې کښې روژه نیول حرام دي [یعني د دې نه علاوه هُم همیشه روژې نیول] **مکروهٔ تنزیہ** دي. (دُرِّ مُختار ج۳ ص۳۹۱)

## همیشه روژه نیول

د همیشه د روژو نه د ممانعت په باره کښې د ''بُخاري شریف'' دا حدیث هُم دې او د دې مفهوم هُم عُلَماء د تاویل سره بیان کړې دې. چنانچه **فرمانِ مُصطَفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: (لَا صَامَ مَنْ صَامَ الدَّهرَ)یعني څوك چه همیشه روژې ونیسي هغه روژې هډو نیولې نه دي.

(بُخاری ج۱ ص٦٥۱ حدیث۹۱۷۹)

## شرحِ حدیث

شارِح بُخاري حضرتِ عَلَّامه مُفتي شریف الحق امجدي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې حدیثِ پاك نه لاندې لیکي: که دا خبر د ''نَهی'' په معنیٰ کښې اُومنلې شي (یعني که د دې حدیث دا معنیٰ واخستې شي چه همیشه روژې نیول منع دي او چه څوك ئې ونیسي نو هغه ته به هیڅ ثواب نه حاصلیږي)



www.dawateislami.net

نو (په دې صورت کښې د حديث) دا ارشاد د هغه خلقو د پاره دې چا ته چه د مسلسل روژو نيولو په وجه د دې ظَنِّ غالِب [يعني غالِب گمان] وي چه دومره به کمزوري شي چه کوم حُقُوق پرې واجِب دي هغه به نه شي ادا کولې که هغه حُقُوق ديني وي او که دُنياوي، مَثلًا لـمونځ، جِهاد، د بچو د پالنې د پاره خه گټل، او (د ورومبي صورت نه جُدا دويم صورت دا جوړيږي چه) که د مسلسل روژو نيولو په وجه د هغه (روژه دارو) ظَنِّ غالِب [يعني غالِب گمان] وي چه حُقُوقِ واجبه خو به كَمَا حَقُّهٗ (يعني مکمل طور) ادا كړو خو د حُقُوقِ غيرِ واجِبه طاقت به را پکښې پاتې نه شي، د هغوئي د پاره روژه مکروه يا خِلافِ اَولٰى ده. او څوك چه د دې ظَنِّ غالِب [يعني غالِب گمان] لري چه د صومِ دَهر (يعني هميشه د روژو نيولو) باوجود به ټول حُقُوقِ واجِبه، مَسنُونه، مُسْتَحَبّه كَمَا حَقُّهٗ (يعني مُکَمّل طور باندې) ادا کړي نو د هغوئي د پاره کَراهَت هُم نشته. بعضو صحابهٔ کرامو لکه ابُو طَلحه انصاري او حَمزه بِن عَمرو اسلمي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا به صومِ دَهر (يعني هميشه روژې) نيولې او حُضُورِ اَقدَس صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي منع نه کړل، هُم دغسې د ډيرو تابِعِينو او اوليائے کِرامو نه هم صومِ دَهر (يعني هميشه روژه) نيول ثابِت دي. [اَشِعَّةُ اللّمعات، جلدِ ثانی ص۱۰۰] (نُزهَةُ القاری ج۳، ص۳۸٦ مُلَخَّصاً)

يا رَبِّ مُصطَفٰى عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته [دا ستا راکړي] ژوند، روغ صِحَت او موقع د غنيمت ګڼړلو او د ډيرو ډيرو نفلي روژو نيولو سعادت راکړې، دا قبولې هُم کړې، او مونږ بې حِسابه اُوبخښې او زمونږه د خوږ خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټول اُمَّت بخښنه اُوفرمائې.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد
تُوبُوا اِلَى الله! اَسْتَغْفِرُ الله
صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د ''رَمَضَانُ الْمُبَارَك'' د دولسو حُرُوفو

# په نِسبَت د روژه دارو ۱۲ حِكايات



## د دُرُود شريف فضيلت

**فرمانِ مُصطَفىٰ** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه زما د مَحَبَّت او زما طرف ته د شوق [لرلو] په وجه په ما باندې هره ورځ او هره شپه درې درې ځله دُرُود شريف ولوَلي نو په الله تعالىٰ باندې حق دې چه هغه د هغه، د هغه ورځې او شپې ګناهونه اُوبخښي. (مُعجَم كَبِير ج۱۸ ص۳۶۲ حديث۹۲۸)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

## ﴿۱﴾ حَجّاج بِن يُوسُف او روژه دار اَعرابي

**حَجّاج بِن يُوسُف** يو ځل په سخته ګرمئ كښې د سفر په دوران كښې د مَكّې مُكَرَّمې او مديني مُنَوَّرې د مينځه يو منزِل كښې كوز شو او [په ېخلي كوونكې ئې] د غرمې طعام تيار كړو او خپل حاجِب (يعني څوكيدار) ته ئې اُووئيل چه څوك ميلمه راوله. حاجِب چه د خيمې نه اُووتو نو يو **اَعرابي** ئې ملاست وليدو، هغه ئې راويښ كړو او ورته وئې وئيل: راځه امير **حَجّاج** دِ غواړي. اَعرابي چه راغلو نو **حَجّاج** ورته اُووئيل: زما دعوت قبول كړه او لاسونه وِينځه او زما سره طعام خوړلو ته كښينه. اَعرابي ورته اُووئيل: بخښنه غواړم! ستاسو نه **مخكښې** مې ستاسو نه د بهتر يو **كريم** دعوت قبول كړې دې. **حَجّاج** اُووئيل: هغه د چا؟ هغه اُووئيل: د **الله** تعالیٰ چا چه ما ته د روژې نيولو دعوت راكړو او ما روژه ونيوله. **حَجّاج** اُووئيل: په دومره سخته ګرمئ كښې روژه؟ اَعرابي اُووئيل: آو! د قيامت د ډيرې زياتې ګرمئ نه بچ كيدلو د پاره. حَجّاج اُووئيل: نن طعام اُوخوره او دا **روژه** صبا ونيسه. اَعرابي اُووئيل: آيا تاسو د دې خبرې ضمانت راكوئ چه زه به صبا پورې ژوندې اوسم! **حَجّاج** اُووئيل: دا خبره خو نشته. اَعرابي اُووئيل: نو بيا هغه خبره هُم نشته. دا ئې اُووئيل او لاړو. (رَوْضُ الرَّيَاحِين ص۲۱۲)

**د الله رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وې او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د **الله** تعالیٰ نيك بندګان د يو دُنياوي حاكِم په رُعب كښې هُم نه راځي او دا هُم معلومه شوه چه كوم **عاشِقانِ رَسُول** د دې دُنيا ګرمې برداشت كړې او روژه نيسي هغه به صبا د قيامت د سختې ګرمئ نه **محفوظه** اوسيږي. اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالیٰ



www.dawateislami.net

## ﴿۲﴾ رِښتوني شپونکي

**حضرتِ** سَيِّدُنا نافِع رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن عُمر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا خپلو بعضو ملګرو سره په يو سفر وو، په لاره يو ځائ کښې حصار شو او د طعام د پاره ئي دَسترخوان خور کړو، په دې کښې يو **شپونکي** هلته راغې، هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ورته اوفرمائيل: راشئ! دسترخوان نه څه واخلئ! هغه عرض وکړو: زما روژه ده، حضرتِ سَيِّدُنا عبدُ الله بِن عُمَر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا ورته اُوفرمائيل: آيا تا د دومره سختې ګرمئ په ورځ کښې روژه نيولې ده حالانکه ته په دې غرونو کښې بزې [يعني چيلئ] څروې! هغه اُووئيل: قسم په خُدائے تعالیٰ دا ځکه کووم چه د ژوند د تيرو ورځو **تَلافي** وکړم (يعني بدله ادا کړم). هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د هغه د پرهيزګارئ د امتحان اخستو په اِراده اُوفرمائيل: آيا ته به يوه بزه [يعني چيلئ] د خپلو بزو نه په مونږه راخرڅه کړې؟ د هغې قِيمت او غوښه به هم تا ته درکړو چه ته پرې روژه ماته کړې، هغه جواب ورکړو دا بزې زما نه دي، زما د مالِك دي، هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ورته د ازميښت د پاره اُوفرمائيل: مالِك ته اُووايه چه يوه [چيلئ] ترې شرمخ يوړله، غُلام اُووئيل: نو بيا **الله** تعالیٰ چرته دې؟ (يعني الله تعالیٰ خو وِينې، هغه د حقيقت نه خبر دې او په دې به ما ونيسي) چه کله هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ بيرته مدينې ته تشريف راوړلو نو د هغه د مالِك نه ئي غُلام او ټولې بزې [يعني چيلئ] واخستې، بيا ئي شپونکي آزاد کړلو او بزې ئي هم هغه ته په تُحفه کښې ورکړې. (شُعَبُ الْاِيمان ج٤ ص٣٢٩ حديث٥٢٩١ مُلَخَّصاً) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.** اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۳﴾ عجيبه کَفّاره

بُخاري شريف کښې دي چه يو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په دربارِ رِسالت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې حاضر شو او عرض ئي وکړو: يارَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ما د **رَمَضان** د روژې په حالت کښې



www.dawateislami.net

د خپلې ښځې سره نزديکت وکړو، زه هلاك شوم، (يعني تاسو صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائې! زه اوس څه وکړم؟) سرکارِ نامدار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: غُلام ازادولې شې؟ هغه عرض وکړو: نه. ورته وئې فرمائيل: آيا مسلسل دوه مياشتې روژې نيولې شې؟ هغه عرض وکړو: نه. ورته وئې فرمائيل: شپيته مِسکِينانو باندې طعام خوړلې شې؟ هغه عرض وکړو: دا هُم نه شم کولې. په دې کښې چا په دربارِ رِسالت صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې څه **کجورې** هَدِيَّةً [يعني په تُحفه کښې] پيش کړې. سرکارِ نامدار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ټولې کجورې هغه صحابي رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ ته عطا کړې او وئې فرمائيل: دا خيرات کړه (ستا کفّاره به ادا شي). هغه اُووئيل: قسم په خُدائے تعالیٰ! په مدينه کښې زما د کور د کسانو نه زيات يو خاندان هُم مُحتاجه نه دې. سرکارِ نامدار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چه دا واوريدل نو وئې خندل تر دې چه غاښونه مُبارك ئې وځليدل او وئې فرمائيل: اَطْعِمْهُ اَهْلَكَ يعني ”خپل کور والؤ باندې ئې اوخوره“ (ستا کفّاره به ادا شي). (بُخاری ج۱ ص۶۳۸ حديث ۱۹۳۶ مُلَخَّصاً)

مشهور **مُفَسِّر حَکِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه چه د دې حديثِ پاك کومه شرح فرمائيلې ده د هغې نه حاصل شوې يو څو مَدَنـې ګُلونه وړاندې کووم: ❁ په کَفّاره کښې ترتيب مُعتبر دې چه که غُلام آزادولې شي نو دا دِ وکړي که غُلام نه وي نو د دوو مياشتو مسلسل روژې [دِ ونيسي] که دا نه شي کيدې نو د شپيتؤ مِسکِينانو طعام. (د کَفّارې تفصيلي معلوماتو د پاره ”اَحکامِ روژه“ صفحه .... تا .... کښې اوګورئ) ❁ يعني خپله دا کَفّاره ته بچپله هُم اوخوره او د خپل کور کسانو باندې ئې هُم اوخوره ستا کَفّاره به ادا شي. دا دې د حُضُورِ انور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اختيار چه د هغه کَفّاره ئې د هغه د پاره اِنعام جوړه کړه، ګني څوك خپله کَفّاره يا خپل زکوٰة نه بچپله خوړلې شي او نه د هغه ښځه او بچي خو دلته د هغه خپله کَفّاره ده او بچپله ئې خوري. (مِراٰۃ ج۳ ص۱۶۱.۱۶۲) په ”**نُزهَةُ القاری**“کښې د دې حديثِ پاك نه لاندې ليك دې: حُضُورِ اَقدس صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دا اختيار حاصل دې چه هغوئي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د چا د پاره اوغواړي د کوم حُکم نه چه اُوغواړي مُسْتَثْنیٰ (يعني جُدا) ئې کړي، په



www.dawateislami.net

مِسکِینانو باندې د خوړلو په ځائ ئې [هغه ته] پخپله د خوړلو او په خپلو بال بچو د خوړلو حکم ورکړو. (نُزهَةُ القاری ج۳ ص۳۳۵ مُلَخَّصاً)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿٤﴾ صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا يو لاك دِرهَمه خيرات کړل

يو ځل حضرتِ سَيِّدُنا اَمِير مُعاوِيه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا په خِدمت کښې يو لاك دِرهَمه راوليږل نو هغې رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا هغه ټول دِرهمونه صرف په يوه ورځ کښې د **الله** تعالیٰ په لاره کښې تقسيم کړل او ځان له ئې هيڅ هم پاتې نه کړل او په هغه ورځ هغې رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا پخپله روژه نيولې وه، حضرتِ سَيِّدَتُنا بَرِيره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا ورته عرض وکړو: ستاسو روژه ده که د هغې نه مو د يو دِرهَم غوښه اغستې وې نو مونږه به په هغې روژه ماته کړې وې. نو وئې فرمائيل: "که تا راياد کړې وې نو پاتې کړې به مې وې." (اَلْمُستَدرَك ج٤ ص١٧حديث٦٨٠٥) د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## عاشِقانِ رَسُول سره د مُلاقات کولو بَرَکتونه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اُمُّ المُؤمِنِين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا د مالي فراخئ لرلو باوجود خپل ژوند انتهائي ساده او زاهِدانه تير کړو او څه دولت هُم چه ورته حاضِر شو هغه ئې د **الله** تعالیٰ په لار کښې تقسيم کړو تر دې چه يو لاك دِرهَمه ورته راغلل نو هغه ئې هُم خيرات کړل او د روژه ماتولو د پاره ئې هُم څه اِهتِمام ونکړو. او يو مونږه يو چه کله **نفلي روژه** ونيسو هُم نو د روژه ماتي په وخت کښې قِسم قِسم ميوې، کباب، سموسې، يخ يخ شربتونه او نور ډير خوراکونه



www.dawateislami.net

غوارو. كاش چه! مونږ ته هم د اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا په نَقشِ قدم باندې تلل نصيب شي.

د دُنيا د مَحَبَّت نه ځان خلاصلولو او د آخرت د بهترئ د پاره د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول سره تړلي اوسيدل بيحده فائده مند دي. چه كله هُم ستاسو علاقې ته د **دعوتِ اسلامي** مَدَني قَافِله تشريف راوړي نو د هغوئي په خِدمت كښې ضرور حاضرېږئ او ډير ډير بَرَكتونه حاصلوئ. راځئ چه تاسو ته د يو وران كاري ځلمي ''مَدَنـي سپرلې'' واوروم كوم چه د مَدَني قَافِلې د **عاشِقانِ رَسُول** سره ملاقات د پاره راغلې وو نو د هغه په ژوند كښې مَدَنـي اِنقلاب راغلو! چنانچه د **قُصُور ښار** (پنجاب، پاكستان) يو اِسلامي ورور د ميټرِك طالِبِ عِلم وو او د بد صُحبت په وجه ئې په ګُناهونو كښې اخته ژوند تيرولو، مِزاج ئې بيحده غُصه ناك وو او د دومره حده پورې بد تميزه وو چه پلار څه چه د نِيا او نِيكه په مخكښې به ئې هُم ژبه د قينچۍ په شان چليدله. يوه ورځ د **تبليغ قُرآن و سُنَّت** د عالـمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** يوه مَدَني قَافِله د هغوئي د كلي جُمات ته راغله، د **الله** (تعالیٰ) كړه داسې وشو چه هغه د **عاشِقانِ رَسُول** سره ملاقات كولو د پاره ورغلو، يو د عِمامې والا اسلامي ورور پرې اِنفرادي كوشش وكړو او په درس كښې د شريك كيدو دعوت ئې وركړو، هغه د هغوئي سره كښيناستلو، د **مَدَني قَافِلې عاشِقانِ رَسُول** ورته د درس نه پس اووئيل چه يو څو ورځې پس به په مدينةُ الاولياء مُلتان شريف كښې د **دعوتِ اسلامي د درې ورځو بينُ الاقوامي د سُنَّتو ډكه اجتماع** كيږي تاسو هُم پكښې شركت وكړئ. درس په هغه باندې ډير ښه اثر كړې وو ځكه ئې انكار ونكړې شو، تر دې چه هغه (د مُلتان) په اجتماع كښې حاضر شو، د هغه ځائ وَداني او بَرَكتونه ئې چه وليدل نو حيران پاتې شو، هلته كيدو والا آخري بيان ''**د سندرو او سازونو تباهياني**''ئې چه واوريدو نو بدن ئې په لړزان شو او د سترګو نه ئې اوښكې رواني شوې، د ګناهونو نه ئې توبه وكړه او د **دعوتِ اسلامي** په مَدَني ماحول كښې شامِل شو، په مَدَني ماحول كښې د شامليدو په



www.dawateislami.net

وجه ئي د کور کسانو د سکون ساه واخسته، مشر وررو ئي چه د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول په بَرَکت د هغه په شان وران کاري ځلمي کښې مَدَنــي اِنقِلاب وليدو نو هغه هُم ډير مُتاثِره شو او هغه هُم کِيره مبارکه پريښودله او د عِمامي شريفي تاج ئي هُم په سر کړو، د هغوئي صرف يوه خور ده. هغې هُم مَدَنــي بورقعه په سر کړه او د کور هر يو کس ئي په سلسلهٔ عاليه **قادِرِيَّه رَضَوِيَّه** کښې داخل شو او د غوثُ الاعظم پيرانِ پير دَستګير عَلَيۡهِ رَحۡمَةُ اللهِ القَدِيۡر مُريدان جوړ شو. او په هغه باندې **الله** تعالیٰ داسې کرم وکړو چه د قُرآنِ مجيد حفظ کولو سعادت ئي حاصل کړو او په **درسِ نظامي** (عالِم کورس) کښې ئي داخله واخسته او د دې بيان ورکولو وخت کښې درجهٔ ثالِثه يعني دريمي درجې ته رسيدلې دې.اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د **دعوتِ اسلامي** د مَدَنــي کارونو د علاقائي مَدَني قافِله ذِمَّه دار جوړيدو سعادت هُم ورته نصيب شو.

دل په گر زنگ ہو، سارا گھر تنگ ہو ہو گا سب کا بھلا قافلے میں چلو
ایسا فیضان ہو، حفظ قرآن ہو کر کے ہمت ذرا قافلے میں چلو (وَسائلِ بخشِش ص ٦٧٢)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۵﴾ حُورې کُوزه اُوغورځوله

حضرتِ سَيِّدُنا سَرِي سَقَطِي رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه روژه نيولې وه، په تاخ کښې ئي د اوبو يخولو د پاره کُوزه ايښودې وه، د مازديګر د لــمانځه نه پس په مُراقَبه کښې وو، جَنَّتي حوري ئي په يوه بله پسې په مخه تيريدل شروع شوې. چه کومه به مخې ته ورتله د هغې نه به ئي تپوس کولو چه ته د چا د پاره ئې؟ هغې به د **الله** د کوم يو نيك بنده نوم واغستو. يوه راغله، د هغې نه ئي هُم دا تپوس وکړو نو هغې اُووئيل: "زه د هغه د پاره يم څوك چه په روژه کښې اوبه د يخولو د پاره نه کېږدي." هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه ورته اُوفرمائيل: "که ته رښتيا وائې نو دا کوزه راغوزار کړه،" هغې



www.dawateislami.net

[حُورې هغه کُوزه] را اُوغورځوله. د هغې [د راغورزيدو] په آواز ئې سترګې وغړيدلې. چه وئې کتل نو هغه کوزه ماته پرته وه. (مَلفُوظاتِ اعلیٰ حضرت ص ۱۵۸ و تفسير الاحلام لابنِ سيرين ص ۶۵ مُلَخَّصاً)

د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

اٰمِين بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په سخته ګرمئ کښې به ئې هُم د خښلو د پاره اوبه تودولې (حِکايت)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! معلومه شوه چه د اللّٰه تعالیٰ نيک بندګان د آخِرت د ابَدِي راحتونو او نه ختميدونکو نعمتونو حاصلولو په شوق کښې خپل نفس په قابو کښې ساتي او د دُنيا خوندونه په ټوکر وهي. چنانچه يو بُزرګ رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د سختې ګرمئ په ورځو کښې د غرمې په وخت کښې يو کس وليدو چه واوره ورې، په زړه کښې ئې ارمان پيدا شو چه کاش! ما سره هُم پيسې وې او ما هُم واوره اغستې وې او يخې اوبه مې خښلې وې. بيا فوراً پښيمانه شو چه زه ولې د نفس په دوکه کښې راغلم او عَهد [يعني پخه وعده] ئې وکړه چه کله به هُم يخې اوبه نه خښنم. لِـهذا د سختې ګرمئ په موسم کښې به ئې هُم د خښلو د پاره اوبه تودولې. ؎

نہنگ و اژدہا و شیر نر مارا تو کیا مارا
بڑے موذی کو مارا نفسِ اَمّارہ کو گر مارا

## ﴿۶﴾ په درې واړو کښې غټ سخي څوک!

د رَمَضَانُ الْمُبَارَک مياشت راتلو والا وه او د مشهور مُورِّخ حضرتِ واقدي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ سره هيڅ نه وو، هغوئي خپل عَلَوي دوست ته يوه رُقعه [يعني چيټۍ] وليږله چه: د رَمَضَانُ الْمُبَارَک مياشت راتلو والا ده او ما سره د خرچ د پاره هيڅ نشته، ما ته د قَرضِ حَسَنه په طور يو زر [۱۰۰۰] دِرهَمه را وليږئ." چنانچه هغه عَلَوي د يو زر دِرهمو خلته ور وليږله، لږ ساعت پس د حضرتِ واقِدي



www.dawateislami.net

رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د يو دوست رُقعه **حضرتِ واقِدي** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ته راغله چه: "د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په مياشت كښې د خرچ د پاره د **يو زرو دِرهَمو** ضرورت لرم." **حضرتِ واقِدي** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ هم هغه خلته هلته ور وليږله. بله ورځ ئې هُم هغه **علَوي** دوست، د چا نه چه **حضرتِ واقِدي** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ قرض اخستې وو او هغه **بل دوست** چا چه د **حضرتِ واقِدي** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نه قرض اخستې وو، **دواړو** د **حضرتِ واقِدي** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ كور ته تشريف راوړو، هغه **عَلَوي** اووئيل چه: د رَمَضَانُ الْمُبَارَك مياشت راروانه ده او زما سره د دې **زرو دِرهِمو** نه سِوا بل څه نه وو خو چه كله ستاسو رُقعه راغله نو دا **زَر دِرهَمه** مې تاسو ته درولېږل او د خپل ضرورت د پاره مې **دې دوست** ته **رُقعه** وليكله چه ما ته **يو زر دِرهَمه** د قرض په طور را وليږه، **دوئي** راته هُم هغه **خلته** راوليږله كومه چه ما تاسو ته درليږلې وه. نو زه پوهه شوم چه تاسو زما نه قرض غوښتې وو او دې دوست ستاسو نه قرض غوښتې وو او ما د دې دوست نه قرض اوغوښتو نو كومه خَلته چه ما تاسو ته درليږلې وه، دوئي هُم هغه خلته ما ته را وليږله.

بيا هغه درې واړو حَضَراتو په دې اِتِّفاق وكړو چه هغه رقم ئې درې حِصّې كړو او په خپل مينځ كښې ئې تقسيم كړو، هم هغه شپه **حضرتِ سَيِّدُنا واقِدي** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ته په خوب كښې د **جنابِ رِسالت مآب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار وشو او ورته ئې اوفرمائيل چه اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالیٰ صبا به تاسو ته ډير څه په لاس درشي، چنانچه بله ورځ اَمِير **يَـحيٰ بَرمَكِـي** حضرتِ **سَيِّدُنا واقِدي** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ را اوغوښتو او تپوس ئې ترې وكړو: "ما د شپې په خوب كښې تاسو پريشانه ليدلي ئې، څه خبره ده؟ **حضرتِ سَيِّدُنا واقِدي** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ورته ټوله قِصّه وكړه نو **يَـحيٰ بَرمَكِـي** اووئيل: زه دا نه شم وئيلې چه په تاسو درې واړو كښې **زيات سخي خوك** دې. تاسو درې واړه سخيان او واجِبُ الاِحترام ئې. بيا هغه **ديرش زره دِرهَمه** حضرتِ واقِدي عَلَیْہِ رَحْمَۃُ اللّٰہِ الْہَادِی ته او **شل شل زره** هغه دواړو ته وركړل او حضرتِ **سَيِّدُنا واقِدي** عَلَیْہِ رَحْمَۃُ اللّٰہِ الْہَادِی ئې قاضي هُم مقرر كړو.

(حُجَّةُ الله على العلمين، ص۵۷۷ مُلَخَّصاً)



www.dawateislami.net

## د اِيثار فضيلت

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د الله تعالیٰ نيك بندګان سَخيان او د اِيثار نمونه وي او د خپل اسلامي ورور د تکليف لرې کولو د پاره د خپلو مشکلاتو بالکل پرواه نه کوي. د دې حِکايت نه معلومه شوه چه د جُود و سخاوت په وجه هميشه فائده کيږي او دا هُم معلومه شوه چه د الله تعالیٰ محبوب، دانائے غُيُوب، مُنَزَّہٌ عَنِ الْعُيُوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّت په حالاتو خبردار دي او د خپلو غُلامانو وران کارونه سموي. د الله تعالیٰ په لار کښې د اِيثار ډير فضيلت دې. چنانچه خوږ مَدَني آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "څوك چه د يو څيز خواهش لري، بيا هغه خواهش حصار کړي او په خپل ځان (بل څوك) غوره کړي [يعني بل ته ئې ورکړي]، نو الله تعالیٰ به هغه اُوبخښي." (ابنِ عساکِر ج۳۱ ص۱٤۲)

## ﴿۷﴾ د روژه دار د قَبْر خوشبُوداره خاوره

د حضرتِ سَيِّدُنا اِمام قَتاده رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه وغيره اُستاذِ حديث حضرتِ سَيِّدُنا عبدُ الله بِن غالِب حَدَّاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه شهيد کړې شو. د خخولو نه پس به د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د قَبْر مبارك د خاورو نه د مُشکو خوشبو راتلله. چا په خوب کښې وليدو او تپوس ئې ترې وکړو: "تاسو سره څه مُعامَله وکړې شوه." هغوئي اُوفرمائيل: "ښه مُعامَله وکړې شوه." هغه [خوب ليدونکي] ترې تپوس وکړو: تاسو ئې چرته بوتلئ؟ هغوئي اُوفرمائيل: "جَنَّت ته." تپوس ئې ترې وکړو: "د کوم عمل په وجه؟" هغوئي اُوفرمائيل: "د اِيمانِ کامِل، تَهَجُّد او د ګرمئ د روژو په سبب." بيا ئې ترې تپوس وکړو: "ستاسو د قَبْر نه د مُشکو خوشبو ولې راځي؟" نو جواب ئې ورکړو: "دا زما د تِلاوت او په روژو کښې د تندې خوشبو ده." (حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء ج٦ ص٢٦٦ رقم ٨٥٥٣)

**د الله رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم



www.dawateislami.net

## د اِمام بُخاري د قَبْر خوشبوداره خاوره

خوږو خوږو اسلامي وروڼرو! هُم دغسې به د حضرتِ سَيِّدُنا اِمام بُخاري رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَيۡه د قبر مبارك د خاورې نه هُم د مُشكو خوشبو راتلله. د هغوئي په قَبْر مبارك به خو خو ځله خاوره واچولې شوه خو خلقو به د خوشبو په وجه تَبَرُّكاً [يعني د بَرَكت د پاره] وړله. (طبقاتُ الشّافعيةللسبكی ج۲ ص۲۳۳)

## د صاحِبِ دلائلُ الْخيرات د قَبْر نه به د عَنبرو خوشبو راتلله

د صاحِبِ دلائلُ الْخيرات حضرتِ سَيِّدُنا شيخ سَيِّد محمد بِن سُليمان جَزُولي رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَيۡه **قَبْر** مبارك هُم خوشبودار وو او د هغې نه به د **كستوري** [يعني عَنبرو] **خوشبو** راتلله ځكه چه هغوئي به په ژوند كښې په كثرت سره دُرُود شريف وئيلو. د وفات نه ۷۷ كاله پس په څه سبب د "سوس" نه "مراكش" ته مُنتقِل كولو په وجه چه كله د هغوئي رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَيۡه **قَبْر** وسپړدلې شو نو بدن مُبارك ئې بالكل صحيح سلامت وو تر دې چه كفن ئې هُم نه وو وروست شوې. د وفات كيدو نه مخكښې ئې د ږِيرې مُباركې خط جوړ كړې وو هغه هُم داسې وو لكه نن چه جوړ شوې وي، تر دې چه چا ئې د ازميښت د پاره په مخ مبارك باندې ګوته كيښودله نو د هغه ځائ نه وِينه وتښتيدله يعني په كوم ځائ ئې چه ګوته زور كړې وه هغه ځائ سپين شو يعني د ژوندو انسانانو په شان ئې وِينه هُم په بدن كښې روانه وه! (مَطالِعُ الْمَسَرَّات ص٤)

جبیں میلی نہیں ہوتی بدن میلا نہیں ہوتا
غلامانِ محمد کا کفن میلا نہیں ہوتا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

# ﴿۸﴾ د رَمَضان او د شَش عيد د روژو بَرَکت

حضرتِ سَيِّدُنا سُفيان ثوري رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي: يو ځل زه د درې کالو پورې په مَکَّهٔ مُکَرَّمه کښې اوسيدم. يو مَکِّـی کس به هره ورځ غرمه د کعبې طواف کولو، دوه رکعاته واجِبُ الطَّواف به ئې ادا کول بيا به ئې ما ته سلام کولو او خپل کور ته به لاړو. زما د هغه نيك بنده سره مينه پيدا شوه. هغه سخت بيمار شو، زه تپوس له ورغلم نو هغه ما ته وصِيَّت وکړو: ”چه کله زه وفات شم نو تاسو ما ته په خپلو لاسو غُسل راکړئ او د جنازې لـمونځ مې وکړئ، ما يواځې مه پرېږدئ بلکه ټوله شپه زما د قَبْر خوا ته تشريف کيږدئ، او د مُنکَر نَـکِير د راتلو په وخت کښې ما ته تَلقِين وکړئ.“ ما ورته ښه وکړه. چنانچه د هغه د وفات نه پس ما د وصِيَّت مطابق عمل وکړو، د قَبْر خوا ته ئې حاضر ووم چه سترګې مې ولګيدې، يو غيبي آوز مې واوريدلو چه ”اے سُفيان رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيۡه دوئي ته ستاسو د تَلقِين او نزديکت هيڅ حاجت نشته، ځکه چه مونږه دوئي ته پخپله اُنس ورکړو [يعني په قَبْر کښې مو ترې ويره لرې کړه] او تَلقِين مو ورته وکړو.“ ما تپوس وکړو چه دوئي ته د کوم عمل په سبب دا مرتبه ورکړې شوه؟ آواز راغې: ”د رَمَضَانُ الْمُبَارَك او د هغې نه پس د شَوَّالُ الْمُکَرَّم د شپږو روژو نيولو په بَرَکت.“ حضرتِ سَيِّدُنا سُفيان ثَوري رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي: په هغه يوه شپه ما دا خوب درې ځله وليدو. ما د الله تعالیٰ په بارګاه کښې عرض وکړو: يا الله عَزَّوَجَلَّ! ما ته هُم په خپل فضل و کرم د دې روژو توفيق راکړې.

(قليوبی ص١٤)

د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

## ﴿۹﴾ د رَمَضان سپوږمۍ

یو ځل د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د میاشتې په باره کښې څه اِختِلاف پیدا شو، بعضې خلقو وئیل چه ماښام میاشت ښکاره شوې وه او بعضو وئیل چه نه وه ښکاره شوې. د پیرانِ پیر غوثِ اعظم دستګیر رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه والِده مُحترمه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا اِرشاد اُوفرمائیلو: ''زما دا ځوئ (یعني پیرانِ پیر غوثِ اعظم سَیِّدُنا عبدُ القادِر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه) چه د کله نه پیدا شوې دې نو د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په ورځو کښې ټوله ورځ پئ نه څښې او نن هُم عبدُ القادِر رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د ورځې په وخت کښې پئ نه دي څښلي ځکه غالِباً ماښام میاشت ښکاره شوې ده.'' چنانچه بیا د تَحقیق کولو نه پس معلومه شوه چه میاشت ښکاره شوې ده. (بهجةُ الاَسرار ص۱۷٦) د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

چھوڑا ہے ماں کا دودھ بھی ماہِ صیام میں
سرتاجِ اتقیا کو ہمارا سلام ہو

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٢٠)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ځیګر کینسر ښه شو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په زړونو کښې د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه او نورو اولیائے کِرامو مَحَبَّت زیاتولو د پاره د تبلیغِ قُرآن و سُنَّت د عالــمګیر غیر سیاسي تحریك دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ او ډیر ډیر بَرَکتونه او رحمتونه حاصل کړئ. راځئ چه ستاسو د ترغیب او تَحریص [یعني د نیکو د حِرص پیدا کولو] د پاره تاسو ته یو ایمان تازه کوونکې ښکلې مَدَنـي سپرلې وارووم. چنانچه د ګُلستانِ مُصطَفیٰ (بابُ الْمَدینه کراچۍ) د یو اسلامي ورور د بیان خُلاصه ده: ما یو داسې اِسلامي ورور ته د تبلیغِ قُرآن و سُنَّت د عالــمګیر



www.dawateislami.net

غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** په مدينةُ الاولياء مُلتان شريف كښې كيدونكي بَيْنَ الاقوامي د درې ورځو د سُنَّتو ډكې اِجتِماع دعوت وركړو چه د هغه د لور د ځيګر كينسر وو. هغوئي د شِفا د دُعا په جذبه د سُنَّتو ډكې اِجتِماع كښې شريك شو. هغوئي وئيلي چه ما په اِجتِماع كښې ډيرې دُعاګاني وكړې. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ **چه بيرته راغلم او د لور چيك اپ مې وكړو نو ډاكټران حيران پاتې شو ځكه چه د هغې د ځِيګر كينسر ختم شوې وو!** د ډاكټرانو پوره تولګې حيران وو چه آخر كينسر لا ړو چرته! حالانكه د هغه اِجتِماعِ پاك ته تللو نه مخكښې د جينئ حالت دومره خراب وو چه هره ورځ به ئې د هغې د ځِيګر نه كم از كم يو ډك سِرِنج مَواد راويستلو. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! په اِجتِماعِ پاك (ملتان) كښې د شِركت كولو په بَرَكت د هغه جينئ په ځِيګر كښې د كينسر څه نوم او نښه هُم نه وو پاتې. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د دې بيان وركولو په وخت كښې هغه جينئ اوس بالكل روغه جوړه ده بلكه د هغې واده هُم شوې دې.

اگر درد سر ہو، کہیں کینسر ہو　　دلائے گا تم کو شفا مدنی ماحول
شفائیں ملیں گی، بلائیں ٹلیں گی　　یقیناً ہے برکت بھرا مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٤٨)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۱۰﴾ د دوو غيبت كوونكو حكايت

د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دې، سُلطانِ دوجهان، رَحمَتِ عالم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابۀ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته يوه ورځ د روژې نيولو حُكم وكړو او اِرشاد ئې اُوفرمائيلو: تر څو پورې چه زه اِجازت درنكړم، په تاسو كښې هيڅ څوك هم روژه ماته نه كړي. خلقو روژه ونيوله. چه ماښام شو نو ټول صحابۀ كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان يو يو په خِدمتِ باسَعادت كښې حاضريدل او عرض به ئې وكړو: يَارَسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زما روژه وه، اوس ما ته اجازت راكړئ چه زه



www.dawateislami.net

روژه ماته کړم. خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه ته اجازت ورکړو. يو صحابي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ ئې په خِدمت کښې حاضر شو او عرض ئې وکړو: يَارَسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوو ښځو روژه نيولې ده او هغوئي ستاسو په خِدمت کښې د حاضريدو نه حيا محسوسوي، هغوئي ته اجازت ورکړئ چه هغوئي هُم روژه ماته کړي. د نبيانو سردار، په غيبو خبردار، محبوبِ پروردګار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه نه مخ مبارك واړلو، هغه [صحابي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ] بيا عرض وکړو، خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترې بيا مخ مبارك واړولو. هغه بيا هُم هغه خبره وکړه، حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترې بيا مخ مبارك واړولو، هغه بيا هغه خبره شروع کړه حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترې بيا مخ مُبارك واړولو، بيا غيب دان رسول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (د غيبو خبر ورکړو او) اِرشاد ئې اُوفرمائيلو: "هغې دواړو روژه نه وه نيولې هغه څنګه روژه داري دي هغوئي خو ټوله ورځ د خلقو غوښې خوړلې! لاړ شه، هغه دواړو ته حُکم ورکړه چه که هغوئي روژه داري وي نو اُلټئ [يعني ګرځُون] دِ وکړي" هغه صحابي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ هغوئي ته ورغلو او **شاهي فرمان** ئې ورته واورولو. هغې دواړو اُلټئ وکړې نو په اُلټئ کښې پرم شوي وِينه را اُووتله. هغه صَحابي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ بيرته د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمتِ مبارك کښې حاضر شو او صورتِ حال ئې بيان کړو. خوږ مَدَنـي سلطان صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: په هغه ذات مې دِ قَسَم وي د چا په قبضهٔ قُدرت کښې چه زما ساه ده، که دا د هغوئي په خيټو کښې باقي پاتې وې، نو هغه دواړه به اور خوړلې وې (ځکه چه هغوئي غِيبت کړې وو). (ذَمُّ الْغِيبَة، لِابنِ اَبِی الدُّنیا ص۷۲ رقم۳۱)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د دې حِکايت نه د روښانه ورځې په شان واضحه شوه چه د الله تعالیٰ په ورکړه زمونږه خوږ خوږ مکِّـی مَدَنـی آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عِلمِ غيب حاصل دې او هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د خپلو غُلامانو ټول معامَلات معلوميږي. ځکه خو ئې د هغه جينکو په باره کښې په جُمات کښې ناست د غيبو خبر ورکړو. بهر حال که د چا روژه وي او که نه، د ژبې قُفلِ مدينه ډيره ښه ده ګني [دا ژبه] داسې عجيبه کارنامې کوي چه توبه! توبه!



www.dawateislami.net

سرورِ دیں لیجے اپنے ناتوانوں کی خبر نفس و شیطاں سیدا! کب تک دباتے جائیں گے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## مُسلسل ځلويښتو کالو پورې روژې

حضرتِ سَیِّدُنا داؤد طائي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ مسلسل ځلويښتو کالو پورې روژې نيولي خو د هغوئي د اِخلاص دا حال وو چه د خپل کور کسان ئې هُم په ځان نه وو خبر کړي. کار له به چه تللو نو د غرمې طعام به ئې ځان سره يوړو او په لاره به ئې چا ته ورکړو او د ماښام نه پس به چه کور ته راغلو نو طعام به ئې اوخوړو. (تاریخ بَغداد ج ۸ ص ۳۴۵)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د سَیِّدُنا داؤد طائي د نفس کشئ واقعات

سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! اخلاص داسې وي! حضرتِ سَیِّدُنا داؤد طائي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ په خپل نفس باندې زبردسته قابو لرله. په "تذکرۃُ الْاَوْلِیاء" کښې دي چه يوه ورځې هغوئي د ګرمئ په موسم کښې په لـمر کښې ناست په عبادت کښې مشغول وو نو والِده رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہَا ئې ورته اُوفرمائيل: ځويه! که سورې ته راغلې وې نو بهتره وه. هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ جواب ورکړو: مورې! ما ته شرم راځي چه د خپل نفس د خواهش د پاره څه قدم پورته کړم."

يو ځل چا د هغوئي د اوبو منګې په لـمر کښې وليدو نو عرض ئې ورته وکړو: يا سیِّدي که دا مو په سورې کښې اېښودې وې نو ښه به وې. هغوئي اُوفرمائيل: چه کله ما دا کېښودو نو هغه وخت دلته سورې وو خو اوس د لـمر نه لرې کولو کښې شرم محسوسووم چه زه صرف د نَفس د راحت د پاره منګې لرې کولو کښې وخت ولګووم،



www.dawateislami.net

**یو ځل** هغوئي رَحْمَةُاللہِتَعَالٰی عَلَیْه په **لمر** کښې د قُرآنِ پاك تِلاوت کولو. چا ورته سوري ته د راتللو درخواست وکړو. نو وئې فرمائيل: ”زه د نفس اِتِّباع نه خوښووم.“ يعني نفس هُم دا مشوره راکوي چه سوري له راشه خو زه د هغه پيروي نه شم کولې. په هُم هغه شپه د هغوئي رَحْمَةُاللہِتَعَالٰی عَلَیْه وِصال [يعني وفات] وشو. د هغوئي رَحْمَةُاللہِتَعَالٰی عَلَیْه د وفات نه پس غيبانه دا آواز واوريدې شو: داؤد طائي رَحْمَةُاللہِتَعَالٰی عَلَیْه مُراد ته ورسيدلو ځکه چه د هغه پروردګار عَزَّوَجَلَّ د هغه نه خوشحاله دې.“

(تذكرةُ الْاَوْلِياء ج١، ص٢٠١، ٢٠٢ مُلَخَّصاً)

**د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي.**

**اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د خپلو نيکو اعلان

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د حِكايت نمبر ١١ نه هغه خلقو ته ضرور عبرت حاصلول پكار دي څوك چه بې ضرورته د خپلو نيكو ښكاره كولو په وجه د رِياكارئ په خطره كښې پريوځي: مَثَلًا څوك وائي: زه هر كال د **رَجَب، شَعْبَان** او **رَمَضان** روژې نيسم، څوك وائي: زه د دومره كلونو نه هره مياشت د اَيَّامِ بِيض روژې نيسم، څوك د خپلو حجونو د شمير او څوك د عُمرو د شمير اعلان كوي. څوك وائي زه هره ورځ دومره **دُرُود شريف** لوَلم، دومره موده دې نه د دَلَائِلُ الْخيرات شريف وظيفه كووم، دومره تِلاوت كووم، هره مياشت فلانكئ مدرسې ته چنده وركووم. غرض دا چه فُضُول د خپلو نفلونو، **تَهَجُّدو**، نفلي روژو او عبادتونو ډيره ډيره شُهره كوي. خُدانخواسته كه په رياكارئ كښې اخته شوئ نو د دې عذاب به برداشت نه كړې شئ.

حُضُورِ سيِّدِ عالَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلې دې: ”**جُبُّ الْحُزْن**“ نه د **الله** تعالىٰ پناه اُوغواړئ! صحابهٔ كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض وكړو: **يا رَسُولَ الله** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ”**جُبُّ الْحُزْن**“ څه دې؟ وئې فرمائيل: دا په جَهنَّم كښې يوه كنده ده چه د هغې (د سختئ) نه جَهنَّم هُم هره ورځ **څلور سوه**



www.dawateislami.net

**ځله پناه غواړي، په دې که به هٰغه قاريان داخليږي** کوم چه په خپلو اعمالو کښې رِيا کوي.“
(اِبنِ مَاجَه ج۱ ص۱٦٧ حديث۲٥٦)

## د رِياکارئ تعريف

د رِيا تعريف دا دې: د **اللّٰه تعالٰی د رِضا نه علاوه په بله اِراده عِبادت کول**.“ لکه د عِبادت نه ئې چه دا غرض وي چه خلق د ده په عِبادت خبر شي د دې د پاره چه دا د هغوئي نه مال اُووهي يا خلق د ده صِفَت وکړي يا دا نيك انسان وګنړي يا ده ته عِزَّت وغيره ورکړي.

(اَلزَّوَاجِرْ ج۱ ص٧٦)

## د حِفظ د خوشحالئ پروګرام

نن صبا چه مدني ماشوم يا مدني ماشومه د قُرآنِ مجيد حِفظ پوره کړي نو د دې د پاره شاندار پروګرام کيږي، که د دې مقصد رِياکاري او ښودنه نه وي او د ښو ښو نِيَّتونو سره صرف د رضائے اِلٰهي عَزَّوَجَلّ د پاره وکړې شي نو دا يو نهايت ښه عمل دې. که کيدې شي نو خپل حافِظ مدني ماشوم د بزرګانو دَر ته ورولئ او د هغوئي نه د ټول عُمر قُرآنِ پاك ياد پاتې کيدلو او د دې په اَحکاماتو باندې د عمل کولو دُعاګانې هُم واخلئ. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی داسې به ډير ډير بَرَکتونه هُم حاصل شي.

## حِفظ کول آسان دي خو حافِظ پاتې کيدل ګران دي

مدني ماشومانو باندې قُرآنِ مجيد حِفظ کول بيشکه ډير غټ نيك کار دې، خو دا ياد ساتئ **چه حِفظ کول آسان دي خو ټول عُمر حافِظ پاتې کيدل ګران دي**. لِـهذا! څوك هُم چه په خپل اولاد حِفظ وکړي نو د هغه په خِدمت کښې مَدَنـي عرض دې چه ټول عُمر د خپل حافِظ اولاد سخته څارنه هم جاري ساتي او تاکيد دِ ورته کوي چه هره ورځ يو منزِل تِلاوت کوي، که دا نه



www.dawateislami.net

شي کولې نو هره ورځ دِ يوه سيپاره لازِماً لوَلي چه حِفظ ئې ياد پاتې شي. ”بُخاري شريف“ کښې دي چه د نبيانو سُلطان، سردارِ دوجهان صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلې دې: ”**نظر ساتئ په قُرآن او دا مسلسل يادوئ، پس قَسَم دې د هغه د چا په قبضه کښې چه زما ساه ده البته قُرآن زيات په خلاصيدو باندې اماده دې د هغه اوښانو نه کوم چه په خپلو پړو تړلي شوي وي.**“ (بُخاری ج۳ ص۴۱۲ حدیث ۵۰۳۳) يعنې څنګه چه تړلي شوي اوښان خلاصيدل غواړي او که د هغوئې څارنه او احتياط ونکړې شي نو خلاص به شي د دې نه زيات د قُرآن کيفِيّت دې، که هغه نه يادوئ نو ستاسو د سينو نه به ووځي، پس تاسو ته پکار ده چه هر وخت د دې خيال ساتئ او مسلسل ئې يادوئ، دا بې اِنتها دولت د لاسه مه بوځئ. (فَتَاوٰی رَضَوِیَّه ج۲۳ ص۶٤٤)

## د قُرآن هيرولو عذاب

يقيناً قُرآنِ مجيد حِفظ کول ډير زيات د ثواب کار دې خو دا ياد ساتئ چه حِفظ کول آسان دي خو ټول عُمر دا ياد ساتل ګران دي. حُفّاظو او حافِظاتو ته پکار دي چه هره ورځ کم از کم د يوې سيپارې لازِماً تِلاوت کوي. کوم حافظان چه د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د راتلو نه لږه موده مخکښې صرف په مُصَلّٰی باندې اوړولو د پاره منزل پخوي او د دې نه علاوه ئې **مَعَاذَالله** عَزَّوَجَلَّ ټول کال د غفلت په سبب ډير آيتونه هير کړي وي، هغوئې دِ بيا بيا ولولي او د **الله** تعالٰی د ويرې نه دِ په لړزان شي. د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارې **مَکْتَبَةُالْمَدِينه** چاپ شوي بهارِ شريعت جِلد اوّل صفحه ۵۵۲ کښې **صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه** حضرت مولانا مُفتي **مُحمد امجد علي اعظمي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: قُرآن د لوستلو [يعني يادولو] نه پس هيرول ګناه ده. څوك چه قُرآني آيات د يادولو نه پس هير کړي په ورځ د قيامت به ړوند پاڅولې کيږي. (بهارشريعت ج۱ ص۵۵۳)



www.dawateislami.net

## ۳ فرامینِ مُصطَفیٰ ﷺ

﴿۱﴾ زما د اُمَّت ثوابونه زما په مخکښې پيش کړې شو تر دې چه ما په هغې کښې هغه ډکي [چخچې] هُم وليدو کوم چه سړې د جُمات نه اوباسي او زما د اُمَّت ګناهونه زما په وړاندې پيش کړې شو ما د دې نه غټه ګناه ونه ليده چه کوم انسان ته د قُرآن يو سُورت يا يو آيت ياد وي بيا ئې هغه هير کړي. (تِرمِذِی،ج٤ص٤٢٠حديث٢٩٢٥) ﴿۲﴾ کوم کس چه قُرآن ولولي [يعني ياد کړي] بيا هغه هير کړي نو د قيامت په ورځ به الله تعالیٰ سره د جُذام [د مرض] په حالت کښې ملاقات کوي. (اَبو داؤد ج٢ ص١٠٧حديث١٤٧٤) ﴿۳﴾ د قيامت په ورځ به چه زما اُمَّت ته د کومې ګناه پوره بدله ورکولې کيږې هغه دا ده چه په هغوئې کښې چا ته د قُرآنِ پاك يو سورت ياد وو بيا هغه، هغه هير کړو. (جَمْعُ الْجَوامِع ج٣ ص١٤٥حديث٧٨٩٤)

## فرمانِ رَضَوي

اعلیٰ حضرت اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د هغه نه زيات نادان ثوك دې چا ته چه خُدائے تعالیٰ داسې هِمَّت ورکړې او هغه ئې د خپله لاسه ورك کړې که په قدر د دې (حِفظِ قُرآنِ پاك) پوهيدلې او کوم ثواب او درجات چه په دې باندې مَوعُود دي (يعني د کومو د ورکړې چه وعده شوي ده) د هغې نه خبر وې نو دا به ئې د خپل زړه او ځان نه عزيز (يعني خوښ) ګڼړلې. نور فرمائي: تر څو چه کيدې شي د دې نورو ته د وئيلو او نورو ته د حِفظ کولو او پخپله د ياد ساتلو کوشش دِ وکړې چه هغه ثواب کوم چه په دې باندې مَوعُود دي (يعني د کومو وعده چه شوي ده هغه) حاصل کړې او په ورځ د قيامت د ړوند او جُذامي پاڅيدلو نه خلاص شي. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه ج٢٣،ص٤٤٥، ٤٤٧)

## د نيکئ ښکاره کولو کله اِجازت دې

د تَحديثِ نِعمت (يعني د نِعمت بيانولو) په نِيَّت نيك عمل ښکاره کولې شي، هُم دغسې څوك



www.dawateislami.net

پيشوا [يعني ديني مشر] دې او هغه خپل عمل په دې نِيَّت ښکاره کوي چه ماتحتو کسانو ته به د دې نه د نيك عمل کولو رَغبت حاصليږي نو بيا رياکاري نه ده، خو هر يو ته د خپل عمل ښکاره کولو په وخت کښې سل ځله د خپل زړه په حالت باندې غور کول پکار دي، ځکه چه شيطان غټ مکّار دې، کيدې شي چه دغسې راپارولو باندې ئې هُم په رياکارۍ کښې اخته کړي، مَثَلاً په زړه کښې ورته دا وسوسه واچوي چه خلقو ته اُووايه، چه "زه خو صرف د تَحدِيثِ نعمت د پاره خپل عمل بيانووم." حالانکه که په زړه کښې خوشحاليږي چه دغسې ښودلو باندې به د خلقو په زړونو کښې زما عِزّت زيات شي. دا يقيناً رياکاري ده او ورسره د تَحدِيثِ نِعمت وئيل د رياکارۍ د پاسه رياکاري ده او ورسره د دروغو د ګناه تباه کاري هُم ده. د تفصلي معلوماتو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوې کتاب "رياکاری" ([اُردو] ٦٦ صفحې) ولولئ.

**يا ربِّ مُصطَفٰی** عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته د اخلاص سره د عبادت او د نفلي روژو د کثرت سعادت رانصيب کړې او مونږ ته د شيطان د هغه بهانو او حِيلو پيژندګلو راکړې د کومو په ذريعه چه هغه زمونږه اعمال تباه کوي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

عطا کر دے اخلاص کی مجھ کو نعمت　　　نہ نزدیک آئے ریا یا الٰہی

(وَسائلِ بخشِش ص ١٠٦)

## ﴿۱۲﴾ د روژه دارو محلّه

حضرتِ سَيِّدُنا مالِك بِن دينار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د څلويښتو کالو په دوران کښې کله کجوره نه وه خوړلې. څلويښت کاله پس چه کله هغوئ ته د کجورې خوړلو ډير خواهش وشو نو د نفس کشۍ د پاره ئې مسلسل اته ورځې روژې ونيولې. بيا ئې کجورې په بَيعه واخستې او د بصره شريفې د يوې محلّې يو جُمات ته داخل شو. چه څنګه ئې کجوره د خوړلو د پاره راويستله نو يو ماشوم په چغه اُووئيل: باباجانه! جُمات ته يهودي راغلې دې! د هغه والِد صاحِب چه د يهودي



www.dawateislami.net

نوم واوریدو نو لښته ئې راواخسته او ورمنډه ئې کړه خو د ورتلو سره ئې هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه اُوپیژندلو او بخښنه ئې ترې اوغوښتله او عرض ئې وکړو چه محترمه! خبره دراصل دا ده چه زمونږه په محلّه کښې ټول مسلمانان روژې نیسي، د یهودیانو نه علاوه دلته د ورځې هیڅ څوك هُم خوراك نه کوي، ځکه ماشوم ته ستاسو رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه د یهودي کیدو شك پیدا شو. مهرباني وکړئ! د ده قصور معاف کړئ. هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه د جوش په حالت کښې اُوفرمائیل: د ماشومانو ژبه "**غیبي ژبه**" وي. بیا ئې قَسَم اوخوړلو چه کله به هُم د کجورې نوم په خُله وانخلم.

(تذکرۃُالاَوۡلِیاء ج۱ ص۵۲)

## د غوښې په خوشبو ئې ګزاره وکړه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو ولیده! زمونږه بزرګانِ دین رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی به خپل نفس څنګه وژلو. د سَیِّدُنا مالِك بِن دِینار رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه نفس کشي مرحبا! هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه به د کلونو کلونو پورې څه خوندور څیز نه خوړلو. عام طور به ئې د ورځې روژه نیوله او په سپوره ډوډئ روژه ماتول ئې معمول وو. یوه ورځ ئې د نفس په خواهش په بیعه **غوښه** واخستله او روان شو. په لاره کښې ئې [غوښه] بوئي کړه او وئې فرمائیل: "اے نفسه! د غوښې خوشبو بوئي کولو کښې خو هُم خوند دې! بس د دې نه زیاته په دې کښې ستا حِصّه نشته." دا ئې اُووئیل او هغه **غوښه** ئې یو فقیر ته ورکړه. بیا ئې اُوفرمائیل: اے نفسه! زه د څه دُښمنئ په وجه تا ته تکلیف نه درکووم، زه خو تا ته صرف په دې وجه د صبر عادت درکووم چه د رِضائے اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ لازوال دولت مو نصیب شي. (تذکرۃُالاَوۡلِیاء ج۱ ص۵۱) دا هُم معلومه شوه چه پخوانو مسلمانانو به نفلي روژو سره ډېر مَحَبَّت کولو ځکه چه د بصرې شریفې د یوې پوره مَحَلّې هر مسلمان به هره ورځ [نفلي] روژه نیوله!



www.dawateislami.net

# د نادانو ماشومانو له طرفه د نيکۍ دعوت

د حضرتِ سَیِّدُنا مالِك بِن دِینار رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَیۡه دا فرمائيل چه د ماشومانو ژبه ”غيبي ژبه“ وي نهايت فائده مند اِرشاد دې. واقعي ډير ځله د نادانو ماشومانو په خبرو او حرکتونو کښې هُم **د عِبرت مَدَنـي ګلونه** موجود وي. اِتِّفاقاً دا بيان کړې شوې حِکايت نمبر ۱۲ سګِ مدينه عُفِیَ عَنۡهُ (يعني ليکونکـي) په بَابُ الۡمَدِینه کراچۍ کښې د يو اِسلامي ورور په کور کښې په ۹ **شَوَّالُ الۡمُکَرَّم** ۱۴۲۲ھ د ليکلو سعادت حاصل کړې وو. د طعام په وخت کښې راسره د کوربه مَدَنـي ماشوم او مَدَنـي ماشومه هُم په خوراك کښې شريك شو. هغوئي دواړو د خوراك په دوران کښې ما ته د **حِرص و طَمع، بې ځايه جګړې، بے عِزَّتۍ، بې صبرۍ، چُغلۍ، حسد، حُبِّ جاه، رياکارۍ، د مُصيبت بې ضرورته تذکِرې او فُضولې وينا وغيره ښه پوره درس** را کړو!! تاسو به سوچ کوئ چه ناپوهه ماشومان په دومره ډيرو عُنواناتو چرته درس ورکولې شي! د دې درسونو راز دا دې چه هغوئي داسې حَرَکتونه شروع کړل چه يو مَدَنـي ذِهن لرونکـي که د هغې نه اوغواړي نو ډير څه زده کولې شي. مَثَلًا هغوئي د ضرورت نه ډير زيات خوراك په خپلو خپلو رکيبو کښې واچوو، څه ئې اوخوړو، څه ئې غوزار کړو او څه ئې په رکيبو کښې پريښودو. د هغوئي د دې حَرَکت نه دا درس حاصل شو چه په خپله رکيبۍ کښې د ضرورت نه زيات خوراك اچول د حِرص و طمعې نښه ده او دا د نادانو ماشومانو کار دې، غټو ته داسې کول نه دي پکـار، [بل درس دا] چه غورزيدلې طعام دغسې پريښودلو په ځائ راپورته کول او خوړل پکـار دي، د خوراك نه پس لوښې څټل سُنَّت دي، ماشومان اګر که سُنَّت پريږدي خو غټو ته داسې کول نه دي پکـار. مَدَنـي ماشوم د يخ شربت د يو نيم لِټر بوتل نه ځان له ګِلاس پوره ډك کړو نو په دې باندې مَدَنـي ماشومې احتِجاج شروع کړو تر دې چه اول ئې بوتل راواخستو زما خوا ته ئې کيښودو خو مطمئِنه نه شوه نو د هغه ځائ نه ئې پورته کړو او کوټې نه بهر ئې بل چا ته حواله کړو. د دې ”جنګ“ په ذريعه لکه چه دواړو د حِرص په باره کښې درس ورکړو. ولې چه د دواړو په مينځ کښې لانجه جوړه وه لِـهذا بيا ئې د يو بل عيبونه بيانول



www.dawateislami.net

شروع کړل، لکه داسې درس ئې چه ورکولو چه اوګورئ! مونږه نادان یو، ځکه فُضُول خبرې، د یو بل بې عِزّتي، بې ځایه جګړه او د بې صبرئ مُظاهره کوو او د یو بل عیبونه ښکاره کوو، که هوښیار ګڼړلو والا کس هُم داسې حَرَکتونه وکړي نو هغه بېوقوفه شو که نه؟ تِیك ده چه مونږه پخپله خُله خپل صِفَتونه هُم کوو، خپل فضائل هُم بیانوو، د یو بل وړه وړه خبره هُم نورو ته ښکاره کوو مګر مونږه خو به د خپل وړوکوالي په وجه خلاص شو، ځکه چه مونږه لا تر اوسه نابالغه یو. که تاسو هم زمونږ په شان غَلطیاني وکړئ او په ګناهونو کښې اخته شئ نو کیدې شي چه د قیامت په ورځ د دې جُرم په ۱۰ کښې د جَهنَّم حُکم در وارولې شي، که داسې وشو نو دومره به غمژن شئ چه په دُنیا کښې به پخپله غم هم کله داسې غم نه وي لیدلې!

## مَدَنـي ماشومې د نکریزو والا لاسونه ولې را ووښودل

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! رښتیا خبره خو دا ده چه که مَدَنـي ذِهن لرونکې یو کس د ماشومانو د ټولې ورځې د حرکتونو جائزه واخلي نو د هغوئي د هر حَرَکت او هرې خاموشئ نه د ځان د پاره ډیر مَدَنـي ګلونه حاصلولې شي. یو ځل د عیدِ مِیلادُ النَّبِی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په شپه یو اِسلامي ورور خپله ډیره وړه مَدَنـي ماشومه په غیږ کښې راغستې وه او زما خوا ته ئې راوړه، هغې زما تَوجُّه ځان ته ګرځولو د پاره خپل په نکریزو سره لاسونه ما ته اوښودل، د هغې نه ما هُم دا "مَدَنـي ګُل" حاصل کړو لکه هغه چه دا درس ورکول غواړي چه د شرعي حاجت نه بغیر براهِ راست یا بِالواسطه (یعني په بله ذریعه) خپل صِفَتونه بیانول هُم د حُبِّ جاه یعني د خپل عِزَّت او واه واه غوښتلو نښه ده او دا زمونږ په شان نادانو حِصّه ده. ښکاره خبره ده چه وړوکي ماشومانې په نکریزو سرو خپلو لاسونو یا ماشومان خپلو نوو جامو وغیره ته د خلقو تَوجُّه ځکه راګرځول غواړي چه څوك را ته واه واه وکړي او صِفَت مو وکړي، خو په دې کښې ضِمناً د غټو د پاره د عِبرت درس وي. نن صبا د خلقو اکثریت په حُبِّ جاه کښې اخته ښکاري، شُهرت سره مَحَبَّت او د واه واه خوښولو مرض عام دې. دې حد ته خبره رسیدلې ده چه د جُماتونو او مدرسو په تعمیرولو او



www.dawateislami.net

نورو نيکو کارونو کښېي هُم د خپلي نيك نامئ يعني شُهرت په تلاش کښې وي، دا بيحده هلاك کوونکي مرض دي خو اوس دي ته د خلقو هېڅو توجُّه نشته. د الله تعالٰی د خوږ مَحبُوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دي: "دوه وږي شرمبنان چه په بزو [يعني چيلو] کښې پريښودې شي هغوئي دومره نقصان نه رسوي څومره چه د حُبِّ مال و جاه يعني د مال او مَرتَبې لالچ د انسان دِين ته نقصان رسوي." (ترمذی،ج٤ص١٦٦حديث٢٣٨٣)

## د جُمُعې د لمانځه نه هُم مَحرُومه وو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د خپل زړه نه د حُبِّ جاه و مال لرې کولو ذِهن جوړولو د پاره د تبليغِ قُرآن و سُنَّت عالمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** مَدَني ماحول سره خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ او د دعوتِ اسلامي په **مَدَني قافِلو** کښې سفر کول خپل معمول جوړ کړئ. د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول هُم څه ښکلي سپرلي دي! چنانچه د ګوجرانواله (صوبهٔ پنجاب، پاکستان) اوسيدونکي يو اِسلامي ورور په فِرنګي فيشن کښې ککړ د ګُناهونو ډك ژوند تيرولو او د بد صُحبت په وجه **مَعَاذَالله** عَزَّوَجَلَّ د شرابو څښلو په عادت کښې هُم اخته شوې وو. حالت دې ته رسيدلې وو چه د **جُمُعې** لمونځ به ئې هُم نه کولو، هغه د قُرآنِ مجيد حافِظ هُم وو خو زيات و کم دولسو کالو نه ئې هېڅو قُرآن راغستې هُم نه وو او په دې وجه ترې قُرآنِ مجيد هير شوې وو بهرحال د ژوند ورځې او شپې ئې په غفلت کښې تيريدلې چه په دې کښې ئې نصيب راوينښ شو او يو عِمامې والا اِسلامي ورور سره ئې مُلاقات وشو. د هغه د حُسنِ اخلاق او مهربانئ والا انداز نه هغه ډير مُتأثِّره شو. هغوئي ورته په مدينةُ الاولياء مُلتان شريف کښې کيدونکي د **تبليغِ قُرآن و سُنَّت** عالمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د درې ورځو **سُنَّتو ډکې بينَ الاقوامي اِجتِماع** کښې د شِرکت کولو دعوت وکړو، هغه اُووئيل چه بخښنه غواړم، زه بيروزګاره يم، معاشي حالات مې د تللو اجازت نه راکوي. هغوئي ورته ډير په ښکلي انداز حوصله ورکړه او د هغه د ټِکټ بندوبست ئې هم وکړو. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ دغسې د هغوئي سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې حاضري وشوه. د



www.dawateislami.net

هغه ځائ رُوح تازه کوونکو نظارو او د سُنَّتو ډکو بيانونو او رِقَّت ناکې [يعني ژړوونکي] دُعا اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د هغوئي ژوند بالکل بدل کړو. چه کله هغه د اِجتِماعِ پاك نه بيرته راغلو نو په زړه کښې ئې مَدَنـي اِنقلاب راپورته شوې وو. بيا ئې د **عاشِقانِ رَسُول** سره په **مَدَني قَافِله** کښې د سفر سعادت حاصل کړو او د هغې سره ئې ظاهري وجود هُم د سُنَّتو په رنګ کښې رنګ شو. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ مَدَني ماحول سره د تړون په بَرَکت ئې هير شوې قُرآن کريم هُم حِفظ کړلو بلکه د ووه کاله پورې ئې د اِمامت سعادت هُم حاصل کړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د **دعوتِ اسلامي** له طرفه هغوئي ته د "پنجاب مکِّـي" په مجلِس کښې د ذمّه دار په حيثيت د خِدمت سعادت هُم حاصل شو.

گنہگار وآؤ، سیہ کار وآؤ گناہوں کو دے گا چھڑا مدنی ماحول

پلا کر مئے عشق دے گا بنا یہ تمہیں عاشقِ مصطفٰے مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٤٨)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

يا رَبِّ مُصطَفٰى عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې اِستِقامت نصيب کړې. يا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته په **مَدَني قَافِلو** د سفر جذبه راکړې. يا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته د اخلاص لازوال دولت راکړې، د حُبِّ جاه و مال او رياکارئ د مصيبت نه حفاظت راکړې. مونږ ته د فرضو سره سره د ډيرو ډيرو نفلي روژو سعادت هُم راکړې او قبولې ئې هُم کړې. يا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! زمونږه او د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول اُمَّت بخښنه وکړې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

تُوبُوا اِلَى اللّٰه! اَسْتَغْفِرُ اللّٰه

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیك او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ځائ کښې کېدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نیَّتونو سره توله شپه تیروئ ❁ د سُنَّتو د تربیَّت د پاره په **مَدَنِي قافِلو** کښې د عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِينه**" په ذريعه د **مَدَنِي اِنعاماتو** رساله ډکوئ او د هرې مَدَنِي مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائ ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَنِي مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."** اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپل ځان د اصلاح د پاره په "مَدَنِي انعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پاره په "**مَدَنِي قَافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ







ISBN 978-969-631-469-1
0125663

فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com